بسم الله الرحمن الرحيم

# شیخ زاید پوهنتون

# شیخ زاید علمي - څېړنیز ژورنال

د شیخ زاید پوهنتون علمي ـ څېړنیزه درېمیاشتینۍ خپرونه
( ټولنیز او طبیعي علوم )
د ۱۴۰۴ل (۱۴۴۷ ق) کال څلورمه ګڼه، کب ــ پرله‌پسې ۴۱مه ګڼه

۴۱

# شیخ زاید پوهنتون

# علمي څېړنو معاونیت

# علمي مجلې آمریت

# علمي مجلې عمومي مدیریت


د امتیاز خاوند: شیخ زاید پوهنتون

مسؤول مدیر: پوهنوال دوکتور سبحان الله شهاب

علمي مجلې عمومي مدیر: نورمحمد انقلابي

علمي مجلې نشراتو مدیر: بخت الله ریحان

برېښنالیک: journals@szu.edu.af


| کتنپلاوی | |
|---|---|
| پوهاند زرولي صدیقي | تولنیزو علومو پوهنځی |
| پوهاند عبدالخلیل افغاني | کرنې پوهنځی |
| پوهنوال دوکتور سبحان الله شهاب | ژبو او ادبیاتو پوهنځی |
| پوهنوال محمد شفیق مندوزی | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی |
| پوهنوال محمد الله مندوزی | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی |
| پوهنوال عبدالتواب عزیزي | ښوونې او روزنې پوهنځی |
| پوهنوال امان الله ځدراڼ | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی |
| پوهنوال شفیع گل شفیقي | کرنې پوهنځی |
| پوهنوال صالح خان صالح | کمپیوټر ساینس پوهنځی |
| پوهنوال سید کمال شاه بنوري | شرعیاتو پوهنځی |
| پوهنوال نقیب الله عطیش | ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځی |
| پوهندوی گوهرشاه گوهري | کمپیوټر ساینس پوهنځی |
| پوهندوی غازي جان محمدي | ښوونې او روزنې پوهنځی |


**پته: شیخ زاید پوهنتون، علمي څېړنو معاونیت، د علمي مجلې آمریت خوست- افغانستان**

**۰۰۹۳۷۷۷۷۹۱٦۵۳ / ۰۰۹۳۷۷۴۳۰۲۴۷۷**

**د علمي ـ څېړنيزې مقاله ليکنې لارښود**

درانه څېړونکي دې د علمي مقالې د ليکلو پر وخت لاندې ټکي په پام کې ونيسي:

- ✓ مقاله بايد مخکې نشر شوې نه وي او نه هممهاله بلې مجلې ته لېږل شوې وي.
- ✓ د کتابتوني مقالې اړين توکي په ترتيب سره دا دي: عنوان، د ليکوال نوم او پته، لنډيز، کليدي کلمې، سريزه، موخې، کړنلاره او کارتوکي، اصلي متن، پايله، وړانديزونه، اخځليکونه او د طبيعي علومو په علمي مقالو کې مناقشه هم اړينه ده.
- ✓ عنوان بايد مانا لرونکی او له موضوع سره بشپړ مطابقت ولري. د کلمو شمېر يې له (۱۵) څخه زيات نه وي، سايز يې بايد (۱۴) بولډ او د پاڼې په منځ کې وي.
- ✓ د ليکوال پېژندنه دې په دې ډول وي: د ليکوال علمي رتبه، بشپړ نوم، تخلص، پوهنتون، پوهنځی او څانگه. ورپسې دې لاندې ښي اړخ ته په (۱۱) سايز کې برېښناليک راوړل شي.
- ✓ لنډيز دې د (۲۰۰- ۲۵۰) کلمو پورې وي او د لنډيز عنوان دې (۱۲) بولډ وي.
- ✓ کليدي کلمې دې د الفبا په ترتيب له (۵- ۷) پورې راوړل شي.
- ✓ سريزه دې په بسم الله الرحمن الرحيم او د الله تعالی په ثنا او صفت پيل شي ورپسې دې د موضوع وضاحت، ستونزې، موخې، پخوانيو ليکنو ته کتنه، د څېړنې اهميت او تگلاره راوړل شي.
- ✓ د موخو ليکلو لهپاره دې (**SMART**) ته پاملرنه وشي، يعنې موخې دې مشخصې، د اندازه گيرۍ وړ، د لاسرسي وړ، په واقعيت ولاړې او د وخت مطابق وي.
- ✓ د څېړنې اهميت او تگلاره کې دې واضح شي، چې کومې نيمگړتيا دغه څېړنې ته هڅولی يې؟ په کوم سبب زما څېړنه مهمه ده؟ کومو لوستونکو سره به مرسته وکړي او څه مثبت تغير پېښولی شي؟
- ✓ په تگلاره او کارتوکو کې دې خپل د ليکنې روش او تگلاره څرگنده شي او د ميتود ډول دې واضح شي.
- ✓ په اصلي متن کې دې له امانتدارۍ او د ماخذ ليکلو له سمې طريقې استفاده وشي. د قران کريم او نبوي احاديثو په ژباړه کې دې دقت وشي او په خنجري لينديو ﴿﴾ کې دې ونيول شي. د مقالې د کلمو شمېر

دې (۴۰۰۰ - ٦۰۰۰ ) کلمو پورې وي، لیکنه دې د لیکدود او ګرامر له مخې سمه وکښل شي، د پښتو لهپاره (**Bahij Zar**) ، د دری لهپاره (**Bahij**) فونټونه، د عربي لهپا (**Traditional Arabic**) او د انګلیسي متن لهپاره دې (**Time New Roman**) فونټونه وکارول شي .

- ✓ له منځپانګې بشپړولو وروسته دې پایله، مناقشه او نتیجه ګیري راوړل شي. په پایله کې دې هره نتیجه په ځان ته پراګراف کې راوړل شي.
- ✓ وړاندیزونه دې د پایلې، مناقشې او نتیجه ګیرۍ څخه په الهام راوړل شي.
- ✓ د انګلیسي (**Abstract**) د لیک سایز دې (۱۲) وي، د کلمو شمېر دې یې د (۲۰۰- ۲۵۰) وي. د (**Abstract**) لاندې دې (**Key Words**) راوړل شي، چې شمېر یې د (۵- ۷) پورې وي او د (**Abstract**) سر ته دې په انګلیسي ژبه د لیکوال بشپړ نوم، علمي رتبه، پوهنځی، څانګه، ګرځنده شمېره، برېښنالیک، د تقریظ ورکوونکي بشپړ نوم او د مقالې عنوان ولیکل شي.
- ✓ مأخذونه باید د الفبا په تورو ترتیب، شمېر یې له اتو کم نه وي، د ټولنیزو علومو مأخذونه دې د (**APA style**) کې او د طبیعي علومو مأخذونه دې د (**Vancouver Style**) کې راوړل شي.

| گڼه | سرلیکونه | لیکوال | مخگڼه |
| --- | --- | --- | --- |
| **ټولنیز علوم** | | | |
| ۱ | د قبرونو زیارت حکم د اسلامي شریعت په رڼا کې | پوهنمل دوکتورعبدالجلیل شهیدزی | ۱ |
| ۲ | د اسلامي امارت د لومړۍ دورې مطبوعاتو ته تاریخي او تحلیلي کتنه | پوهنمل عزیزالله صدیق | ۱۹ |
| ۳ | د انلاین ژورنالیزم ننګونې او فرصتونه | پوهنمل هلال ارشاد | ۳۹ |
| ۴ | د سلما بند د اقتصادي اغېزو څېړنه | پوهنمل عصمت الله زیار | ۵۵ |
| ۵ | په شاګردانو کې د زده‌کړې د انګېزې د رامنځته کېدو د عواملو مطالعه | پوهنمل سیدشاه ګل ویاړ | ٦٧ |
| ٦ | د وقفي ځمکو او اجناسو پیژندنه او د ساتنې احکام یې د اسلامي شریعت په رڼا کې | پوهنمل دوکتورعبدالجلیل شهیدزی | ۷۹ |
| ۷ | په اسلامي شریعت کې محصلینو ته د عادلانه نمرو ورکولو اهمیت او حکم | پوهنیار سید نورشاه حسیني | ۹۵ |
| ۸ | د افغانستان لپاره د ټاپي پروژې سیاسي او اقتصادي فرصتونه | پوهنیار صادق الله صدیقي | ۱۰۹ |
| ۹ | پر زده کړه د درسي ټولګي مدیریت اغېزې | نوماند پوهنیار عبدالرحمن ژڼی | ۱۲۵ |
| **طبیعي علوم** | | | |
| ۹ | د PWR او BWR هستوي ریاکتورونو پرتله کول | پوهنوال عبدالتواب عزیزي | ۱۴۳ |
| ۱۰ | د رانګ- کوتا په طریقه د لومړۍ مرتبه معمولي تفاضلي معادلوعددي حل | پوهنمل عبدالله عابد | ۱٦۱ |
| ۱۱ | په کاري ساحه کې د کرنیز اقتصاد او پراختیا څانګې د فارغو شویو محصلینو په وسیله د نصاب او تدریسي کیفیت ارزونه | پوهنیار محمد یوسف احمدزی [۱]<br>پوهندوی خیبر مومند [۲]<br>نوماند پوهنیار عبدالباسط عاصم [۳]<br>نوماند پوهنیار جلیل درد [۴] | ۱۷۵ |

# د قبرونو زيارت  حکم د اسلامي شريعت په رڼا کې

پوهنمل دوکتورعبدالجليل شهيدزی، د شرعياتو پوهنځی د فقهې او قانون څانگې علمي کادر غړی
ايمل ادرس: shahidzai.af@gmail.com

**لنډيز**

دغه مقاله د قبرونو زيارت حکم د اسلامي شريعت په رڼا کې ترعنوان لاندې ترسره شوی. په افغاني ټولنه کې د قبر زيارت کولو ناروا طريقې په نښه شوي دي. او د روا طريقوېادونه شوي ده. هم دارنگه د توسل په اړه د فقهاوو اختلاف بيان شوی او غوره قول په نښه شوی. په همدې سربيره د ښځود قبرونوزيارت حکم داسلامي شريعت او د فقهاوو قولونو په رڼا کې بيان شوي دي. دغه څیړنه کتابتوني او ساحوي بڼه لري. په کتابتوني اړخ کې مې له معتبرو لومړي لاس سرچينو لکه قرآن کريم، نبوي احاديثو، معتبرو فقهې کتابنو لکه  دحنفي مذهب کتابونه او د نورو مذهبونو کتابونو څخه گټه پورته کړي. د اياتونو په ژباړه کې مې له کابلي تفسير څخه  گټه پورته کړي ده او په ساحوي برخه کې مې  استاذانو ته پوښتن پاڼې تکثير او د دوي نظرونه راټول او تحليل شوي دي . موندې ښايي چې ۵۰٪ خلک په غير شرعي طريقو د قبرونوزيارتونه کوي. دا څېړنه به د تکثير او عامه پوهاوي په صورت کې د ټولنې د اصلاح، اعتدال، داسلامي کلتورد قبرونو زيارت پرمهال  تحقق ومومي. خلک به د اسلامي اصولو مطابق د قبرونو زيارت ترسره کوي. له غير شرعی طريقو څخه به لاس په سر شي. او نوموړی مقاله د ټولنې اصلاح او د شريعت د پلي کيدو لپاره مهم گام دی.

**کليدي کلمې**: ابادول، حرمت ، زيارت، طريقې،  قبرونه، مسنونه ،. مشروعيت،  ناروا.

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین وعلی اله وصحبه اجمعین قال تعالی:** ﴿ **أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ (١) حَتَّى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ** ﴾ (التکاثر:۱،۲). **وعن ابي هريره رضي الله عنه قال: قال: رسول الله صلی الله علیه وسلم : ( إني كنت نهيتكم عن زيارة القبور ألافزوروها )** امابعد:

پرته له شک څخه د قبرونو زیارت د پخوا وخت څخه رواج و، د اسلامي دین په لومړي سر کې د قبرونو له زیارت څخه منع راغلی وه . له یو څه وخت وروسته آن حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د قبرونو زیارت کولو اجازه وکړه لکه چې فرمایې: (( **إني كنت نهيتكم عن زيارة القبور ألافزوروها**)) (الأصبهاني،(١٤١٧هـ - ١٩٩٦م)، ج3،ص56)

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایې : په یقین سره ما د قبرونو زیارت څخه منع کړي وئ، اگاه اوسئ اوس یې زیارت کوئ.

طبیعي خبره ده انسان د خپلو نږدې خپلوانو، دوستانو، مشرانو، پېشوایانو سره مینه لري. نو چې کله مړه شي د هغې مینې د ترسره کولو او ځان ته قناعت ورکولو په موخه یې قبرونو ته ورځي. د خپل لید له مخې دعا ورته کوي او آن ځینې خلک خپل راز ورسره شریک کوي، گویا چې په قبر پروت مړی یې اوري. په هرحال داچې په لومړي سرکې نبي کریم صلی الله علیه وسلم صحابه کرام د قبرونو له زیارت څخه منع کړي وو او بیا یې د عبرت اخېستلو په موخه دویم ځل اجازه ورکړه، چې تفصیل یې د همدې مقالې په متن کې شتون لري. د دې ترځنگ نن ورځ وینو، چې زیات خلک په غیر مشروع طریقو د قبرونو زیارتونه کوي او داسې غیر مشروع غوښتنې ورڅخه کوي، چې انسان کفر او شرک ته رسوي. دا یو څرگند حقیقت دی، چې قبرونه په اسلام کې ځانگړی حرمت لري نود همدې مقالې په محتوا کې د قبرونو څرنگوالی، ابادولو، ښائسته کولو او حرمت په تفصیل سره بیان شوی دی. دغه مقاله په یولنډیز، سریزه، پاېله، مناقشه، وړاندېزونو مننلیک ، ابسټرک (انگلیسي ژبه لنډیز) او فهرست د مآخذونو مشتمله ده.

**د نوموړې مقالې موخې**

لومړۍ اصلي موخې

۱.د قبرونو زیارت مسنونه طریقو پېژندل.

۲. د قبرونو زیارت غیر شرعي طریقې په نښه کول اوعام ولس ترې اگاه کول.

**دويم فرعي موخې**

۱. د قبرونو د بيحرمتۍ مخه نيول او له حرمت څخه يې عام ولس اګاه کول.

۲. د قبرونو زيارت آدب مسنونه طريقې باندې عام ولس اګاه کول او د غير مشروع غوښتنو يې منع کول.

۳. د ښځولپاره د قبرونو زيارت شرعي حيثيت او احکامو څخه عام ولس اګاه کول.

۴. د قبرونو ابادولو شرعي حيثيت او احکامو څخه عام ولس اګاه کول.

**د څيړنې اهميت**

دا څېړنه په ننني زمانه کې زيات ارزښت لري. هغه دا چې زيات خلک د جهل، فقر او غربت له کبله د اقتصادي، صحي، رواني او ټولنيزو ستونزو سره لاس په ګروان دي. نو دا يوڅرګند حقيقت دی چې افغانۍ ټولنه د پخوا څخه يوه سنتي ټولنه ده، د نېکانو، اولياوو، روحانيينو په ژوند او مرګ دواړو صورتونو کې په دې معتقد وو چې د نوموړيو ذواتو توسل الی الله ته ګټه رسوي. په نتيجه کې د وخت په تېردو سره دا ډول شرعي تګ لارې نن ورځ په زياتو سيمو، ولسونوکې د اصل شرعي طريقو څخه بدلي او په غير شرعي طريقو دخلکو سر شوی دی. په همدې اساس مې غوره وبلله چې دقبرنو زيارت احکامو ترعنوان مقاله ترتيب کړم ترڅو د امکان ترحده خلک دقبرونو زيارت اصل شرعي لارې او د قبرونو ابادولو او حرمت ته راوګرځي.

**کړنلاره**

د نوموړې مقالې د ليکلو ميتود ساحوي او کتابتوني بڼه لري، لومړی مې د قرآن کريم څخه، په دويم قدم کې مې له نبوي حديثونو څخه او په دريم قدم کې مې له فقهي معتبرو کتابونو څخه کار اخيستی. البته په استدلالي بڼه او د اياتونو ژباړه مې د کابلي تفسيرڅخه کړې ده. په ساحوي برخه کې مې د لوړو زده کړو پوهنتونواستاذانو، د شيخ زايد پوهنتون داستادانو او د مختلفو ولايتونو د شرعياتو پوهنځی له استاذانو څخه د قبرونو د غير مشروع زيارت کولو طريقو په هکله پوښتنې ترسره کړې دي.

وړاندې له دې چې اصل موضوع ته ورداخل شو غوره بولم چې لومړی د قبرونو تعريف په لغوي او اصطلاحي بڼه ترسره کړم ترڅو موضوع په ښه شان روښانه شوی وي.

**لومړی د قبر لغوي او اصطلاحي پژندنه**

قبر د عربي ژبې څخه اخيستل شوی په لغت کې :" **القبر هي حفرة أو هو المدفن الذي يدفن فيه الميت** " ( إبراهيم مصطفی،(ـــ) ،ج 2 ص 710 ).

ژباړه: قبر په لغت کې عبارت  له هغه ژورې ځای او مدفن څخه دی چې مړی  په هغې کې ښخول کیږي.

او په اصطلاح کې: قبرعبارت  له  هغې ځای څخه دی چې مړی په هغې کې ښخیږي، یا په بل عبارت قبر عبارت له هغې ژورځای څخه دی چې مړی ورکې ښخیږي او خاوروته سپارل کیږي او په خاورو کې دفن کیږي.

او مقبره یا قبریستان عبارت  له هغې ځای څخه  دی، چې  مشتمل وي په قبرونو کوم چې زاړه شوي وي. او لومړی منزل د منازلو د آخرت څخه دی. (المناوي، (۱٤۱۰هـ ق)،ج ۱،ص ۵۷۱).
دویم د زیارة پیژندنه: زیارة د عربی ژبی د" زار یزور" له کلمي څخه اخسېتل شوي. په معنا د مړي قبرڅخه لیدنه ، ورتلل او دعا کړلو سره راغلی لکه چې وایې: " زرتُ  أحمد في بیته "احمد مې  د ده په کور کې ولیدو، یعنی پوښتنه مې وکړه. یا په بل عبارت دی، چې یوڅوک د خپلو نږدې خپلوانو لکه مور، پلار، استاد، مرشد، رهبر او داسي نور شخصیتونو قبرونو ته په عام او یا خاص وخت کې ورځې او د خپلې عقیدې مطابق یې زیارت کړي دې ته زیارت وایې.(البعلي،(۱٤۰۱ – ۱۹۸۱)،ج ۱،ص۷۴) .

**د قبرونو د مشروعیت  تاریخچه**

له هغې ورځې چې قابل زوی د آدم علیه السلام خپل ورور هابل علیه الرحمه په قتل ورسولو، حیران پاتې شو چې اوس څه وکړي، بالآخره الله تعالی کارغه راولیږه ترڅو ښودنه ورته وکړي  هغه  و، چې خپل هم نوعه  یې په خاوروکي خښ کړو. چې کله هغه قابل ولیده نو ده هم همداسې وکړل د خپل ورور هابل علیه الرحمه جسد یې په خاوروکې خښ کړ و لکه چې الله تعالی یې په هکله داسې فرمایلي دي: ﴿ **فَبَعَثَ اللَّهُ غُراباً يَبْحَثُ فِي الْأَرْضِ لِيُرِيَهُ كَيْفَ يُوارِي سَوْأَةَ أَخِيهِ قالَ يا وَيْلَتا أَعَجَزْتُ أَنْ أَكُونَ مِثْلَ هذَا الْغُرابِ فَأُوارِيَ سَوْأَةَ أَخِي فَأَصْبَحَ مِنَ النَّادِمِينَ** ﴾ **[المائدة: ۳۱]**.

ژباړه: پس الله تعالی یو کارغه را ولیږلو،او په ځمکه کې گرځیده او ځمکه یې کندله ترڅو د آدم علیه السلام زوی ته د خپل ورور جسد ښخولو طریقه  واښایي، وویل: قابل، چې هلاکت د وي  زما لپاره ایا له کارغه څخه هم ناتوانه یم چې د خپل ورور جسد خښ کړم، نو د ورور جسد یې خښ کړو، او له پښیمانه شویو څخه  شو پخپل جرم باندې.

له هغې وروسته د اسلامي دین په راتگ سره د قبرونو موضوع په تفصیل سره بیان شوي، چې د دې مقالی په جریان کې به دقبرونو زیارت، کرامت ، حرمت او نورو اړونده مسائلو بیان ترسره شي.

**د قبرونو زیارت کړلو مشروعیت**

دا یو څرګند حقیقت دی چې کله یو انسان مړ شي نورانسانان یې په طبیعي شکل خاوروته سپاري او خښوي یې.دا چې په اسلامي ټولنو کې معمول دادی چې کله یو مسلمان مړشي نور مسلمانان لومړی پرې د جنازې لمونځ کوي وروسته یې خښوي لکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به خپلو اصحابوکراموته د قبرونو زیارت کولو پر مهال تعلیم ورکولو او داسې سلام او دعا به یې ورته ښودله : (**سلام عليكم أهل دار قوم مؤمنين، وإنا إن شاء الله بكم لاحقون، يرحم الله المستقدمين منا ومنكم والمستأخرين، نسأل الله لنا ولكم العافية، اللهم لا تحرمنا أجرهم، ولا تفتنا بعدهم) النيسابوري،(ــ)، ج1،ص 18628**).

ژباړه: سلام دې وي په تاسوباندې ای د قبرونو خلکو له مؤمنانو څخه، موږ ان شاء الله درپسې در روان یو، الله تعالی دې زموږ په وړاندېنیو او ورستنیو مړي رحم تونه وکړي. د ځان لپاره او ستاسو لپاره عافیت غواړو، الله تعالی دې موږ له ثواب څخه نه محروموي او الله تعالی د ې موږ په فتنو کې نه غورځوي.

لکه چې روایت شوی له نبي کریم صلی الله علیه وآله وسلم **أنه قال: ( ما من رجل يمر بقبر رجل كان يعرفه في الدنيا فيسلم عليه إلا رد الله عليه روحه حتى يرد عليه السلام)( السيوطي،(ــ)، ج 1،ص 21434**).

ژباړه: له نبی کریم صلی الله علیه وسلم څخه روایت شوی چې هغه مبارک وویل : (نه تیریږي یو له تاسو څخه د یو داسې شخص په قبر باندې چې هغه یې په دنیا کې پېژندلو، پس کله چې سلام پرې واچوي الله تعالی د نوموړي مړي روح د هغه جسد ته واپس کړي ترڅو یې سلام ته ځواب په وعلیکم سره ورکړي. بناً چې کله ژوندې مؤمن مړي ته دعا وکړي په دې سره الله تعالی ژوندي انسان ته اجر او ثواب ورکوي. لکه څنګه چې د جنازې اجر او ثواب ورکوي. له همدې کبله نبی کریم صلی الله علیه وسلم منع کړی شوی، چې په منافقانو باندې د جنازې لمونځ ادا نه کړي لکه چې الله تعالی فرمایلي دي: ﴿**وَلَا تُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِنْهُمْ مَاتَ أَبَدًا وَلَا تَقُمْ عَلَى قَبْرِهِ**﴾ [التوبة: ۸۴].

ژباړه: (مکوه په یو د منافقانوباندې د جنازې لمنځ ، چې کله مړه شي او مایې په قبرباندې ودریږه.

د قبرونو د زیارت ترڅنګ د توسل موضوع یوه مهمه موضوع ده نو لازمه ده چې په لنډو یې یادونه وکړو. بناً توسل کول په مړیو سره د څلورو مذهبونو په عقیده جوازلري، چې تفصیل یې په لاندې ډول دی

لومړی حنفي مذهب فقهاء د توسل په هکله داسې وایي: ملا علي قاري په شرح د مشکاة کې داسې وایلي دي چې : ( شيخ العلامة العلماالمتبحرين شمس الدين زوی د جزری په مقدمه شرح المصابيح چې مسمی دی په تصحيح المصابيح

) کې داسي وايي: ( ما د مسلم زوی د حجاج القشيري قبرزيارت په نيسابورکې وکړو او د صحيح مسلم ځينې برخه مې ولوستله د تبروک په نيت او د برکت نښې مې وليدلې آوميد دي چې د ده مبارک په خاوره کې دعا قبوله شي.

او استدلال يې کړي په دې حديث شريف باندې: قد روى النسائي والترمذي وغيرهما «أن النبي صلى الله عليه وآله وسلم ، علم بعض أصحابه أن يدعو فيقول: " **اللهم إني أسألك وأتوسل إليك بنبيك نبي الرحمة، يا محمد يا رسول الله ! إني أتوسل بك إلى ربي في حاجتي ليقضيها لي، اللهم فشفعه في**»( **الكشميري،(١٢٩٢–١٣٥٢)**، ،ج٦،ص **٩١**).**فإن هذا الحديث قد استدل به طائفة على جواز التوسل بالنبي صلى الله عليه وآله وسلم في حياته وبعد مماته**. **قالوا: وليس في التوسل دعاء المخلوقين، ولا استغاثة بالمخلوق، وإنما هو دعاء واستغاثة بالله؛ لكن فيه سؤال بجاهه، كما في سنن ابن ماجه عن النبي صلى الله عليه وآله وسلم أنه ذكر في دعاء الخارج للصلاة أن يقول**: «**اللهم إني أسألك بحق السائلين عليك، وبحق ممشاي هذا، فإني لم أخرج أشرا ولا بطرا، ولا رياء ولا سمعة، خرجت اتقاء سخطك وابتغاء مرضاتك، أسألك أن تنقذني من النار، وأن تغفر لي ذنوبي فإنه لا يغفر الذنوب إلا أنت**»( **ابن البيع**، ( ١٤١١ – ١٩٩٠)، ج1،ص707).
ژباړه: په تحقيق سره روايت کړی دی نسائي او ترمذي او داسې نورو: چې په يقين سره نبي کريم صلی الله عليه وسلم ښودنه وکړه ځينو اصحاب کراموته چې داسې دعا کوي : ( ای الله زه له تاڅخه سوال کوم او وسيله ګرځوم تا ته نبي د رحمت واله ، ای محمد صلی الله عليه وسلم ای رسول الله! زه تا وسيله کوم خپل پالونکي رب ته په فلاني حاجت زما کې، چې الله تعالی يې راته پوره کړئ. ای الله ته يې زما لپاره شفعت کونکي وګرځوی. په دې حديث باندې ځينو فقهاوو د جواز لپاره استدلال نيولی دی د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په ژوند او مرګ، داسې استدلال کړي چې په دې کې د مخلوق څخه غوښتنه نه کيږي او نه له مخلوق څخه دکوم څه مرسته غوښتل کيږي ، بلکې دعا او مرسته د الله تعالی څخه غوښتل کيږي. همدارنګه په دې کې يواځې سوال کول دي لکه په کتاب دسنن ابن ماجه کې چې راغلي دي : ( ای الله زه ستاڅخه په حق د هغو کې سوال کوم چې تاته سوالونه کړي او ستا لوري ته در روان دي، ای الله زه د کوم شر لپاره نه يم راوتلي، نه د کبر او غرور، نه د ريا لپاره او نه د ځان ښودلو لپاره، بلکې د دې لپاره را وتلی يم، چې ستا له قهر او عذاب او نيوکې څخه په امان شم او ستا رضامندي ترلاسه کړم، ای الله زه ستا څخه سوال کوم، چې ما دجهنم له اور څخه وساتی او ته زما ګنا هونه وبښه ځک پرته له تا څخه بل ذات د ګنا هونو ښونکې نشته) (ابن عابدين،(١٤١٢هـ- ١٩٩٢م)، ج٦،ص ٣٩٧).

او ابن عابدين د انبياؤ په ذات سره د توسل منع داسې بيان کړي: **فالتوسل بالأنبياء والصالحين بذواتهم ممنوع عند أهل السنة والجماعة، وهو من البدع.**

**أما التوسل بمحبة الرسول والإيمان به واتباعه فجائز، فإن أصل الدين محبة الرسول والإيمان به واتباعه** (**ابن عابدين**، (١٤١٢هـ - ١٩٩٢م)، ج٦،ص ٣٩٧)).

ژباړه: پس توسل په ذات د انبياؤ، صالحينو ممنوع بلل شوي د اهل سنت والجماعت په عقيده او د بدعتونو څخه شميرل شوي. لکن توسل په وجه د محبت او ايمان او د هغه ملاتړ، پحقيقت کې اصل دين همدا دی.
او په فتاوى الهنديه الحنفيه کې جواز د توسل او تبرك راغلی د چا چې خوښه وي نو مراجعه دې ورته وکړي.(البلخي، ( ١٣١٠ هـ) ( ج 1، ص 466 ).

د شافعي مذهب فقهاء په دې عقيده دي چې په نومونو دالله ، په نيکو عملونو او دنيکو خلکو په دعا سره توسل جواز لري .د انبياؤ او اولياؤ په ذات سره توسل جواز نه لري.( لجنة الفتوى بالشبكة الإسلامية ،( ذو الحجة ١٤٣٠، هـ = ١٨ نوفمبر، ٢٠٠٩ م )،ج ١،ص ٧٠٧).
د حنبلي مذهب فقهاوو په کتاب الانصاف کې ليکلي دي: د مذهب په قول جوازلري توسل په صالح سړي سره او يوقول داسې دی چې مستحب دي .(المقدسي،( ١٤٢٤ هـ - ٢٠٠٣ م)، ج٣،ص ٢٢٩).
د مالکي مذهب فقهاء د توسل په هکله داسي تصريح لري : يوه ورځ امام مالک امير المؤمنين منصوررحمه الله ته وويل: کله يې چې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم قبر زيارت کولو له امام مالک څخه يې وپوښتل ای ابا عبدالله د قبلې لوري ته مخ کړم او که د رسول الله صلى الله عليه وسلم قبر لوري ته ؟ په ځواب کې يې ورته وويل: چې څنگه مخ ترې اړوې هغه مبارک ستا او ستا د پلار آدم عليه السلام وسيله و الله تعالى ته؟ بلکي مخ ور واړوه او شفاعت ترې او غواړه ترڅو الله تعالى ته ستا شفاعت وکړي. نوموړی قول قاضي عياض په الشفا کتاب کې ذکر کړی ( أبو الفضل ،(١٤٠٧ هـ) ،ج ٢،ص 92).

ژباړه: کله چې انسان مړشي د ده عملونه پای ته ورسيږی پرته له دريو عملونو څخه، چې يو يې جاري صدقه ده، دويم نافع علم چې له ده څخه وروسته خلک ترې گټه پورته کوي او دريم نېک عمله اولاد چې خپل مور او پلارته دعا کړي.

**د توسل په هکله غوره قول**

غوره قول د احنافو قول دی څکه اصلاً له مړيو څخه څوک کومه گټه نه غواړي بذاته بلکي د اچې نوموړی په ژوند نيک انسان پاتي وي د هغه نيک عمل په وجه يې خلک الله تعالى ته وسيله کوي او دعا د الله تعالى څخه غواړي نه له مړي څخه.

**د قبرونو زیارت مستحب عملونه**

د قبرونو زیارت پرمهال مستحب عملونه عبارت دي:

۱. مړي ته دعا کول : له سلیمان زوی د بریده له پلار څخه روایت دی: (أن النبي صلى الله عليه وسلم كان يعلم أصحابه إذا خرجوا إلى المقابر أن يقولوا: ((السلام عليكم أهل الديار من المؤمنين والمسلمين وإنا إن شاء الله بكم لاحقون نسأل الله لنا ولكم العافية)) ( **أحمد،** ( ١٤٢٠هـ ، ١٩٩٩م)،ج٣٨،ص ٨٩).

ژباړه: په یقین سره رسول الله صلی الله علیه وسلم به اصحاب کرامو ته داسې تعلیم ورکولو چې کله به قبرونو ته تلل چې داسې دعا کوئ: ((سلام دې وي په تاسو باندې ای د قبرونو اوسیدونکو مؤمنانو او مسلمانانو، او موږ انشاءالله درپسې یو.موږ او تاسې دې الله تعالی له عذابونو څخه په حفظ او امان کې وساتئ.

۲. د لاسونو پوورته کول: دعا ګاني کول، استغفار ویل، صدقي کول، د یآسین شریف ختم کول، عام تلاوت کول، حج او عمره کول او په مړیو پسې یې ثواب بښل جوازلري. لکه چې روایت کړي مسلم له بریدة رضی الله عنهاڅخه:( **أن امرأة أتت النبي صلى الله عليه وسلم ، فقالت:** ( **يا رسول الله إن أمي ماتت ولم تحج ؟ قال : حجي عن أمك** ).(الأصبهاني،( ١٤١٧هـ – ١٩٩٦م )،ج3،ص 225).

ژباړه : په تحقیق سره یوه ښځه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغله او ویې ویل: ای د الله رسوله په یقین سره چې زما مور مړه شوي ده او حج یې نه و کړي. ر سول الله صلی الله علیه ورته وویل چې حج ورته وکړه.

۳. د قرآن کریم تلاوت کول او ثواب یې په مړیو پسې بښل.په دې هکله د فقهاوو ترمنځ اختلاف دی زموږ حنفي مذهب فقهاء او حنبلي مذهب فقهاء یې روا بولي، او د مالکي او شافعي مذهب فقهاء بیا په دې عقیده دي چې جواز نلري هغوي دلیل د الله تعالی دا قول نېسي: ﴿ **وَأَنْ لَيْسَ لِلْإِنْسَانِ إِلَّا مَا سَعَى** ﴾: **(النجم:۳۹)**.

ژباړه: نه رسیږي انسان ته پرته له هغې چې په خپل لاس یې کړي وي د ځان لپاره. د نوموړي ایت شریف په هکله فقهاء کرامو اته قولونه ذکر کړي دي، غوره قول دادی چې مراد له انسان څخه کافر دی نه مؤمن ځکه مؤمن ته خپل او دبل نیک عمل ثواب رسیږي.(جمال الدین ،( ١٤١٤هـ - **١٩٩٤**م )،ج ۱،ص **۳۳۴**).

خلاصه کوم نبوي احادیث چې پورته ذکر شول د نوموړی موضوع تشریح یې کړی ده. صحیح او غوره قول د احنافو او د هغوي د ملاتړو قول دی نظر هغو احادیثو ته چې وړاندې بیان شول.

**د قبرونو زيارت احکام**

څرنگه چې په اسلامي شريعت کې د نرانو او ښځو په هکله دقبرونو زيارت په هکله ځانگړي احکام شتون لري، نظر د نر او ښځو طبيعي پيدا ينبت ته په کتو، چې په لاندې ډول يې څيړو.

**د نرانو لپاره د قبرونو زيارت حکم**

د نرانو لپاره د قبرونو زيارت کول مستحب دی، په اتفاق د څلور واړو مذاهبو فقهاوو او په دې د ټولو اجماع ده.

**دلائل د مشروعيت يې**

**۱.** له بريدة رضی الله عنه څخه روايت دي چې وايې: رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: ( **نَهَيْتُكُم عن زيارةِ القبورِ، فزُورُوها** ) (أحمد،( ۱٤۲۰هـ ، ۱۹۹۹م )، ج2،ص398).

ژباړه: ما د قبرونو له زيارت څخه منع کړي وئ، اوس يې زيارت کوئ.

**ب. د ښځو لپاره د قبرونو زيارت حکم**

د ښځو د قبرونو زيارت په هکله فقهاء کرام په دري قولونو سره ويشل شوي دي

**لومړی قول** : د ښځو لپاره د قبرونو زيارت مکروه بولي او دا د شافعيانو، حنبليانو، او مالکيانو او يوقول د احنافو دی.

لومړی: د سُنَّت دليل:

۱. د ښځو زيارت مانعين د ابي هريره رضی الله عنه په روايت شوي حديث باندې استدلال کوي لکه چې فرمايي: **عن أبي هريرة رَضِيَ اللهُ عنه قال:** (( **أنَّ رسولَ الله صلَّى الله عليه وسلَّم لعَنَ زوَّاراتِ القُبورِ** ) (أحمد، ( ۱٤۲۰هـ، ۱۹۹۹م)، ج14،ص144).

ژاړه: له أبي هريره رضی الله عنه څخه روايت دی چې په تحقيق سره رسول الله صلى الله عليه وسلم لعنت کړی په هغو ښځو باندې چې د قبرونوزيارتونه کوي.

**۲.** د عطيه له مور څخه روايت دی هغه واي. ( **نُهِينا عنِ اتِّباعِ الجنائزِ ولم يُعْزَمْ علينا**).(الجعفي، (۱٤۲۲هـ)، ج2، ص78). **ژباړه:** مورږ د جنازې له گډون څخه منع کړل شوی يو او پر مورږ واجبه شوی نه ده.

**(ولم يعزم علينا) قال السيوطي في معناه ولم يوجب. والمراد أنه لم يقطع علينا بالنهي ليكون حراما. فهو مكروه تنزيها.( ابن ماجة، (ـــ)، ج۱،ص۵۰۲)**.: ژباړه: امام سيوطي د " **ولم يعزم علينا** "جملې معنا داسې کړي ده چې پرمورږ د جنازې

لمونځ واجب نه دی. او مراد ترې دا دی چې پرمورړ د جنازې لمونځ منع کول د حرمت تر اندازې نه دی بلک تنزيهي مکروه دی.

**وجه د استدلال**

په يقين سره زيارت د قبرونو د جنازې له جنس څخه دی پس دواړه مکروه دي.

**دويم قول**

د دې قول تابع داران يې حرام بولي او دا د حنفيانو، شافعيانو، دابن تيميه ابن باز او ابن عيثمين قول دی.(العينی،( ۱٤۲۰ هـ- ۲۰۰۰ م)،ج۳،ص ۲٦۱)

دلائل يې:

**لومړی: نبوي سنت**

له أبي هُريرةَ رَضِيَ اللهُ عنه څخه روايت دی: ((**أنَّ رسولَ اللهِ صلَّى الله عليه وسلَّم لعَنَ زوَّاراتِ القبور** )) ( أحمد، (١٤٢٠هـ ، ١٩٩٩م). ج14،ص144 ).

ژاړه: په تحقيق سره رسول الله صلی الله عليه وسلم لعنت کړی په هغو ښځو باندې چې د قبرونو زيارت کوي.

**وجه داستدلال**

رسول الله صلی الله عليه وسلم لعنت وايل دليل دی په حرمت د قبرونو زيارت د ښځو په هکله.

**دريیم قول**

د ښځو لپاره د قبرونو زيارت کول يو مباح عمل دی او دا د حنفيانو مذهب دی ، يو قول د ملکيانو د مذهب هم دی، يو قول د شافعيانو د مذهب هم دی، يو روايت د امام احمد څخه هم رانقل شوی دی ، امام قرطبی او شوکاني هم غوره کړی **دی**.

**دليل يې دا دی**

۱. له بُريدَةَ رَضِيَ اللهُ عنه، څخه روايت دی چې رسولُ الله صلَّى الله عليه وسلَّم وويل : (( **نَهَيْتُكم عن زيارَةِ القُبورِ فزُورُوها**)) ( النيسابوري،(ــ)، ج3،ص1563).

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: چې ما د قبرونو له زيارت څخه منع کړي وى، اوس يې زيارت کوئ.

**وجه د استدلال**

**په** يقين سره مضمون دحديث شريف نر او ښځو دواړو ته شامل دى لکه چې په مبسوط شريف کې چې راغلي دي.( السرخسي،(١٤٢١هـ ٢٠٠٠م)،ج ٢٤،ص ١٣).

**٢. عن عائشة رَضِيَ اللَّهُ عنها، قالت:** (( **أَلَا أُحَدِّثُكم عنِّي وعن رسولِ الله صلَّى الله عليه وسلَّم، قلنا: بلى.. الحديث، وفيه: قالت: قلْتُ: كيف أقولُ لهم يا رسولَ الله؟ قال: قولي: السَّلامُ على أهلِ الدِّيارِ من المؤمنينَ والمُسْلمينَ، ويَرْحَمُ اللهُ المُستَقدِمينَ منَّاوالمُستَأخرينَ،وإنَّا إن شاءَ الله بكم لَلاحقونَ)) (النيسابوري،(ـــــ)،** ج2،ص449).

**ژباړه:** له عائشة رَضِيَ اللَّهُ عنها، څخه روايت دى : چې هغې وويل: ايا زه تاسوته د رسول الله صلى الله عليه وسلم وينا بيان نه کړم؟ (البته د قبر زيارت په هکله ) موږ ورته وويل چې هوکى بيان يې کړه، عائشه راضى الله عنها وايې چې ما ترې وپوښتل ،چې قبرونو ته څه و وايم ؟ اى د الله تعالى رسوله ؟ رسول الله صلى اله عليه وسلم وويل : ورته وايه ،چې سلام دې وي په تاسو باندې اى د قبرونو خلکو له مؤمنانو او مسلمانانوڅخه الله تعالى دې په وړادې نيو(مړيو) او وروستنيو (مړيو) باندې رحم وکړي او موږ ان شاء الله درپسي يو.

**وجه د استدلال**

د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د پورته دعا ښودل څرگند دليل دى په روا والي د قبرونو د زيارت د ښځو لپاره.

غوره قول دا دى چې ښځې هم د الله تعالى مخلوق دى هغوي هم دعبرت، دعا او توسل لپاره اړتيا لري چې د قبرونو زيارت وکړي. البته مشروط په دې چې کله ښځې د قبر زيارت ته ځي بايد په پرده ، ستر او حجاب کې وي.(السرخسي ،(١٤١٤هـ-١٩٩٣م)، ٢٤/ ١٠].

**د قبرونو آبادولو حکم**

د ا يوڅرگند حقيقت دي،چې له ډير پخوا څخه د قبرونو آبادول پيل شوي دي. او د فقهاوو ترمنځ يې په هکله اختلاف دى جمهور فقهاء يې ناروا او مطلق حرام بولي استدلال يې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم دا حديث شريف دي لکه چې روايت شوي: وثبت في الصحيح من حديث جابر رضى الله عنه قال: (( **نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم أن يجصص** القبر، **وأن يقعد عليه، وأن يبنى عليه)) ( النووي،( ١٣٩٢ )،ج7،ص 37** ).

ژباړه: له حديث د جابر رضی الله عنه څخه په صحيح د امام بخاري او مسلم کې دا ثابته ده چې هغه وويل: منع کړي ده رسول الله صلی الله عليه وسلم له دې چې قبرونه په گچ جوړشي او منع کړل شوی له دې چې څوک وربانديې د پاسه کښېني اومنع کړل شوی له دې، چې کومه آبادي پرې وشي ( لکه د گومبتې جوړول، د کوټې جوړول او داسې نورې آبادۍ.

لکن زموږ د احنافو فقهاء يې مکروه بولي: زَّيلعي په شرح د کنز شريف کې داسې ويلي دي: ″په قبر باندې آبادي کړل مکروه دي″او قاضي خان بيا داسې ويلي دي:″ چې روا نه ده، چې څوک قبرپه گچو جوړ کړي، او يا کومه آبادي پرې جوړه کړي″د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د پورته ذکرشوي حديث په استنا. او مراد له کراهيت څخه د احنافو په اند کراهيت تحريمي دی. او نوموړي مسئله ابن نجيم رحمه الله په شرح د کنزشريف کې ذکر کړي ده (الزيلعي ،( ۱۳۱۳ هـ)، ج1،ص246).

لکن کوم باک نه لري، چې په قبر باندې کومه ليکنه او يا کومه تيږه کېښودل شي لپاره د دې چې د خپل رشته لرونکي قبر ورته معلوم او څرگندوي.

استدلال د عثمان بن مظعون رضی الله عنه قبر سره د تيږي کېښودل دي لکه چې روايت شوي: «**أنه – عليه الصلاة والسلام – وضع حجرا على قبر عثمان بن مظعون**» (**الشِّلْبِيُّ**،( **۱۳۱۳ هـ**) ،**ج1**،**ص246**).

ژباړه: روايت شوي، چې په تحقيق سره نبي کريم صلی الله عليه وسلم د عثمان بن مظعون رضی الله عنه په قبر باندې يوه تيږه کېښوده. البته د دې لپاره چې قبر ورته څرگند وي.

### د قبرونو زيارت ناروا طريقې

څرنگه، چې په نننۍ زمانه کې زيات خلک د قبرونو زيارت په ناروا طريقيو سره ترسره کوي، په نتيجه کې د توحيد او شريعت خلاف د قبرونو څخه غوښتنې کوي د بيلگې په توگه: لکه ای د قبرڅښتنه يا ای نازوليه ته ماته نارينه اولادونه راکړې، يا ای د قبرڅښتنه يا ای نازوليه ته ماته ښځه راکړې، يا ای د قبر څښتنه يا ای نازوليه ته ماته مال دولت راکړې، يا ای د قبر څښتنه يا ای نازوليه ته مي روغ کړې. او داسې نور الفاظ چې د الله تعالی پرته مخلوق ته انسان زاری کړي او د الله تعالی څخه پرته د مخلوق څخه غوښتنې کوي . يا څوک د قبرونوخاوري خوري ، د قبرونو تيږي په ځان پورې مښي، د قبرونو جنډې پورې ځانونه سولوي ، په قبر باندې پسونه ، چرگان او داسې نور حيونات حلالوي (قرباني کوي) خلاصه د الله تعالی پرته له قبرونو څخه مرسته او مدد غوښتل، په قبرونو کې پراته مړي پرته له استثناء پاک بلل او ضرر ورته رسول او داسې نورې کړنې چې د اسلامي شريعت سره په ټکر کې وي په اتفاق د ټولو فقهاوو جواز نلري بلکې حرام عملونه دي. **ولهذا قال – عليه الصلاة والسلام –**: «**ولا تقولوا هجرا**» **[مسند أبي حنيفة لابن خسرو،(ــ)، ج۲/ ۶۱۰]**.

ژباړه: له همدې کبله نبي کریم صلی الله علیه وسلم وویل: د قبرونو زیارت په وخت کې بې هوده خبرې مه کوئ، یا چټې خبرې مه کوئ. په دې معنا چې داسلامي شریعت خلاف غوښتنې، عملونه او زیارت کړل ټول په لهو او لعب کې شامل دی. او له ټولو څخه منع راغلې ده. (ساحوي معلومات،(۱۵/۸/۱۴۰۴)، دامارتي پوهنتونواستادانو پانې څرګندونې.

او داسې نور زیات غیر مشروع عملونه شتون لري الله تعالی دی زموږ هېواد وال پوه کړي.

**پایله**

د نوموړی مقالې د څېړلو په ترڅ کې لاندې پایلې ترلاسه شوي دي:

۱. د قبرونو زیارت څخه په لومړي وخت کې منع راغلی وه، ترڅو مؤمنان له شرکي او کفري شکمنو کړنو څخه لاس په سر شي.

۲. کله چې د مؤمنانو عقیدې قوي شوي، له هغې وروسته یې د عبرت په موخه د قبرونو زیارت اجازه وکړه.

۳. د اچې په ستر او حجاب ماموري دي، له همدې کبله د قبرونو زیارت څخه د ځېنو فقهاوو په اند منع حکم ترسره شوي، حقیقت دا دی چې ښځې د عبرت په موخه د نرانو په څیر حق لري چې په حجاب کې د قبرونو زیارت وکړي او دا غوره قول دی.

۴. قبرونه په اسلامي شریعت کې ځانګړی حرمت لري، باید څوک یې حرمت ترپښولاندې نه کړي.

۵. په قبرونو باندې ګومبتې جوړول، ګچ او په سمنټو یې ښایسته کول د ټولو فقهاوو په اند حرام عمل بلل شوي.

۵. په قبرونو باندې د کومې لوحې،یاتیرې کیښودل مشروط په دې چې د خپل رشته لرونکي قبرپرې معلوم کړي جواز لري.

**وړاندیزونه**

۱. د امر بالمعروف او نهی عن المنکر له مسؤلینو څخه هیله کوو چې د ناروا زیارت کړلو مخه ونیسي

۲. د امر بالمعروف او نهی عن المنکر له مسؤلینو څخه هیله کوو چې غیرمشروع او ناوړه عملونه زموږ د اسلامي ټولنو څخه ورک کړي.

۳. د حج او اوقافو اداري مسؤلینو څخه موهیله دا ده چې غیر شرعي عملونه د ممبر له لارې عامو خلکو ته د جمعې ورځې تقریرونو په وسیله په تفصیل سره بیان کړئ.

۴. د اطلاعاتو او فرهنګ مسؤلینو څخه هیله لرو، ترڅوغیر شرعي د قبرونو زیارت کړل د رادیو او تلویزون له لارې د عامو خلکو ترغوږونو ورسوئ.

# The Ruling on Visiting Graves in the Light of Islamic Law

Senior Teaching Assistant Abdul Jalil Shahidzai, Academic Staff of the Department of Jurisprudence and Law, Faculty of Sharia
**Email Address**: shahidzai.af@gmail.com

**Abstract**
This article is titled The Ruling on Visiting Graves in the Light of Islamic Law. The illegal ways of visiting graves in Afghan society have been identified. And the permissible ways have been mentioned. Also, the differences of opinion of the jurists regarding Tawassul have been explained and the best opinions have been identified. In addition, the ruling on visiting graves by women has been explained in the light of Islamic law and the opinions of the jurists. This research has a library and field format. In the library aspect, I have used reliable first-hand sources such as the Holy Quran, Prophetic Hadiths, reliable jurisprudence books such as books of the Hanafi school of thought and books of other religions. In translating the verses, I have used the Kabuli interpretation, and in the field section, I have repeated the questionnaires to the teachers and collected and analyzed their opinions. The findings are that 50% of people visit graves in non-Islamic ways. This research will be realized in the case of repetition and public awareness, during the reform of society, moderation, and Islamic culture of visiting graves. People will visit graves according to Islamic principles. They will abandon non-Islamic ways. And this article is an important step for the reform of society and the implementation of Sharia.

**Key terms:** Abadul, pilgrimage, sanctity, graves, methods, elders,. Legitimacy, illegality.

## مصادر او مراجع

قرآن كريم.

ابن البيع ،أبو عبد الله الحاكم محمد بن عبد الله بن محمد بن حمدويه بن نُعيم بن الحكم الضبي الطهماني النيسابوري المعروف بابن البيع ، تحقيق: مصطفى عبد القادر عطا.( ١٤١١ – ١٩٩٠). المستدرك على الصحيحين الطبعة: الأولى، الناشر: دار الكتب العلمية – بيروت.

ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي. (١٤١٢هـ – ١٩٩٢م). رد المحتار على الدر المختار، الطبعة: الثانية، الناشر: دار الفكر–بيروت.

أبو الفضل، عياض بن موسى بن عياض بن عمرون اليحصبي السبتي، أبو الفضل.(١٤٠٧ هـ). الشفا بتعريف حقوق المصطفى، الطبعة: الثانية، الناشر: دار الفيحاء – عمان.

أبو المعالي، برهان الدين محمود بن أحمد بن عبد العزيز بن عمر بن مَازَةَ البخاري الحنفي، المحقق: عبد الكريم سامي الجندي.(١٤٢٤ هـ – ٢٠٠٤ م ). المحيط البرهاني في الفقه النعماني فقه الإمام أبي حنيفة رضي الله عنه، الطبعة: الأولى، المؤلف: الناشر: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان.

اسلامي ويب نيټ .(د ليدو نيټه ۶/۱/۲۰۲۶). (https://www.islamweb.net/ar/fatwa).

الأصبهاني ،أبو نعيم أحمد بن عبد الله بن أحمد بن إسحاق بن موسى بن مهران الأصبهاني، المحقق: محمد حسن محمد حسن إسماعيل الشافعي.( ١٤١٧هـ – ١٩٩٦م). المسند المستخرج على صحيح الإمام مسلم، الطبعة: الأولى، الناشر: دار الكتب العلمية – بيروت – لبنان.

البعلي ،محمد بن أبي الفتح البعلي الحنبلي أبو عبد الله، تحقيق: محمد بشير الأدلبي الكَشْف المُبْدِي لتمويه أبي الحسن السُّبكيّ، تكملة «الصّارم المنكي».(١٤٠١ – ١٩٨١). المطلع على أبواب الفقه، الناشر: المكتب الإسلامي – بيروت.

البغدادي ،علي بن الجَعْد بن عبيد الجَوْهَري البغدادي، تحقيق: عامر أحمد حيدر.( ١٤١٠ – ١٩٩٠). مسند ابن الجعد. الطبعة: الأولى،الناشر: مؤسسة نادر – بيروت.

البلخي ،أبو عبد الله الحسين بن محمد بن خسرو البلخي، المحقق: لطيف الرحمن البهرائجي القاسمي. (١٤٣١ هـ – ٢٠١٠ م). مسند الإمام الأعظم أبي حنيفة النعمان بن ثابت الكوفي رحمه الله تعالى، الطبعة: الأولى،الناشر: المكتبة الإمدادية – مكة المكرمة.

البلخي ،أبو عبد الله الحسين بن محمد بن خسرو البلخي، المحقق: لطيف الرحمن البهرائجي القاسمي

البلخي ،لجنة علماء برئاسة نظام الدين البلخي.( ١٣١٠ هـ). الفتاوى الهندية. الطبعة: الثانية، الناشر: دار الفكر.

البهوتى ،منصور بن يونس بن صلاح الدين ابن حسن بن إدريس البهوتى الحنبلى. ( ـ). كشاف القناع عن متن الإقناع ، الناشر: دار الكتب العلمية.

البيهقي ،أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بكر البيهقي، المحقق: محمد عبد القادر عطا.( ١٤٢٤ هـ – ٢٠٠٣ م ). السنن الكبرى. الطبعة: الثالثة، الناشر: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنات.

جمال الدين أبو محمد علي بن أبي يحيى زكريا بن مسعود الأنصاري الخزرجي المنبجي ، المحقق: د. محمد فضل عبد العزيز المراد.(١٤١٤هـ – ١٩٩٤م). اللباب في الجمع بين السنة والكتاب،الطبعة: الثانية، الناشر: دار القلم – الدار الشامية – سوريا / دمشق – لبنان / بيروت

الحلبي ،الحاجة نجاح الحلبي.(ـــ). فقه العبادات على المذهب الحنفي، بدون طبع، ناشر : مكتبة الشاملة.

دورر ټي.( د ليدو نېټه ١٢/١٢/٢٠٢٥). الذَّبحُ عند القبور).https://dorar.net/feqhia

الرُّعيني ،شمس الدين أبو عبد الله محمد بن محمد بن عبد الرحمن الطرابلسي المغربي، المعروف بالحطاب الرُّعيني المالكي ١٤١٢هـ – ١٩٩٢م). مواهب الجليل في شرح مختصر خليل. الطبعة: الثالثة، الناشر: دار الفكر.

الزيلعي ،عثمان بن علي بن محجن البارعي، فخر الدين الزيلعي الحنفي، الحاشية: شهاب الدين أحمد بن محمد بن أحمد بن يونس بن إسماعيل بن يونس الشِّلْبِيُّ.( ١٣١٣ هـ). تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق وحاشية الشِّلْبِيِّ.الطبعة: الأولى، الناشر: المطبعة الكبرى الأميرية – بولاق، القاهرة.

السرخسي ،محمد بن أحمد بن أبي سهل شمس الأئمة السرخسي.(١٤١٤هـ–١٩٩٣م). المبسوط، الطبعة: بدون طبعة،الناشر: دار المعرفة – بيروت.

السيوطي ،عبد الرحمن بن أبي بكر، جلال الدين السيوطي.(ــ). جامع الأحاديث (ويشتمل على جمع الجوامع للسيوطى والجامع الأزهر وكنوز الحقائق للمناوى، والفتح الكبير للنبهانى).ضبط نصوصه وخرج أحاديثه: فريق من الباحثين بإشراف د على جمعة (مفتي الديار المصرية)،طبع على نفقة: د حسن عباس زكى.

العينى ،أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن حسين الغيتابى الحنفى بدر الدين العينى. (ـــ). عمدة القاري شرح صحيح البخاري،بدون طبع، الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت.

الكشميري ،محمد أنور شاه بن معظم شاه الكشميري الهندي.(١٢٩٢–١٣٥٢). فيض الباري شرح البخاري، المصدر: مكتبة مشكاة الإسلامية.

لجنة الفتوى بالشبكة الإسلامية.( في ١ ذو الحجة ١٤٣٠، هـ = ١٨ نوفمبر، ٢٠٠٩ م). فتاوى الشبكة الإسلامية،تم نسخه من الإنترنت.

المرداوي ،علاء الدين أبو الحسن علي بن سليمان المرداوي الدمشقي الصالحي الحنبلي.( ـ). الإنصاف في معرفة الراجح من الخلاف ،الناشر: دار إحياء التراث العربي، الطبعة: الثانية، ج٢،ص ٥٦٩.علي بن الجَعْد بن عبيد الجَوْهَري البغدادي، تحقيق: عامر أحمد حيدر.( ١٤١٠ – ١٩٩٠). مسند ابن الجعد، الطبعة: الأولى، الناشر: مؤسسة نادر – بيروت.

المقدسي ،محمد بن مفلح بن محمد بن مفرج، أبو عبد الله، شمس الدين المقدسي الراميني ثم الصالحي الحنبلي، المحقق: عبد الله بن عبد المحسن التركي.( ١٤٢٤ هـ – ٢٠٠٣ م). كتاب الفروع ومعه تصحيح الفروع لعلاء الدين علي بن سليمان المرداوي، الطبعة: الأولى، الناشر: مؤسسة الرسالة.

المناوي ،محمد عبد الرؤوف المناوي، تحقيق: د. محمد رضوان الداية.( ١٤١٠). التوقيف على مهمات التعاريف، الطبعة الأولى، الناشر: دار الفكر المعاصر , دار الفكر – بيروت , دمشق.

النجار ،إبراهيم مصطفى أحمد الزيات حامد عبد القادر محمد النجار.(ـــ). المعجم الوسيط. مجمع اللغة العربية بالقاهرة، الناشر: دار الدعوة.

النووي، أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي.( ١٣٩٢). المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج، الطبعة: الثانية، الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت.

النيسابوري ،أبو بكر محمد بن إسحاق بن خزيمة بن المغيرة بن صالح بن بكر السلمي النيسابوري، المحقق: د. محمد مصطفى الأعظمي.(ـ). صحيح ابن خزيمة. الناشر: المكتب الإسلامي – بيروت.

النيسابوري،مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري، المحقق: محمد فؤاد عبد الباقي.(ـــ). المسند الصحيح المختصر بنقل العدل عن العدل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم، الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت.

# د اسلامي امارت د لومړۍ دورې مطبوعاتو ته تاريخي او تحليلي کتنه

پوهنمل عزیزالله صدیق د شیخ زاید پوهنتون، ارتباطاتو او ژورنالیزم پوهنځی، ژورنالیزم څانګه.
**برېښنا ليک:** aziz.sidiq@ gmail.com

**لنډيز**

دا مقاله د افغانستان اسلامي امارت، د لومړۍ دورې (۱۳۷۵-۱۳۸۰هـ ل) مطبوعات څېړي، په دې څېړنه کې به وښودل شي، چې د يادې دورې رسنۍ يوازې د خبر رسونې وسيله نه، بلکې د عامه باورونو او فرهنګي ارزښتونو په رامنځته کولو کې يې مهم نقش درلود، په دې پنځه کلنه دوره کې د ټول هېواد په کچه (۲۴) چاپي امارتي رسنۍ چاپېدلې، چې د اسلامي امارت د مشرتابه د تقنيني فرمانونو ترڅنګ يې د ديني، مذهبي، سياسي، ټولنيزو او فرهنګي موضوعاتو په اړه سياسي، بحثونه، تحليلونه، مقالې، خبرونه، راپورونه او نور عام موضوعات يې خپرول په دې لړ کې(شريعت) اوونيزه چې په کابل او پېښور کې هم مهاله خپرېده د اسلامي امارت د رسمي ارګان په توګه يوه پېژندل شوې چاپي رسنۍ وه، چې په پښتو او دري ژبو خپرېدله، دغې رسنۍ له هېواد څخه بهر په پاکستان کې هم لوستونکي لرل؛ که څه هم له کمي پلوه د دې خپرونو شمېر لږ دی، خو هغو سختو شرايطو ته په کتو په کار ده چې يادونه يې وشي. د دې څېړنې پايلې ښيي، چې د عامه افکارو د جوړېدو په هدف د وخت چارواکي د مطبوعاتو رول ته متوجه وو. زموږ د مقالې بنسټيزه موخه يادو چاپي رسنيو ته يو نظر دی، ترڅو په دې توګه اوسنی نسل ورڅخه خبر او د دوی لپاره يوه سرچينه شي.

**کليدي کلمې:** اسلامي امارت، پنځه کلنه دوره، شريعت، فرهنګي فعاليتونه، مطبوعات

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم الحمدلله رب العالمین والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی آله واصحابه اجمعین!**

د اسلام مبارک دین هغه سپېڅلی جامع دین دی، چې خپلو پیروانو ته یې د ژوند ټولې چارې په صریحو الفاظو بیان کړې دي. الله سبحانه وتعالی په خپل رالېږلي آسماني کتاب کې، فرمايي: { **ٱلَّذِينَ يُبَلِّغُونَ رِسَٰلَٰتِ ٱللَّهِ وَيَخْشَوْنَهُۥ وَلَا يَخْشَوْنَ أَحَدًا إِلَّا ٱللَّهَ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ حَسِيبًا** }(سوره الاحزاب،ایه.۳۹) ژباړه: هغه (انبیاء) چې رسوي پیغامونه د الله، (امتیانو نو خپلوته) او ویرېږي له دغه (الله) او نه وېرېږي د بل هیچا مګریوازې له الله او کافي (بس) دی الله ښه حساب کوونکی ( د بندګانو).

له پورتني الهي ارشاد څخه څرګندیږي چې د اسلام مبارک دین تبلیغ او دعوت ته ځانګړې توجه کړې ده.

د معاصر دعوت په وسایلو کې یوه هم چاپي رسنۍ ده، چې زموږ هیلې پوره کولای شي، د یادې وسیلې په مرسته لوستي او یوه انسانان متأثر کېږي، چې په حقیقت کې دا کار د مسلمانانو ستره بریا ده.

په دې هم پوهېږو، چې دولتونه تل په دې هڅه کې دي، چې حتی د سولې په حالت کې هم یود بل په وړاندې په غیر رسمي او نا اعلان شوي ډول په تبلیغاتو او ناندریو لاس پورې کړي.

په نړۍ کې ځواکمن هېوادونه مخکې له دې چې په یوه سیمه کې حضور پیدا کړي، د رسنیو له لارې د خلکو ذهنونه خپلوي دوی انسان په جسماني لحاظ، نه بلکې په فکري ډول راخپلوي، ځکه دا فکر دی چې جسم رهبري کوي. لکه یوه انګلیسي مقوله ده، چې: (Brain power is replacing Man power) یعنې یو قوي ذهن له لسو متو نه ځواکمن دی.(نیازی,۱۳۹۷ش)

د ایدیولوژیکو او سیاسي موخو د ترلاسه کولو په هدف د نورو لارو ترڅنګ همدا مطبوعات دي، چې ګټه ورڅخه پورته کېږي، رسنۍ د ژورنالیزم په ډګر کې د ټولنې د اخلاقي روزنې یوه په زړه پورې وسیله بلل کېږي. د ایدیالوژۍ او سیاست تشریح، تفسیر او توضیح د مطبوعاتو له بنسټیزو دندو څخه بلل کېږي، د مطبوعاتو بله موخه، د فکري ودې او شعوري پرمختګ له غوړېدا څخه عبارت ده. (وفا, ۱۳۸۸ش)

اداري او حکومتونه د رسنیو او ژورنالیزم ځانګړي ژانرونه د خپلو پیغامونو د خپرولو لپاره کاروي. وفا (۱۳۹۵ش) سیاست او مطبوعات یو له بل سره تړلي دي؛ سیاستوالو تل د فکري جهت ورکولو له پاره له مطبوعاتو څخه نه یوازې د یوې مهمې تبلیغاتي وسیلې په توګه کار اخیستی دی؛ بلکې همدا مطبوعات دي، چې د سیاستوالو موخې (عقاید، افکار او نظریات) په کم وخت کې، پرته له ډېر لګښته په خلکو باندې مني.(صدیق,۱۳۸۲ش )

مطبوعات، چې د ټولنې مغز او د حقیقتونو د انعکاس هېنداره ده، د مطبوعاتو په مټ سیاستوال په دې بریالي شوي دي، چې د ځان په ګټه د ټولنې واګې تر لاسه او یوه ځانګړي لوري ته رهبري کړي، په بل عبارت له فرهنګي اړخه د ټولنې پېژندل زموږ سره مرسته کوي، چې د ټولنې په موجودو او راتلونکو حالاتو باندې نه یوازې، چې پوه شو؛ بلکې موږ د هغې پرمټ کولای شو، چې تر یوې کچې د ټولنې نن او سبا هم و ارزوو، د مطبوعاتو دې ارزښت او قوت ته په کتو د افغانستان اسلامي امارت، چې د لومړي ځل له پاره په (۱۳۷۳هـ ل) کال کندهار ښار ونیو زر یې طلوع افغان جریده، چې له کلونو را پدې خوا له فعالیته لوېدلې وه، فعاله کړه.
د یادې خپرونې منځپانګه د اسلامي امارت رهبري مقام فرمانونه، د جګړو له ډګر خبرونه، راپورونه خپرول وو.

**موخې**

- ✓ د افغانستان د اسلامي امارت د تېرې دورې د مطبوعاتو معرفي کول
- ✓ د هغه مهال له فرهنګي جریان څخه د ځوان نسل خبرول
- ✓ د څېړونکو لپاره په دې برخه کې د یوې باوري سرچینې ایجادول

**د څېړنې اړتیا**

د (افغانستان مطبوعاتو تاریخ) مضمون، د ژورنالیزم پوهنځیو په لومړنیو ټولګیوکې تدریسېږي؛ خو تر اوسه یې د د مفرداتو په اډانه کې د پورتنۍ دورې له چاپي خپرونو یادونه نه ده شوې. دغه مقاله ورته د یوې ښې مرستندویه درسي سرچینې په توګه کارېدلی شي، همدا راز ټولو هغو کسانو ته، چې د لومړي اسلامي امارت د تېرې دورې چاپي خپرونو په اړه تحقیق کوي، د هغوی لپاره یو ښه مأخذ ګرځېدلای شي.

**کړنلاره**

په مقاله کې له اسنادي یا کتابتوني مېتود(Library-based / Documentary) څخه استفاده شوې ده. دا یو غیر میداني مېتود دی، چې څېړونکي د خپلې موضوع اړوند مواد له چاپي او لیکلیو سرچینو، آرشیفي اسنادو، کتابتونونو، رسمي راپورونو او تاریخي اسنادو څخه را غونډوي او تحلیل او ترتیبوي یې دا هغه غیرمیداني، منابعي محوره تحلیلي تحقیقي چوکاټ دی، چې معلومات په کې له باوري اسنادو څخه را ټولېږي، طبقه بندي کېږي او د مقایسې، تحلیل او تفسیر له لارې عملي پایلې ترې اخیستل کېږي

په دې مقاله کې درې واړه ځانګړتیاوې موجودې دي. په دې څېړنه کې د مأخذونو او (Citation) لپاره د (APA) طریقه کارولې ده.

## تېرو آثارو ته کتنه

د افغانستان اسلامي امارت د لومړۍ واکمنۍ د مطبوعاتو په اړه تر دې دمه ځینې خورې ورې او غیر منظمې لیکنې شوې دي؛ د بېلگې په توگه: د کابل پوهنتون د ژورنالیزم پوهنځي استاد، مرحوم پوهاند محمد کاظم آهنگ، په خپل اثر (سیرژورنالیزم در افغانستان) کې تنها د (شریعت) جریدې نوم یاد کړی او څرگندوي چې دغه اوونیزه د (اسلامي امارت) د ژبې حیثیت درلود.

همدارنگه، د یاد پوهنځي بل پخوانی استاد، دوکتور محمد هاشم عصمت‌الله الهي، په خپل کتاب (نظام مطبوعات افغانستان) کې د دې دورې د ځینو جریدو نومونه راوړي او په دې اړه یې لنډ معلومات وړاندې کړي دي. سربېره پر دې، مېرمن منیژې باختري په خپل اثر (۹۳ سال رسانه و قانون کې) د یادې دورې مطبوعاتو ته ځای، ځای اشارې کړې دي؛ نو په دې بنسټ دا ضرورت دی، چې په اړه یې لاډېرې زیاتې څېړنې او تحقیقات وشي.

## پېژندنه

مخکې تردې چې خپل اصلي بحث ته داخل شو په کارده، چې لاندې جدول په پوره دقت سره له نظره تېر کړو، د جدول په شپږم کالم کې لیدل کېږي، چې ټولې رسنۍ حکومتي دي او هېڅ کومه داسې رسنۍ نه تر سترگو کېږي، چې هغه دې غیر امارتي او یادې په بل کوم بنسټ پورې تړاو ولري، دا چې د دې رسنیو پالیسي څه ډول وه، او دا رسنۍ د چاله خوا تمویلېدلې مخاطبین یې څوک وو دا او دې ته ورته نور موضوعات به په تفصیل سره د مقالې په راتولونکو برخو کې ولولو:

**۱-جدول** : د لومړي اسلامي امارت مرکزي چاپي مطبوعات

| گڼه | نوم | ځای | اغېز | منځپانگه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | شریعت | کابل-پېښور | د خلکو د افکارو رهبري کول | دیني بحثونه، سیاسي مسائل د جگړې خبرونه امارتي فرمانونه |
| ۲ | کابل ټایمز | کابل | بهرنیانو ته د افغانستان د خبرونو رسونه | خبرونه او تاوده سیاسي مسائل |
| ۳ | انیس | کابل | د خلکو د اذهانو ترڅنگ ادبي پنځونه | ټولنیز، سیاسي او فرهنگي مسائل |
| ۴ | هیواد | کابل | د عامه باور د جوړولو ترڅنگ ادبي پنځونه | فرهنگي او ادبي مسائل |
| ۵ | د خپرونو هینداره | کابل | د خپرونو څار | د نورو رسنیو د فعالیتونو په اړه گزارشونه تهیه کول |
| ٦ | مخدرات | کابل | د مخدره توکو د کښت، ترافیک او قاچاق مخنیوی | د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې خبرونه |
| ۷ | ترافیک | کابل | عامه پوهاوی | د ترافیکو د ریاست اړوند خبرونه |
| ۸ | مجله | کابل | فرهنگي او نشراتي فعالیتونو معرفي کول | د بیهقي خپرندوی ټولنې خبرونه |
| ۹ | آریانا | کابل | فرهنگي وده | فرهنگي مسائل |
| ۱۰ | صدای اطفال | کابل | د ماشومانو روزنه او تعلیمي پوهاوی | د کوچنیانو اړوند مسائل |

**شریعت**

یاده اوونیزه په پېښور د اسلامي امارت د مرکزي ارګان په توګه تأسیس شوه او وروسته په کابل کې هم خپرېده په دې اړه د کابل پوهنتون پخوانی استاد مرحوم پوهاند محمد کاظم آهنګ دغه خپرونه د اسلامي امارت ژبه بولي او وایي: شریعت د اسلامي امارت ژبه او ترجمان دی.(آهنګ,۱۳۸۳ش)
یا ده اوونیزه په ۱۳۷۴ ل کال کې د مولوي احمد جان په مسوول مدیریت له پېښوره خپره شوه، وروسته یې پر۱۳۷۵ل کال کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت د مرستیال عبدالرحمن هوتک په مدیریت یې په کابل کې خپرونې پیل کړې.

په اوونۍ کې دوه ځله۳۰۰۰ ګڼې له کابل او پېښوره یوځای خپرېده. له عبدالرحمن هوتک وروسته عبدالرحیم ثاقب او په هغه پسې مولوي اسدالله حیدري مسوول مدیر او ملا محمد نبیل یې مرستیال وټاکل شو، ملا اسدالله حنفي هم د نوموړې خپرونې مسوول مدیر و (وردګ,۱۴۰۴ش).

**منځپانګه**

- دیني بحثونه
- د جګړې خبرونه
- امارتي فرمانونه
- او تریوه ځایه د بیارغونې ځینې راپورونه هم په کې خپرېدل

یاده خپرونه د حکومت له مهمو نشراتي ارګانونوڅخه کېده، ویلای شو چې شریعت په پېښور او افغانستان کې مینوال او لوستونکی لرل او په دې ډول یې سیمه ییز او کورني دواړه نقشونه لوبولي دي.

**اغېز**

د حکومتي موخو ملاتړ یې کولو. اغېز یې د هېواد په داخل او بهرکې محسوس وو، د هېواد د رسمي سیاسي او دیني دریځ تر ټولو څرګنده خپرونه وه، چې لوستونکي یې د اسلامي امارت د موخو او پالیسی سره بلده کړل د حکومت رسمي نشراتي ارګان و، د عامه ذهنیت په بسیج کې یې فوق العاده رول ادا کړی وو.

دا د نظام د رسمي دریځ ترټولو مهمه داسې خپرونه وه، چې ډېری خلک یې د اسلامي امارت له دریځ سره بلد کړل. د پورتنیو دلایلو په رڼا کې ویلای شو چې دې رسنۍ ته د اسلامي امارت له خوا ځانګړې پاملرنه کېده او

د حکومت رسمي دریځ یې منعکسوه.د هغه مهال چارواکو د (شریعت) ورځپاڼې ته په جدي توګه توجه لرله (باختري,۱۳۹۵ش).

په (۲۰۰۱) کال کې په افغانستان باندې د امریکا په مشرۍ د نړیوال یرغل په پایله کې دغه خپرونه د لنډې مودې لپاره بنده شوه؛ خو د شلو کالو په اوږدو کې دې جریدې په آنلاین ډول نشرات درلودل او لګښت یې د اسلامي امارت پرغاړه ؤ.

دا اوونیزه د اسلامي امارت د سیاسي او مذهبي موخه ترلاسه کولو اساسي وسیله وه، چې موخه یې د شریعت انفاذ او د اسلامي مسایلو انعکاس و.

د پورتنۍ اوونیزې علمي تحلیل موږ ته دا په ګوته کوي، چې شریعت یوازې یوه جریده نه ه، بلکې د نظام د سیاسي او ایدیالوژیک دریځ د بیانولو ترټولو مهم ارګان و، په سیاسي نظامونوکې هغه شمېر رسنۍ چې د حکومتونوژبه بلل کېږي، د عامه باورونو د انسجام د سیاسي مشروعیت د رامنځته کولو اساسي وسیله ګرځي. په دې اوونیزه کې حکومتي فرمانونه، دیني بحثونه او د جګړې خبرونه شامل. (آهنګ،۱۳۸۳)

**کابل ټایمز**

د عبدالستار یوسفزي په مسوول مدیریت په اوونۍ کې دوه ځلې په کابل کې په انګلیسي ژبه خپرېده. د یادې جریدې، مخاطبین دیپلوماتیکې استازولۍ وې، سربېره پردې په پلازمېنه کې په بهرنیو خیریه بنسټونو، لکه سور صلیب او نورو باندې په وړتیا توګه وېشل کېدله. (الهي,۱۳۸۲ش)

**منځپانګه**

د شته معلوماتو پر بنسټ کولای شو چې د پورتنۍ رسنۍ محتوا په لاندې ډول شرحه کړو:

- له خپرونو یې معلومېدل چې له نړیوالو سره یې د تعامل فضا نارمل وساتي.
- کوښښ دا و، چې د اسلامي امارت رسمي دریځ د نړیوالو تر غوږونو ورسوي.
- داسې مقالې په کې نشرېدلې چې د ثبات او کنترول انځور وړاندې کړي.
- د مرستندویه سازمانو او دارو فعالیتونه منعکس کړي.

**نشراتي ژبه یې**

- ژبه یې معتدله وه
- دیني او مذهبي ترمینالوژي په کې لږ کارېدله
- د انتقادي ژورنالیزم ځانګړتیاوې په کې نه وې(الهي,۱۳۸۲ش)

د کابل ټایمز د محتوا له ارزونې دې نتیجې ته رسېږو، چې د یادې جریدې مخاطبین بهرنیان وو، د ژبې انتخاب یې انګلیسي او مطالب معتدل نرم او معتدل وو، دا ښیي، چې اسلامي امارت کوښښ کول، چې د نړیوالو او ډیپلوماتیکو استازولیو لپاره یو باثباته او منظم انځور وړاندې کړي. په رسنیزو مطالعاتو کې دې ته ورته رسنۍ د بهرني ارتباط د یپلوماتیک رسنۍ په نوم یادېږي، چې هدف یې د نړیوالو عامه ذهنیتونو مدیریت وي. (الهي,۱۳۸۲ش)

**انیس**

دغه ورځپاڼه د اسلامی امارت په راتګ سره بیا ځلې په فعالیت او خپرونو پیل وکړ، تېراژ یې ۳۰۰۰ ګڼې وې، په څلورو پاڼو کې په اونۍ کې دوه ځلې خپرېدله، چې اندازه یې له ۳۰-۴۰ سانتي متره وه، منځپانګه یې ټولنیزه، فرهنګي او ادبي وه، چې په پښتو او دري ژبو چاپېدله.
انیس یوه پخوانۍ تاریخي اوونیزه ده، چې د مرحوم غلام محی الدین انیس له خوا په ۱۳۰۶ ل کال کې په کابل کې تأسیس شوې ده؛ مګر وخت ناوخت یې د خپل ژوند ډېرې هسکې ټیټې وزغملې، چې د اسلامي امارت د لومړۍ دورې مهال یو ځل بیا په نسبتاً ښې محتوا سره د افغانستان د مطبوعاتو په آسمان کې وځلېده. (وردګ,۱۴۰۴ش)

**منځپانګه**

- په ټولنیزه برخه کې یې محتوا اخلاقي او ښوونیزې لیکنې او ورځنۍ چارې وې
- په فرهنګي برخه کې یې شعر او شاعري، ادبي ټوټې، لنډې کیسې او د نورو کلتوري چارو انعکاس و
- رسمي دریځ یې د نظام د لاسته راوړنو بیان او د دولتي فعالیتونوله انعکاس څخه عبارت و

**د ژبې ځرنګوالی**

- ✓ نظامي او پوځي اصطلاحات یې لږ کارول.
- ✓ فرهنګي او ټولنیزو مسایلو ته یې ډېره توجه وه.
- ✓ دیني رنګ په کې له ورایه ځرګند و.
- ✓ پر نظام باندې یې نیوکه نه کوله
- ✓ او د اسلامي امارت دریځ ته ژمنه رسنۍ وه

په پای کې ویلای شو، چې انیس د اسلامي امارت په لومړۍ دوره کې د ټولنیز او فرهنګي مشروعیت وسیله وه، چې د رسمي خبرونو ترڅنګ ادبي او ټولنیز مطالب هم خپرول په منځپانګه کې نیوکه او انتقاد نه لرل. (الهي,۱۳۸۲ش)

ویلای شو، چې په هېواد کې د کورنیو سیاسي او فرهنګي پیغامونو د لېږد او پراختیا او د عامو خلکو د اذهانو د جوړولو په برخه کې انیس یوه په زړه پورې او مهمه رسنۍ وه.

**هېواد**

دغه خپرونه په هفته کې دوه ځلې له کابله خپرېده، چې اندازه یې ۳۸ پر۵۲ سانتې متره وه او منځپانګه یې خبري وه، په پښتو او دري ژبو یې مطالب خپرول.

محتوای یې کولای شو په لاندې ډول وه:

- ✓ په عام ډول یې منځپانګه خبري وه، په دې معنا، چې فعالیتونه او لاسته راوړنې یې خپرولې.
- ✓ ادبي او فرهنګي موضوعاتو ته هم په کې ځای ورکړل شوی و.
- ✓ ژبه یې ساده او عام فهمه وه.
- ✓ په دیني او اخلاقي موضوعاتو یې هم تمرکز شوی و

**اغېز**

- د عامه ذهنیت په جوړولو کې یې له شریعت او انیس سره همغږي لرله.
- په دا خل د افغانستان کې د خلکو د ذهنیت د جوړولو یوه ښه رسنۍ وه.

مخاطبین په کور دننه افغانان و. (وردګ,۱۴۰۴ش)

له پورتني تحلیل نه پوهېږو، چې هیواد د اسلامي امارت د لومړي حاکمیت د چاپي خپرونو له یوه مهمه رسنۍ وه چې د افغانستان په داخل کې د خلکو د رهبرۍ په برخه کې نسبتاً ښه رول ادا کړی دی. معلومېږي، چې دا رسنۍ د فرهنګي، ادبي، ټولنیزو مسایلو او په فرهنګي برخه کې د بیان ښه وسیله وه نتیجه دا چې اسلامي امارت غوښتل، چې د نرم ځواک (Soft Power) له اصل نه ګټه پورته کړي، په دې معنا، چې د ادبي او فرهنګي مسایلو له لارې یې کوښښ کولو چې د ټولنې په فکري قشرکې د خپل نظام د منلو وړ چاپېریال جوړکړي. (وفا،۱۳۸۸)

**۲-جدول: ولایتي چاپي رسنۍ**

| ګڼه | د خپرونې نوم | ځای | ژبه | ډول | منځپانګه | اغېز |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | کونړ | اسعد آباد | پښتو | اوونیزه | دیني او فرهنګي مسائل | د عامه افکارو د جوړولو ترڅنګ ادبي پنځونه |
| ۲ | ننګرهار | جلال آباد | پښتو | اوونیزه | د یاد ولایت او نړدې سیمو خبرونه او کله کله شاعري | فرهنګي بډاینه |
| ۳ | بیدار | بلخ | پښتو او دري | مهالنۍ | خبرونه او نور مسائل | خبرونه، تصبرې |
| ۴ | نور | بلخ | دري | اوونیزه | د بلخ روغتون د طبي فعالیتونو خپرول | د بلخ روغتون د فعالیت انعکاس |
| ۵ | اورنګ هشتم | هرات | پښتو او دري | مهالنۍ | ادبي، فرهنګي او تاریخي مقالې یې خپرولې | فرهنګي پنځونه |
| ۶ | طلوع افغان | کندهار | پښتو | اوونیزه | فرهنګي سیاسي ټولنیز اوفرهنګي مسائل | فرهنګي غوړېدا او د عامه افکارو بیداري |

له پورتني جدوله نه په زغرده معلومېږي، چې ټولې ولایتي رسنۍ د عامه ذهنیت جوړولو او د نظام د رسمي پالیسۍ د تطبیق په موخه د حکومت رسمي تګلاره تعقیب کړې. په دې توګه اسلامي امارت غوښتل د مطبوعاتو اغېز یوازې په کابل پورې محدود نه وي، بلکې په ولایتونو کې هم د مذهبي، کلتوري او سیاسي ارزښتونو د پاللو په پار د نورو لارو ترڅنګ له رسنیو څخه هم ګټه پورته شي. د لازیاتو معلوماتو په خاطر موږ به هره رسنۍ په لاندې توګه تحلیل کړو.

**کونړ**

**منځپانګه**

۱. فرهنګي او کلتوري لیکنې یې نشرولې
۲. د یني مسایل په کې خپرېدل
۳. د اسلامی امارت د رسمي نشراتي پالیسۍ کلکه پابنده رسنۍ وه

**د ژبې ځرنګوالی**

- سیاسي اصطلاحات په کې تر ډېره له تعبیرونو سره مل و
- نظامي تحلیلي په کې لږ وو
- ژبه یې ساده ده

**اغېز**

- ✓ د سیمې په کچه د نظام د پالیسۍ انعکاس
- ✓ د دیني ارزښتونو په ترویج کې یې مهم رول ادا کړی دی.
- ✓ د محلي عامه افکارو په جوړښت کې پوره ونډه درلوده

**ننګرهار**

دغه رسنۍ د ننګرهار ولایت په مرکز جلال آباد کې د اطلاعاتو او کلتور ریاست له خوا د مهالنۍ په بڼه وخت نا وخت چاپېده. د دولتي ابلاغیو او راپورونو ترڅنګ خبرونه شعر او شاعري هم په کې ترسترګو کېدل په دې توګه عامه اطلاع رسونه او فرهنګي هڅې یې دواړه په نظر کې نیولې وې (وردګ,۱۴۰۴ش) .

**هدف او مخاطب یې**

مخاطبین یې په عام ډول د ننګرهار ولایت اوسېدونکي وو اوغوښتل یې چې د ولایت په کچه خلک د حکومت له فرهنګي هڅو خبر شي.

**ځانګړتیاوې**

سیاسي تبلیغ په کې لږ و، نظام ته پابنده وه، انتقادي ژبه یې نه لرله. (وردګ,۱۴۰۴ش)

**بیدار**

بیدار، چې د تنظیمي واکمنۍ تر ړنګېدا وروسته له فعالیته لوېدلې وه ، د اسلامي امارت د واکمنۍ پرمهال یې بیا خپرونې پیل کړې. نوموړې خپرونې اتیا سلنه دري او شل سلنه پښتو مطالب خپرول.(الهي,۱۳۸۲ش)

بیدار نه یوازې د مزار شریف؛ بلکې د هېواد شمال زون په کچه یوه نسبتاً پېژندل شوې جریده وه، لومړی ځل د محمد ظاهرشاه د سلطنت په مهال په مزارشریف کې د افغانستان په رسنیز لېست کې شامله شوه، چې د لومړي اسلامي امارت د واکمنۍ په لړ کې یې بیا هم په مزار شریف کې بېرته فعاله شوه.

**منځپانګه**

۱. بیدار د یاد زون په کچه رسمي دولتي فعالیتونه منعکس کول
۲. د دولت ابلاغیې او اطلاعیې په کې نشرېدلې
۳. ژبه یې دولتي وه
۴. د فرهنګي فعالیتونوخبرونه یې خپرول
۵. سرمقالو یې د سیمه ییزې حکومت ولۍ استازیتوب کولو

**مخاطبین**

۱. د ولایت په کچه عام خلک او دولتي مامورین وو
۲. د افغانستان د شمالي زون په سطحه یوه معتبره امارتي چاپي رسنۍ وه

**نور**

د بلخ د سترګو د روغتون خپرونه وه، چې د ډاکټر مرتضی فرهمند په مسوول مدیریت په ۱۳۷۷ ل کال کې خپره شوه.
دې خپرونې هم د افغانستان اسلامي امارت د لومړۍ دورې پرمهال په یاد ولایت چاپېدله. (وردګ,۱۴۰۲ش)

**منځپانګه**

- ✓ د روغتیا په اړه معلومات او مطالب خپرول
- ✓ کله کله یې د روغتون د لاسته راوړنو په تړاو هم معلومات هم نشرول
- ✓ مخاطبین عام خلک وو.
- ✓ د اسلامي امارت اصولو ته پوره پابنده خپرونه وه.

**د خپرونو هینداره**

لکه څنګه چې له نوم څخه یې معلومېږي، دغه خپرونه د نورو رسنیو د محتوا د کنټرول او څارپه موخه ایجاد شوې ده.(باختري,۱۳۹۵)

**منځپانګه**

منځپانګه یې د ټولو نورو داخلي خپرونو کنټرول و، یا په بل عبارت دې خپرونې نورې رسنۍ څارلې او په دې توګه یې اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د نشراتو ریاست ته هره اونۍ ګزارش ورکولو.

**اورنګ هشتم**

هرات فرهنګي او علمي خپرونه وه، چې په پښتو او دري ژبو خپرېده. د اسلامي امارت له پالیسۍ سره په پوره همغږۍ یې د یاد ولایت او شاوخوا سیمو فرهنګي فعالیتونه تر پوښښ لاندې نیول. دا چې هرات د افغانستان له فرهنګي سیمو څخه ګڼل کېږي،. د یادې خپرونې مسوول مدیر غلام دستګیر قیومي و، اندازه یې له ۳۰ څخه تر ۴۰ سانتي متره وه او په څلورو مخونوکې خپرېدله، چې ادبي، تاریخي، مقالې او مطالب یې خپرول (الهي، ۱۳۸۲ش).

**منځپانګه**

- ✓ د شعر او شاعرۍ خبرونو خپرول
- ✓ ادبي او فرهنګي مقالې نشرول
- ✓ شعرونه او لنډې ادبي ټوټې
- ✓ لنډې کیسې او داستانونه

**طلوع افغان**

طلوع افغان جریده په ۱۳۰۰ ل کې په کندهار ښارکې د پوهاند عبدالحی حبیبي په مسوول مدیریت تأسیس شوه، دا د افغانستان په تاریخ کې یادې رسنۍ د بېلا بېلوسیاسي نظامونو په لړ کې د خپل نشراتي ژوند ډېرې هسکې ټیټې تېرې کړې دي، د اسلامي امارت په راتګ سره په کندهارکې لومړۍ خپرونه وه، چې د اسلامي امارت د مشرتابه په مستقیم هدایت یې د چاپ چارې پیل شوې، په حقیقت یاده رسنۍ لومړنۍ چاپي هڅه وه (ورد، ۱۴۰۴ ش).

د لا ښه وضاحت په موخه دلته د یادو رسنیو یو لنډ مقایسوي تحلیل وړاندې کېږي څو لوستونکو ته مو، موضوع نوره هم تشریک کړې وي.

د کابل ټایمز ډېری د دیپلوماسۍ ژبه کاروله، په داسې حال کې چې شریعت سیاسي، مذهبي او اخلاق اړخ درلوده. دواړو جریدو خپل رسمي دریځونه تعقیب کول خو انیس بیا برعکس فرهنګي بحثونه او ادبي بحثونه او مطالب خپرول لیکوالای یې زیاتره دري ژبي وو.

د طلوع افغان خپرونې پښتو وې، چې محتوایې فرهنګی، سیاسي او ټولنیز مسایل وو. یادې جریدې په کندهار، هلمند، زابل او ارزوګان ولایتونو سربېره حتی په کویټه کې لوستونکي درلودل، چې شعرونه او ادبي ژانرونه یې هم خپرول له شک پرته چې د یادو سیمو په فکري غوړېدا کې د طلوع له اغېزنه سترګې نشو پټولای. .(وردګ,۱۴۰۴ش)

**مجلې**

د اوونیزو ترڅنګ یو شمېر مجلې هم خپرېدې، چې د اسلامي امارت د پالیسې مطابق یې خپرونې کولې.

**۳- جدول:** په کور د ننه مجلې

| گڼه | د مجلې نوم | د خپرېدو ځای | د خپرېدو کال | ژبه | منځپانگه | مسووله ادار |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | خلافت | کندهار | ۱۳۷۷ | پښتو | سياسي | د کندهار اطلاعات او کلتور رياست |
| ۲ | سنگر | کابل | نامعلوم | پښتو او دري | نظامي | ملي د فاع وزارت |
| ۳ | اردو | کابل | ۱۳۷۸ | پښتو او دري | نظامي | ملي دفاع وزارت |
| ۴ | قلم | کابل | ۱۳۷۹ | پښتو او دري | فرهنگی | اطلاعات او کلتور وزارت |
| ۵ | کمکيانو انيس | کابل | ۱۳۷۸ | پښتو او دري | تربيتي | اطلاعات او کلتور وزارت |

**۱- خلافت**

دا مجله ، چې په کندهار کې خپرېده ،مسوول مدير يې سردار محمد شکيب و.
ياده مجله د اسلامي امارت د خپرنيز ارگان په توگه د اطلاعاتو او کلتور رياست له خوا په۱۳۷۷ ل کال کې نشر شوه، چې په پښتو او دري ژبو يې مطالب خپرول او په مياشت کې يو ځل خپرېده، چې تاريخي سياسي او اوونيزې مقالې يې خپرولې.

**منځپانگه**

- ✓ د حاکم نظام فکري او عقيدوي بنسټ يې تفسير او توضيح کولو؛
- ✓ مخالفونظرياتو ته په کې ځای نه و.
- ✓ ديني برخه يې پياوړې وه
- ✓ د سيمې او نړيوالو قدرتونو پرسياست يې نيوکې د منځپانگې بله ځانگړتياوه.

خلافت د ټول افغانستان په کچه د اسلامی امارت له مهمو مجلو څخه گڼل کېده، له ليکنوڅخه يې داسې ښکارېده، چې ډېر قوي او پياوړي ليکوالان لري. له افغانستان څخه بهر يې په بلوچستان او پښتونخوا کې هم مينوال او لوستونکي درلودل. (الهي,۱۳۸۲ش)
نو په دې توگه دې مجلې د افکارو د بسيجولو کې خپل رول په ښه توگه لوبولی دی.

**سنگر**

دا هم مجله وه، چې محتوا یې نظامي او سیاسي مطالب وو او هدف یې د جګړې له ډګره د عامو خلکو خبرول وو مخاطبین یې عام لوستونکي وو.

**قلم**

د اطلاعاتو او کلتور وزارت له خوا پر ۱۳۷۹ ل کال کې د میاشتنۍ مجلې په بڼه په پښتو او دري ژبو خپرېده. لکه له نوم څخه یې چې معلومېږي په دې مجلې کې ډېری فرهنګي مسائل او شعرونه خپرېدل.

**کندهار**

کندهار په ۱۳۷۷ کال د کندهارد اطلاعات اوکلتور ریاست له خوا د عبدالحی مطمئین په مسوول مدیریت د دوه میاشتنۍ مجلې په بڼه خپرېده. څنګه چې ښاغلي مطمئن د افغانستان له پیاوړو فرهنګیانو څخه شمېرل کېږي، نو له شک پرته، چې کندهار مجله یې هم په ښه توګه چلولې ده.

**منځپانګه**

- سیاسي، ټولنیزو او اقتصادي مسائل
- د ادب برخې ته یې هم توجه لرله.

**کمکیانو انیس**

د ۱۳۷۸ په وري کې د مجلې په بڼه خپرېده. دې مجلې د ماشومانو اړوند ادبیات او کیسې خپرولې.

**اردو**

دا د افغانستان ډېره پخوانۍ مجله وه، چې د اسلامي امارت په راتګ سره په ۱۳۷۸ ل کال کې بېرته فعاله او نظامي مسائل یې تر پوښښ لاندې نیول.(الهي,۱۳۸۲ش).

. مجلې هغه چاپي رسنۍ دي، چې د فرهنګي اوسیاسي مسایلو د ژورې ارزونې او تحلیل په موخه کارېږي. د قلم، خلافت او سنګر منځپانګې دا په ډاګه کوي، چې د اسلامي امارت کوښښ دا و، چې د خپلو مذهبي او سیاسي مفاهمیو په هدف یو فکري چوکاټ را منځته او په دې ډول د لوستو قشرونو ترمنځ ایدیولوژیک اغېز ډېرکړي. (الهي,۱۳۸۲ش)

**د مجلو علمي پرتله**

د دې دورې مجلې چې د منځپانګې، موخو او مخاطبينو له اړخه یې خاصې ځانګړتیاوې درلودې له ورایه په کې ژور فکري پيغاموه ښکارېدل دغه مجلې، چې د خلافت، سنګر، قلم، کندهار او کمیکانو انیس په نومونو يادې شوې دي لاندې د لاندې ډول پرتله کېږي:

له موخې او منځپانګې څخه يې معلومېږي، چې خلافت مجله تر ډېره عقيدوي او سياسي رنګ درلود او د اسلامي امارت د ايډيولوژيکو او فکري موخه لپاره کارېده. د دې مجلې فعاليت نېغ په نېغه د امارت تر نظارت لاندې و د سيمې او نړۍ په تړاو يې هم تحليلي مطالب خپرول. له دې کبله خلافت د سياسي او فکري بسيج په برخه کې مهم رول درلود او په افغانستان سر بېره په بلوچستان او پښتونخوا کې يې هم مينوال لرل.

د خلافت برخلاف سنګر مجله تر ډېره نظامي مسايلو ته، چې بنسټيزه موخه يې د جګړې له وضعيت د عاموخلکو خبرول وو،ځانګړې شوې وه، نو په دې يې منځپانګې نظامي او پوځي بڼه درلوده.

قلم بيا د سنګر برعکس فرهنګي مجله وه، چې محتواي يې ادبي ښکلا لرله، فرهنګي مطالب، ادبي ليکنې او شعرونه يې خپرول، ياده مجله د فرهنګي پوهاوي په پار خپرېدله او د نورو مجلو په پرتله يې ژبه نرمه وه.

همدا راز کندهار مجله، څنګه چې له نامه څخه يې معلومېږي په کندهار ولايت کې د اطلاعات او فرهنګ رياست له آدرسه خپرېده، چې د سيمه ييزو، ټولنيزو او فرهنګي مسايلو انعکاس اصلي موخه وه.

له بله اړخه کمکيانوانيس ماشومانوته ځانګړې شوې وه چې روزنيز مطالب، کيسې او د ماشومانو ادبيات يې خپرول. ياده مجله د ماشومانو د فکري اوادبي روزنې لپاره کارېدله.

اردو مجله د پوځي موضوعاتو خپرولو ته ځانګړې شوې وه چې نظامي مسايل يې ترپوښښ لاندې راوستل.

نو معلومېږي، چې يادې ټولې مجلې که څه هم د اسلامي امارت ترڅتر لاندې خپرېدلې، مګر د موخې، منځپانګې، مخاطبينو اواغېز له اړخه يې فرق درلود. ځينې يې لکه سنګر او اردو نظامي موضوعاتو ته ځانګړې وې او بعضې نورې يې لکه خلافت ايدیولوژيکې او سياسي موخې تعقيبولې، يوشمېر نورې يې لکه قلم، کندهار او کمکيانوانيس ادبي، فرهنګي او روزنيز مطالب خپرول، له دې توپيرونو باوجو د ټولو شريک ټکی دا و، چې ټولو مجلو د نظام د رسمي پاليسی د انعکاس او د اړوندو ادارو د فعاليتونو د انعکاس لپاره کارکولو.

**۴- جدول:** له هېواده بهر امارتي پلوه چاپي رسنۍ

| ګڼه | نوم | ځای | ژبه | تيراژ | ډول | اغېز | منځپانګه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | الخلافت الاسلامیه | پاکستان | اردو | ۴۰۰۰/۳۰۰۰ | اوونيزه | د اسلامي امارت په اړه د عامه افکارو جوړېدل | ديني او سياسي مقالې |
| ۲ | ضرب مؤمن | پاکستان | اردو | ۳۰۰۰ | ورځپاڼه | د اذهانو جوړونه | ديني او سياسي مقالې |

**الخلافت الاسلامیه**

له افغانستان څخه بهر يې خپرونې او لوستونکي لرل، دغه اوونيزه په ۱۳۷۷ل کال کې تأسيس شوه، چې تېراژ يې له ( ۳۰۰۰-۴۰۰۰ ) نسخو پورې و، په اردو ژبه په پنځلسو ورځوکې چاپېده او منځپانګه يې سياسي وه (باختري، ۱۳۹۵ش).

دغه رسنۍ له افغانستان څخه بهر د اسلامي امارت له ډېرو نيږدې او خواخوږو په قطار کې حسابېږي

**موخه او منځپانګه**

- ✓ يادې رسنۍ د اسلامي جهاد دريځ او ليد لوری ترپوښتنې لاندې را وستل
- ✓ منځپانګه يې د اسلامي او جهادي مبارزې د اساساتو تبليغ کول وو.
- ✓ د اسلامي امارت دريځ يې عامو خلکو او نړۍ ته رسول يې بنسټيزه موخه وه

**خپرنيزه ځانګړتيايې**

مخاطبين له افغانستان څخه د باندې په پاکستان هېواد کې اردو ژبي خلک وو پيغام يې واضح او صريح و

**اغېز**

په پاکستان کې د اسلامي امارت د مشروعيت او د اسلامي ارزښتونو تبليغ او ترويج يې مهمه ځانګړتياوه چې له شک پرته دې رسنۍ سيمه ييز اغېز درلود. ويل کېږي، چې د الخلافت اسلاميه اخبار د اسلامي جهاد دعلماؤ له خوا ايجاد شوی و (وردګ،۱۴۰۲ ش).

**ضرب مؤمن**

په اسلام آباد کې په اردو ژبه خپرېدله، چې ډېری وخت يې سياسي مقالې خپرولې له په پاکستان کې يې ډېر لوستونکی لرل. يادې رسنۍ په اردو ژبه خپرونې کولې له کراچۍ نه خپرېده (باختري, ۱۳۹۵ش).

د اسلامي امارت په گټه يې په پاکستان کې تبليغ کاوه. د دې جريدې تېراژ ۳۰۰۰ و، چې په ( ۱۳۷۶ ل ) کال کې د پاکستان په کراچۍ ښار کې يې په اردو ژبه د چاپ په گاڼه ښايسته شوه، لوستونکي يې د اردو ژبې ويونکي وو، کچه يې له ۴۰ تر ۸۵ سانتي متره وه او له څلورو څخه تر اتو پاڼو پورې چاپېده ( الهي,۱۳۸۲ش )

**منځپانګه**

۱. منځپانګه او هدف يې د افغانستان خبرونه او سياسي مقالې وې.
۲. له ژبې يې په څرګند ډول معلومېږي، چې په بهر کې اردو ژبو لوستونکو ته د افغانستان اسلامي امارت سياسي موقف يې بيانول وو.

اغېزيې څرګند وچې د افغانستان د حکومت په اړه د مثبتو افکارو جوړول و. په آخرکې کولای شو پورته ذکر شوې مجلې په لاندې توګه په لنډ ډول سره و ارزوو:

ضرب مؤمن او اخلافت الاسلاميه هغه چاپي رسنۍ وې په پاکستان کې چاپ او د افغانستان اسلامي امارت له مذهبي او سياسي دريځ سره نږدې بلل کېدلې. د محتوا له اړخه دواړه سياسي او ديني مقالې خپرولې اوهڅه يې کوله، چې د اسلامي امارت دريځ او د جهادي مبارزې نظريات د اردو ژبو لوستونکو ترغوږو نو ورسوي. په اردو ژبه نشرېدلې، له دې څخه پوهېږو، چې مخاطبين يې په پاکستان کې سياسي او مذهبي کړۍ وې.

د اسلامي امارت هڅه دا وه چې خپل سياسي پيغام د هېواد له جغرافيې د باندې هم د خلکو تر غوږونو ورسوي له ژبې معلومېږي، چې موخه يې د پاکستان هېواد د مذهبي او سياسي کړيو مخاطب کولو وو تبليغاتو .(باختري،۱۳۹۵)

**پايله**

د دې څېړنې له علمي ارزونې څخه څرګنديږي، چې د اسلامي امارت د يادې دورې چاپي مطبوعات د يوې منظمې سياسي او ايديولوژيکې ستراتيژۍ په چوکاټ کې فعاليت کاوه. دا رسنۍ يوازې د خبرونو د خپرولو وسيلې نه وې، بلکې د سياسي مشروعيت د پياوړتيا، د ديني ايديالوژۍ د ترويج او د عامه ذهنيت د مديريت لپاره هم کارېدلې. په دې لړ کې د شريعت اوونيزه د نظام د رسمي دريځ استازيتوب کوله او ديني، اخلاقي موضوعاتو او حکومتي فرمانونو ته يې لومړيتوب ورکاوه، په داسې حال کې چې کابل ټايمز په کابل کې د مېشتو بهرنيانو لپاره د حکومت د دريځ د بيانولو او نړيوالو ته د اطلاع رسونې مهمه وسيله وه. په دغو رسنيو کې د نيوکو

او مخالفو نظرونو د خپرېدو لپاره ځای نه و، ځکه نو د عامه افکارو په جوړولو کې یې د نظام له ایډیولوژیکو موخو سره سم اغېز درلود.

د رسنیو جغرافیایي بڼه دا څرګندوي، چې اسلامي امارت د نفوس لرونکو ښارونو پر پوښښ ځانګړی تمرکز درلود او د خبر رسولو یو منظم سیستم یې رامنځته کړی و. د شریعت خپرونه په کابل او پېښور کې د کورنیو او بهرنیو لوستونکو لپاره د خبرونو یوه باوري سرچینه بلل کېده او د نظام رسمي دریځ یې تر نړیوالو رسولی شو.

له اداري پلوه، هغه رسنۍ چې په افغانستان کې چاپېدلې، د هغوی مسوول مدیران د اسلامي امارت له خوا ټاکل کېدل او لګښتونه یې هم د حکومت له لوري تمویلېدل. همدې چارې پر رسنیو د سخت نظارت او کنټرول زمینه برابره کړې وه،

**وړاندیزونه**

۱. وړاندیز کېږي، چې د هېواد ټول هغه پوهنتونونه، چې د ژورنالیزم پوهنځي لري ((د افغانستان د مطبوعاتو تاریخ)) په کریکلوم کې د دغې مهمې دورې مطبوعات ځای پرځای کړي.

۲. د افغانستان د علومو اکاډمۍ پوهان او د ژورنالیزم پوهنځي استادان دې په راتلونکي کې د یادې موضوع په هکله نورو ژورو تحلیلي څېړنو تمرکز وکړي، څو د مطبوعاتو تاریخي رول، سیاسي او ټولنیز اغېزونه په دقیق ډول تشریح شي.

۳. دا چې د مطبوعاتو پورتنۍ پنځه کلن پړاو په هېواد کې د یوجلا سیاسي نظام سره اړه لري، نوډېری څېړنې ښيي، چې ځینې لوستي کسان د یادې پړاو مطبوعاتو ته په ډېر ارزښت نه دي قایل، نو وړاندیز کېږي، چې په راتلونکې څېړنو دغه رسنیز په بې پرې توګه او واقعي توګه و ارزول شي، څو په دې برخه کې واقعیتونه په ریښتینې توګه ثبت او وارزول شي.

# The History of Printed Media during the First Period of the Islamic Emirate of Afghanistan (1996–2001)

S.T.Assistant Azizullah, sidiq, Saikh Zayed University, Faculty of Communication and journalism, Department of Journalism.
**Email Add**: aziz.sidiq@gmail.com

## Abstract

This scholarly article examines the print media landscape of the First Islamic Emirate of Afghanistan, which governed the country from 1996 to 2001. While the Emirate is primarily recognized for its political and military transformations, it also undertook notable cultural and informational initiatives. During this five-year period, a total of twenty-four official print publications were issued across various regions of the country. These publications served multiple informational and ideological purposes. In addition to disseminating the legislative decrees and official directives of the Emirate's leadership, they featured political analyses, scholarly articles, news reports, and discussions on religious, political, social, and cultural topics. Among these, the weekly *Shariat,* published concurrently in Kabul and Peshawar, emerged as a prominent official organ of the Emirate and functioned as a key instrument of state communication. Notably, *Shariat* was published exclusively in Pashto and Dari, attracting readership not only within Afghanistan but also in neighboring Pakistan. Although the total number of such print publications was limited, their existence and activity were significant given the challenging political, economic, and technical conditions of the period. Findings from this study indicate that the authorities of the time were acutely aware of the strategic role of the press in shaping public opinion and disseminating political and ideological messages. The primary aim of this article is to provide a systematic and comprehensive overview of these print media outlets and to document their historical role in Afghan journalism, thereby enabling contemporary readers and scholars to gain a deeper understanding of the historical development of the press in Afghanistan and its role in reflecting the political, cultural, and social dynamics of that period.

**Keywords**: Islamic Emirate, five-year period, press, Shariat, cultural initiatives.

**مأخذونه**

قرآنکریم.

آهنگ، محمد کاظم. (۱۳۸۲ل). سیر ژورنالیزم در افغانستان .پشاور: دهکي نعلبندي.

باختري، منیژه. (۱۳۹۵ل). ۹۳ سال رسانه و قانون .کابل: انتشارات سعید و پرنیان.

صدیق، عزیزالله. (۱۳۷۸ل). مطبوعات او سیاست ناچاپ اثر.

نیازی، محمد خان. (۱۳۷۹ل). رسنۍ او ټولنه. ژوندون مطبعه خوست.

وردګ، شفیق. ( ۱۴۰۲ل). د افغانستان رسنیز حقوقي نظام. کابل: انتشارات سید حبیب‌الله.

وفا، هدایت الله. (۱۳۸۸ل). نقش مطبوعات در تشکل افکار عامه کابل: انشتارات سیرت.

وفا. هدایت الله.(۱۳۹۵ل). د مطبوعاتو تحلیلي ژانرونه. ترجمه: محمد اکبر نیازی.

الهی. محمد هاشم.(۱۳۸۲ل).نظام مطبوعات افغانستان ،تهران: بیکران

# د انلاین ژورنالیزم ننګونې او فرصتونه

پوهنمل هلال ارشاد، د شیخ زاید پوهنتون د ارتباطاتو او ژورنالیزم پوهنځي، د ژورنالیزم څانګې استاد
**برېښنالیک**: Hilalarshad18@gmail.com

**لنډیز**

انلاین ژورنالیزم په دې تیکنالوژیکي دور کې د ژورنالیزم یوه مهمه برخه ګڼل کیږي، د دې عصر یوه کلیدي او پیاوړې بڼه ده، چې د تیکنالوژیکي پرمختګونو او د انټرنیټ پراخیدو سره راپیدا شوی ده. د دغې نوښت په توافق سره خبري رسنۍ او ژورنالیستان د هغو نویو مراجعو او روشونو څخه برخمن شوي، چې د نړیوالو اړیکو پراختیا، نوښت او د مخاطبینو ښکیلتیا لپاره د پام وړ فرصتونه برابروي. د انلاین ژورنالیزم بله خورا او مهمه ځانګړتیا دا ده، چې معلومات په ریښتیني وخت کې او د پراخو جغرافیو له لارې خلکو ته وړاندې کوي. د دې نوې بڼې څخه ګټه اخیستونکي ژورنالیستان کولی شي د سوشل میډیا او نورو ډیجیټلي فورمونو له لارې د عامه اړیکو د پراختیا زمینه برابره کړي. یعنې، هر څوک کولی شي د خبري رسنیو محتوا ته لاس رسی پیدا کړي، معلومات پروسس کړي او په خپله خوښه د معلوماتو سره تعامل وکړي. دا دې خبري رسنیو د پراختیا لپاره یو مهم پرمختګ دی. همدارنګه د انلاین ژورنالیزم چاپیریال د امنیتي خطراتو سره د مبارزې موضوع هم د پام وړ ده. د انلاین تهاجمونو، سایبر امنیتي ننګونو او خطرناکه معلوماتو سره د مبارزې اراده، د ژورنالیستانو دقت او کیفیت لا ډیر زیات احساس کیږي. دا د دې اړتیا برابروي، چې ژورنالیستان نه یوازې د خبرونو د نشرولو مهارتونه زده کړي، بلکې د سوشل میډیا موثره کارولو لارې چارې هم زده کړي، تر څو د خپلو مخاطبینو تر منځ یو مثبت تعامل رامنځته کړي.

**کلیدي ټکي**: انلاین ژورنالیزم، ټولنیزې رسنۍ، خبري سرچینې، فرصتونه، ننګونې

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحيم الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على سيدالمرسلين و على اله واصحابه اجمعين.**

په نني عصر کې د انټرنیټ پراخه کارونه او د انلاین ژورنالیزم وده د معلوماتو د سولو په نړۍ کې یو لوی بدلون راوستی دی. د دې نوي پرمختګ سره انلاین رسنۍ نه یوازې دا چې د خبرونو چټکتیا او د خلکو په اسانه او سرچیني ترلاسه کولو کې، بلکې د مختلفو چلوونکو، نظریاتو او د افکارو د تنوع په برخه کې هم د پام وړ پرمختګونه کړي دي. انلاین ژورنالیزم د دې توان لري چې د خلکو تجربه او علمیت ته وده ورکړي، خو دغه وړاندیزونه خپلې ننګونې هم لري، چې باید پام ورته وشي.

د انلاین ژورنالیزم یو له مهمو ننګونو څخه د معلوماتو د اعتبار او د جعلي خبرونو خپریدل دي. په اوسني عصر کې د انټرنیټ په پراختیا سره، خلک د بې شمیره خبرونو او معلوماتو سره مخ دي، چې ډیری یې یقیني نه وي. دا مسله د لوستونکو د اعتماد د کموالي لامل کیږي او د رسنیو اعتبار ته زیان رسوي. د دې تر څنګ، د ټولنیزو رسنیو نفوذ هم د انلاین ژورنالیزم نوښت او دقت ته ګواښ دی، سره له دې چې ټولنیزې رسنۍ د خبرونو د خپرولو لپاره یوه قوي وسیله ده، خو د معلوماتو د غیر معتبرتوب او د خبرونو د ناسم تحلیلونو احتمال یې زیاتیږي.

سربیره پر دې د انلاین ژورنالیزم فرصتونونه هم شته د انټرنیټ له لارې رسنۍ کولی شي، چې په نړیواله کچه مخاطبان جذب کړي، د خپلو لوستونکو لپاره تنوع محتویات وړاندې کړي او د فریکونسي د زیاتوالي له لارې د خپلو مطالبو خپرول اسانه کړي. د نویو تیکنالوژیو په استعمال سره رسنۍ کولی شي، چې د مختلفو تیکنالوژیکي وسایلو له لارې انټرنیټ د خپلو پلیټ فارمونو اغیزه پراخه کړي. په دې توګه، انلاین ژورنالیزم د نوښت، خلاقیت او معاصرو تیکنالوژیو د کارولو سره کوم امکانات وړاندیز کوي، چې د مختلفو مخاطبینو غوښتنې پوره کړي. که چېرته د دې چالشونو پر وړاندې سمې ستراتیژۍ رامنځته شي، نو انلاین ژورنالیزم به د راتلونکو خبرونو او معلوماتو د رسونې په برخه کې یوه بله غوره لاره وي.

**موخې**

- د انلاین ژورنالیزم د مفهوم او په مخ کې یې موجودې ننګونې په تفصیل سره څیړل، چې په کې د صداقت، د معلوماتو کیفیت، اقتصادي فشارونه او د خپلو لوستونکو سره د اړیکو مسایل شامل دي.
- د انلاین ژورنالیزم په برخه کې موجود فرصتونه لوستونکو ته وړاندې کول، په شمول د نویو تیکنالوژیو، د مخاطب د ګډون پراختیا او نړیوالو اړیکو ته د لاسرسي اړخونه.
- د انلاین ژورنالیزم او ټولنیزو رسنیو تر منځ اړیکه څیړل او دا معلومول چې څنګه سوشل میډیا د خبر خپرولو په طرز کې بدلون راوستی.

- د انلاین ژورنالیزم د اخلاقو او مسوولیتونو په اړه څېړنه کول، تر څو د دندې د ترسره کولو په بهیر کې د ژورنالیستانو د مسلکي اصولو پیژندنه وړاندې شي.

## د څېړنې پوښتنې

په ټولیز ډول هره څېړنه یو لړ ستونزو او پوښتنو ته د حل لاره پیدا کول دي، ما هم د یادې علمي او څېړنیزې موضوع د څېړلو لپاره لاندې پوښتنې ټاکلي دي.

- څنګه کولای شو، د انلاین ژورنالیزم د کیفیت ښه والي لپاره موثره ستراتیژي رامنځته کړو؟
- د انلاین ژورنالیزم لپاره نوې تیکنالوژي کومې ګټې او ننګونې وړاندې کوي؟
- انلاین ژورنالیزم څنګه د فعالو خبریالانو او لوستونکو تر منځ د معلوماتو د تبادلې طریقه بدله کړې ده؟
- د سوشل میډیا پرمختګ څومره د ناسم معلوماتو د خپرولو او شفافیت کمښت لامل شوې ده؟
- په انلاین ژورنالیزم کې د صداقت او د اطلاعاتو د اعتبار څرنګوالی کومې لارې چارې غوره کوي؟

## د څېړنې ارزښت

د انلاین ژورنالیزم د چټک پرمختګ، د ټولنیزو رسنیو د پراخ نفوذ، او د معلوماتي ټکنالوژۍ د بدلونونو په رڼا کې د ژورنالیزم معاصر وضعیت په علمي او تحلیلي ډول ارزوي. نن ورځ انلاین ژورنالیزم د خبر رسونې تر ټولو اغېزمنه وسیله ګرځېدلې، خو ورسره د جعلي خبرونو خپرېدل، د معلوماتو د اعتبار کمښت، اقتصادي فشارونه، او د سایبري امنیت ستونزې هم زیاتې شوې دي. دا څېړنه د همدې ننګونو د پېژندنې ترڅنګ د حل ممکنه لارې چارې هم روښانوي، څو خبریالان رسنیز بنسټونه او د ژورنالیزم محصلین وکولای شي د مسلکي اصولو، صداقت او دقت په رڼا کې خپل رسنیز فعالیتونه پر مخ یوسي. همدارنګه، دغه څېړنه د انلاین ژورنالیزم شته فرصتونه لکه د نړیوالو مخاطبینو لاسرسی، د لوستونکو فعاله ونډه، د خبرونو چټک خپرول او د نوې ټکنالوژۍ اغېزمن استعمال هم په ډاګه کوي. دا مقاله د ژورنالیزم د محصلینو، استادانو، رسنیزو څېړونکو او فعالو خبریالانو لپاره ارزښتناکه علمي منبع بلل کېږي ځکه، چې د انلاین رسنیو د راتلونکي پرمختګ لپاره هم نظري بنسټ برابروي او هم عملي لارښوونې وړاندې کوي. په ځانګړي ډول د افغانستان په څېر هېوادونو کې چې رسنۍ د بدلون او پرمختګ په پړاو کې دي، دا ډول څېړنې د رسنیز نظام د پیاوړتیا او د عامه پوهاوي د لوړولو لپاره ځانګړی اهمیت لري.

## کړنلاره

د انلاین ژورنالیزم ننګونو او فرصتونو موضوع د څېړنې لپاره مې له مختلفو باوري علمي سرچینو څخه ګټه اخیستې، چې په دې کې علمي کتابونه، تحلیلي مقالې، انټرنیټي منابع او ټولنیزې رسنۍ شاملې دي. په څېړنه کې

تر ټولو مهم اصل د څېړنې تګلاره یا میتودولوژي بلل کیږي، چې له مخې یې یو څوک کولای شي، چې د څېړنې ارزښت او دقت په ګوته کړي. لوستونکي هم ډېری وخت د یوې ترسره شوې څېړنې له لوستلو وړاندې د څېړنې میتودولوژي لولي او د هغې له مخې د څېړنې د لوستلو او نه لوستلو پرېکړه کوي. موضوع ته په کتو ما هم د یادې موضوع د څېړنې او تحلیل لپاره له کتابخانه یي، ساحوي، ټولنیزې میډیا او انټرنیټ څخه ګټه اخیستې ده. غوره او باوري سرچینې مې کارولې دي، ډېری یې انګلیسي کتابونه، دري کتابونه، علمي مقالې او ورته نورې ډېرې انټرنیټي موثقې سرچینې تشکیلوي. اړونده بېلابېل موضوعات مې په بېلابېلو کتابونو او مقالو کې لوستي دي او د لیکنې په بېلابېلو مناسبو برخو کې مې د مفهوم د تقویې لپاره اقتباس کړي دي.

**پیژندنه**

د انلاین ژورنالیزم نړۍ په چټکۍ سره د بدلون په حال کې ده او دا بدلونونه له ځان سره د ګڼو ننګونو او فرصتونو یوه ټولګه راوړي. د انټرنیټ پراخه کارول، د سوشل میډیا پراختیا او د معلوماتو په چټکۍ سره تبادلې امکان د انلاین ژورنالیزم د برخې د خلاق او نوښتګر طبیعت یوه نښه ده. سره له دې د شفافیت کمښت، د دروغو او ناپیژندل شویو معلوماتو خپرول او د تخنیکي خنډونو شتون د دې زون د پاملرنې وړ چالشونه ګڼل کیږي. دا ننګونې نه یوازې د خبر رسونې د اعتبار پر لومړیتوب تاثیر کوي، بلکې د ژورنالیستانو د مسلکي عمل او پرمختګ په لاره کې هم خنډونه پیښوي. په داسې حال کې چې ننګونې موجودې دي. د انلاین ژورنالیزم د ودې لپاره هم ګڼ فرصتونه شته، د تیکنالوژۍ د پرمختګ له برکته، د خبر تولید او خپرولو لړۍ ګړندۍ او کم لګښت یادولی شو. ژورنالیستان اوس کولای شي د مختلفو غږونو، تصویرونو، ویډیوګانو او ګرافیکونو  په کارولو سره د خپلو لوستونکو سره نیږدې ملګرتیا ولري. سربېره پردې، د سوشل میډیا پلاټفارمونو په کارولو سره دوی کولای شي د لوستونکو د نظریاتو او مشارکتونو سره په حقیقي وخت کې اړیکه ونیسي، چې له دې لارې یې علمي او تحقیقي کارونه هم پیاوړي کیږي. په ټوله کې د انلاین ژورنالیزم د نوښت او پیاوړتیا په لور د یوې نوې دورې پیل د دې ځانګې د راتلونکي لپاره یو غوره لید وړاندې کوي (Allan, S. 2006) .

**انلاین ژورنالیزم**

انلاین ژورنالیزم په عامه توګه د هغو خبري او ژورنالیستیکي فعالیتونو ټولګه ده، چې د انټرنیټ په وسیله ترسره کیږي. دا ډول ژورنالیزم د روڼتیا، چټکتیا او جذابیت له امله له دودیزو چاپي او تلویزیوني ژورنالیزم څخه توپیر لري. انلاین ژورنالیزم کې خبریالان نه یوازې د معلوماتو وړاندې کولو لپاره کار کوي، بلکې د لوستونکو سره هم په مستقیم ډول اړیکه ساتي، چیرې چې لوستونکي کولی شي په خپرونو کې تبصرې او بیا کتنې وکړي یا د موضوعاتو په اړه خپل سوالونه مطرح کړي(Anderson, K. 2011 ).

انلاین ژورنالیزم د مختلفو ډیجیټل پلیت فارمونو له لارې هم خپل خبرونه خلکو ته رسوي. دې ژورنالیزم د رسنیو د انقلابي اتحادیو، لکه بلاګونو، ټولنیزو رسنیو، ویب سایټونو او د معلوماتو تبادلې اپلیکیشنونو له لارې ځان ته نوې لارې چارې موندلې دي (Allan, S., & Thorsen, E. 2010). انلاین ژورنالیزم په عین حال کې د ناسم معلوماتو خپریدو چلینجونه هم لري، چې هغه یې د خبرونو د اعتبار او صداقت له مخې ستونزې راولاړوي. که څه هم د انټرنیټ پراختیا خبرونو ته چټک لاسرسی برابروي، خو له دې سره سره د حقیقت او موخو پخلي کولو اړتیا هم ورځ تر بلې زیاتیږي. د انلاین ژورنالیزم مفهوم یوازې د معلوماتو رسول نه دی، بلکې دا دیوې ټولنې د پرمختګ او د معلوماتو د تبادلې یوه موثره لاره هم ګڼل کیږي. په دې توګه انلاین ژورنالیزم د لوستونکو د مطلع کولو، د بحثونو د رامنځته کولو او د ملي بحثونو د پیاوړتیا لپاره اساسي ارزښت لري (Anderson, K. 2011).

**ولې انلاین ژورنالیزم؟**

د انلاین ژورنالیزم شهرت او د نړۍ په کچه د انټرنیت کاروونکو زیاتیدل د دودیزو رسنیو لپاره یو ګواښ ګڼل کیږي او دا د دې سره بې ارتباطه نه ده، چې څېړونکو د دې نوې رسنۍ اړتیا او ځواک معلومولو لپاره څېړنې پیل کړي دي. انلاین لوستونکي تل د یوې موضوع په تړاو د لا زیاتو معلوماتو په لټه کې وي، چې دا کار ژورنالیستان هڅوي، تر څو په یوه موضوع کې زیات مواد او تفصیل ولري. د یوې څېړنې پایلې ښیي، چې د دودیزو رسنیو انلاین نسخې کولی شي ډېر مالومات وړاندې کړي او په ځینو مواردو کې ویدیو کلیپونه، غږونه او عکسونه هم شریک کړي په داسې حال کې چې چاپي نسخې محدودې پاڼې لري. انلاین ژورنالیزم کاروونکو ته ډېر کنټرول او واک ورکوي، چې پر کومه مختوا خوښي لري او د خبر او معلوماتو نشر یې د دودیزو رسنیو مسوولین چلنج کوي. د انلاین رسنیو کاروونکي کولی شي د یوې کیسې او موضوع بنسټیز سندونه وومومي یا د فلټ فارمونو چلوونکو او مسوولینو پر انتخاب او د معلوماتو په فلتر کولو یې باور وکړي (Robinson, Sue 2006).

د انلاین رسنیو کاروونکي کولای شي، د اصلي سندونو تفتیش وکړي او د یوه راپور ورکوونکي کیسه له نورو سره په سانۍ پرتله کړي، همدا راز د موضوعاتو په تړاو ارشیفونو ته هم په انلاین رسنیو کې اسانه لاسرسی کیږي. د وګړیز ژورنالیزم لپاره هم انلاین رسنۍ یو پلیټ فارم چمتو کوي، د انټرنیټ او ټولنیزو رسنیو زیات لاسرسي له امله نور خلک هم د خبرونو جوړولو بهیر کې برخه اخیستلو وړ دي. همدا راز انلاین ژورنالیزم کولی شي د وګړو غږونه پیاوړي کړي.

**د انلاین ژورنالیزم ځانګړتیاوې**

د انلاین رسنیو لپاره لیکل د پام وړ متفاوت دي. عموماً لیکوال ته اړتیا ده، چې لنډ او دقت لرونکي جملې او فقرې وکاروي، چې په سکرین کې ښایسته ښکاري او لوستونکي ورته په اسانۍ سره رسیدای شي. د انلاین رسنیو کاروونکي لکه د خبرونو ویب پاڼې، بلاګونه او ټولنیزې رسنۍ د مختلفو محتویاتو سره مخ کیږي او د دې کاروونکو اکثریت یا په دفترونو کې مصروف دي یا په نورو بوختیاوو کې. له همدې امله دغه کاروونکي ممکن د اوږدو مقالو، لیکنو، اوږدو ویډیوګانو او پوډکاسټونو د اوریدو وخت ونه لري. ځینې خلک په دې باور دي، چې د انلاین ژورنالیزم سره د خلاقیت یوه لویه کچه د دودیز ژورنالیزم او دودیزو رسنیو په پرتله کاریدلی شي. د ډیجیټل اړخ ممکن د ژورنالیزم پیغام ته مرکزي وي او تر یوې کچې پورې د لیکوال، اېډېټر/ناشر د تخلیقي کنټرول لاندې پاتې شي (Bakker, Piet 2011).

**د انلاین ژورنالیزم ننګونې**

د انلاین ژورنالیزم په دې عصر کې د معلوماتو دقت او اعتبار یو مهم چالش ده، د پرمخ تلونکو ټیکنالوژیو له امله، ژورنالیستان په چټکۍ سره د مختلفو معلوماتو سرچینو ته لاسرسی لري، خو دا هم د بې باورۍ او غلطو معلوماتو د خپریدو خطر زیاتوي. د بېلګې په توګه د ۲۰۱۶ کال د امریکا د ولسمشرۍ ټاکنو په ترڅ کې د معلوماتو د خپریدو او ساتلو د کړنو له امله ګڼ شمیر غلط معلومات بازار ته راغلل، چې دې رایو په ویش کې اغیزه وکړه.

بله ستونزه چې انلاین ژورنالیزم ورسره مخ دی، د ټولنیزو رسنیو اغیزې دي. د ټولنیزو شبکو په پراختیا سره د خلکو شرایطو او نظریاتو ته ځانګړې پاملرنه کیږي، چې دغه مسله د معتبره او مستند اخبارونو له خپریدو سره ټکر لري. ځینې ژورنالیستان هڅه کوي، چې د ټولنیزو رسنیو معلومات د خپلو خبرونو لپاره وکاروي، خو دا خطر لري چې د خبرونو د دقت او مستندتیا سطحه ښکته کړي. پدې توګه د مراجعینو دقت او اعتبار د انلاین ژورنالیزم په عصر کې یو له مهمو ننګونو څخه حسابیږي.

**بد انلاین ژورنالیزم او د هغې کاروونکي**

امبرتو اکو دا تصادفي نه دي ویلي چې انټرنیټ احمقانو ته د خبرو کولو حق ورکړی دی. «اجتماعي رسنیو احمقانو ته د خبرو کولو حق ورکوي» دا د امبرتو اکو الفاظ دي، چې هغه دا ډول د انټرنیټ په وړاندې برید کړی دی. د اکوا په وینا د انټرنیټ جوړښت د هغو کسانو په وده کې مرسته کوي، چې بې مفهومه خبرې خپروي. دلته د هغې په وینا د ورځپاڼو رول خورا مهم دی، ځکه چې هلته د متخصصو ټیمونو لخوا فلتر شوي معلومات راوړل

کیږي، نن ورځ هیڅوک نه شي کولی پوه شي، چې ایا معلومات باوري دي یا نه؟ اکو ټینګار کوي، چې اړتیا ده تر څو د ویبپاڼو په انلاین سایټونو باندې د تحلیل او نیوکو لپاره لږ تر لږه دوه پاڼې ځانګړې شي لکه څه ډول چې ښوونکي محصلینو ته پر سپینې تختې صنف کې مالومات کاروي (Beckett, C. 2010).

**په انلاین رسنیو کې د معلوماتو د اعتبار او ژبې ستونزې**

سره له دې چې انټرنېټ، ټولنیزو رسنیو او انلاین پورټلونو د خبرونو د خپرولو په بهیر کې بنسټیز بدلونونه رامنځته کړي دي، خو دا بدلونونه په دې مانا نه دي، چې ټول خپرېدونکي معلومات دقیق، باوري او مسلکي وي. انلاین رسنیو د ژورنالیزم په ډګر کې یو مهم انقلاب رامنځته کړی او د لوستونکو او لیدونکو سره د لا نږدې اړیکو د ټینګښت لپاره پرلهپسې پرمختګ کوي. خو له بلې خوا، د انلاین رسنیو په ډګر کې یوه جدي ستونزه دا ده، چې هر څوک کولای شي په اسانۍ سره یو انلاین پورټل پرانیزي او پرته له کوم مسلکي معیار، اداري پالیسۍ او یا هم د ژورنالیزم له کوډونو څخه خبرونه خپاره کړي. دا وضعیت د رسنیو پر اعتبار مستقیم اغېز کوي. د ډېرو انلاین پورټلونو محتوا ته په کتو څرګندیږي چې ګڼ شمېر خبرونه د ټولنیزو شبکو، په ځانګړي ډول د فیسبوک له پاڼو څخه راټولیږي. همدارنګه د مشهورو شخصیتونو، چارواکو او بېلابېلو ټولنیزو کټګوریو پراخ حضور په انلاین رسنیو کې د پام وړ دی.(Bakker, Piet. 2011) په ټولنیزو رسنیو کې د ژبې کارونه هم د اندېښنې وړ مسئله ده. ډېری وخت داسې الفاظ او څرګندونې کارول کیږي چې د ژورنالیزم له مسلکي اصولو سره سمون نه لري. دا ډول ناسمه ژبه نه یوازې د ژورنالیزم مسلکي حیثیت ته زیان رسوي، بلکې د رسنیو پر باور هم منفي اغېز کوي. د ټولنیزو رسنیو د بې کنټروله چاپېریال له امله ځینې کسان له دې فضا څخه ناوړه استفاده کوي. له همدې امله په یوه سالمه ټولنه کې باید د معلوماتو د خپرېدو وړاندې د محتوا ارزونه او تصحیح ترسره شي. اوس مهال داسې انګېرنه رامنځته شوې ده چې که یو څوک د ټولنیزو شبکو، لکه فیسبوک، حساب ولري نو هغه هم رسنۍ او یا ژورنالیست ګڼل کیږي. دا تصور د انلاین ژورنالیزم له مهمو خطرونو څخه ګڼل کیږي. په مسلکي ژورنالیزم کې باید ټولنیزې رسنۍ یوازې د لومړنیو معلوماتو د سرچینې یا د څېړنې د پیل ټکي په توګه وکارول شي، خو جدي او ورځني خبرونه باید یوازې د همدې سرچینو پر بنسټ نه وي.

همدارنګه انلاین ژورنالیزم باید له هغو کاروونکو څخه ځان وساتي، چې په ټولنیزو شبکو کې د سپکاوي، توهین او بدنامۍ فرهنګ ته وده ورکوي. د دې ډول کاروونکو له خوا کارېدونکې ژبه ډېری وخت ټیټه او غیرمسلکي وي. هغه محدود شمېر مسلکي ژورنالیستان چې په انلاین پورټلونو کې فعالیت کوي، د دې ستونزو په اړه ښه درک لري. خو ځینې کسان بیا د دې ستونزو منلو ته چمتو نه دي، ځکه چې دا ډول بې قاعدې ژورنالیزم د هغوی له شخصي ګټو او د ژوند له طریقې سره سمون لري. له نېکه مرغه ځینو دودیزو ورځپاڼو خپل انلاین پورټلونه

هم رامنځته کړي دي، چې دا کار کولی شي د مسلکي ژورنالیزم د معیارونو د پیاوړتیا سبب شي او نور لیکوالان د مسلکي لیکنې له اصولو سره بلد کړي. چاپي ورځپاڼې له دې اړخه توپیر لري چې هغوی د خپرونو په بهیر کې د تېروتنو د اصلاح امکان لري او هڅه کوي د ژورنالیزم اخلاقي اصول مراعات کړي. که څه هم د رسنیو په ډګر کې د اخلاقي اصولو د رعایت مسئله تل د بحث وړ ده، ځکه چې د بېلابېلو رسنیو او اړخونو له خوا د تېروتنو او ناوړه استفادې بېلګې لیدل کېږي. پر ځینو جدي انلاین پورټلونه د دې له امله هم نیوکه کېږي چې د لوستونکو د تبصرو یا نظرونو لپاره محدود ځای ورکوي. خو د ژورنالیزم له مسلکي نظره دا کار تر یوه حده مثبت ګڼل کېږي، ځکه رسنۍ د خپلو لوستونکو پر وړاندې مسؤلیت لري او باید داسې محتوا خپره نه کړي چې د جرمي ډلو یا ناسمو کړیو په ګټه تمامه شي. په ټولنیزو شبکو کې ډېری تبصره کوونکي د ځینو مشکوکو یا جرمي ډلو سره تړاو لري. کله چې دوی غواړي د رسنیو اعتبار کمزوری کړي، نو د رسنیو پاڼې د سپکو او توهین کوونکو نظرونو څخه ډکوي. سره له دې ستونزو، انلاین رسنۍ ځینې مهمې ګټې هم لري. د معلوماتو چټک انتقال، د لګښتونو کمښت او د مخاطبینو پراخ لاسرسی هغه مهم عوامل دي چې دودیزې رسنۍ یې دې ته اړ کړي دي څو نوی واقعیت ومني او د رسنیو له نوې ډیجیټلي فضا سره ځان عیار کړي. دا بدلونونه اوس په ډېرو هېوادونو او زموږ په هېواد کې هم په تدریجي ډول رامنځته شوي دي (Belam, M. 2011).

### د انحصار له لاسه ورکول

د انلاین رسنیو له راڅرګندېدو سره د خبرونو د خپرولو په برخه کې د دودیزو ژورنالیستانو او د نوو رسنیو د ملاتړو ترمنځ بحثونه پیل شول. د رسنیو متخصصین په دې اړه بېلابېل نظرونه لري. ځینې د دودیزو رسنیو ملاتړ کوي او ځینې بیا د نوو رسنیو ګټې مهمې بولي. خو له دې ټولو بحثونو سره سره یو حقیقت څرګند دی: اوس د رسنیو په نړۍ کې ډېر بدلونونه راغلي دي او پخوانی حالت نور پاتې نه دی. تر دې مخکې که د یو سیاستوال څخه د بیان، مرکې یا رسمي اعلان ترلاسه کول غوښتل کېدل، دا کار عموماً یوازې د لویو او مهمو رسنیو لپاره ممکن و. هغه رسنۍ چې سیاستوالو ته نږدې نه وې، ډېری وخت داسې معلوماتو ته لاسرسی نه درلود. خو نن ورځ د انلاین رسنیو او ډیجیټلي ټکنالوژۍ له پراختیا سره دا وضعیت بدل شوی دی او اوس ډېری رسنۍ کولای شي ورته معلوماتو ته نسبتاً مساوي لاسرسی ولري. په پخوا وختونو کې که یو وزیر، دولتي چارواکی یا د اپوزیسیون مشر مرکه ورکوله، نو دا به یوازې دوه یا درې لویو رسنیو ته یو مهم فرصت و. وروسته بیا نورې رسنۍ، لکه تلویزیوني چینلونه، ورځپاڼې، راډیوګانې او انلاین پورټلونه اړ کېدل چې هماغه مرکه یا بیان له هغو رسنیو څخه نقل کړي چې لومړی یې خپور کړی و.حتی کله کله داسې هم کېدل چې چارواکو به ټولو رسنیو ته په ګډه یو بیان ورکاوه، خو بیا هم ډېری نوي رسنۍ او حتی ځینې کوچنۍ دودیزې رسنۍ نه شوای کولای د خپلو خبریالانو له لارې په

کنفرانسونو کې ګډون وکړي او د بیان بشپړ تعقیب وکړي. له همدې امله به دوی وروسته اړ کېدل چې معلومات له نورو رسنیو څخه واخلي او خپاره یې کړ (Hermida, Alfred, 2010).

**د انلاین ژورنالیزم ګټې**

د انلاین ژورنالیزم چټک پرمختګ څو مهم لاملونه لري. د خبرونو د خپرولو سرعت، د نامعتبره یا غلطو خبرونو د ژر سمولو او یا هم د لېرې کولو امکان هغه اساسي عوامل دي چې له امله یې انلاین ژورنالیزم په ټوله نړۍ کې په چټکۍ سره پراخ شوی دی. همدارنګه په انلاین پورټلونو کې د اعلانونو او سوداګریزو مطالبو زیاتوالی د دې سبب شوی چې رسنۍ تر یوه حده اقتصادي خپلواکي ترلاسه کړي او د خپلو ادیتوري پالیسیو د عملي کولو لپاره ښه زمینه برابره کړي. په عمومي ډول انلاین ژورنالیزم د دودیز ژورنالیزم په پرتله څو مهمې ځانګړنې او ګټې لري:

د خبرونو د خپرولو چټکتیا: انلاین رسنۍ کولای شي خبرونه په ډېر لنډ وخت کې خپاره کړي. ژورنالیستان د انلاین پلیټفارمونو له لارې خبرونه سمدستي خلکو ته رسوي.

خبرونو د سمولو او اصلاح اسانه امکان: که په یو خبر کې تېروتنه موجوده وي، ژورنالیستان کولی شي هغه ژر سم کړي یا یې له ویبپاڼې څخه لېرې کړي.

کم لګښت: د انلاین ژورنالیزم لګښتونه د دودیزو رسنیو په پرتله کم دي. هم خپرونکو او هم لوستونکو ته اقتصادي اسانتیا برابروي.

د لوستونکو لپاره د وخت سپما: لوستونکي کولی شي هغه مطالب چې غواړي په لنډ وخت کې پیدا او ولولي.

د خبرونو دوامداره تازه کېدل: انلاین رسنۍ ۲۴ ساعته فعالې وي او خبرونه هر وخت تازه کېدای شي.

د خبرونو تدریجي بشپړېدل: خبریال کولی شي لومړی خبر د محدودو معلوماتو سره خپور کړي، وروسته بیا د نویو معلوماتو په ترلاسه کولو سره هماغه خبر تازه او بشپړ کړي.

د لوستونکو سره مستقیمه اړیکه: انلاین ژورنالیزم د رسنیو او لوستونکو ترمنځ مستقیم تعامل رامنځته کوي او خلک کولی شي د خبرونو په اړه ژر نظر ورکړي.

د معلوماتو د خپرېدو لنډه پروسه: په دودیزو رسنیو کې خبرونه باید له څو مرحلو تېر شي، خو په انلاین رسنیو کې دا پروسه لنډه ده او خبرونه ژر خپرېږي.

د سانسور د امکان کمښت: د انلاين رسنيو د جوړښت له امله د معلوماتو د کنټرول يا سانسور احتمال تر يوه حده کمېږي، ځکه چې د خبرونو د خپرېدو لارې زياتې دي (Herrmann, S. 2009) .

**ایا د انلاين ژورناليزم راتلونکی خوندي دی؟**

که څه هم نوي میډيا له ګڼو ستونزو سره مخ ده، خو د هغې راتلونکی روښانه دی. د هغو پورټلونو د مالي تمويل ستونزې (چې د دوی عايد ۱۰۰ فيصده د اعلانونو پر پراخولو پورې اړه لري) داسې ښکاري چې د وخت په تيريدو سره به حل شي، ځکه چې د انټرنيټ لپاره د اعلان ورکولو د شرکتونو تعداد زياتيږي. دا نه يوازې دې پورټلونو ته يو خوندي راتلونکی برابروي، بلکه د دې میډيا کيفيت هم په ښه والي باندې عمل کوي او د دوديزې میډيا سره د سيالۍ په برخه کې زيات چيلينجونه راولي، څه چې په هره ورځ کې د جګړې په حالت کې دي. د انټرنيټ کاروونکو تعداد زياتيدل، د ځوان نسلونو لپاره د معلوماتو د ترلاسه کولو اصلي وسيله ګرځيدل او د شرکتونو او دولتي ادارو د فعاليتونو يوې سترې برخې انټرنيټ ته ليږدول، د پورټلونو او معلوماتي ورځپاڼو د لازياتيدو لاره پرانيزي (McBride, Kelly 2009).

**د انلاين رسنيو زيانونه**

د انلاين رسنيو يو شمير زيانونه هم شته، لکه فحش جنسي موادو خپرول، ذهني ستونزې، رواني اختلالات، ټولنيزې ستونزې، د وژل شويو يا ټپيانو ويرونکي عکسونه او ويډيوګانې، نشه يي توکي، وسله او تاوتريخوالی، ناسم معلومات، شخصي معلومات چې ماشومان يې د اړيکو يا ټولنيزو شبکو په وخت کې شريکولی شي. همدا راز هکروالی او ويروسونه، د سيستم ناسم کارول، د معلوماتو له لاسه ورکول، د انټرنيتي هارډوير او ټول هارډوير برخې خرابيدل، قانوني او مالي خطرونه، د ساتل شوي محتوا ناوړه استعمال او مالي معاملو د سو کاريدنې امکانات او نور... د انلاين رسنيو زيانونه بللی شو (Nguyen, An 2010).

**د انلاين ژورناليزم اخلاق**

اخلاقي اصول چې بايد په انلاين ژورناليزم کې وکارول شي، لکه بې پلانه معلومات، د خبرونو تصديق، د سرچينو حواله کول، د عکسونو او ويډيوګانو پور اخيستل او داسې نور... د ګڼ شمير ادارو، پورټلونو او مختلفو ويبپاڼو لپاره د انديښنې وړ موضوع ده. بدبختانه پورټلونه د اخلاقو تر ټولو لوی سرغړوونکي دي Merrill, John (C. 1997). د ژورناليزم بنسټ د حقيقت موندنه، د معلوماتو امانتداري او د خلکو پر وړاندې مسؤليت دی. کله چې رسنۍ انلاين بڼه خپلوي، نو دا مسؤليت نور هم زياتيږي، ځکه چې معلومات په ډېره چټکۍ سره خپريږي او په لنډ وخت کې د زرګونو يا مېليونونو خلکو تر لاسه رسيږي. له همدې امله د انلاين ژورناليزم اخلاق د رسنيو

د مسلکي فعالیت یوه مهمه او بنسټیزه موضوع بلل کېږي. انلاین رسنۍ د خبرونو د خپرولو سرعت، د مخاطبینو پراخ لاسرسی او د معلوماتو د فوري تبادلې له امله د ژورنالیزم په نړۍ کې نوی فصل پرانیستی دی. خو د همدې چټک پرمختګ تر څنګ یو لړ اخلاقي ستونزې هم رامنځته شوې دي. کله ناکله رسنۍ د دې لپاره چې د نورو رسنیو څخه مخکې خبر خپور کړي، د معلوماتو د کره‌والي او تصدیق اصول له پامه غورځوي. دا کار د ژورنالیزم د اعتبار او د رسنیو د باور پر کچې منفي اغېز کوي.

په مسلکي انلاین ژورنالیزم کې تر ټولو مهم اصل د معلوماتو دقت او حقیقت دی. خبریال باید مخکې له دې چې یو خبر خپور کړي، د هغه د صحت په اړه ډاډ ترلاسه کړي. که یو خبر له نامعلومې یا غیر معتبرې سرچینې څخه ترلاسه شي، نو باید لومړی د نورو باوري سرچینو له لارې تایید شي. د بې پلانه او نه تایید شویو معلوماتو خپرول کولی شي خلکو ته ناسم تصویر وړاندې کړي او حتی ټولنیزې ستونزې رامنځته کړي. بل مهم اخلاقي اصل د سرچینو روڼتیا او حواله ورکول دي. په انلاین رسنیو کې ډېری وخت داسې پېښېږي چې یو پورټل د بلې رسنۍ خبر اخلي، خو د اصلي سرچینې نوم نه یادوي. دا کار نه یوازې د مسلکي اصولو خلاف دی، بلکې د فکري ملکیت حق هم تر پښو لاندې کوي. د ژورنالیزم له اصولو سره سم، خبریال باید تل د معلوماتو اصلي سرچینه څرګنده کړي، څو لوستونکي وکولای شي د معلوماتو پر اعتبار باور وکړي. د عکسونو او ویډیوګانو کارول هم د انلاین ژورنالیزم له مهمو اخلاقي موضوعاتو څخه دي. د ډیجیټلي ټکنالوژۍ له امله د انځورونو او ویډیوګانو ترلاسه کول ډېر اسانه شوي دي، خو دا اسانتیا کله ناکله د سرغړونو سبب هم کېږي. ځینې رسنۍ د نورو کسانو عکسونه او ویډیوګانې پرته له اجازې کاروي یا یې د خپلې رسنۍ په نوم خپروي. په مسلکي ژورنالیزم کې باید د هر تصویر او ویډیو د سرچینې یادونه وشي او که اړتیا وي د خپرولو اجازه هم ترلاسه شي.

په انلاین ژورنالیزم کې بله مهمه موضوع د شخصي حریم درناوی دی. خبریالان باید د خلکو شخصي ژوند ته درناوی وکړي او داسې معلومات خپاره نه کړي چې د افرادو حیثیت او عزت ته زیان ورسوي. که څه هم عامه شخصیتونه تر ډېره د رسنیو تر څار لاندې وي، خو بیا هم د هغوی د شخصي ژوند باید د ژورنالیزم د اخلاقي اصولو له مخې درناوی وشي. همدارنګه د سپکاوي، نفرت خپرولو او توهین څخه ډډه کول د انلاین ژورنالیزم مهم اخلاقي اصل دی. په ډېرو انلاین پورټلونو کې داسې ژبه کارول کېږي چې د ژورنالیزم له مسلکي معیارونو سره سمون نه لري. کله کله د لوستونکو تبصرې هم د سپکاوي او توهین بڼه خپلوي. له همدې امله رسنۍ باید د تبصرو لپاره واضح اصول ولري او داسې محتوا محدوده کړي چې د ټولنې د اخلاقي ارزښتونو خلاف نه وي. بدبختانه په ځینو مواردو کې انلاین پورټلونه د ژورنالیزم د اخلاقو له اصولو سرغړونه کوي. د خبرونو بې له تاییده خپرول، د نورو رسنیو د محتوا نقل کول، د سرچینو نه یادول او د ناسمې ژبې کارول هغه ستونزې دي چې د

انلاین رسنیو اعتبار زیانمنوي. د همدې لپاره د رسنیو متخصصین ټینګار کوي چې انلاین رسنۍ باید د مسلکي ژورنالیزم له اصولو سره سم فعالیت وکړي او د اخلاقي معیارونو درناوی وکړي (Merrill, 1997). په اخر کې ویلی شو، چې انلاین ژورنالیزم که څه هم د معلوماتو د خپرولو چټکه او اغېزمنه وسیله ده، خو د دې ځواک تر څنګ لوی مسؤلیت هم لري. رسنۍ باید د حقیقت، دقت، بې پرې توب او د خلکو د حقونو د درناوي اصول مراعات کړي. که د ژورنالیزم اخلاقي معیارونه په سمه توګه عملي شي، نو انلاین رسنۍ کولی شي د معلوماتو د خپرولو یوه باوري او اغېزمنه سرچینه وګرځي او د ټولنې د پوهاوي او پرمختګ لپاره مهم رول ولوبوي.

**پایله**

د ډیجیټلي ټکنالوژۍ د چټک پرمختګ او د انټرنېټ د پراخې ودې په پایله کې د رسنیو چاپېریال له بنسټیز بدلون سره مخ شوی دی. په همدې بدلون کې انلاین ژورنالیزم د معلوماتو د خپرولو یو مهم او اغېزمن نظام ګرځېدلی او په لنډ وخت کې یې د رسنیو په نړۍ کې ځانګړی ځای خپل کړی دی. له همدې امله دا طبیعي خبره ده چې انلاین ژورنالیزم د ژورنالیزم د معاصر پړاو د یوه مهم صنعت او مسلکي ډګر په توګه وده کړې ده. سره له دې چې دغه ډګر لا هم په نړیواله کچه د پراختیا په حال کې دی، خو ژورنالیستانو ته اړتیا ده چې د دې نوې فضا د مؤثر مدیریت لپاره پراخ علمي پوهه، تخنیکي مهارتونه او مسلکي وړتیاوې ولري. د دې مقالې اساسي موخه دا وه چې هغه ژورنالیستان او محصلان چې د انلاین رسنیو په ډګر کې تازه داخلېږي، د انلاین ژورنالیزم له فرصتونو او ننګونو سره په علمي او مسلکي ډول بلد شي. د څېړنې پایلې څرګندوي چې د انلاین ژورنالیزم پراختیا د خبریالۍ په بهیر کې ژور بدلونونه رامنځته کړي دي. له یوې خوا یې د معلوماتو د خپرولو لپاره نوې دروازې پرانیستي، د خبرونو د خپرېدو سرعت یې زیات کړی او د رسنیو او مخاطبینو ترمنځ یې مستقیم تعامل رامنځته کړی دی؛ خو له بلې خوا یې د ژورنالیزم ځینې بنسټیز ارزښتونه، لکه د معلوماتو کره‌والی، مسلکي معیارونه او د رسنیو اعتبار له جدي ننګونو سره مخ کړي دي. انلاین ژورنالیزم د معلوماتو د پراخ لاسرسي، چټک خپرېدو او د خلکو د ګډون له امله د معاصرې رسنیزې فضا یوه مهمه برخه ګرځېدلې ده. خو په عین حال کې د محتوا د اعتبار ستونزه، د مسلکي معیارونو کمزوري، د مالي سرچینو محدودیت، او د افواهاتو او ناسم معلوماتو خپرېدل هغه ننګونې دي چې د رسنیو پر باور او د ټولنې پر معلوماتي جوړښت منفي اغېز کولی شي. له همدې امله اړتیا ده چې د انلاین ژورنالیزم د پرمختګ بهیر ته د فرصتونو او ننګونو له دواړو اړخونو څخه په متوازنه توګه وکتل شي. دا څېړنه دې پایلې ته رسېږي چې که څه هم انلاین ژورنالیزم د ژورنالیزم لپاره پراخ امکانات برابروي، خو د قانوني، اخلاقي او مسلکي چوکاټونو نشتوالی کولی شي دا ډګر له جدي ستونزو سره مخ کړي. له همدې امله د انلاین رسنیو د سالم پرمختګ لپاره د خبریالانو مسلکي روزنه، د قانوني او پالیسي ساز چوکاټ رامنځته کول،

د عامه پوهاوي لوړول، د ژورنالیزم اخلاقي اصولو ته ژمنتیا ضروري او مهم ګڼل کېږي. په ټولیز ډول ویلای شو چې انلاین ژورنالیزم که له یوې خوا د خبریالۍ نوی افق پرانیستی دی، له بلې خوا یې د باور، دقت او مسوولیت اړتیا لا زیاته کړې ده. که د دې ډګر د پرمختګ لپاره مسلکي اصول، قانوني چوکاټ، اخلاقي معیارونه او عامه پوهاوی په متوازن ډول پلي شي، نو انلاین ژورنالیزم کولی شي د ټولنې د پوهاوي، معلوماتي شفافیت او فکري پرمختګ لپاره یو باوري او اغېزمنه وسیله وګرځي.

**وړاندیزونه**

د انلاین ژورنالیزم پرمختګ ته په کتو، اړتیا ده، چې ژورنالیستان د ډیجیټل وسایلو، سایبري امنیت، انلاین اخلاقو او د معلوماتو د تصدیق میتودونو په برخه کې ځانګړې روزنه ترلاسه کړي. دا کار به د کیفیتي او مسوول ژورنالیزم بنسټ قوي کړي.

۱. باید داسې دیني، اسلامي قوانین او پالیسۍ جوړې شي، چې هم د اسلام مبارک دین په چوکاټ کې د بیان ازادي خوندي کړي او هم د دروغو خبرونو، کرکجنې محتوا او افواهاتو خپریدو مخنیوی وکړي. دغه اسلامي قانوني چوکاټ باید د جعلي خبرونو پر وړاندې عملي او تطبیقیدونکی وي.

۲. انلاین ژورنالیزم د اعتماد زیاتولو لپاره باید له AI (مصنوعي ځیرکتیا) Fact-checking پلاټفورمونو او اتومات سیستمونو څخه کار واخیستل شي، تر څو غلط معلومات زر وپیژني او د خپریدو مخه یې ونیسي.

۳. خلک باید وروزل شي، چې څنګه کره معلومات له جعلي، افواهي یا تبلیغاتي محتوا څخه بیل کړي. دا د ښوونیزو پروګرامونو، میډیا سواد (Media Literacy) او ټولنیزو کمپاینونو له لارې ممکنه ده.

۴. انلاین رسنۍ باید د مالي پلوه خپلواکې وي او همدا راز انلاین ژورنالیستان باید دا درک کړي، چې د اسلام مبارک دین په چوکاټ کې د بیان ازادي یو حق دی، خو له هغه سره مسوولیت هم تړلی دی. کره والی، درناوی او ټولنیزه همغږي ساتنه باید له نظره ونه غورځول شي.

# Challenges and Opportunities of Online Journalism

S. T. Assistant Hilal Arshad, shaikh zayed university, faculty of communication and journalism, Department of Journalism.
**Email Address**: Hilalarshad18@gmail.com

**Abstract**

Online journalism is considered an important part of journalism in this technological era, a key and powerful form of this era, which has emerged with technological advances and the expansion of the internet. With the adoption of this initiative, news media and journalists have benefited from new tools and approaches that provide significant opportunities for the development of international relation, innovation, and audience engagement. Another very important feature of online journalism is that it provides information to the public in real time and across wide geographies. Journalists using this new format can facilitate the development of public relations through social media and other digital forms. That is, anyone can access news media content, process information, and internet with it at will. This is an important development for the democratization of these news media. Although online journalism faces significant challenges, along with opportunities, the spread of unreliable information or rumors is one of the key obstacles, which can lead to a decline in widespread public trust and distrust of the media. With this comes competition, meaning that there are many competitors in the field of newspaper and information offerings, which makes the need to maintain quality and efficiency very important. Overall, online journalism offers a new path of innovation, evolution, and progress, but considering these principles, and discussions, more efforts must be made to provide better conditions for serving humanity.

**Keywords**: online journalism, technology, social media, news sources, opportunities, challenges, innovation.

**ماخذونه**

Allan, S. (2006) Online News: Journalism and the Internet. Maidenhead: Open University Press

Allan, S., & Thorsen, E. (2010) 'Journalism and Public Service: The Case of BBC News Online', in Meikle, G. & Redden, G. (Eds.) News Online: Transformation and Continuity (pp. 20–37). Basingstoke: Palgrave Macmillan.

Anderson, K. (2011) 'Live blogging evolved: Context and curation not just collection', Strange Attractor [online], 23 February 2011,

Bakker, Piet (2011) 'New journalism 3.0 - aggregation, content farms, and Huffinization: The rise of low-pay and no-pay journalism', The Future of Journalism Conference 2011, Cardiff University

Beckett, C. (2010) The Value of Networked Journalism, POLIS Journalism and Society, London School of Economics and Political Science

Belam, M. (2011) 'Is Guardian live blogging really "the death of journalism"?', currybetdotnet [online], 22 February 2011,

Hermida, Alfred (2010) 'Twittering The News: The emergence of ambient journalism', Journalism Practice, 4(3), 297–308.

Herrmann, S. (2009) 'Social media in Iran', The Editors [online], 16 June 2009,

McBride, Kelly 2009. "Poynter, Newsrooms Develop Social Networking Policies for Journalists on Facebook, MySpace, Twitter," PoynterOnline (the Poynter Institute). At http://www.poynter.org/column.asp?id=67&aid=156905, accessed October 31, 2010.

Merrill, John C. 1997. Journalism Ethics: Philosophical Foundations for News Media. New York: St. Martin's Press.

Mindich, David T. Z. 1998. Just the Facts: How "Objectivity" Came to Define American Journalism. New York: New York University Press.

Nguyen, An 2010. "Harnessing the Potential of Online News: Suggestions from a Study on the Relationship between Online News Advantages and Its Post-Adoption Consequences," Journalism, vol. 11, no. 2, pp. 223–41.

Robinson, Sue 2006. "The Mission of the J-Blog: Recapturing Journalistic Authority Online," Journalism, vol. 7, no. 1, pp. 65–83.

Ward, Stephen J. A. 2005. "Philosophical Foundations for Global Journalism Ethics," Journal of Mass Media Ethics, vol. 20, no. 1, pp. 3–21.

# د سلما بند د اقتصادي اغېزو څېړنه

پوهنمل عصمت الله زیار، د شیخ زاید پوهنتون، ټولنیزو علومو پوهنځی، د جغرافیې څانګې استاد
**برېښنالیک:** Asmatullah.ziar@gmail.com

**لنډیز**

سلما بند، چې د هرات ولایت په چشت شریف ولسوالۍ کې جوړ شوی، د افغانستان له مهمو زېربنایي پروژو څخه شمېرل کېږي، چې د هند هېواد په مالي ملاتړ سره تمویل او تطبیق شوې ده. دا بند د برښنا تولید، کرنیزو ځمکو خړوبولو، د کاري فرصتونو رامنځته کولو او د فقر کمولو په برخو کې د پام وړ اغېزې لري. دا چې افغانان له اقتصادي ستونزو سره مخ دي، له همدې امله په نوموړې څېړنه کې هڅه شوې ده، ترڅو د سلما بند اقتصادي اغېزې د هرات ولایت په کچه وارزوي او تحلیل یې کړي. د دې ترڅنګ ویلی شو، چې د څېړنې موخه د سلما بند اقتصادی ارزښت ارزونه ده. د څېړنې لپاره توصیفي او تحلیلي مېتودونه کارول شوي او معلومات یې له بېلا بېلو څېړنیزو مقالو، راپورونو څخه اخیستل شوي دي. د څېړنې څخه تر لاسه شوې پایلې ښیي چې د سلما بند جوړېدل د اقتصادي پراختیا، کرنې، برښنا، صنعت، د بېوزلۍ کمولو کې اغېزمن رول لري. همدارنګه نوموړې څېړنه پایله‌ګیري کوي، چې د طبیعي منابعو مدیریت، لکه د اوبو مهار او مؤثره استفاده، کولای شي د افغانستان د پایداره اقتصادي ودې لپاره بنسټیز نقش ولوبوي.

**کلیدي ټکي:** اقتصادي اغېزې، برښنا، سلما بند، کاري فرصتونه، کرنه او مالداري

**سریزه**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ، الحمدلله رب العالمین والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله اصحابه اجمعین.**

اوبه د یوه هېواد د اقتصادي، ټولنیز او چاپېریالي ثبات مهم عنصر بلل کېږي. افغانستان، چې د طبیعي سرچینو له اړخه بډای هېواد دی، خو له بده مرغه د کلونو جګړو، بې‌ثباتۍ او کمزوري مدیریت له امله یې د اوبو ډېرې سرچینې تر اوسه نه دي مدیریت شوې. سلما بند، چې د افغانستان په لوېدیځ زون، هرات ولایت کې د هري رود پر سیند جوړ شوی، له هغو مهمو بندونو څخه ګڼل کېږي، چې د هېواد په ځانګړې ډول د هرات ولایت په اقتصادي وده کې حیاتي رول لري. دا بند د افغانستان او هند ترمنځ د دوه اړخیزو همکاریو یوه ستره نښه بلل کېږي. د سلما بند اساسي موخې د کرنیزو ځمکو خړوبول، د برېښنا تولید، د شنو ساحو پراخول، د کاري فرصتونو ایجاد، د فقر کچه راکمول او د چاپېریال د توازن ټینګول دي. د بند له جوړېدو سره د هرات ولایت په چشت شریف، اوبه، ګلران، انجیل، زنده جان، غوریان، کشک او کهسان ولسوالیو کې د کرنیزو فعالیتونو د پراخېدو تمه کېږي، چې دا چاره به نه یوازې د سیمې د اقتصاد بنسټ پیاوړی کړي، بلکې د خوراکي موادو تولید او صادراتو ته به هم وده ورکړي. د دې څېړنې موخه د افغانستان په اقتصادي پراختیا، په ځانګړې توګه د هرات ولایت په کچه د سلما بند د اغېزو معلومول دي. دا یوه کیفي څېړنه ده، چې معلومات یې له دویم لاس منابو څخه تر لاسه شوي دي. همدارنګه ویلی شو، چې د پایلو پر بنسټ یې علمي ارزونه شوې ده.

## د څېړنې موخې

**اصلي موخه** - د سلما بند د اقتصادي اغېزونه څېړل.

**فرعي موخې**

- د هرات ولایت په کرنه د سلما بند اغېزو څېړل.
- د سلما بند تولیدوونکی برېښنا څېړل.
- د سلمابند له امله د رامنځته شویو کاري فرصتونو څېړل.

## د څېړنې ارزښت

افغانستان یو له هغو هېوادونو څخه دی، چې د پراختیا لپاره پراخو طبیعي سرچینو، په ځانګړې توګه د اوبو زیرمو، ته لاسرسی لري. له بده مرغه، د جګړو، سیاسي بې‌ثباتۍ او د مسلکي ظرفیتونو د کموالي له امله تر ډېره له دغو منابعو ګټه نه ده اخیستل شوې. اوبه د یوه هېواد د اقتصاد، کرنې، انرژۍ، صنعت او ټولنیز ثبات مهم بنسټ ګڼل کېږي او بندونه د دې منابعو د تنظیم او مدیریت یوه ستراتیژیکه وسیله ده. سلما بند د افغانستان له مهمو بنسټیزو پروژو څخه شمېرل کېږي. ذکر شوی بند، چې د هري رود پر سیند جوړ شوی دی، له هغو مهمو پروژو څخه

ده، چې د افغانستان، په ځانګړې توګه د هرات ولایت، په اقتصادي، کرنیز، انرژۍ او ټولنیز وضعیت یې مثبت اغېز کړی دی. دا بند د (۸۰۰۰۰) زره هکتاره کرنیزو ځمکو د خړوبولو، (۴۲) میګاواټه برښنا د تولید او د کاري فرصتونو د ایجاد وړتیا لري. خو له دې سره سره، لا هم د دې بند د اغېزو اندازه، د اقتصادي فرصتونو د پراختیا کچه او د خلکو پر ژوند د هغې مستقیم یا غیرمستقیم تاثیرات علمي ارزونې ته اړتیا لري. د دې څېړنې اهمیت له دې اړخه مهم دی، چې د سلما بند د اقتصادي، ټولنیزو او انکشافي اغېزو دقیقه ارزونه وړاندې کوي. دا به مرسته وکړي، چې د عامه پانګونو مؤثریت وارزول شي او د پالیسي جوړونکو لپاره د تصمیم نیولو یو علمي بنسټ برابر شي. همداراز، دا څېړنه د سلما بند د اقتصادي رول تبیین ته زمینه برابروي، له همدې امله، دا څېړنه نه یوازې یو علمي ضرورت دی، بلکې یو ملي اهمیت هم لري، چې د افغانستان د اقتصادي سیاستونو په روښانه کولو کې ارزښتناک رول لوبولی شي.

### د څېړنې تګلاره

د دې څېړنې موخو ته په کتو سره، څېړنه د توصیفي او تحلیلي مېتود له مخې تر سره شوې او معلومات یې د بېلا بېلو څېړنیزو مقالو او راپورونو څخه تر لاسه شوي دي، چې د ښه دقت په موخه مختلفې سرچینې پلټل شوې دي، تر څو پر واقعیتونو ولاړ معلومات وړاندې شي.

### د سلما بند جغرافیوي موقعیت

د سلما بند چې د هند او افغانستان ترمنځ د دوستۍ بند په نوم یادېږي، یو لوی څو موخیز برښنایي او د اوبولګولو بند دی، چې د افغانستان لوېدیځ کې د هرات ولایت چشت شریف ولسوالۍ کې د هري رود پر سیند د هند د اوبو وزارت(Ministry of Jal Shakti) تر چتر لاندې د یوې دولتي اداري (WAPCOS Limited) له خوا جوړ شوی دی. د دې پروژې ټول لګښت شاوخوا (۱۷۷۵) کروړه هندي کلدارې (نږدې ۳۰۰ میلیونه امریکایي ډالر) و، چې پوره د هند له خوا د مرستې (grant) په توګه تمویل شوی دي.(Salma Dam,2013, 2) نوموړی بند د چشت شریف ښارګوټي څخه شاوخوا (۹) کیلومتره فاصله لري. باید ووېل شي، چې د بند لپاره داسې ځای ټاکل شوی دی، چې له طبیعي لحاظه مناسب دی، ځکه چې د هریرود سیند له مرکزي لوړو غرونو سرچینه اخلي او لوېدیځ ایران ته ننوځي. دا بند له جغرافیوي پلوه داسې موقعیت لري، چې له لارې یې نه یوازې د اوبو زېرمه کېدل اسانه دي، بلکې له همدې اوبو څخه د هرات ولایت په څو ولسوالیو کې د کرنې، برښنا تولید او د څښاک اوبه برابرېږي(GoI-MEA Report on AIFD, p. 6). دا د افغانستان په تاریخ کې تر ټولو ستره بنسټیزه پروژه بلل کېږي، چې د پخواني ولسمشر محمد داود خان د واکمنۍ پر مهال په (۱۳۵۵) هـ.ل چې د (۱۹۷۶) کال سره

سمون خوري، پلان شوې وه. لومړني کارونه يې پيل شوي وو او شاوخوا (۲۵٪) جوړښت يې بشپړ شوی و، خو پر داود خان د کودتاه سره سم د بند کار په (۱۳۵۷) هـ.ل کال کې ودرېدل. د دویم ځل لپاره د (۱۳۸٦) هـ.ل کال د زمري مياشتې په (۳۱) نېټه وربانديې کار پيل شو او په (۲۰۱٦) کال د جون مياشتې په (۴) نېټه ګټې اخيستنې ته وسپارل شو(Malikyar, 2023, 24).

**د سلما بند اقتصادي ارزښت**

مايع اوبه د انسانانو د ژوند سرچينه ده، چې موږ دا په بېلابېلو برخو کې کاروو، لکه: د برښنا توليد، کرنيز پرمختګ، باغداري، د کرنيزو ځمکو خړوبونه، د کاري زمينې برابرول، د فقر کمښت، عمومي اقتصادي او ټولنيز پرمختګ، چې کولای شي، يوه ټولنه له بنسټيز بدلون سره مخ کړي. د همدې موخو لپاره د سيندونو پر سر بندونه جوړېږي. سلما بند هم له همدې بندونو څخه يو دی(Wafa, 2023, 591). موږ د سلما بند ارزښت دلته په بېلا بېلو برخو کې په لاندې ډول ښيو:

**الف- د کرنې او مالدارۍ په برخه کې د سلما بند ارزښت**

نوموړی بند د هرات ولايت په چشت شريف ولسوالۍ کې د هند په مالي تمويل جوړ شوی دی. په ذکر شوي بند باندې (۳۰۰) مليون ډالر لګښت شوی دی. د سلما بند شاوخوا (۲۰) کيلومتره اوږدوالی او (۳) کېلو متره



(۱) ګڼه تصوير په ۲۰۲۲/ جولای/ ۵ نېټه د عمران لخوا اخېستل شوی دی،
چې د انګورو حاصلات ښيي.

پراخوالی لري، چې د اوبو ذخيره کولو ظرفيت يې تر (٦۴۰) ميليون متر مکعب څخه زيات دی، لوړوالی يې (۱۰۷.۵) متره او اوږدوالی يې (۵۵۱) متره دی. د نوموړي بند څخه ټولټال (۸۰۰۰۰) هکتاره کرنيزه ځمکه خړوبيږي، چې (۴۰۰۰۰) هکتاره موجوده خړوبيزې ځمکې ته ثبات ورکوي او (۴۰۰۰۰) هکتاره نورو کرنيزوځمکو ته د خړوبولو اسانتياوې برابروي.

د کرنې په برخه کې د هرات ولایت په کرنیزو محصولاتو کې زیاتوالی لېدل کېږي، دبېلګې په ډول: د ا چې د سلما بند څخه (۸۰۰۰۰) هکتاره ځمکه، چې له ( ۴۰۰۰۰۰) جریبه ځمکې سره سمون خوري خړوبیږي. که د سلما بند په خړوبېدونکې ټوله ځمکه غنم وکرل شي او یو جریب ځمکه په منځنۍ کچه (۱.۵) خرواره غنم وکړي، نو په یو فصل کې د غنمو تولید ( ۶۰۰۰۰۰) خروارو ته رسیږي. اوس که تر لاسه شوي غنم په افغاني من، چې د (۷) کېلو سره برابر دی، تبدیل کړو ټولټال ( ۴۸۰۰۰۰۰۰) منه کېږي. پورته حساب په لاندې ډول خلاصه کولای شو: یو هکتار = (۵) جریبه سره برابر دی او محاسبه یې په لاندې ډول ده:

جریبه (۴۰۰۰۰۰) = ۸۰۰۰۰ × ۵

که په منځنۍ کچه یو جریب (۱.۵) خرواره غنم وکړي نو محاسبه یې په لاندې ډول ترسره کېږي.

خرواره (۶۰۰۰۰۰) = ۴۰۰۰۰۰ × ۱.۵

اوس که په منځنۍ کچه د یو من ( ۷) کېلو غنمو قېمت (۱۳۰) افغانۍ حساب کړو نو ټولټال تر لاسه شوې افغانۍ ( ۱۴۰۴۰۰۰۰۰۰) کېږي، چې معادله یې په لاندې ډول ده.

په افغاني من کېږي (۴۸۰۰۰۰۰۰) = ۶۰۰۰۰۰ × ۸۰

افغاني کېږي (۶۲۴۰۰۰۰۰۰۰) = ۴۸۰۰۰۰۰۰ × ۱۳۰

د پورته محاسبې له مخې ویلی شو، چې د سلما بند څخه یوازې د غنمو په فصل کې (۶۲۴۰۰۰۰۰۰۰) افغانۍ ناخالص عایداتلاسته راځي.

د دې سربېره د نوموړي بند څخه (۵۰) زره کورنیو ته اوبه برابریږي. د کرنیزو ځمکو په زیاتېدو سره په سیمه کې د کار زمینه نوره هم پراخه شوې؛ په ځانګړي ډول کلیوالو سیمو ته د اوبو رسولو او د برېښنا شتون د کاري فرصتونه زیات کړي دي(Wafa, 2023, 587) . سلما بند د هرات (۸) بېلا بېلو ولسوالیو (چشت، اوبه، پشتون زرغون، ګذره، انجل، زندجان، غوریات او کهسان) کرنیزو ځمکو او باغونو ته د خړوبولو اوبه برابروي. د هرات د کرنې او اوبو لګولو ریاست د مشر له قوله چې د سلما بند په جوړېدو سره د (۲۰۲۲) کال د احصایې له مخې د تېر کال په پرتله سږکال د غنمو په حاصلاتو کې (۵۰ ٪) زیاتوالی راغلی دی. د دې تر څنګ ویلی شو، چې د هرات په اته ولسوالیو کې چې د سلما بند له اوبو برخمنې دي، له (۳۰۰۰) څخه زیات د مېوو باغونه شتون لري. سلما بند په فعالیت سره نه یوازې په کرنیزو ځمکو کې زیاتولی راغلی دی، بلکې د نوموړي بند څخه د هرات ښار ته برښنا هم برابره شوې ده(P.M.MATHUR, 2017,2). د هرات د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست رئیس پیرمحمد حلیمي له قوله د ښه اورښت او د سلما بند څخه باغونو ته د اوبو منظم جریان له امله سږکال د هرات د

انګورو حاصلاتو کې د (۲۰) سلنه زیاتوالي تمه کېږي. هغه وویل: تمه ده، چې سږکال به په هرات کې شاوخوا (۱۵۰) زره ټنه انګور راټول شي، په داسې حال کې چې تېر کال دا شمېر (۱۳۰) زره ټنه وو(Emran, 2022, 6).

د سلما بند د طبیعي اوبو د لوړ ظرفیت له امله د دوامداره کبانو روزنې او د اوبو د نورو ژوندیو لپاره یو مناسب ایکولوژیک زون برابر کړی دی. دا د هرات ولایت اوسیدونکو لپاره یوه ښه موقع ده، څو په دې سیمه کې د کب روزنې بېلا بېل فارمونه جوړ او فعال کړي. د کب روزنې دندې ته بېلا بېل امکانات اړتیا لري. دا امکانات د متخصصینو / کارپوهانو، مالي سرچینو او کارګر ځواک څخه عبارت دي. د کبانو روزنه د طریقو له مخې بېلا بېله ده، لکه پراخه (Extensive)، نیمه متمرکزه (Semi-intensive)، متمرکزه (Intensive) او ډېره متمرکزه (High-intensive) چې دا ټولې طریقې د ځای له شرایطو سره تړاو لري. د افغانستان د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت (MAIL) لږ تر لږه (۵۰۰۰۰) ټروټ[1] کب وړې کبانې (fingerlings) په دې بند کې خوشې کړې دي(Halim, 2020, 3).

**ب- د برښنا په برخه کې د سلما بند ارزښت**

د سلما بند او د برښنا فابریکه چې د هرات ولایت په چشت ولسوالۍ کې موقعیت لري، د هندي شرکت Bharat Heavy Electricals Limited (BHEL) لخوا جوړه شوې ده.



(۲) ګڼه تصویر په ۲۰۲۲/ می / ۵ نېټه د عمر لخوا اخیستل شوی دی، د سلما بند ښیي.

یاده فابریکه درې توربینونه لري، چې هر یو یې د (۱۴ مېګاواټه) برښنا تولیدي ظرفیت لري او ټولټال (۴۲) میګا واټه برښنا تولیدوي، چې څه د پاسه (۴۰) زره کورنۍ به له برښنا څخه برخمنې شي. دا چې د سلما بند د (۴۲) مېګاه واټه برښنا ظرفیت لري، که د وارداتي برښنا بیه په پام کې ونیسو، نو څرګندیږي، چې له تاجکستان او

[1] - **ټروټ** (Trout) یو ډول کب دی، چې عموماً په یخو، روانو اوبو کې ژوند کوي، لکه د غرونو سیندونو، جهیلونو او بندونو کې. نوموړی کب ډېر خوندور دی او په زیاته کچه پروټین لري. په افغانستان کې د کبانو د روزنې له پاره یو مهم تجارتي نوع بلل کېږي.

ازبکستان څخه واردېدونکې برښنا یو کیلو واټ په (۰.۰۴ – ۰.۰۷) ډالرو اخیستل کېږي، چې منځنۍ بیه یې (۰.۰۵۵) ډالره ده(Waisulhadi Oriakhil, 2024, 356). که چېرې (۴۲) مېګاواټه (۴۲۰۰۰ کیلو واټه) د (۰.۰۵۵) سره ضرب کړو، نو په یو ساعت کې (۲۳۱۰) ډالر او په (۲۴) ساعتونو کې (۵۵۴۴۰) ډالره، په میاشت کې (۱٦٦۳۲۰۰) ډالر او په یو کال کې (۱۹۹۵۸۴۰۰) ډالر کېږي، په کال کې یوازې د برښنا څخه تر لاسه کېدونکې عاید لري. د سلما بند د برښنا فابریکه درې توربینونه لري، چې هر یو یې د(۱۴ مېګاواټه) برښنا تولیدي ظرفیت لري او ټولټال (۴۲) میګا واټه برښنا کېږي، چې څه د پاسه (۴۰) زره کورنۍ له برښنا څخه برخمنې شوې دي. ذکر شوې برښنا د هرات په مختلفو برخو کې د اړتیا وړ سکتورونو لپاره کارول کېږي (Selma Power Plant, 2016). دا چې د سلما بند د (۴۲) مېګاه واټه برښنا ظرفیت لري، که د وارداتي برښنا بیه په پام کې ونیسو نو څرګندیږي، چې له تاجکستان او ازبکستان څخه واردېدونکې برښنا یو کیلو واټ په (۰.۰۴ – ۰.۰۷) ډالرو اخیستل کېږي چې منځنۍ بیه یې (۰.۰۵۵) ډالره ده(Waisulhadi Oriakhil, 2024, 356). نوموړې برښنا په لاندې ډول محاسبه کولای شو:

کیلوواټه(۴۲۰۰۰) = ۱۰۰۰ × ۴۲

که یو کیلو واټ منځنۍ کچه په (۰.۰۵۵) ډالر قېمت کړو په یو ساعت کې ټولټال (۲۳۱۰ ) ډالره کېږي، چې نو په لاندې ډول یې محاسبه کولای شو:

په یوه ساعت کې ډالر(۲۳۱۰) = ۰.۰۵۵ × ۴۲۰۰۰

اوس که پورته قېمت د ورځې له مخې حساب کړو په لاندې ډول معادله لیدل کېږي.

په ساعتونو څلورویشت کې ډالر(۵۵۴۴۰) = ۲۴ × ۲۳۱۰

د پورته حساب له مخې یې میاشتنۍ ارزښت په لاندې ډول ښودلای شو:

په یوه میاشت کې ډالر(۱٦٦۳۲۰۰) = ۳۰ × ۵۵۴۴۰

د دې تر څنګ د نوموړي بند د برښنا کلنۍ ارزښت په لاندې ډول دی.

په یوه کال کې ډالر(۱۹۹۵۸۴۰۰) = ۱۲ × ۱٦٦۳۲۰۰

باید وویل شي، چې د سلما بند څخه یوازې د برښنا په برخه کې په کلني ډول (۱۹۹۵۸۴۰۰) ډالر عاید تر لاسه کېږي، چې دا د سیمې خلکو په اقتصادي فعالیتونو باندې مستقیم تاثیر لري.

ذکر شوې برښنا د هرات په مختلفو برخو کې د اړتیا وړ سکتورونو لپاره کارول کېږي. باید وویل شي، چې د اوبو د سطحې د بدلون له امله د برښنا کچه کمېږي یا زیاتېږي، یعنې د برښنا تولیدي ظرفیت مستقیماً د اوبو له شتون سره تړاو لري او کله چې د اوبو سطحه راټیټه شي، د توربینونو کارکردګي هم اغېزمنېږي، چې له امله یې د برښنا تولید کمېږي(Selma Power Plant, 2016). د دې ترڅنګ تر یوه بریده د وارداتي برښنا د انحصار څخه د وتلو په لور مهم ګام بلل کېږي. د سلما بند د سیمه‌ییزو صنایعو لکه د هرات صنعتي پارک لپاره د انرژۍ رسولو تضمین کوي، چې دا خپله د صنعتي ودې ملاتړ دی. همدارنګه ویلی شو، چې د اوبو زیرمه کول د وچکالۍ پر وړاندې یوه ستره وسیله ده، چې د کرنیز تولید او ټولنیز ثبات لپاره حیاتي اهمیت لري (Wafa, 2023, 587).

**ج- د کاري فرصتونو په برخه کې د سلما بند ارزښت**

د سلما بند په جوړېدو کې زیات تمرکز په ځایي خلکو باندې و، له همدې امله (۲۰۰) هندي او (۶۰۰) افغان کارګرو ته په مستقیم ډول او په غیر مستقیم ډول زرګونو کسانو ته پکې د کار زمینه برابره شوه، چې له امله یې محلي مهارتونه او عایدات لوړ شول. د پورته کارکوونکو تر څنګ په نوموړي بند کې له (۱۰۰- ۱۲۰) تنو امنیتي کسانو پورې په امنیتي چارو بوخت وو. د دې تر څنګ په نوموړې پروژه کې لارۍ، ډمپرونه، پیک اپ موټر او بسونه په کرایه نیول شوي وو. همدارنګه ویلی شو، چې په نوموړې پروژه کې تر (۳۰۰) زیات موټر د ډبرو، خټې او شګو په انتقال مصروف وو. هغه کارګر چې د نږدې کلیو اوسېدونکي وو، کار ځای ته د تګ راتګ لپاره بسونه ورکړل شوي وو. د سلما بند پروژې په ساحه کې وړو هټیوالو ډېر پرمختګ وکړ. د پورته رقمونو له مخې که د هر کارکوونکي تر شاه د کورنۍ پنځه کسان غړي فرض کړو لیدل کېږي، زرګونه کسانو د یادې پروژې څخه د تر لاسه کېدونکو پیسو په مرسته د ژوند ضرورتونه پوره کول. د دې تر څنګ ویلی شو، چې د نوموړي بند په جوړېدو سره په بېلا بېلو برخو کې په لسګونه زره کسانو ته مصروفیت پیدا شوی دی. سودیر شتې (د سلما بند پروژې مسؤل) په هغه سیمه کې لږ تر لږه (۱۲۰) جوماتونو ته د ترمیم، بیا رغونې، پراخونې یا جوړونې برخه کې مرسته وکړه. همدارنګه یې د روژې مبارکې میاشتې پر مهال هره ورځ په بېلا بېلو کلیو کې (۳۰۰ – ۴۰۰) کسانو پورې د افطار لپاره خواړه برابرول. د دې تر څنګ ویلی شو، چې سودیر شتې او د هغه ټیم د ښوونځیو او مدرسو د ودانیو او لوبغالو د پراخولو، ترمیم او بیا رغونې په برخه کې هم مرسته وکړه. ځایي خلکو له سودیر شتې او هندیانو سره د دوی د ښو کارونو له امله ډېره مینه لرله (P.M. MATHUR, 2017,31).

د دې تر څنګ د نوموړي بند جوړول او فعالیت په چاپېریال باندې مثبت او منفي دواړه اغېزې لري. د اوبو جریان تنظیمول، د سېلابونو خطر کمول، د اوبو لګولو ملاتړ کولای شي، چې کرنیز تولید زیات کړي، خو په عین حال کې د هري رود طبیعي چاپیریال هم بدلوي او د سیند په پای کې د اوبو په شتون باندې اغیز کوي. د دې څو موخیزې پروژې د ګټو د اعظمي کولو او منفي اغېزو د کمولو لپاره د محتاط مدیریت او چاپیریالي څارنې اړتیا شته(Salma Dam, 2013,4,6).

**پایله**

د سلما بند اقتصادي اغېزې د افغانستان، په ځانګړي ډول د هرات ولایت د پراختیا لپاره ډېرې مهمې دي. د دې څېړنې له لارې، د معلوماتو راټولولو، تحلیل او اکاډمیکي ارزونې له بنسټه څرګنده شوه، چې سلما بند د هرات د اقتصادي ودې، د کرنې د پراختیا، د برښنا د تولید او د کاري فرصتونو د رامنځته کولو په برخو کې رغنده او مستقیمه اغېزه لري.

له څېړنې څخه ترلاسه شوي شواهد ښیي، چې د سلما بند له لارې (۸۰۰۰۰) زره هکتاره کرنیزو ځمکو ته اوبه رسیږي، چې له امله یې د کرنې سکتور تولیدات زیات شوي دي. ذکر شوی بند، نه یوازې د خوړو خوندیتوب ته وده ورکوي بلکې د بزګرانو عاید هم لوړوي. دغه بند د برښنا درې توربینونه لري، چې (۴۲) مېګاواټه برښنا تولیدوي، د اوبو د کموالي او زیاتوالي سره د برښنا په تولید کې لږوالی او زیاتوالی راځي. باید وویل شي، چې د نوموړي بند د برښنا د تولید له لارې په هرات ولایت کې د انرژۍ د کموالي ستونزه تر یوه بریده حل شوې او د کورنیو او صنعتي فعالیتونو د پراختیا زمینه یې برابره کړې ده. د بند د جوړېدو او کار پیل سره زرګونه خلکو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره شوه، چې د فقر کچې په راکمېدو کې یې مهم رول درلوده. برسېره پردې، د کوچنیو صنایعو د ودې لپاره هم زمینه مساعده شوه، ځکه چې برښنا او اوبه د صنعت لپاره بنسټیزې اړتیاوې دي. د اوبو منظم مدیریت یې د وچکالۍ د اغېزو په کمولو کې مرسته کړې او د طبیعي منابعو د مؤثرې استفادې زمینه یې برابره کړې ده. له بلې خوا، د بند جوړېدل د افغانستان او هندوستان ترمنځ د اقتصادي او سیاسي همکاریو یوه نمونه ګڼل کېږي، چې د سیمه‌ییزو اړیکو په ټینګښت کې رغنده اغېز لري.

په ټولیز ډول، د دې څېړنې پایلې ښیي، چې د سلما بند د اقتصادي اغېزو ګټه یوازې د زراعت او برښنا په برخو کې نه ده محدوده، بلکې دا یوه پراخه ملي پروژه ده، چې کولای شي، د هېواد پر اقتصاد، ټولنیز ثبات او سیمه‌ییزې پراختیا اوږد مهاله مثبت اغېز ولري.

**وړاندیزونه**

- د سلما بند د اعظمي اقتصادي اغېزو لپاره اړینه ده، چې د اوبو تنظیم او مدیریت ته جدي توجه وشي، ترڅو اوبه په منظم ډول کرنیزو ځمکو ته ورسېږي او د اوبو ضایع کېدل کم شي.
- د اوبو کموالی د برښنا تولید کموي، نو اړینه ده چې د اوبو زېرمې، موسمي تحلیل او د بدیلو انرژیو لکه سولر سره په همغږي رامنځته شي ترڅو د برښنا تولید ثبات ومومي.
- د بند د ګټو، اوبو سپما او همکارۍ اړوند دې عامه پوهاوی ډېر شي، ترڅو خلک له پروژې ښه سمه استفاده وکړي.
- د بند د اوږد مهاله اقتصادي اغېزو معلومولو لپاره باید دوامداره څېړنې وشي او د پایلو پر بنسټ پالیسۍ جوړې شي.
- د سلما بند له لارې د هندوستان او افغانستان ترمنځ اقتصادي همکاري پراخه شوې؛ دا باید د نورو اقتصادي همکاریو د پراخولو لپاره هم وکارول شي.
- د اقلیمي بدلونونو له امله د اوبو شتون متأثرېږي، نو باید د اقلیمي تحلیل پراساس اوږد مهاله ستراتیژۍ جوړې شي.

# The Economic Impact Assessment of Salma Dam

Senior Teaching Assistant Asmatullah Ziar, Sheikh Zayed University, Faculty of Social Sciences, Department of Geography.
Asmatullah.Ziar@gmail.com

**Abstract**

The Salma Dam, constructed in the Chisht-e-Sharif district of Herat Province, is considered one of Afghanistan's major infrastructure projects, financed and implemented with the financial support of India. This dam has significant impacts in the areas of electricity generation, irrigation of agricultural lands, creation of employment opportunities, and poverty reduction. Given that Afghans face economic challenges, this study attempts to evaluate and analyze the economic impacts of the Salma Dam at the level of Herat Province. In addition, it can be stated that the objective of the study is to assess the economic value of the Salma Dam. Descriptive and analytical methods have been used for the research, and the data have been collected from various research articles and reports. The findings of the study indicate that the construction of the Salma Dam plays an effective role in economic development, agriculture, electricity, industry, and poverty reduction. Furthermore, the study concludes that the management of natural resources, such as water regulation and its efficient utilization, can play a fundamental role in achieving sustainable economic growth in Afghanistan.

**Keywords:** Economic impacts, electricity, Salma Dam, employment opportunities, agriculture and livestock.

**ماخذونه**

احمد، ق.(بې تا). د سلطان بند اقتصادي ارزښت ته کتنه. (n.d.). dpmea.gov.af. Retrieved from .
https://dpmea.gov.af/ps/1403-PASHTO-Articles-67
جمال ,م .ا .(n.d.) . د کمال خان بند څخه د خړوبېدونکې ځمکو اقتصادي ارزښت . کابل ,افغانستان :د اوبو
د چارو د تنظیم ملی اداره Retrieved from www.nwara.gov.af .
حنفي، ا.(بې تا). شاه او عروس بند، ارزښت او وروستي کاري پرمختګونه. dpmea.gov.af. Retrieved from .
https://dpmea.gov.af/ps/%D8%B4%D8%A7%D9%87-%D8%A7%D9%88-
%D8%B9%D8%B1%D9%88%D8%B3-%D8%A8%D9%86%D8%AF%D8%9B-
%D8%A7%D8%B1%D8%B2%DA%9A%D8%AA-%D8%A7%D9%88-
%D9%88%D8%B1%D9%88%D8%B3%D8%AA%D9%8A-
%DA%A9%D8%A7%D8%B1%D9%8A-
%D9%BE%D8%B1%D9%85%D8%AE%D8%AA%DA%AB%D9%88%
لاروی،م. ا.(۲۰۲۱). د ژوند پر چاپېریال د کمال خان بند اغېزې. کابل: اداره ملي تنظیم امور آب. Retrieved
from www.nwara.gov.af.
(20013). Salma Dam. https:// www.gktoday.in.
(2016). Selma Power Plant. Kabul: DABS/ DA Afghanistan Breshna sherikat. Retrieved from https://main.dabs.af/dams-details/11.
Australia, W. (1993). Employment Opportunities. IEEE SPECTRUM.
E mran. (2022). Grape harvest sees spike in Herat with help of Salma Dam. asia-news. Retrieved from https://afghanistan.asia-news.com/en_GB/articles/cnmi_st/features/2022/07/13/feature-02.
GoI-MEA Report on AIFD (Afghan India Friendship Dam), Government of India.
Halim, A. (2020). Cage Fish Culture as Sustainable Fish Farms on Salma Dam. Asian Journal of Research in Animal and Veterinary Sciences, 6(3), 1-8.
http://www.jetir.org/papers/JETIR2302076.pdf?utm_source=chatgpt.com.
M alikyar, G. M. (2023, August 14). Environment and Water Resources Relationships in Afghanistan 2021 our water, our pride. ResearchGate, 1- 55. Retrieved from https://www.researchgate.net/publication/373111835.
P. M.MATHUR. (2017). Experience in Afghanistan (2016 - 2025) Making Salma Dam Project.
T unny, G. (2019). Economic Impact Assessment. Australia: Adept Economics. Retrieved from gene.tunny@adepteconomics.com.au.
W oodford, C. (2014, May 30). Intro to Electricity. 1 - 12.
Wafa, P. (2023). A study on Salma Dam impacts on Afghanistan Development Special reference to Herat Province. *JETIR*, *Volume 10*( Issue 2 ), 586 - 592. Retrieved from www.jetir.org.
Waisulhadi Oriakhil, A. W. (2024, Feb 10). Effect of Kamal Khan Dam on Afghanistan's Economy and Environment. Nangarhar University International Journal of Biosciences(2024), 355 - 357. Retrieved from nuijb.nu.edu.af

# په شاګردانو کې د زده‌کړې د انګېزې د رامنځته کېدو د عواملو مطالعه

پوهنمل سیدشاه ګل ویاړ، شيخ زايد پوهنتون، ښووني روزنې پوهنځی، عمومي ښوونې او روزنې څانګه
**برېښناليک:** weyar.khostay@gmail.com

**لنډيز**

زده‌کړه د فردي، ټولنيز، اقتصادي او کلتوري پرمختګ بنسټيز رکن بلل کېږي او د دې بهير برياليتوب تر ډېره د شاګردانو د زده‌کړې له انګېزې سره تړاو لري. دا مقاله د شاګردانو په زده‌کړه کې د انګېزې د رامنځته کېدو مهم عوامل، نظري بنسټونه او اغېزمنې لارې چارې تر علمي څېړنې لاندې نيسي. څېړنه نظري او تحليلي بڼه لري او د نړيوالو معتبرو تيوريو، علمي مقالو او د افغانستان د ښوونيز چاپېريال د تجربو پر بنسټ ترسره شوې ده. په مقاله کې د ځان‌تعيين، تمه–ارزښت، ماسلو اړتياوو، د هدف تمايل او هڅوونکي چاپېريال تيورۍ تشريح شوې او د زده‌کړې له انګېزې سره يې اړيکه روښانه شوې ده. موندنې ښيي چې د ښوونکي مثبت چلند، د کورنۍ ملاتړ، د ټولګي فزيکي او ټولنيز چاپېريال او د تدريسي مېتودونو نوښت د زده‌کړې د انګېزې په پياوړتيا کې اساسي رول لري. همدارنګه څرګنده شوې چې په افغانستان کې تېل شويو جګړو او يرغلونو، اقتصادي ستونزو، د ښوونکو د روزنې محدوديت او د تعليمي منابعو کمښت د شاګردانو د زده‌کړې انګېزه اغېزمنه کړې ده. پايله دا ده چې د زده‌کړې د انګېزې لوړول د شاګردانو علمي لاسته راوړنې، ذهني هڅونه، ټولنيز مشارکت او د ستونزو حل وړتيا پياوړې کوي. مقاله د ښوونکو، کورنيو او تعليمي بنسټونو لپاره عملي سپارښتنې وړاندې کوي، تر څو د زده‌کړې لپاره يو مثبت او هڅوونکی چاپېريال رامنځته شي.

**کليدي کلمې:** انګېزه، تدريسي مېتودونه، زده‌کړه، شاګردان، ښوونکي، ښوونيز چاپېريال، کورنۍ ملاتړ

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم! الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سیدالمرسلین وعلی اله و اصحابه اجمعین!**

زده‌کړه د انساني ټولنو د فکري، فرهنګي، اقتصادي او ټولنيز پرمختګ بنسټيز محور بلل کېږي. د زده‌کړې بهير يوازې د مالوماتو د لېږد پروسه نه ده، بلکې دا يو ژور ټولنيز، اروايي او فرهنګي تعامل دی چې د شاګردانو پر شخصيت، فکر، چلند، ارزښتونو او راتلونکي ژور اغېز کوي. د ښوونې او روزنې اړوند اوسني عصر څېړنې څرګندوي چې د زده‌کړې کيفيت او پايله تر ډېره پورې د زده‌کوونکو له انګېزې سره تړاو لري؛ ځکه انګېزه هغه محرک ځواک دی چې شاګردان د زده‌کړې پر لور هڅوي، د ستونزو پر وړاندې د زغم وړتيا پياوړې کوي او د دوامدارې زده‌کړې روحيه پکې رامنځته کوي(Ryan & Deci, 2017) .

علمي څېړنې ښيي چې هغه زده‌کوونکي چې لوړه زده‌کړيزه انګېزه لري، نه يوازې په درسي فعاليتونو کې فعاله ونډه اخلي، بلکې د انتقادي تفکر، نوښت، ځان‌باور، ځان‌سمون او مسئله‌حل کولو وړتياوې هم پکې لوړې وي (Schunk et al., 2014). دا ډول زده‌کوونکي د زده‌کړې له بهير سره ژوره اړيکه ټينګوي، پر ځان باور لري او د ناکامۍ پر مهال ژر نه مايوسه کېږي. برعکس، د زده‌کړې د انګېزې کمښت د شاګردانو د کم‌فعاليت، پرله‌پسې ناکامۍ، ذهني سټرېس، د ټولګي له فعاليتونو څخه د شاتګ او حتی د زده‌کړې پرېښودو لامل ګرځي (Pintrich & Schunk, 2002). له همدې امله، د زده‌کړې د انګېزې مطالعه د ښوونې او روزنې په معاصرو علمي څېړنو کې ځانګړې او بنسټيز ځای لري.

په نړيواله کچه د زده‌کړې د انګېزې په اړه ګڼ شمېر تيورۍ وړاندې شوې دي، لکه د ځان‌تعيين تيوري (Self-Determination Theory)، تمه–ارزښت تيوري (Expectancy–Value Theory) ، د ماسلو د اړتياوو تيوري او د هدف تمايل تيوري (Goal Orientation Theory) . دا تيورۍ هڅه کوي چې د زده‌کوونکو د هڅونې اروايي، ټولنيز او ښوونيز اړخونه تشريح کړي او د زده‌کړې د برياليتوب لپاره علمي چوکاټ وړاندې کړي. خو د يادونې وړ ده چې ډېری دا تيورۍ د باثباته، پرمختللو او نسبي سوکاله تعليمي نظامونو پر بنسټ رامنځته شوې دي. له همدې امله، دا بنسټيزه پوښتنه راولاړېږي چې ايا دغه تيورۍ په جګړه‌ځپلو، اقتصادي ستونزو لرونکو او فرهنګي لحاظه ځانګړو ټولنو، لکه افغانستان، کې هم په هماغه بڼه اغېزمنې دي که نه؟ همدا علمي تشه (Research Gap) د دې مقالې د ترسره کېدو اساسي دليل جوړوي.

افغانستان د تېرو څو لسيزو يرغلونو او تېل شويو جګړو، سياسي بې‌ثباتۍ، اقتصادي ستونزو او د تعليمي بنسټونو د کمزورتيا له امله له ګڼو ښوونيزو ننګونو سره مخ دی. د ښوونکو د مسلکي روزنې کمښت، د معياري تدريسي موادو نشتوالی، د ښوونيزو منابعو محدوديت، ټولنيز فشارونه او د کورنيو اقتصادي ستونزې د شاګردانو د زده‌کړې پر انګېزې ژور منفي اغېز کړی دی(UNESCO, 2019) . په ډېرو سيمو کې شاګردان اړ کېږي چې د زده‌کړې

تر څنګ کار هم وکړي، چې دا چاره د هغوی پر ذهني تمرکز او زده‌کړیزه انګېزه منفي اغېز لري. په داسې شرایطو کې، یوازې د نړیوالو تیوریو تشریحي تکرار بسنه نه کوي، بلکې اړتیا ده چې د افغانستان د ښوونیز واقعیتونو پر بنسټ د زده‌کړې د انګېزې عوامل په علمي او تحلیلي ډول وڅېړل شي او عملي، واقعي او د تطبیق وړ لارې چارې وړاندې شي.

د دې مقالې علمي نوښت په دې کې دی چې د زده‌کړې د انګېزې نړیوالې تیورۍ د افغانستان د ښوونیز چاپېریال له واقعي شرایطو سره تړي، د سیمه‌ییزو څېړنو او تعلیمي تجربو په رڼا کې یې تحلیل کوي او هڅه کوي چې د تیورۍ او عملي تطبیق ترمنځ واټن راکم کړي. دا مقاله نه یوازې د زده‌کړې د انګېزې نظري بنسټونه تشریح کوي، بلکې د ښوونکو، کورنیو او تعلیمي بنسټونو لپاره عملي سپارښتنې هم وړاندې کوي، څو د شاګردانو د زده‌کړې لپاره یو مثبت، هڅوونکی او ملاتړکوونکی چاپېریال رامنځته شي.

دا مقاله په څو اصلي برخو وېشل شوې ده. په سریزه کې د موضوع عمومي شالید، اهمیت، علمي تشه او د څېړنې نوښت تشریح شوی دی. ورپسې د څېړنې موخې، اهمیت او مېتودولوژي وړاندې کېږي. د څېړنې په مخینه او نظري چوکاټ کې د زده‌کړې د انګېزې مهمې نړیوالې او سیمه‌ییزې تیورۍ په تفصیل سره څېړل شوې دي. وروسته د زده‌کړې د انګېزې عوامل او اغېزمنې لارې چارې تحلیل شوې او د افغانستان د ښوونیز چاپېریال په رڼا کې پرې انتقادي بحث شوی دی. په پای کې، پایلې، د څېړنې محدودیتونه او عملي وړاندیزونه وړاندې شوي دي، څو دا څېړنه د علمي او عملي استفادې وړ وګرځي.

## موخې

١. د زده‌کړې د انګېزې پر مفهوم او اهمیت پوهېدل.
٢. د زده‌کړې د انګېزې تیورۍ او نظریې تحلیلول.
٣. د زده‌کړې د انګېزې د رامنځته کولو عوامل او اغېزمنې لارې چارې په ګوته کول.
٤. د افغانستان د ښوونیز چاپېریال ستونزې او د اصلاح وړ لارې چارې معرفي کول.
٥. د زده‌کړې د انګېزې د لوړولو لپاره عملي وړاندیزونه کول.

## د څېړنې اهمیت

د زده‌کړې انګېزه د ښوونې یوه بنسټیزه برخه ده؛ ځکه چې د شاګردانو د علمي پرمختګ، ذهني هڅونې، ټولنیزې همکارۍ او د ستونزو د ابتکاري حل لپاره حیاتي اهمیت لري(Schunk et al., 2014). څېړنې ښيي چې ښوونکي، کورنۍ، چاپېریال او د تدریسي مېتودونو نوښت د زده‌کړې د انګېزې په پیاوړتیا کې مهم رول لري (Ryan & Deci, 2017).

په افغانستا کې پرديو لاس‌وهنې کړې دي چې له امله يې افغانان له فقر او بې‌وزلۍ سره مخ شوې دي، خپل نظريات يې په افغاني نصاب کې داخل کړي دي، نو ځکه د زده کړې انګېزه او کفيت خراب شوی دی. همدارنګه په افغانستان کې د اقتصادي ستونزو له امله، ډېری شاګردان د زده‌کړې په پروسه کې هڅول شوي نه دي، چې دا د زده‌کړې کيفيت او پايله ټيټوي(UNESCO, 2019). د دې څېړنې اهميت په دې کې دی چې د زده‌کړې د انګېزې د لوړولو عوامل په علمي توګه تحليلوي، د افغانستان د تعليمي چاپېريال ستونزې څرګندوي او عملي سپارښتنې وړاندې کوي.

**ميتود او کړنلاره**

دغه مقاله نظري او تحليلي بڼه لري. د مقالې د جوړښت لپاره د نړيوالو او سيمه‌ييزو څېړنو تحليلي مطالعه شوې ده، د افغانستان د ښوونيز چاپيريال د تجربو تحليل پکې شوې دی. د ښو او معقولو وړانديزونو او سپارښتنو لپاره بېلابېلې تيورۍ، کتابونه او علمي مقالې لوستل شوي، تحليل او تجزيه شوې دي.

**د څېړنې مخينه يا شاليد**

د زده‌کړې د انګېزې موضوع د ښوونې او روزنې په علمي ادبياتو کې له اوږدې مودې راهيسې د پام وړ بحث پاتې شوی دی. د څېړنې مخينه يا شاليد د دې لپاره مهم ګڼل کېږي چې د موضوع تاريخي، نظري او علمي بنسټونه روښانه کړي او لوستونکي ته دا زمينه برابره کړي چې د زده‌کړې د انګېزې د پرمختګ بهير، موجودې تيورۍ او علمي ليدلوري په ژوره توګه درک کړي. د زده‌کړې انګېزه يوازې يو اروايي مفهوم نه دی، بلکې دا د فردي، ټولنيزو، اقتصادي او کلتوري عواملو تر اغېز لاندې يو څو اړخيز بهير دی چې د زده‌کوونکو پر هڅو، دوام، ګډون او علمي لاسته راوړنو مستقيم اغېز لري (Wentzel, 2016) .

زده‌کړه د فردي، ټولنيز، اقتصادي او کلتوري پرمختګ لپاره حياتي اهميت لري. د زده‌کړې کيفيت او پايله د شاګردانو د انګېزې سره مستقيم تړاو لري. څېړنې ښيي چې زده‌کوونکي هغه وخت غوره فعاليت کوي چې قوي انګېزه ولري، د خپلو مهارتونو په اړه باور ولري او د ښوونکي او ټولګي له ملاتړ څخه برخمن وي ( Ryan & Deci, 2017).

په مخينه يا شاليد کې د زده‌کړې د انګېزې د تيوريو او تجربوي شواهدو پراخ تحليل وړاندې کول ضروري دي؛ ځکه چې دا د څېړنې د ستونزې د ښه پوهېدلو لپاره بنسټ جوړوي. نړيوالې څېړنې په دې برخه کې ښيي چې زده‌کړه يوازې د تعليمي نصاب تطبيق نه دی، بلکې د شاګردانو ذهني هڅونه او د دوی د انګېزې لوړول هم پکې شامل دي (Schunk et al., 2014).

## نړیوالې څېړنې

۱. **ځان تعیین تیوري (Self-Determination Theory)**

ډیسي او ریان ( 1985) کې وړاندې کوي چې درې اساسي اړتیاوې د زده‌کړې د انګېزې بنسټیز محرکونه دي:

- خپله واکمني: (Autonomy) زده‌کوونکي هغه وخت هڅول کېږي چې د زده‌کړې په پروسه کې خپل تصمیمونه ولري.
- وړتیا: (Competence) زده‌کوونکي غواړي چې په خپلو مهارتونو باور ولري او بریالي شي.
- تړاو: (Relatedness) د ښوونکي، کورنۍ او ټولګي ملاتړ د زده‌کړې د انګېزې لوړولو لپاره حیاتي دی.

۲. **تمه-ارزښت تیوري (Expectancy-Value Theory)**

ایکلېسټ او ویګفېلډ( 2002) کې وایي چې زده‌کوونکي هغه وخت هڅول کېږي چې د زده‌کړې ارزښت ورته څرګند وي او د بریالیتوب تمه ولري. د مثال په توګه، که شاګرد پوه شي چې زده‌کړه به د راتلونکي دندې یا پرمختګ لپاره ګټه ولري، نو د زده‌کړې هڅه یې ډېرېږي.

۳. **د انعام او سزا تیوري**

سچونک او همکاران (2014) وایي چې مثبت تشویق د زده‌کړې علاقه زیاتوي او منفي چلند د زده‌کړې فعالیت ټیټوي. د انعام سیستمونه، لکه د کړنو ستاینه، د زده‌کوونکو هڅونه او فعالیت لوړوي.

٤. **د ماسلو اړتیاوې**

ماسلو وړاندې کوي چې ابتدایي اړتیاوې باید پوره شي، بیا زده‌کړه کې علاقه پیدا کېږي. د مثال په توګه، که شاګردان د غذا، خوندیتوب او ټولنیز ملاتړ له پاره اندېښمن وي، د زده‌کړې لپاره هڅه به یې ټیټه وي(Maslow, 1943).

٥. **د هڅوونکي چاپیریال تیوري (Motivational Climate Theory)**

د ټولګي چاپېریال د زده‌کړې د انګېزې لپاره حیاتي دی. مثبت ټولګي چاپېریال، چیرې چې زده‌کوونکي د خپلې وړتیاوو د څرګندولو فرصت ولري او د ګډې همکارۍ احساس وکړي، د زده‌کړې علاقه او فعالیت زیاتوي**(Ames, 1992)** .

٦. **د موخې تمایل تیوري** (**Goal Orientation Theory**)

ډوېک وايي چې زده‌کوونکي د اهدافو پر اساس هڅېږي. که زده‌کوونکي د پرمختګ په موخه هڅه وکړي، د زده‌کړې علاقه يې لوړه وي. پر دې بنسټ، ښوونکي باید د شاګردانو لپاره اهداف مشخص کړي او هڅونې يې د بریالیتوب پر اساس وي، نه یوازې د پایلو پر اساس **(Dweck, 2006)** .

## سیمه‌ییز څېړنې

په افغانستان کې ښوونیز چاپېریال محدود دی، په ځانګړې توګه په جګړه ځپلو سیمو کې. د ښوونکو روزنه، د کتابونو او ټکنالوژۍ کمښت او ټولنیز فشار د زده‌کړې د انګېزې د کمښت لامل کرځي. سادات(یونسکو، ۲۰۱۹) او او احمد(یونسکو، ۲۰۲۱) کې وايي چې په افغانستان کې ډیری شاګردان د کورنیو اقتصادي ستونزو، د ښوونیز چاپېریال محدودیتونو او د ښوونکو د ټیټو وړتیا له امله د زده‌کړې لپاره کافي هڅول شوي نه دي.

د سیمه‌ییزو څېړنو په رڼا کې، ښوونکي باید مثبت چلند ولري، د زده‌کوونکو وړتیاوې وپالي، د پروژې پر بنسټ زده‌کړه عملي کړي، او نوښتګر فعالیتونه په ټولګي کې شامل کړي. کورنۍ او ټولنه باید د زده‌کوونکو د هڅونې ملاتړ وکړي (Sadat & Ahmad, 2021; UNESCO, 2019) .

## د زده‌کړې د انګېزې نظري چوکاټ

- د زده‌کړې انګېزه د شاګردانو پر ذهني هڅونه، د ستونزو د حل پر وړتیا او پر ټولنیزو اړیکو مستقیم اغېز لري.
- د زده‌کړې د انګېزې لوړول د شاګردانو علمي لاسته راوړنو ته وده ورکوي، د ټولنیزې همکارۍ توان زیاتوي او د ستونزو په ابتکاري حل کې مرسته کوي.
- د زده‌کړې د انګېزې فکتورونه د ښوونکي چلند، د کورنۍ ملاتړ، د ټولګي چاپېریال او د تدریسي مېتودونو اغېزمن کارول دي (Ryan & Deci, 2017; Schunk et al., 2014)

## د زده‌کړې د انګېزې عوامل او لارې چارې

زده‌کړه یوازې د نصاب تعقیب نه دی، بلکې د شاګردانو د ذهني هڅونې، د ستونزو د حل وړتیا، او د ټولنیزو مهارتونو پرمختګ سره مستقیم تړاو لري. سچونک او همکاران(۲۰۱۴) د زده‌کړې د انګېزې لوړولو لپاره عوامل په لاندې برخو کې ویشل شوي دي:

### 1. د ښوونکي رول

ښوونکی د زده کړې د انګېزې تر ټولو اغېزمن فکتور ګڼل کېږي. د ښوونکي مثبت چلند، د شاګردانو ملاتړ، او د هغوی د وړتیاوو پیژندنه د زده کړې علاقه او فعالیت زیاتوي. پېنټریچ او سچونک(۲۰۰۲) د ښوونکي اغېزمنې لارې چارې په لاندې ډول دي:

- مشارکتي تدریس: زده کوونکي د ګروپي فعالیتونو، پروژې کار، او بحثونو له لارې زده کړه تجربه کوي.
- فیډبک او تشویق: د زده کوونکو هڅونې لپاره مثبت تشویق ورکول، لکه ستاینه، جایزې او مثبتې ارزونې.
- د موخو ټاکنه: ښوونکي باید د زده کوونکو لپاره مشخص اهداف وټاکي، چې د پرمختګ او زده کړې علاقه زیاته کړي (Dweck, 2006) .

### 2. د ټولګي چاپېریال

د ټولګي فزیکي او ټولنیز چاپېریال د زده کړې د انګېزې لپاره حیاتي دی. مثبت چاپېریال د زده کوونکو د ګډون، هڅونې او ابتکار توان زیاتوي (Ames, 1992).

- فزیکي جوړښت : د ټولګي پاکه، روښانه او آرامه فضا د زده کړې د تمرکز لپاره مهمه ده.
- تعلیمي منابع: کتابونه، لابراتورونه او ټکنالوژي د زده کړې د انګېزې لوړولو کې مرسته کوي.
- ټولنیزه فضا: ټولګي باید د همکارۍ، بحث او د زده کوونکو د اندېښنو د شریکولو فضا ولري.

### 3. د کورنۍ ملاتړ

کورني د زده کړې د انګېزې په پیاوړتیا کې کلیدي رول لري. کورنۍ د زده کړې اهمیت، هڅونې او د باور جوړولو له لارې د زده کوونکو ذهني هڅونه زیاتوي. ریان او ډیسي(۲۰۱۷) د کورنۍ اغېزمنې لارې چارې په لاندې ډول دي:

- د زده کړې لپاره د مناسب چاپېریال برابرول.
- د هڅونې او تشویق سېستم کارول.
- د ستونزو په حل کې لارښوونه او ملاتړ.

### 4. د زده کړې مېتودونه

اغېزمن تدریسي مېتودونه د زده کړې د انګېزې د لوړولو لپاره مهم دي. نوښتګر او خلاقانه تدریس، د زده کوونکو د ګډون فرصتونه، او د زده کړې شخصي اړخونو ته پام د زده کړې علاقه زیاتوي (Schunk et al., 2014).

- پروژې او ګروپي فعالیتونه: زده کوونکي په ګډه زده کړه تجربه کوي او د ټولنیزو مهارتونو په پراختیا کې مرسته کوي.

- مشارکتي زده‌کړه: زده‌کوونکي د درسونو په تدریس کې ونډه اخلي او خپل فکر څرګندوي.
- نوښت او تنوع: د زده‌کړې مختلفې لارې چارې لکه بحث، پریزینټېشن او عملی فعالیتونه د زده‌کړې علاقه لوړوي.

**تحلیلي بحث**

د زده‌کړې د انګېزې موضوع د ښوونې او روزنې په معاصرو څېړنو کې یوازې د تشریح وړ مفهوم نه دی، بلکې دا یو ژور تحلیلي بحث ته اړتیا لري، ځکه چې انګېزه د بېلابېلو اروايي، ټولنیزو، اقتصادي او تعلیمي عواملو تر اغېز لاندې رامنځته کېږي. د دې مقالې د نظري او تجربوي بنسټونو پر اساس، د زده‌کړې انګېزه د شاګردانو د علمي لاسته راوړنو، ذهني هڅونې، دوامدار ګډون او ټولنیز مشارکت له مهمو ټاکونکو څخه ګڼل کېږي.

د ځان‌تعیین تیورۍ له مخې، هغه زده‌کوونکي چې د خپلواکۍ، وړتیا او ټولنیز تړاو احساس ولري، د زده‌کړې لپاره لوړه داخلي انګېزه څرګندوي(Ryan & Deci, 2017) . خو د افغانستان په ښوونیز واقعیت کې دا درې واړه عناصر له جدي ننګونو سره مخ دي. په ډېرو ښوونځیو کې شاګردان د تدریس په بهیر کې د خپل نظر د څرګندولو او خپلواکو پرېکړو فرصت نه لري، چې دا چاره د هغوی پر داخلي انګېزه منفي اغېز کوي. همدارنګه، د تعلیمي منابعو کمښت او د ښوونکو د مسلکي روزنې محدودیت د دې لامل ګرځي چې شاګردان د خپلې وړتیا د څرګندولو فرصت له لاسه ورکړي.

د تمه–ارزښت تیورۍ تحلیلي ارزونه ښيي چې زده‌کوونکي هغه وخت زده‌کړې ته ژمن پاتې کېږي چې د زده‌کړې ارزښت ورته څرګند وي او د بریالیتوب تمه ولري (Eccles & Wigfield, 2002) . په افغانستان کې، د لوړې بې‌کارۍ، اقتصادي ستونزو او د مسلکي فرصتونو محدودیت د دې لامل شوی چې ډېر شاګردان د زده‌کړې عملي ارزښت تر پوښتنې لاندې راولي. کله چې زده‌کوونکي دا احساس وکړي چې زده‌کړه د دوی د راتلونکي د ښه کېدو تضمین نه شي کولای، نو د زده‌کړې انګېزه یې کمزورې کېږي. دا حالت د ښوونې روزنې پالیسۍ او نصاب د بیاکتنې اړتیا څرګندوي.

د ماسلو د اړتیاوو تیورۍ په رڼا کې دا څرګندېږي تر هغه وخته چې د شاګردانو بنسټیزې اړتیاوې لکه امنیت، خوراک او اروايي ثبات پوره نه شي، د لوړو ښوونیزو موخو تمه ترې کول غیرواقعي دي(Maslow, 1943) . په افغانستان د یرغلونو، تېل شویو جګړو او فقر له امله، ډېری افغان شاګردان له ذهني فشارونو، اضطراب او ناامنۍ سره مخ دي، چې دا چاره د زده‌کړې پر تمرکز او انګېزې مستقیم منفي اغېز لري. له همدې امله، د زده‌کړې د انګېزې لوړول باید د ښوونیز چاپېریال د عمومي اصلاح او د شاګردانو د اروايي ملاتړ له پروګرامونو سره یو ځای وڅېړل شي.

له بلې خوا، د هدف تمایل تیورۍ تحلیلي ارزونه څرګندوي چې هغه زده‌کوونکي چې د زده‌کړې موخې یې د پرمختګ او مهارت پر بنسټ وي، د هغو زده‌کوونکو په پرتله لوړه انګېزه لري چې یوازې د نمرو او پایلو پر بنسټ هڅېږي (Dweck, 2006). په افغانستان کې د ارزونې دودیز سیستم، چې زیات تمرکز یې پر ازموینو او نمرو دی، د دې لامل شوی چې شاګردان د زده‌کړې بهیر ته د زده‌کړې د تجربې پر ځای د ازموینې د تېرېدو په سترګه وګوري. دا وضعیت د ژورې زده‌کړې پر ځای سطحي زده‌کړه پیاوړې کوي.

د تحلیلي بحث له مخې، د ښوونکي رول د زده‌کړې د انګېزې په پیاوړتیا کې بنسټیز دی. هغه ښوونکي چې مثبت چلند لري، هڅوونکی فیډبک ورکوي او د زده‌کوونکو فردي توپیرونو ته درناوی کوي، کولی شي د شاګردانو د زده‌کړې انګېزه لوړه کړي (Schunk et al., 2014). په مقابل کې، منفي چلند، تحقیر او بې‌پامي د زده‌کوونکو پر ځان‌باور او زده‌کړېزه هڅونه منفي اغېز لري.

په ټولیز ډول، تحلیلي بحث څرګندوي چې د زده‌کړې د انګېزې لوړول یوازې په یوه فکتور پورې محدود نه دی، بلکې دا د ښوونکي، کورنۍ، ښوونیز چاپېریال، ټولنیزو شرایطو، ښوونیزې او تعلیمي پالیسۍ ګډې هڅې ته اړتیا لري. که د افغانستان د ښوونیز نظام اصلاح د زده‌کوونکو د اروایي اړتیاوو، ټولنیز واقعیت او اقتصادي شرایطو په رڼا کې ترسره شي، نو د زده‌کړې انګېزه په دوامدار ډول لوړېدلی شي.

د زده‌کړې د انګېزې لوړول د ښوونیزو لاسته راوړنو، د ټولنیزې همکارۍ او د ستونزو د ابتکاري حل لپاره حیاتي دی. څېړنې ښيي چې هغه شاګردان چې کافي انګېزه لري، په ټولګي کې فعاله ونډه اخلي، د ستونزو حل لپاره ابتکار کاروي او د ښوونکي او ټولنې ملاتړ څخه ګټه اخلي(Ames, 1992; Ryan & Deci, 2017).

په افغانستان کې د جګړو، اقتصادي ستونزو، د تدریسي موادو کمښت او د ښوونکو د روزنې محدودیت د زده‌کړې د انګېزې د ټیټېدو لاملونه دي. د دې ستونزو د حل لپاره ښوونکي باید

د نړیوالو تجربو په رڼا کې، د زده‌کړې د انګېزې لوړولو لپاره د ټولګي فضا، موخو ټاکنه، مثبت چاپېریال او تشویقي سیستمونه چې حیاتي رول لري وکاروي (Dweck, 2006; Schunk et al., 2014).

## پایله

د دې مقالې موخه دا وه چې په شاګردانو کې د زده‌کړې د انګېزې مهم عوامل په علمي او تحلیلي ډول وڅېړي او دا روښانه کړي چې انګېزه څنګه د زده‌کړې پر کیفیت، دوام او پایلو اغېز کوي. د نړیوالو تیوریو او د افغانستان د ښوونیزو واقعیتونو د تحلیلي پرتلې له مخې څرګنده شوه چې د زده‌کړې انګېزه یو څو اړخیز مفهوم دی چې یوازې په فردي هڅونه نه محدودېږي، بلکې اروایي، ټولنیز، اقتصادي، ښوونیز او تعلیمي عوامل یې په ګډه جوړوي.

د مقالې پایلې ښيي چې داخلي انګېزه، لکه د زده‌کړې مینه، ځان‌باور او د وړتیا احساس، د شاګردانو د دوامدارې زده‌کړې لپاره تر ټولو اغېزمن عناصر دي. خو په هغو چاپېریالونو کې چې بنسټیزې اړتیاوې پوره نه وي او ښوونیز امکانات محدود وي، داخلي انګېزه کمزورې کېږي او شاګردان تر ډېره د بهرنیو محرکونو لکه نمرو، ازموینو او ټولنیز فشار تر اغېز لاندې زده‌کړه کوي. دا حالت د ژورې زده‌کړې پر ځای سطحي زده‌کړه پیاوړې کوي.

همدارنګه، مقاله څرګندوي چې د ښوونکي مسلکي چلند، مثبت تعامل، هڅوونکی فیډبک او د زده‌کوونکو د فردي توپیرونو درک کول د زده‌کړې د انګېزې په لوړولو کې بنسټیز رول لري. هغه ښوونیز نظامونه چې د ارزونې انعطاف پذیر سیستم لري او د مهارت‌محور زده‌کړې ملاتړ کوي، د شاګردانو لپاره د زده‌کړې یو مثبت او هڅوونکی چاپېریال برابروي. برعکس، یوازې پر ازموینو او نمرو ولاړ سیستم د زده‌کوونکو پر اروایي سلامتۍ او زده‌کړییزې انګېزې منفي اغېز لري.

د افغانستان د ښوونيز وضعيت په رڼا کې، پايله دا ده چې د زده‌کړې د انګېزې لوړول بايد د ښوونيزو پاليسو، نصاب، د ښوونکو مسلکي روزنې او د شاګردانو د ارواييي ملاتړ له پروګرامونو سره يو ځای ترسره شي. تر هغه چې اقتصادي ستونزې، ټولنيز فشارونه او د ښوونيزو امکاناتو کمښت په جدي ډول په پام کې ونه نيول شي، د زده‌کړې د انګېزې د پياوړتيا هڅې به محدود اغېز ولري. په پای کې ويلای شو چې دا څېړنه د زده‌کړې د انګېزې په اړه يو تحليلي چوکاټ وړاندې کوي چې د افغانستان د ښوونيز چاپېريال له واقعيتونو سره سمون لري. د دې چوکاټ پر بنسټ، تعليمي بنسټونه، ښوونکي او پاليسی جوړوونکي کولی شي داسې ستراتيژۍ طرحه کړي چې د شاګردانو زده‌کړييزه انګېزه لوړه کړي، د زده‌کړې کيفيت ښه کړي او د ټولنې د انساني پانګې د پياوړتيا لامل شي.

**وړانديزونه**

۱. د ښوونکو روزنې مرکزونه دې د زده‌کړې د انګېزې پر لوړولو تمرکز وکړي.
۲. د تشويقي او انعامي سيستمونو جوړښت دې په ښوونيزو او زده‌کړه‌ييزو ماحولونو کې پلی شي.
۳. د کورنيو روزنې او د شاګردانو هڅونې ته دې ځانګړی پام وشي.
٤. پروژې، مشارکتي او خلاقانه زده‌کړه دې عملي شي.
٥. د ښوونيز چاپېريال اصلاح او د مناسب تدريسي موادو برابرول ضروري دي.
٦. د ټولګي فضا، اهدافو ټاکنه او مثبت چاپېريال بايد د زده‌کړې د انګېزې لوړولو لپاره چمتو شي.

# Study of the Factors Influencing the Development of Learning Motivation among Students

S.T.Assistant Sayed Shah Gul Weyar, Sheikh Zayed University, Faculty of Education, Department of General Education.
**Email add**: weyar.khostay@gmail.com

## Abstract

Education is regarded as a fundamental pillar of individual, social, economic, and cultural development, and the success of this process is largely linked to students' learning motivation. This article examines the key factors contributing to the development of motivation in students' learning, its theoretical foundations, and effective strategies through a scientific inquiry. The study adopts a theoretical and analytical approach and is based on internationally recognized theories, scholarly articles, and experiences from the educational context of Afghanistan. The article explains theories of self-determination, expectancy–value, Maslow's hierarchy of needs, goal orientation, and motivational learning environments, and clarifies their relationship with learning motivation. The findings indicate that teachers' positive attitudes, family support, the physical and social classroom environment, and innovation in teaching methods play a fundamental role in strengthening learning motivation. It is also revealed that imposed wars and invasions, economic challenges, limited teacher training, and a lack of educational resources in Afghanistan have adversely affected students' learning motivation. The conclusion is that enhancing learning motivation improves students' academic achievement, cognitive engagement, social participation, and problem-solving abilities. The article offers practical recommendations for teachers, families, and educational institutions to create a positive and motivating learning environment.

**Keywords:** motivation, teaching methods, learning, students, teachers, educational environment, family support

## مأخذونه

Ames, C. (1992). Classrooms: Goals, structures, and student motivation. Journal of Educational Psychology, 84(3), 261–271.

Deci, E. L., & Ryan, R. M. (1985). Intrinsic motivation and self-determination in human behavior. Springer.

Dweck, C. S. (2006). Mindset: The new psychology of success. Random House.

Eccles, J. S., & Wigfield, A. (2002). Motivational beliefs, values, and goals. Annual Review of Psychology, 53(1), 109–132.

Maslow, A. H. (1943). A theory of human motivation. Psychological Review, 50(4), 370–396.

Pintrich, P. R., & Schunk, D. H. (2002). Motivation in education: Theory, research, and applications. Merrill Prentice Hall.

Ryan, R. M., & Deci, E. L. (2017). Self-determination theory: Basic psychological needs in motivation, development, and wellness. Guilford Press.

Sadat, H., & Ahmad, N. (2021). Education challenges in Afghanistan: Student motivation and teacher roles. Asian Journal of Educational Research, 9(2), 45–60.

Schunk, D. H., Pintrich, P. R., & Meece, J. L. (2014). Motivation in education: Theory, research, and applications (4th ed.). Pearson.

UNESCO. (2019). Education in Afghanistan: Challenges and opportunities. UNESCO Reports.

Wentzel, K. R. (2016). Motivation in education: Theory, research, and practice. Routledge.

## د وقفي ځمکو او اجناسو پیژندنه او د ساتنې احکام یې د اسلامي شریعت په رڼا کې

پوهنمل دوکتورعبدالجلیل شهیدزی د شیخ زاید پوهنتون د شرعیاتو پوهنځی د فقهې او قانون څانګې استاد
**ایمل ادرس:** shahidzai.af@gmail.com

**لنډیز**

دغه مقاله د وقفي ځمکو او اجناسو پیژندنه او د ساتنې احکام یې د اسلامي شریعت په رڼا کې ترعنوان لاندې ترسره شوي ده،له قرآن کریم، نبوي احادیثو، فقهې معتبرو سرچینو څخه استفاده شوي ده.د وقف مشروعیت بیان شوي دی، د وقف ډولونو بیان شوي دي، دوقف شرطونوڅخه یادونه شوي ده، دوقف له ارکانو څخه یادونه شوي ده، د وقف أهمیت څخه یادونه شوي ده، د وقف له موخو څخه په تفصیل سره یادونه شوي ده، د معاصرو وقفونوڅخه یادونه شوي، د وقف متولي څخه یادونه شوي ده، د نبوت د وخت د وقفونو څخه یادونه شوي ده، د صحابه کرامو د وخت وقفونو څخه یادونه شوي ده، د اماویانو وخت له وقفونو څخه یادونه شوي ده، د وقف له حکم څخه یادونه شوي ده، و وقف بنې دبلولو څخه یادونه شوي ده، د وقف معطل کیدو څخه یادونه شوي ده، د وقف د زکات حکم څخه یادونه شوي ده، د وارثانو لپاره د وقف څخه یادونه شوي ده، د وقف مال څخه دغلا حکم بیان شوی، د وقفې تضامني صندوقونو څخه یادونه شوي ده ، د وقفې ځمکو او اجناسو د ساتلو څخه یادونه شوي ده، د نغدو یا نقدو پیسو د و قف کولو څخه یادونه شوي ده، د وقفي ځمکو او اجناسو د ساتلو مسؤلین په نښه شوي دي، د وقفي مؤسسو څخه یادونه شوي، د غیر مسلمو له وقفونو څخه یادونه شوي ده، د وقفي اجناسواهمیت څخه یادونه شوي، وقفي اموال د پرمخ تګ اسبابو بلل شوي، د فقهاوو ترمنځ د وقف په هکله نظرونه بیان شوي دي. نوموړي مقاله د وقفي ځمکو، اجناسو په پیژندنه، ساتنه کې داسلامي شریعت د پلي کیدو لپاره مهم ګام دی.

**کلیدي کلمې:** وقف ، غیر مسلم.، معاصري نمونې ، موقوف علیه او متولي

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم  الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین وعلی آله وصحبه اجمعین قال تعالی**
:﴿ **لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ شَيْءٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ** ﴾ (آل عمران/۹۲) . وبعد:

پرته له شکه څخه آنحضرت صلی الله علیه وسلم د وقف بنیاد ایښی دی، له ده وروسته څلور یارانوهم پخپل وار خپل مالونه وقف کړي دي، په همدې توگه د تابعینو په زمانه کې هم وقف ترسره شوی، په همدې ترتیب پخوانیو مسلمانانود وقف په هکله رغنده گامونه پورته کړي، په معاصر وخت کې د وقف لمن نوره هم پراخه شوه، چې په نتیجه کې د نغدو روپۍ په وسیله په بانکونو او د خیریه موسسوپه مټ د وقف ترسره کیږي. د نوموړې مقالې په مټ د وقف مشروعیت، ارکان، شرطونه،ډولونه، احکام اود نغدو پیسې وقف معاصر نظریات په تفصیل سره بیان شوي دي، نوموړی مقاله په یوه مقدمه، لنډیز، پایلې، وړاندیزونو، ابسټرک فهرست د مآخذونو مشتمله ده.

**د مقالې موخې**

**اصلي موخې**

۱. د وقف په اهمیت او مشروعیت باندې عام خلک پوه کول.

۲. د هېواد ملي تاجران د وقف په ارکانو، شرطونو، ډولونو او احکامو باندې پوهول.

**فرعي موخې**

۱. د وقف په وسیله د ټولنې د بېوزلو خلکو ستونزې او نیمگرتیاوې پوره کول.

۲. په معاصرو وقفونو باندې د هېواد باډایه تاجران پوهول او د خیریه موسسو رامنځ ته کولو ته یې رابلل.

۳. د وقفي ځمکو ، اجناسو په حرمت او اهمیت  او ساتنوباندې اړونده مسؤلین او عام خلک  پوهول.

۴.  د وقفي ځمکو او جایدادونو څخه  گټې اخیستلو ته اړوند مسؤلین  متوجه کول.

**د څېړنې اهمیت**

دا څېړنه په نن عصر او زمان کې زیات ارزښت لري هغه دا، چې زیات خلک دوقفي ځمکو اجناسو په احکامو باندې نه پوهیږي، بل داچې وقف په اوسني وخت کې د اسلامي نظام دپایښت لپاره د شاتیر(ستون فقرات) حیثیت لري، د نړۍ لویې لویې موسسې چې د هېوادونو په استحکام کې مهم رول لري دو قف محصول دی.

**کړنلاره**

د نوموړې مقالې د ليکلو ميتود کتابتوني بڼه لري، لومړی مې د قرآن کريم څخه، په دويم قدم کې مې له نبوي حديثونوڅخه او په دريم قدم کې مې له فقهې معتبرو کتابونو څخه کار اخيستی البته په استدلالي بڼه او د اياتو ژباړه مې د کابلي تفسيرڅخه کړی.

**لومړی د وقف لغوي اواصطلاحي تعريف**

الف. وقف په لغت کې دعربي ژبې د((الحبس)) کلمې څخه اخيستل شوی لکه چې وايي: (وقف الأرض للمساكين وقفاً، أي حبسها )( ابن منظور،( ١٤١٤ هـ )،ج **٩** ص **٣٥٩**، مادة: وقف. ). ژباړه: وقف يې کړه ځمکه د مسکينانو لپاره په وقف کولو سره، ای بند يې کړه (ځانگړی يې کړه).

ب. په اصطلاح کې : د څلور گونو مذهبو فقهاء د وقف اصطلاحي معنا په هکله نظر شرطونو او ارکانو ته په کتو سره اختلاف لري،چې په لاندې ډول يې څېړو:

١- حنفي مذهب يې داسې تعريف کړي: ((**هوحبس العين على حكم ملك الله والتصدق بالمنفعة، وقال أبو يوسف ومحمد هو عبارة عن حبس العين على حكم ملك الله تعالى على وجه تصل المنفعة إلى العباد فيزول ملك الواقف عنه إلى الله تعالى فيلزم ولا يباع ولا يرهن ولا يورث** )) . (الزَّبِيدِيّ ،( ١٣٢٢هـ) ،ج ١،ص ٣٣٣) او (المرغيناني،(ــ)،ج٣ / **١٣**).

ژباړه: ملکيت د وقف کوونکي د مالک لخوا په امانت کې ساتل کيږي، او گټه يې په خيرات کې ورکول کيږي.او ابو يوسف او محمد وايي: دا د خدای تعالی د واکمنۍ لپاره د ملکيت وقف کولو عمل دی چې گټه يې بندگانو ته رسيږي، نو د هغه چا ملکيت چې وقف يې کړی وي خدای تعالی ته ليږدول کيږي، او دا لازمي کيږي او پلورل، گروي يا په ميراث نشي وړل کيدی.

٢- شافعي مذهب يې داسې تعريف کړی : ((**تحبيس مال يمكن الانتفاع به مع بقاء عينه، بقطع تصرف الواقف وغيره في رقبته، ويصرف في جهة خير تقرباً إلى الله تعالى**)) (أبو زكريا،( ١٤٠٨ )، تحرير ألفاظ التنبيه،ج٣ ص ٥٥٠ ).

ژباړه: بندول د داسې مال دی چې امکان د گټې اخيستلو يې سره له پاتې کيدو د هغه څيز وي ، په داسې حال کې چې د وقف کوونکي او د نور خلکوتصرف په اصل وقف شوي څيز کې له منځه تللی وي او د خير په لارکې د الله تعالی ته نږدې کيدو په نيت ترسره شوي وي عبارت له وقف څخه دی.

٣- حنبلي مذهب يې داسې تعريف کړي: ((**تحبيس الأصل وتسبيل الثمرة**))( المقدسي،( ١٤١٤ هـ - ١٩٩٤ م)، ج٢ص٢٥٠). ژباړه : د اصلي وقف بندول او دالله تعالی په لارکې يې گټې ورکول عبارت له وقف څخه دی.

٤- مالکي مذهب يې داسې تعريف کړی: ((**جعل منفعة مملوك ولو بأجرة، أو غلقه لمستحقه بصيغة مدة ما يراه المحبس**)) ( الصاوي المالكي،(ــ)، ج٥ / ٣٧٣). ژباړه: د ملکيت گټه ورکول، حتی که د مزد په توگه وي، يا د هغې د حقيقي

مالک لپاره ترل، د یوې مودې په بڼه چې وقف کوونکی یې مناسب گڼي .غوره تعریف د احنافو تعریف څکه دی چې جامع دی. والله اعلم بالصواب.

**د وقف مشروعیت**

په یقین سره د وقف مشروعیت په قرآن کریم ، نبوي سنت او د اسلامي امت په اجماع باندې ثابت شوی ،چې په لاندې تفصیل سره یې ذکر کوو:

۱. قرآن کریم

دالله تعالی داسې فرمایې : ﴿ **لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ شَيْءٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ** ﴾ (آل عمران/۹۲)

. ژباړه: تاسو به هیڅکله نیکي ونه مونده تر هغه چې تاسو له هغه څه څخه دالله تعالی په لارکې لگښت ونه کړئ چې تاسو یې خوښوئ. او هر هغه څه چې تاسو یې مصرف کوئ - په حقیقت کې الله په هغه پوهیږي.

**۲. نبوي حدیث**

د وقف په هکله زیات نبوي حدیثونه شتون لري لکه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم دغه حدیث چې فرمایلي یې دي: (( **إذا مات الإنسان انقطع عنه عمله إلاّ من ثلاث صدقة جارية، أو علم ينتفع به، أو ولد صالح يدعو له**)). (أبو زکریا ،( ۱۳۹۲ )،المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج، ج ۳ / ۱۲۵۵).

ژباړه: کله چې انسان مړ شي، د هغه ټول عملونه قطع کیږي پرته له دریو شیانو: دوامداره صدقه، گټور علم، یا صالح اولاد چې د هغه لپاره دعا کوي.

**۳. إجماع**

د وقف د مشروعیت په کله داسلامي امت علماؤ اجماع کړي درسول الله صلی الله علیه وسلم له زماني څخه تر ننني زمان پورې چا د وقف د نه مشروعیت په کله مخالفت نه دی کړی (ابن نجیم،( ۱۱۳۸ )،البحر الرائق شرح کنز الدقائق ،ج ۵،ص ۲۱۰). او (أبو عيسى ،( .(ــ). )، ج ٦ / ١٤٤) .

**دوقف هدفونه**

د عمومي مصلحتونو په لحاظ وقف په زیاتو ځایونو کې د استفادې وړ گرځي چې عبارت دی له:

۱. مفت تعلیم اوتربیه.۲. دیني مدارس جوړول د ځوانانو لپاره د تحصیل زمینه برابرول. ۳. مسجدونه ، مکتبونه، پوهنتونونه جوړول.۴. د ښځاک اوبو اسانتیا رامنځ ته کول، د کښت اوبو اسانتیا رامنځ ته کول.

۵. د غیر متراقبه پیښو په صورت کې د زیانمنو خلکو لپاره د ژوندانه سهولتونو رامنځ ته کول د بیلګې په توګه: لوړ پوړي ودانی جوړول، موقت ښارګوټي جوړول، دخیمو اسانتیا رامنځته کول .
٦. د روغتونونو جوړول، د ګرځنده کلینکونو جوړول، د مسافرلپاره موقت روغتیایې اسانتیاوې رامنځ ته کول .

**د وقف ارکان**

د فقهاوو ترمنځ دوقف ارکانو په هکله اختلاف نظر وجود لري؛ لکن غوره قول د امام نووي قول دی هغه د وقف ارکان څلور ښودلي دي:

۱. وقف کونکی ۲. وقف شوی ۳. د چا لپاره چې وقف شوی وي ۴. د وقف لفظ .

په کومو لفظونو سره چې وقف ترسره کیږي فقهاوو دوه ډوله لفظونه ښودلي دي:

أ. څرګند (صریح) لفظونه: عبارت دي له دې، چې د لالت وکړي پرته له کومې قرینې په استعمال د وقف باندې لکه وقف، بندول او د الله تعالی په لارکې ورکړه ( أبو زكريا،( ١٤١٢هـ / ١٩٩١م)، روضة الطالبين وعمدة المفتين ،ج ٥ / ٣١٤).

ب. غیر څرګند( کنائي) لفظونه: عبارت دي له دې چې احتمال د وقف او نورو ولري لکه صدقه، مانښته نو په دې سره وقف نه صحیح کیږي ترڅو چې یو ځاي نوي له هغو لفظونو سره، چې معنا د وقف ولري لکه صدقه کوم یې په صدقې د وقف سره او یا دا چې د الله تعالی په لارکې یې په دې شرط وقف کوم چې پلورل کیږي به نه، په میراث به نه وړل کیږي او چاته به مفت نه ورکول کیږي( أبو زكريا ،( ١٤١٢هـ / ١٩٩١م)،روضة الطالبين وعمدة المفتين ج ٥ / ٣١٤ ).

**دو قف شرطونه**

دوقف شرطونه د وقف په ارکانو پورې تړون لري په لاندې ډول دي:

أ. د واقف (وقف کونکې) شرطونه: په وقف کونکې کې دا شرط دي چې عاقل ، بالغ، ازاد او د اختیار لرونکې به وي ، کم عقل به نه وي.

ب. د موقوف (وقف کړل شوي) شرطونه:

په وقف کړل شوي څیز کې لاندې شرطونه لازم دي:

۱. وقف کړل شوی څیز باید معلوم وي.

۲. د وقف کونکې ملکیت به وي.

۳. یو په سترګولیدل کیدونکی (عیني ) څیز به وي، چې امکان دپلورلو او د دائمي ګټو اخیستلو ولري سره له پاتې کیدو د اصل وقف شوي څیز.

ج. موقوف علیه (د کوم څه لپاره چې وقف کړل شوی وي):

د کوم څه لپاره چې وقف تر سره شوی وي په هغه کې لاندې شرطونه لازم دي:

۱. د کوم څه لپاره چې وقف تر سره شوی وي هغه به د نیکۍ اړخ (لوری) وي.

۲.د کوم څه لپاره چې وقف تر سره شوی وي هغه به نه ختم کیدونکې اړخ (لوری) وي.

۳. وقف به وقف کونکي ته نه ور ګرځي. په دې کې زیات مختلف قولونه دي شیرازي ذکر کړي دي .(الشیرازي،(ـ)،ج ۱ / ٤٤١).

وقف په بشري ټولنو کې د اسلام څخه د مخه، د مصر په فرعونیانو کې معمول وو، په همدې ډول په دې وروستیوکې د المانیانو سره د وقف فکر پیدا شو، په هم دې ډول په فرانساکې معمول شوی او په امریکایي نظام کې دوه ډوله د وقف تصرفات معمول وو (حجار،( ١٤٢٣هـ/٢٠٠٣م)،ج ۱ / ۳۰ - ۳۲) .

وقف په اسلامي ټولنوکې له پخوا وخت څخه په ډیر لوړ انداز کې رامنځ ته شوی، چې په نړۍ کې ساري نه لري.

### د نبوت په زمانه کې

لومړی وقف په اسلام کې عبارت له هغې صدقې څخه ده، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د مخیریق یهودي په ځمکو کې پلی کړه کوم چې د أحد له غزا څخه وړاندې یې اعلان وکړو، چې که زه مړ شوم نو زما مالونه، چې اووه باغونه دي په مدینه منوره کې د محمدصلی الله علیه وسلم په اختیار کې دي، چې د الله تعالی په لاړ کې څه وربانديې کړي. او نوموړی مخیریق د أحد په غزا کې مړشو، پس د نوموړي مالونه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په عامو صدقو کې شامل شول او رسول الله صلی الله علیه وسلم یاد باغونه وقف کړل.(عبداللطیف،( ١٤٢٣هـ/٢٠٠٣م)،ج۲،ص۷۰۴).

### د اصحاب کرامو په دور کې

په یقین سره ابوبکر صدیق رضی الله عنه خپله څلورمه حصه ځمکه په مکه مکرمه کې وقف کړه، په همدې توګه عمر رضی الله عنه خپله هغه ځمکه چې د خیبر په غنیمت کې ورته راسیدلي وه وقف کړه. عثمان رضی الله عنه خپل کوهي چې په پیسو یې اخیستی وو وقف کړی وو او علي رضی الله عنه یو باغ د فقیرانو او مسکینانو لپاره وقف کړی وو په همدې ترتیب نورو زیاتو اصحابوکرامو خپل ملکیتونه او مالونه وقف کړي وو(أبو عبد الله، ( ١٤١٤هـ - ١٩٩٤م)،ج۲،ص ۵۵۲).

### د امویانو په دور کې

څرنګه چې خلیفه هشام زوی د عبدالملک ته امر کړی وو چې په مصر کې د وقف اداري تاسیس کړي، چې ګټې به یې د فقیرانو او مسکینانو لپاره د وقف کوونکو لخوا تر سره کیدې.

په همدې ډول وروستنيو مسلمانانو په هر ه پېړۍ او زمان کې خپل مالونه وقف کړي وو او وقف کوي يې.(أبو زهرة ،( ۱۹۷۱م)، په 9/9/1404 نېټه ليدنه ترسره شوه).

**د وقفي ځمکو، ملکيتونو، اجناسو او مالونو حکم**

وړاندې له دې چې د وقفي ځمکو بيان کړو غوره به وي چې د وقف متولي په هکله لنډ معلومات وړاندې کړو ترڅو موضوع روښانه شوی وي.

**متولی د وقف**

متولي دوقف عبارت له هغه شخص څخه دی چې د وقف چاري پرمخ وړي: بناٌ د وقف چاری يو داسې شخص ته سپارل کيږي، چې مسلمان مؤمن وي ، پوه وي، امين وي، عادل وي او د وقف چارې په ښه شان پرمخ وړلو وړتيا ولري..(ابن عابدين ،(ـ)، قرة عين الأخيار لتكملة رد المحتار علي ،ج ۷/ ۲۸۳ ).

**لومړی د وقف حکم**

د وقف په هکله په داخل د حنفي مذهب کې اختلاف نظردی، امام ابو حنيفه رحمه الله په دې نظر دی چې وقف په مثال د عاريې دی او عاريه جائزه ده لازمه نه ده ،جواز لري چې لومړي مالک ته ورکړل شي، وپلورل شي او په ميراث يو وړل شي. لکن د امام ابو يوسف او محمد رحمهماالله په نظر وقف بندول د يو عيني ځيز دي ، د الله تعالی ملکيت بلل کيږي ، پس لازمي عمل دی، نه پلورل کيږي او نه په ميراث وړل کيږي.(العينى،( ۱٤۲۰ هـ - ۲۰۰۰ م )،ج۷/ ص۴۲۴). غوره قول د امام ابو يوسف او امام محمد رحمهما الله قول دی، وجه يې په رسول الله صلى الله عليه وسلم ، خلفاء راشدون او عام صحابه رضى الله عنهم پسې اقتداء ښودل شوی.(الكاسانى، (ــ )، ٦/ ۲۱۹).

**د وقف معطل کيدل**

کله چې د وقف ګټې معطل شي لکه وقف د يو مسجد يا د اوسيدو کور يا باغ وي او له منځه ولاړ شي، پس په دې صورت کې واجب دي پلورل يې، او قيمت دهغې وقف دې په ورته وقف شوي بل مسجدکې د وقف د مصلحت په خاطر مصرف شي ترڅو بل چا ته ترې کوم ضرر او فساد ونه رسيږي. (أبو المعالي،( ١٤٢٤ هـ - ٢٠٠٤ م)، ٦/ ٢٣٣).

**د وقف بنې بدلول**

د مختلفو مذهبونو فقهاء کرامو بالخصوص د حنفي مذهب فقهاء د وقف بڼې بدول يو مستحب عمل بللی دی په هغه صورت کې چې د وقف ځينې ګټې معطل شي د کوم مصلحت په خاطر لکه کورونه په هټۍ بدول او

باغونه په کورونو بدلول، پس په دې صورت کې جواز لري د وقف د ګټو بنه او صورت حال بدلول داسې بڼې او صورت ته چې هغه ډیر غوره وي. (أبو المعالي،( ١٤٢٤ هـ - ٢٠٠٤ م)، ٦/ ١٣٨ ].

د حنفي مذهب فقهاء په دې نظر دي چې وقفي کورونه له یو کال په زیاته موده په کرایه ورکول جواز نلري اوکرنیزې وقفي ځمکې تر دریو کالونو پورې په اجاره ورکول جواز لري( أبو المعالي،(١٤٢٤ هـ - ٢٠٠٤ م)،٦/ ١۴۴].

**دوقف د زکات حکم**

د وقف زکات دوه صورتونه لري

لومړی : وقف که د داسي کسانو لپاره ترسره شوی وي چې د زکات مستحق وي لکه : مسکینان او فقیران نو په دې صورت کې زکات نشته.

دویم: که وقف د داسې کسانو لپاره ترسره شوی وي چې د زکات مستحق نه وي ،نو په دې صورت کې کله چې هریوه شخص ته یاد مالونه ورسیږي دکال پوره کیدو سره سم به زکات ورکوي په دې شرط چې کال پرې تیرشي او نصاب پوره کړي. (التویجري،( ١٤٣١ هـ - ٢٠١٠ م)، مختصر الفقه الإسلامي ،ص: ٧٨٠) .

لکن په درالمختار کې داسې راغلي دي چې د غنیانو لپاره وقف جواز نلري پس مناسبه خبره داده چې د صدقې په نوم د غنیانو لپاره وقف ترسره شي.( ابن عابدین ،( ١٤١٢هـ - ١٩٩٢م)،

**د غیر مسلمو وقف حکم**

دغیر مسلم وقف دروست دی ، په دنیا کې یې خیر ورته رسیږي، لکن د آخرت اجر اوثواب نه ورته رسیږي، د کفر له کبله ځکه کفر یې مانع ګرځي(ابن نجیم،(ـ)، ٦/ ١٨٩). او (التویجري،( ١٤٣١ هـ - ٢٠١٠ م) مختصر الفقه الإسلامي في ضوء القرآن والسنة،ص: ٧٨٠) .

د مسجد لپاره دکافر وقف صحیح نه دی، طریقه یې داده چې کافر دخپلې مځکې مالک مسلمان وګرځوي بیا ئې مسلمان د مسجد لپاره وقف کړي، مسلمانان به ئې غوښتنه نه کوي ځکه د اسلام توهین راځي په یاده شوي مځکه کې که مسلمانان مسجد جوړ کړي، لمنځونه ئې پکښې صحیح دي، د نورومسجدو په ډول

د مسجد حکم لري. (دفتوی مسلسه شمیره:(٨۴٦) دلیدونیټه٢٢/١/٢٠٢٦. تعلیم الاسلام نیټ.

او په فتاوی الهندیه کې رغلي دي : چې په (وقف) کې داسلام په دین متدین کیدل نه دي شرط.( البلخي، ( ۱۳۱۰ هـ) ،ج۲،ص ۳۵۲).

**د وارثانو لپاره دوقف حکم**

په هر مسلمان باندې واجب دي، چې د خپلو اولادونو ترمنځ عدل وکړي، د نر اولاد دوه چنده حق دی.(التويجري ، موسوعة الفقه الإسلامي ،ج ٣/ ٦٩٥).

لکن په هدايه شريفه کې داسې راغلي دي: که چيرته څوک د مرگ ناروغی په وخت کې يو څه وقف کړي امام طحاوي وايي چې نوموړی وقف د وصيت حيثيت لري .

د امام ابو حنيفه رحمه الله قول داده چې نوموړی وقف نه دی صحيح ،لکن د امام محمد او امام ابو يوسف په قول وقف لازميږي البته په دريمه حصه د مال کې او د صحت په صورت کې په ټول مال کې صحيح کيږي. (ابن نجيم،(ـ)،ج٥ص ٢١٠].

**د وقف شوي مال څخه د غلا حکم**

په دې اړه دفقهاوو ترمنځ اختلاف نظر دی

أ. د احنافو فقهاء په دې عقيده دي چې که څوک د وقف شوي مال څخه غلا وکړي حد نه پرې جاري کيږي، ځکه که عام وقف وي د بيت المال حيثيت لري او که خاص وقف وي لکه د يو ټولگه خلکو لپاره وقف نو په دې صورت کې د ملکيت نه شتون په سبب حد نه پرې پلی کيږي، برابره خبره ده که غل له همدې خلکو څخه وي او که بل څوک وي. ځينی بيا په دې عقيده دي چې که غل له هغو خلکو څخه وو چې وقف ورته نه وو شوی په دې صورت کې دوقف متولي په غوښتنه پرې حد جاري کيږي. وجه يې دا ده چې وقف په حقيقت کې د وقف کوونکي ملک بلل کيږي. بناً دا چې وقف د بيت المال حيثيت لري نو له دې کبله ورته حکم لري دنبي کريم صلى الله عليه وسلم داصحابو کرامو د دې قول په اساس: (**وقد أخرج ابنُ أبي شيبة: إن رجلاً سرق من بيتِ المال، فكتب فيه سعدٌ إلى عمر، فقال: ما من أحد إلاّ وله فيه حقّ لا قطع عليه**).

ژباړه: په تحقيق سره زوی د شيبه د دي قول تخريج کړي چې : چې په يقين سره يوه سړي د بيت المال څخه غلا کړي وه، نو سعد رضى الله عنه عمر رضى الله عنه ته ليک واستولو. عمر رضى الله عنه ورته په ځواب کې داسې وليکل: (داسې څوک نشته چې په بيت المال کې يې حق نه وي نو په ياد شخص باندې د لاس پرې کول نشته ).(اللكنوي،(١٣٠٤هـ)،**ج ٦/** ص٢٤).او(ابن نجيم،(*٢٣-٢٠٢٣-٠٩-٢٤*)، ص ٦٠).

غوره قول همدا دی چې حد نه پرې جاري کيږي، ځکه شک او شبه حدود معطل کوي.والله اعلم بالصواب.

ب. د ملکي مذهب فقهاء په دې عقيده دي چې څوک د وقف مال غلا کړي حد پرې جاري کيږي، په دواړو صورتونو کې که عام وقف وي او که خاص وقف برابره خبره ده که غل د هغو کسانو له جملې څخه وي د چا لپاره چې وقف ترسره شوي وي او که غير شخص وي.( البهوتی،(ـ)،ص ٣٦٨).

ج. شافعي مذهب فقهاء بيا د عام وقف په غله باندې حد نه جاري کوي او خاص وقف په هغه صورت کې چې غل د وقف له اهل څخه وي حد نه پرې جاري کيږي. او که له دې پرته بل څوک وي په هکله يې دري نظرونه شتون لري.(البهوتی ،(ـ)، ج ٦ / ١۴٢). او (الماوردی.(ـ). ج١٣ ص ٣٠٨)

ج. د حنبلي مذهب فقهاء په دې عقيده دي، چې که دعام وقف څخه څوک غلا وکړي حد نه پرې جاري کيږي او که د خاص وقف څخه يو د مستحقينو کوم شي غلا کړي حد نه پرې جاري کيږي. او که د خاص وقف څخه داسې څوک غلا وکړي، چې د خاص وقف مستحق نه وي په دې اړه دوه روايتونه دي مشهور قول دا دی چې حد پرې جاري کيږي. دويم قول دا دی چې حد نه پرې جاري کيږي (البهوتی ،(ـ)،ج ٦ / ١۴٢).

**د وقف ډولونه**

وقف په عموم کې په دوه ډوله دی:

أ. عام وقف: هغه وقف دی چې د عامو مسکينانو، فقيرانو، يتيمانو او معيوبينو لپاره وقف شوی وي.

ب. خاص وقف: عبارت له هغه وقف څخه دی، چې په يوه ټولګه خلکو پورې ځانګړی شوی وي لکه د يوشخص يتيمان، د يو قوم مسکينان او داسې نور.( عبد الله التويجري،( ١٤٣٠ هـ - ٢٠٠٩ م )، موسوعة الفقه الإسلامي ،ج٣،ص ٦٨٧).

**دويم د منقول او غير منقول له ليده بيا هم وقف په دوه ډوله دي:**

په اسلامي نړۍ کې وقف په دوه ډوله ښودل شوی، چې يو يې غير منقول وقف دی او دويم يې منقول وقف. سره له دې چې د فقهې مذهبونو ترمنځ يې اختلاف شتون لري، لکن غوره قول دا دی چې دواړه ډولونه وقف مشروعيت لري.( أبو عبد الله،(ـ)،ج٦،ص٢٠٢) او (ابن عابدين ،( ١٤١٢هـ - ١٩٩٢م )، رد المحتار على الدر المختار ج٣،ص٦٠٨).

**لومړي غير منقول وقف**

عبارت له هغه وقف څخه دی چې اصل وقف شوی ځيز په خپل حالت پاتې وي کوم تغير او تبديل نه ورکې راځي لکه: وقفي ځمکي، کورونه، باغونه، کاريزونه او کوهيان او داسې نور چې تفصيل يې وړاندې ذکرشوی بيان ته يې اړتيا نشته د ټولو فقهاوو پرې اتفاق دی. (ابن عابدين ،( ١٤١٢هـ - ١٩٩٢م )، رد المحتار على الدر المختار ج٣،ص٦٠٨) او ( وَهْبَة الزُّحَيْلِيّ،(ـ)،ج ١٠،ص ٢٩٨).

**دويم منقول وقف**

عبارت له هغه وقف څخه دي، چې په اصل وقف کې تغير او تبديل راتلل امکان ولري لکه: نقدي روپۍ درهم او دينار، سره زر او سپين زر، موټر او داسې نور اجناس چې د فقهاوو ترمنځ يو څه اختلاف نظر شتون لري.

په لاندې ډول د فقهاوو نظرونه په لنډه توگه ذکر کوو:

أ. د احنافو غوره او راجح قول ، مالکي مذهب فقهاء، يو قول د شافعي مذهب فقهاوو او يو قول د حنبلي مذهب فقهاوو په جواز حکم کړی. (**وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية – الکويت**،(من ١٤٠٤ - ١٤٢٧ هـ)، ج ٢٤ / ص ١٦٧).

ب.حنبلي مذهب فقهاوو، شافعي مذهب فقهاوو په راجح قول، يو قول د حنفيانو درهم او دينار... وقف کولو څخه منع کړی. (الدسوقي ،(ـ)، ج ٤ / ص ٧٧) ، (ابن عابدين ،( ١٤١٢هـ- ١٩٩٢م )،رد المحتار على الدر المختار ج٣،ص٦٠٨) او ( وَهْبَة الزُّحَيْلِيّ،(ـ)، ج ١٠،ص ٢٩٨).

لکن علماؤ چې کومه عامه اساسي قاعده ذکر کړي ده (هغه څه چې امکان دگټې اخيستلوې وي سره له پاتې کيدو داصل دهغه څيز او جواز دپلورلو ولري د هغې وقف کول جواز لري) . ( ابن الهمام ،(ـ)،ج ٥ / ص ٤٣١.

د فتح القدير مصنف رحمه الله د محمد الانصاري وينا داسې بيان کړی ده: (په تحقيق سره يوه ورځ له محمد الانصاري دامام ظفر رحمه الله له مذهبي ملگرو څخه وو، يو چا ترې وپوښتل چې که يو څوک درهم، ډوډۍاو يو داسې څيز وقف کړي چې خوړل کيږي او يا وزن کيږي جواز لري او کنه؟ په ځواب کې يې ورته وويل: چې هوکې جواز لري درهم به په مضاربت يو چا ته ورکړي، له هغې وروسته به يې گټه په هغه لارکې صدقه کړي چې د کومې لپاره يې نيت کړي وي.( ابن نجيم،( ت بعد ١١٣٨ هـ )،ج ٥، ص٢١٩).

**د نغدو پيسو د وقف معاصر ې نمونې**

په نننۍ زمانه کې په اسلامي نړۍ کې د نغدو پيسو وقف په زياته پيمانه رواج دی د بيلگې په توگه دلاندې وقفونو يادونه کوو:

د نغدو پيسو، سرو او سپينو زرو د وقف د مشروعيت په اړه د محيط مصنف رحمه الله داسې وايلي دي: که يو څوک د وصيت په پنه يوسلو پنځوس دينار د ناروغانو لپاره وقف کړي، دا وقف صحيح دی. نوموړي سره زر دی يو شخص ته د مضاربت په توگه ورکړل شي او د مضاربت گټه دې په يادو ناروغانو مصرف شي.( العينى ،( ١٤٢٠ هـ- ٢٠٠٠ م ) ،ج ٧ص ۴۴۱).

بناً کوم شرطونه چې د وقف لپاره د فقهاوو لخوا وضع شوي دي په پورته صورت مسأله کې شتون لري، ځکه اصل وقف شوی مال په خپل حالت پاتې کيږي، گټې يې په مستحقينو ويشل کيږي، ياد منقول اموال د پير او پلور وړتيا لري،معلوم دی، د وقف کونکي ملکيت دی، په سترگو ليدل کيږي.

۱.اسلامي وقفي تضامني صندوقونه: چې داسلامي نړۍ دالقمة الاسلامي په مؤتمراو داسلامي هېوادونو دخارجه چارو وزيرانو ناستو په نتيجه کې رامنځ ته شو

۲.وقفي صندوقونو ايجادول د اسلامي اوصول په رڼا کې : په څو هېوادونو کې ياده پروسه رامنځ ته شوه ترڅو نغدې روپۍ له ټولنو او اشخاصو څخه ترلاسه کړي او مسلکي اشخاصو په اختيار کې يې ورکړي ترڅو ګټې پرې وکړي.

۳. د عربستان سابقه پاچا عبدالله ثانی دوه مليونه اردني دينار د بيت المقدس د پوهنتون لپاره وقف کړي وو.

۴.په همدې ډول د سوډان هېواد د وقف خيريه ټولنې رامنځ ته کړې دي.

۵.د قطر هېواد د وقف مصارفونو په نوم ټولنه رامنځ ته کړې ده.

٦.په دې وروستيو کې په زياتو هېوادونو کې د خيريه وقفي ټولنې رامنځ ته شوې دي ترڅو په اړمنو کسانو د يادو وقفي ټولنوګټې توزيع کړي .(ياسر،(ـ)،ج۱، ص ۸۸).

نني زمانې ته په کتو غوره قول دادي چې دنغدو پيسو وقف په مقابل کې په اسلامي اصولو برابر وجهې صندوقونه، مضاربتونه او شرکاتونه رامنځ ته کړل شي.

**د وقفي ځکمو او اجناسو د ساتنې مسؤليت**

دپورته تفصيلي معلوماتو په رڼا کې غواړم چې د وقفي ځکمو او اجناسو ساتنې په هکله د اړونده مسؤلو اشخاصو او ادارو څخه يادونه وکړو ترڅو په ښه شان د وقفي ځکمو او اجناسو ساتنه ترسره شوي وي. بنا پردې د اسلامي امارت په داخل کې د وقفي ځمکو او اجناسو ساتنه د اړونده ادارو لکه د حج او اوقافو رياست، دولايت مقام، د پوهنتونورياستونه، د کليوپراختيا رياست، د صحت عامې رياست، د طبيعي حوادثو رياست، د امربالمعروف او نهی عن المنکر رياست او داسې نورې ادارې او رياستونه هره اداره او رياست په خپله برخه کې مسؤليت لري چې د وقفي ځمکو او اجناسو څخه سالمه ګټه پورته کړي او په ساتنه کې يې رغنده قدمونه پورته کړي.

**پايلې**

د نوموړې مقالې د څېړلو په ترڅ کې لاندې پايلې ترلاسه شوي دي:

۱. په نړۍ کې ترټولو لومړی شخصيت د اسلام ستر لارښود حضرت محمد صلی الله عليه وسلم وو چې په لومړي ځل يې د وقف اصل رامنځ ته کړو.

۲. د ځمکو او مالونو وقف کول مسلمان شخص ته دنياوي او آخروي سعادت په برخه کوي.

۳. وقف د ټولنيز عدالت ژوندی بيلګه ده، چې انسانان د شفقت، ترحم، يوالي، ورور والی او اسلامي خوا خوږۍ لوري ته رابولي.

۴.د وقفي ځمکو او اجناسو ساتنه د هر مسلمان بالخصوص مسؤلو اشخاصو عيني وجيبه ده بايد په دې برخه کې څوک غفلت ونکړي.

۵. د ځمکو او مالونو وقف يو ټولنيز عمل دی د مسلمانانو لپاره د بيت المال حيثيت لري، لازمه ده چې په کلکه يې ساتنه وشي.

٦. داچې د منقول مال او دولت د وقف کيدو په اړه د فقهاوو ترمنځ اختلاف نظر موجود دی، لکن غوره قول دا بلل شوي چې جوازلري. په نني زمان کې، د غير منقول وقف ترڅنګ د منقول وقف موضوع ډيره مهمه بلل شوی، ځکه د مالونو په وسيله زياتې ګټې ترلاسه کيږي.

۷. دا چې نن ورځ غير اسلامي ټولنې او اشخاص د اسلامي نړۍ له مظلمو اشخاصو، سره د وقفي مالونو له لارې مرستې اوهمکاري کړي،د نومو‌ړيو موسسو او اشخاصولپاره دنياوي خير قبول دی، لکن د آخرت په ميدان کې يادوحکمي او حقيقي اشخاصوته کوم خير نه رسيږي.

**وړانديزونه او سپارښتنې**

۱. دحج او قافو محترم وزارت څخه دا هيله کوو، چې لومړۍ وقفي ځمکې په نښه او له هغې وروسته يې د ګټې لپاره په مناسبو لارو په کار واچوئ.

۲. د وقفي ځمکو اړوند مسؤلينو څخه هيله کوو، چې يادې ځمکې او جايدادونه په اجاره ورکړئ، البته له دريو کالونو څخه په کمه موده.

۳. له ټولوملي تاجرانوڅخه هيله کوو، چې د مالونو د وقف کيدو په وسيله خيريه ټولنې رامنځ ته کړي ترڅو د اسلامي عربي نړۍ په څير زموږ مظلوم ولس د يادو خيريه مؤسسو له دائمې ګټو څخه برخمن شي.

۴.له ټولو هغو حکمي او حقيقي اشخاصوڅخه هيله کوو، چې دوقفي ځمکو، جايدادونو او اجناسو څخه په پوره امانت کار واخلي او ساتنه ترې وکړئ.

۵.د مسجدونو خطيبانو او د ديني مدرسو مدرسينو څخه هيله کوو، چې د عامه خلکو ترغوابږو نو او د طالب العلمانو ترغوابږو نو د وقفي ځمکو او مالونو حرمت او ساتنې اهميت ورسوئ.

# Identification of endowment lands and goods and their protection rules in the light of Islamic law

Senior Teaching Assistant: Abdul Jalil Shahidzai, Academic staff of the Department of Jurisprudence and Law, Faculty of Sharia
**Email address:** shahidzai.af@gmail.com

## Abstract

This article is titled: Identifying Waqf Lands and Goods and Their Protection Provisions in the Light of Islamic Sharia. It uses the Holy Quran, Prophetic Hadiths, and reliable sources of jurisprudence. The legitimacy of Waqf is explained, the types of Waqf are explained, the conditions of Waqf are mentioned, the pillars of Waqf are mentioned, the importance of Waqf is mentioned, the objectives of Waqf are mentioned in detail, contemporary Waqfs are mentioned, the Waqf of the trustee is mentioned, the Waqf of the time of the Prophet is mentioned, the Waqf of the time of the Companions is mentioned, the Waqf of the time of the Umayyads is mentioned, the Waqf ruling is mentioned, the Waqf forms are mentioned, the Waqf suspension is mentioned, the Waqf ruling on Zakat is mentioned, the Waqf for heirs is mentioned, the ruling on theft from Waqf property is explained, the Waqf of Waqf is mentioned Solidarity funds are mentioned, the preservation of waqf lands and goods is mentioned, the endowment of cash or cash money is mentioned, the persons responsible for the preservation of waqf lands and goods are identified, waqf institutions are mentioned, waqfs of non-Muslims are mentioned, the importance of waqf goods is mentioned, waqf assets are called means of progress, and the opinions of jurists on waqf are explained. This article is an important step in the implementation of Islamic law in the identification and protection of waqf lands and goods.

**Key terms:** Waqf, non-Muslim., Contemporary examples, waqf and trustee**.**

## مصادر او مراجع

القرآن الكريم.

أبو زكريا، محيي الدين يحيى بن شرف النووي، تحقيق: زهير الشاويش.( ١٤١٢هـ / ١٩٩١م). روضة الطالبين وعمدة المفتين. الطبعة: الثالثة،الناشر: المكتب الإسلامي، بيروت- دمشق- عمان.

ابن الهمام ،كمال الدين محمد بن عبد الواحد السيواسي المعروف بابن الهمام.(ـ) فتح القدير،(ـ)،الناشر: دار الفكر.

ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي.( ١٤٢١هـ - ٢٠٠٠م.). حاشية رد المختار على الدر المختار شرح تنوير الأبصار،الناشر دار الفكر للطباعة والنشر،بيروت.

ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي (١٤١٢هـ - ١٩٩٢م). رد المحتار على الدر المختار، الطبعة: الثانية،الناشر: دار الفكر-بيروت.

ابن منظور، محمد بن مكرم بن على، أبو الفضل، جمال الدين ابن منظور الأنصاري الرويفعى الإفريقى.( ١٤١٤ هـ ). لسان العرب. الطبعة: الثالثة، الناشر: دار صادر - بيروت، ج الطبعة: الثالثة. ٩ / ٣٥٩، مادة: وقف.

ابن نجيم، زين الدين بن إبراهيم بن محمد، المعروف بابن نجيم المصري.(ـ). البحر الرائق شرح كنز الدقائق،وفي آخره: تكملة البحر الرائق لمحمد بن حسين بن علي الطوري الحنفي القادري ، وبالحاشية: منحة الخالق لابن عابدين ،الناشر: دار الكتاب الإسلامي.

أبو المعالي، برهان الدين محمود بن أحمد بن عبد العزيز بن عمر بن مَازَةَ البخاري الحنفي، المحقق: عبد الكريم سامي الجندي. (١٤٢٤ هـ - ٢٠٠٤ م) المحيط البرهاني في الفقه النعماني فقه الإمام أبي حنيفة رضي الله عنه، الطبعة: الأولى، الناشر: دار الكتب العلمية، بيروت - لبنان.

أبو زكريا، محيي الدين يحيى بن شرف النووي .( ١٣٩٢). المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج. الطبعة: الثانية، الناشر: دار إحياء التراث العربي - بيروت.

أبو زكريا، محيي الدين يحيى بن شرف النووي، المحقق: عبد الغني الدقر.( ١٤٠٨). تحرير ألفاظ التنبيه، الطبعة: الأولى، الناشر: دار القلم - دمشق.

أبو عبد الله ،محمد بن محمد بن محمود، أكمل الدين ابن الشيخ شمس الدين ابن الشيخ جمال الدين الرومي البابرتي (ـ) العناية شرح الهداية،(ـ)،الناشر: دار الفكر.

أبو عيسى ،محمد بن عيسى أبو عيسى الترمذي السلمي، تحقيق: أحمد محمد شاكر وآخرون.(ــ). الجامع الصحيح سنن الترمذي. الناشر: دار إحياء التراث العربي - بيروت.

البلخي ، لجنة علماء برئاسة نظام الدين البلخي.( ١٣١٠ هـ). الفتاوى الهندية، الطبعة: الثانية، الناشر: دار الفكر.

البهوتى ،منصور بن يونس بن صلاح الدين ابن حسن بن إدريس البهوتى الحنبلى.(ــ). كشاف القناع عن متن الإقناع. بدون ذكر طبع،الناشر: دار الكتب العلمية.

التويجري ، محمد بن إبراهيم بن عبد الله التويجري .( ١٤٣٠ هـ - ٢٠٠٩ م) . موسوعة الفقه الإسلامي، الطبعة: الأولى، الناشر: بيت الأفكار الدولية.

التويجري ،محمد بن إبراهيم بن عبد الله التويجري.( ١٤٣١ هـ - ٢٠١٠ م). مختصر الفقه الإسلامي في ضوء القرآن والسنة. الطبعة: الحادية عشرة، الناشر: دار أصداء المجتمع، المملكة العربية السعودية.

حجار ،طارق بن عبد الله حجار.( ١٤٢٣هـ/٢٠٠٣م). تاريخ المدارس الوقفية في المدينة المنورة، الطبعة: العدد ١٢٠ - السنة ٣٥، الناشر: الجامعة الإسلامية بالمدينة المنورة.

الزَّبِيدِيّ، أبو بكر بن علي بن محمد الحدادي العبادي الزَّبِيدِيّ اليمني الحنفي.(١٣٢٢هـ.) الجوهرة النيرة، الناشر: المطبعة الخيرية، الطبعة: الأولى.

الشيرازي ،أبو اسحاق إبراهيم بن علي بن يوسف الشيرازي.(ــ). المهذب في فقة الإمام الشافعي. الناشر: دار الكتب العلمية.

الصاوي،أبو العباس أحمد بن محمد الخلوتي،الشهير بالصاوي المالكي.(ــ).الدردير:أقرب المسالك. الطبعة: بدون طبعة،الناشر: دار المعارف.

عبداللطيف،عبد الرحمن بن صالح العبداللطيف.( ١٤٢٣هـ/٢٠٠٣م). القواعدوالضوابط الفقهية المتضمنة للتيسير، الطبعة : الأولى، الناشر: عمادة البحث العلمي بالجامعة الإسلامية، المدينة المنورة، المملكة العربية السعودية.

العينى ،أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن حسين الغيتابى الحنفى بدر الدين العينى.( ١٤٢٠ هـ - ٢٠٠٠ م ).البناية شرح الهداية البناية شرح الهداية، الطبعة: الأولى،الناشر: دار الكتب العلمية - بيروت، لبنان.

اللكنوي ،الإمام محمد عبد الحي اللكنوي، المحقق : الدكتور صلاح محمد أبو الحاج. (١٣٠٤هـ). عمدة الرعاية بتحشية شرح الوقاية، الطبعة : الأولى،الناشر : مركز العلماء العالمي للدراسات وتقنية المعلومات.

المرغيناني،علي بن أبي بكر بن عبد الجليل الفرغاني المرغيناني، أبو الحسن برهان الدين، المحقق: طلال يوسف.(ــ). الهداية في شرح بداية المبتدي. الناشر: دار احياء التراث العربي - بيروت - لبنان.

وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية - الكويت.( (من ١٤٠٤ - ١٤٢٧ هـ)). الموسوعة الفقهية الكويتية. الطبعة: الاولى.

وَهْبَة الزُّحَيْلِيّ، أستاذ ورئيس قسم الفقه الإسلاميّ وأصوله بجامعة دمشق -كلّيَّة الشَّريعة.(ــ). الفِقْهُ الإسلاميُّ وأدلَّتُهُ (الشَّامل للأدلّة الشَّرعيَّة والآراء المذهبيَّة وأهمّ النَّظريَّات الفقهيَّة وتحقيق الأحاديث النَّبويَّة وتخريجها)،(ــ)،الناشر: دار الفكر - سوريَّة - دمشق.

ياسربن طه، على كراويه.(ــ).المعاملات المالية المعاصرة في الفكر الاقتصادي الإسلامي ،(ــ)،(ــ).

# په اسلامي شریعت کې محصلینو ته د عادلانه نمرو ورکولو اهمیت او حکم

پوهنیار سید نورشاه حسیني د شیخ زاید پوهنتون، شرعیاتو پوهنځی، د اسلامي ثقافت څانګې استاد
**برېښنالیک:** syednoorshahhusaini@gmail.com

**لنډیز**

په دې مقاله کې محصلینو ته د عادلانه نمرو ورکولو اهمیت او حکم تر عنوان لاندې د تعلیمي ارزونې یوه مهمه فقهي، اخلاقي او ټولنیزه موضوع په علمي ډول څېړل شوې ده، د څېړنې اساسي موخه دا ده؛ چې د اسلامي شریعت له نظره محصلینو ته د نمرو ورکولو شرعي معیارونه او هم د نمرو ورکولو عادلانه طرز العمل روښانه شي، څېړنه د کتابتوني، تحلیلي او استدلالي میتود پر بنسټ تر سره شوې ده، چې په قرآن کریم، احادیثو او د فقهاوو په اقوالو باندې مستنده ده، په مقاله کې محصلینو ته د عادلانه نمرو ورکولو اصل څېړل شوی دی، چې پکې د اسلامي شریعت له نظره د عدالت، شهادت، امانت او مسؤولیت اصول تشریح او پرتله شوي دي او دا پکې څرګنده شوي ده چې د استاذ له لوري هره نمره د محصل د علمي حالت په اړه شهادت دی، او په اجمالي توګه دا وضاحت هم پکې شوی دی؛ چې محصل ته د خپل حق څخه د کمو یا زیاتو نمرو ورکول؛ د شریعت له نظره یو حرام او ناروا عمل دی، د څېړنې پایله دا ده، چې عادلانه ارزونه د تعلیمي نظام اعتبار ټینګوي، ټولنیز عدالت پیاوړی کوي او د شرعي نصوصو غوښتنه او تقاضا ده، مقاله دا سپارښتنه کوي چې د تعلیمي بهیر اصلاح او د کیفیت لوړونه یوازې د عدالت، تقوا او امانت د اصولو په رښتیني توګه پلي کېدو سره ممکنه ده.

**کلیدي ټکي:** استاذ، امانت، عادلانه ارزونه، عدالت، محصل.

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمد لله رب العالمین، والصلوة والسلام علی سید المرسلین وعلی آله وأصحابه اجمعین، اما بعد: فقد قال الله تعالی:** ﴿إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُكُمۡ أَن تُؤَدُّواْ ٱلۡأَمَٰنَٰتِ إِلَىٰٓ أَهۡلِهَا﴾ (النساء: **۵۸**). **ژباړه:** ژباړه: بې شکه الله تعالی امر کوي په تاسو (ای مؤمنانو) د دې؛ چې وسپارئ تاسې امانتونه اهل د امانتونو ته. (کابلی تفسیر، **۵۱۸/۱**).

**وأیضاً قال الله تعالی:** ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُونُواْ قَوَّٰمِينَ لِلَّهِ شُهَدَآءَ بِٱلۡقِسۡطِۖ وَلَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ شَنَـَٔانُ قَوۡمٍ عَلَىٰٓ أَلَّا تَعۡدِلُواْۚ ٱعۡدِلُواْ هُوَ أَقۡرَبُ لِلتَّقۡوَىٰۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ٨﴾ (المائده: ۸). **ژباړه:** ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی(ای مؤمنانو) اوسئ تاسې محکم ولاړ(په حق باندې) لپاره د الله (او اوسئ تاسې) شاهدان په قسط(عدل او انصاف) سره، او نه دې باعث کړي تاسې دوښمني د يو قوم؛ په دې باندې چې عدل (انصاف) به ونه کړئ تاسې، عدل (انصاف) وکړئ تاسې!؛ همدا(عدل) ډېر نږدې دی تقوا (پرهېزګاری) ته او وویرېږئ تاسې له الله (نو ظلم مه کوئ) بې شکه چې الله ښه خبردار دی؛ په هغو اعمالو چې کوئ يې تاسې. (کابلی تفسیر، ۱/ ۵۸۳).

**وقال رسول الله:** «مَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنَّا» (الترمذي، **۳/ ۵۹۸**). **ژباړه:** څوک چې دوکه او فرېب کوي؛ هغه له موږ څخه نه دی.

تعلیم د انساني تمدن او د اسلامي امت د پر مختګ بنسټیز رکن ګڼل کېږي، چې عادلانه او شفافه ارزونه د زده کړې د کیفیت لوړونې لپاره مهم عنصر دی، په عام ډول د زده کوونکو او په ځانګړي توګه د محصلینو ارزونه یوازې اداري کړنه نه ده؛ بلکې دا يو اسلامي او اخلاقي مسؤولیت دی؛ چې د قرآن کریم او نبوي سنتو په رڼا کې د عدالت او امانت حق څرګندوي، همدا ډول په اسلامي شریعت کې د امانت، شهادت او عدالت سره مستقیمه اړیکه لري، هره نمره چې استاذ يې شاګرد ته ورکوي؛ د هغه د علمي وړتیا په اړه رسمي او شرعي شهادت بلل کېږي، هر ډول ناحقه نمره ورکول د شریعت له نظره د خیانت، ظلم، غِش او د نا حقه شهادت مصداق ګڼل کېږي، چې دا کار د اسلامي شریعت د ګڼو نصوصو خلاف عمل دی.

په اوسني تعلیمي چاپېریال کې که څه هم چې په ځینو تعلیمي ادارو کې په شفاف ډول د عدالت په رڼا کې شاګردانو ته نمرې ورکول کېږي، خو په تاسف سره به ووایم چې په ډېری شمېر تعلمي ادارو کې شاګردانو ته د غیر عادلانه نمرو ورکول شتون لري، چې په دین باندې د سمې پوهې د نشتوالي، یا شخصي اړیکو، یا اداري فشار، یا احساساتو، یا تعصباتو او یا د ارزونې په سیستم کې د کمزورۍ له امله را منځته کېږي، دا کار یوازې د شاګرد په شخصي ژوند باندې بد اغېز نه کوي، بلکې تعلیمي نظام او د علمي مرکزونو اعتبار ټکنی کوي، د ټولنیز

عدالت او مسلکي کیفیت د کمښت لامل هم ګرځي، همدې اړتیا ته په کتو په دې مقاله کې به په اسلامي شریعت کې محصلینو ته د عادلانه نمرو ورکولو اهمیت او شرعي حکم په یو څه تفصیل سره وڅېړل شي او دویمه مقاله به (په اسلامي شریعت کې محصلینو ته د غیر عادلانه نمرو ورکولو قباحت او حکم) تر عنوان لاندې په نږدې راتلونکي کې بشپړه کړم، ان شاء الله تعالی!

## د څېړنې موخې

**عمده موخه:** زده کوونکو ته د خپل استحقاق سره د سمو نمرو ورکولو اهمیت او په اړه یې شرعي حکم څرګندول.

## فرعي موخې

۱- زده کونکو ته د عادلانه نمرو ورکولو ارزښت او اهمیت څرګندول.
۲- زد کونکو ته د عادلانه نمرو ورکولو په اړه د اسلامي شریعت احکام پېژندل.
۳- زده کونکو ته د عادلانه نمرو ورکولو پر وړاندې؛ د شته ستونزو او لاملونو روښانه کول.

## د څېړنې ارزښت

د دې څېړنې موضوعات، لکه (امانت، عدالت، شهادت، مسؤولیت، تقوا) په ګڼو تفسیرونو، د احادیثو په کتابونو او هم د فقهې په کتابونو کې څېړل شوي دي، معاصرو علماوو او لیکوالانو هم په خپلو څېړنو او لیکنو کې یاد موضوعات څېړلي دي، خو په یادو تالیفاتو کې زموږ د څېړنې موضوع (په اسلامي شریعت کې محصلینو ته د عادلانه نمرو ورکولو اهمیت او شرعي حکم) په هر اخېز ډول او د ځانګړي عنوان تر چتر لاندې نه ده څېړل شوې، بلکې په ضمني یا اشاري ډول ترې فهمېدای شي، زموږ مقاله د یادې موضوع هر اړخیزه او بشپړه څېړنه کوي، ستونزې، لاملونه، حللارې او شرعي حیثیت او حکم یې بیانوي، نو په دې اعتبار سره ویلای شو چې دا یوه نوې څېړنه ده، چې په پوره کېدو سره به یې لوستونکي د عادلانه نمرو ورکولو په ارزښت پوه شي، محصلینو ته به د دوی د حق سره د سمو نمرو ورکولو پر وړاندې ستونزې او خنډونه څرګند شي او د شته ستونزو او خنډونو د له منځه وړلو په پار به یې حللارې او تدابیر روښانه شي؛ څو په راتلونکي کې زموږ استاذان وروڼه یادې ستونزې ته د پای ټکی کېږدي او زموږ محصلین وروڼه؛ د یاد جبر او ظلم سره لاس او ګریوان نشي، همدا ډول دا څېړنه به د نمرو ورکولو شرعي طریقه او حکم واضح کړي، استاذانو ته به په نمرو ورکولو کې د عدالت د تامین روحیه وروبخښي؛ چې په نتیجه کې به یې زموږ تعلیمي بهیر وده او پرمختګ وکړي او ټکنی کېږي به نه، همدا ډول ټولنیز عدالت به پیاوړی شي، کیفیت ته به په کمیت باندې غوره والی ورکړل شي، د علمي مرکزونو اعتبار به

خوندي پاتې شي؛ چې بیا به علمي مرکزونه ټولنې ته د خدمت کولو په موخه په حقیقي بڼه وړ او با استعداده کسان وړاندې کوي او ټولنه به یو روښانه راتلونکی ولري، وبالله التوفیق!

## د څېړنې کړنلاره

دا څېړنه کتابتوني ده چې پکې د استدلالي او استنباطي میتود څخه کار اخیستل شوی دی، دا مقاله داسې ترتیب شوې ده؛ چې په سر کې یې لنډیز، ورپسې سریزه؛ چې پکې د موضوع پېژندنه، د څېړنې ستونزې، د څېړنې فرضیه، د څېړنې پوښتنې، د څېړنې موخې، د څېړنې مخینه، د څېړنې ارزښت او اړتیا او د موضوع کړنلاره ذکر شوي دي، له دې وروسته د څېړنې منځپانګه د دوو عنوانونو (الف: په اسلامي شریعت کې د عدالت او شهادت اصل، ب: په اسلامي شریعت کې د امانت او مسؤولیت اصل) لاندې په دوو برخو وېشل شوې ده، د څېړنې په منځ کې چې کوم آیتونه راغلي دي؛ د هغو آیتونو ژباړه مې د پښتو ژبې له معتبر تفسیر (کابلي تفسیر) څخه کړې ده، دا یادونه باید وکړم؛ چې په ټوله څېړنه کې مې، د هرې برخې اړوند اول اولینیو ماخذونو ته رجوع کړې ده؛ بالفرض که په هغو کې دموضوع په پیدا کولو او وضاحت نه یم توانیدلی؛ نو د اړتیا له وجې مې بیا د وروستنیو؛ خو معتبرو ماخذونو څخه هم ګټه اخیستي ده، د را نقلولو پر وخت مې اول په موضوع او د مصدر په متن ځان ښه پوه کړی، د ښه ډاډ او اطمینان حاصلولو وروسته مې د ضرورت په اندازه را نقل کړی دی، یعني دا کار مې د پوره دقت او امانتدارۍ څخه په ګټې اخیستنې سره سرته رسولی دی، د یادولو ده چې د رسالې د منځپانګې له ختمیدو وروسته؛ په پای کې د څېړنې پایله، وړاندیزونه او ماخذونه هم لیکل شوي دي.

په اخر کې دا یادونه کووم چې د دې څېړنې لیکل زما کومه شخصي غنا نه ده، بلکې دا د الله تعالی یوه پیرزوینه او فضل دی؛ که په دې څېړنه کې لوستونکي څه ځانګړنه او د خپلې علمي تندې د خړوبولو چینه ووینې؛ نو نسبت یې یوازې الله تعالی ته دی؛ ځکه چې هغه منعم حقیقي دی او که څه تیروتنې، سهوې او ښویدنې مخې ته راشي؛ نو زما لخوا به وي، هیله ترې لرم چې ورته متوجه مې کړي. ومن الله التوفیق!

## د څېړنې مونډنې (محتوا)

### د محصلینو ارزونه او هغوی ته د نمرو ورکول

په تعلیمي ادارو او په ځانګړې توګه د پوهنتون په چاپېریال کې د ارزونې پروسه یو مهم امانت دی، چې د استاذ په اوږو ایښودل شوی دی، د یو استاذ د مهمو مسؤولیتونو څخه یو دا دی؛ چې محصل ته د هغه د زده کړو او کارکردګۍ سره مطابقې نمرې ورکړي، نمرې یوازې عدد نه دی، بلکې یو رسمي او مستند شهادت دی چې د محصل د مهارت، پوهې او وړتیا په اړه د استاذ له لوري ثبتېږي، چې بیا د همدې ارزونې په نتیجه کې د محصل

راتلونکی تعلیمي مسیر، وظیفوي فرصتونه او ټولنیز اعتماد جوړېږي، له همدې امله د نمرې ورکړل؛ د شریعت له نظره د عدالت، امانت او صداقت غوښتنه کوي او په عام ډول؛ شریعت د هر هغه کار په اړه واضح معیارونه لري چې په خلکو کې د حقوقو د تثبیت سبب ګرځي.

محصل ته د نمرو ورکول په عموم کې په دوو برخو ویشل کېږي: ۱- محصل ته عادلانه(د هغه د حق سره سمې او مطابقې) نمرې ورکول، ۲- محصل ته غیر عادلانه نمرې ورکول، یادونه باید وکړم چې په دې مقاله کې یوازې اوله برخه تر څېړنه لاندې نیول شوې ده، په نږدې راتلونکي کې به په دویمه برخه باندې هم خپله مقاله بشپړه کړم، ان شاء الله تعالی!

**محصلینو ته عادلانه نمرې ورکول**

په اسلامي شریعت کې عدالت او امانت د انساني تعاملاتو بنسټیز اصول دي، هر هغه څوک چې د نورو د حقونو د تثبیت او ارزونې مسؤلیت ور سپارل شوی وي، شرعاً د امین او مسؤل حیثیت لري، د پوهنتون استاذ چې د محصل د ارزونې او نمرو ورکولو واک او اختیار لري؛ د همدې امانت او مسؤولیت له جملې څخه دی، یعني په ده باندې لازم دي چې محصل ته د هغه د هڅې، کارکردګی، کورنی دندې، ازموینې او صنفي فعالیت سره سمې نمرې ورکړي؛ ځکه چې په دې بهیر کې د استاذ پرېکړه د محصل په راتلونکي تعلیمي، مسلکي او ټولنیز اعتبار باندې مستقیم تاثیر لري، یاده موضوع که څه هم چې پراخه ده خو زه یې په لنډ ډول د دوو عنوانونو لاندې تشریح کوم:

**الف: په اسلامي شریعت کې د عدالت او شهادت اصل**

عدل د ظلم ضد دی، په لغت کې برابروالي ته وایې، د شریعت په اصطلاح کې هر حقدار ته د هغه د حق ورکول عدل بلل کېږي. (مجمع اللغة العربیة بالقاهرة، ۲/ ۲۸۸). همدېته ورته تعریف امام نسفی  هم په خپل تفسیر کې ذکر کړی دی. وګوره! (النسفي، ۱/ ۴۰۴).

عدل د شریعت اساس او د سوکاله ټولنې د رامنځته کولو وسیله ده، د خلکو حقونه یوازې د عدل په مټ خوندي کېدای شي، د قرآن کریم له مخې عدل د ژوند په یوه اړخ پورې محدود نه دی؛ بلکې د ژوند په ټولو اړخونو کې عدل واجب دی، که هغه قانون وي، که سیاست وي که اقتصاد وي، که معاملات وي او که د ژوند کوم بل اړخ وي، نصوصو او د فقهاوو اقوالو ته په کتو محصلینو ته د نمرو په ورکولو کې هم د عدل اصل تطبیق کول یو واجبي او لازمي امر دی، د عدل د ارزښت اړوند که څه هم چې یو زیات شمېر نصوص راغلي دي، خو موږ یې د نمونې په توګه د لاندې دوو آیتونو په ذکر کولو بسنه کوو:

د عدل اړوند په یو ځای کې الله ﷻ داسې فرمايلي دي: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُونُواْ قَوَّٰمِينَ لِلَّهِ شُهَدَآءَ بِٱلْقِسْطِۖ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَـَٔانُ قَوْمٍ عَلَىٰٓ أَلَّا تَعْدِلُواْۚ ٱعْدِلُواْ هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا تَعْمَلُونَ٨﴾ (المائده: ٨). **ژباړه:** ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی(ای مؤمنانو) اوسئ تاسې محکم ولاړ(په حق باندې) لپاره د الله (او اوسئ تاسې) شاهدان په قسط(عدل او انصاف) سره، او نه دې باعث کړي تاسې دوښمني د يو قوم؛ په دې باندې چې عدل (انصاف) به ونه کړئ تاسې، عدل (انصاف) وکړئ تاسې!؛ همدا(عدل) ډېر نږدې دی تقوا (پرهېزګارۍ) ته او وویرېږئ تاسې له الله (نو ظلم مه کوئ) بې شکه چې الله ښه خبردار دی؛ په هغو اعمالو چې کوئ يې تاسې. (کابلي تفسیر، ۱/ ۵۸۳).

په بل ځای کې يې هم همدې مفهوم ته ورته مفهوم ذکر کړی دی او داسې يې فرمايلي دي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُونُواْ قَوَّٰمِينَ بِٱلْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلَّهِ وَلَوْ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ أَوِ ٱلْوَٰلِدَيْنِ وَٱلْأَقْرَبِينَۚ إِن يَكُنْ غَنِيًّا أَوْ فَقِيرًا فَٱللَّهُ أَوْلَىٰ بِهِمَاۖ فَلَا تَتَّبِعُواْ ٱلْهَوَىٰٓ أَن تَعْدِلُواْۚ وَإِن تَلْوُۥٓاْ أَوْ تُعْرِضُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا١٣٥﴾ (النساء: ۱۳۵).

**ژباړه:** ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی(ای مؤمنانو) اوسئ تاسې تل محکم ولاړ، په انصاف سره شاهدان (خاص) د پاره د الله، اګر که وي(دغه شاهدي) پر نفسونو ستاسې (چې زیان مو پکې وي) یا په والدینو(مور او پلار ستاسې) یا په اقاربو (خپلوانو ستاسې) که وي دغه (مشهود علیه او مشهود له) غني (شتمن) یا فقیر (محتاج) نو الله ډېر خیر غوښتونکی دی پر دوی (له تاسو څخه) نو مه کوئ تاسې متابعت د هوا (د نفساني خواهشونو) کله چې انصاف کوئ تاسې (له حقه مه تېرېږئ یا چې عدول وکړئ له حقه)، که واړوئ تاسې (خپلې ژبې) یا څنګ وکړئ تاسې (له شاهدۍ څخه) نو بې شکه الله دی پر هر هغه شي چې کوئ (يې) تاسې ښه خبردار (نو سم د عمل سره به سمه جزا درکړي). (کابلي تفسیر، ٦۴۰/۲).

دا دوه آیتونه په خپل مابین کې نږدې مفهومونه لري، مفسرینو حضراتو هم؛ چې په النساء سورت کې تفصیل کړی، د المائدې په سورت کې يې بیا تکرار نه دی کړی؛ بلکې په همغه تفسیر يې حواله ورکړې ده، بنده يې هم د خپل وس مطابق د المائدې آیت یو څه وضاحت کوي چې په ضمن کې به د النساء سورت د آیت وضاحت هم ورسره وشي، مفسرین حضرات فرمايي چې په دې مبارک آیت کې الله ﷻ مؤمنانو ته امر کوي، چې د هغه د اوامرو په عملي کولو کې او حق باندې ټینګ ودرېږي. ﴿قَوَّٰمِينَ﴾ د (قوام) جمع ده او د مبالغې صیغه ده، (قوام) هغه چاته ویل کېږي چې یو کار په تکرار او همېشه والي سره کوي؛ داسې چې نوموړی کار يې عادت او کسب وګرځي او په ډېر ښه او پوره ډول يې سرته رسوي، په مبارک آیت کې د ﴿لِلَّهِ﴾ لفظ راغلی دی او دا ورڅخه څرګندېږي چې د اوامرو منل او حق پر ځای کول به یوازې د الله ﷻ د رضا لاسته راوړلو په خاطر وي، نه د کوم

دنيوي غرض او ځان ښودني لپاره.(القرطبي، ٥/ ٤١٠-٤١٣). په مبارک آیت کې له مؤمنانو څخه دویمه غوښتنه دا ده چې ﴿شُهَدَاءَ بِالْقِسْطِ﴾ په عدالت د گواهۍ ورکول دي، مؤمنان باید د قاضي، حاکم او د هر چا په وړاندې ریښتیني گواهي ووايي، واقعیتونه او حقایق باید پټ نه کړي، د گواهۍ ویلو پر مهال باید د خپلوانو، ملگرو او مادي گټو په خاطر حق پټ نه کړي او همدا راز د چا د دوښمنۍ، ویرې او بې وزلۍ له امله په حقایقو کې بدلون را نه وړي. (النسفي، ١/ ٤٠٤). دا چې د دوښمنانو په اړه انصاف کول او د هغوی د حقونو پوره ورکول د انساني طبیعت له مخې آسانه کار نه دی؛ نو الله ﷻ یې په دې جمله ﴿وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلَّا تَعْدِلُوا﴾ کې ځانگړې یادونه وکړه چې مؤمنان به دکافرانو سره هم له عدالت څخه کار اخلي او څوک دي؛ دا گمان نه کوي چې د کافر سره په معامله کې عدالت پرېښودل روا دي، په مبارک آیت کې یوازې په دې ځانگړې یادونه بسنه ونه شوه؛ بلکې د ﴿اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى﴾ په امریه جملې سره یې یو ځل بیا په عدالت کولو ټینگار وکړ او دا یې څرگنده کړه چې عدالت د گناهونو او د الله تعالی د عذاب څخه د ځان ساتلو لاره ده، د دوست او دوښمن دواړو سره یو رنگ عدالت او انصاف کول په حقیقت کې یو ستر مقام او غوره صفت دی، دا مقام او صفت هغه وخت انسان ته په برخه کېږي چې په ځان کې تقوا او د الله ﷻ څخه ویره پیدا کړي، الله ﷻ په یاد آیت کې په تقوا امر کوي او داسې فرمايي: ﴿وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴾ ، یعني په خپلو زړونو کې د الله تعالی وېرې ته ځای ورکړئ! تر څو عدالت کول درته آسانه شي او دا هم په یاد ولرئ چې هغه ستاسو په پټو او ښکاره عملونو او ستاسو په نیتونو ښه خبر دی او تاسو ته به ستاسو د عملونو سزا او اجر درکوي. (النسفي، ١/ ٤٣٢).

په یو ځای کې د شهادت دکتمان په هکله الله ﷻ داسې ارشاد فرمایلی دی: ﴿وَلَا تَكْتُمُواْ ٱلشَّهَٰدَةَۚ وَمَن يَكْتُمْهَا فَإِنَّهُۥٓ ءَاثِمٞ قَلْبُهُۥۗ﴾ (البقره: ٢٨٣). ژباړه: او مه پټوئ شهادت(اې شاهدانو یا اې مدیونانو! چې گویا اقرار هم په خپل ځان باندې شاهدي ده) او هر چا چې پټه کړه دا (شاهدي) نو بې شکه گناهگار دی زړه د ده. (کابلی تفسیر، ٢٦٧/١).

ابوبکر الجصاص  داسې فرمایلي دي چې: د الله تعالی دا وینا ﴿وَلَا تَكْتُمُواْ ٱلشَّهَٰدَةَۚ﴾ یعني: شاهدي هېڅکله مه پټوئ........ دا په خپله یو بشپړ او مستقل کلام دی، دا عام حکم دی، د ټولو هغو شهادتونو په اړه تصدیق کوي چې پر شاهد یې اقامه کول او اداء کول لازم وي، دا د الله تعالی د دې قول په شان دی چې: ﴿وَأَقِيمُواْ ٱلشَّهَٰدَةَ لِلَّهِۚ﴾ (الطلاق: ٢). ژباړه: او ښه ادا کړئ تاسې شاهدي (اې شاهدانو! په وخت د حاجت کې) د پاره د (ثواب او رضا د) الله. (تفسیر کابلی، ٦/ ٢٩٠٩). امام جصاص  فرمايي چې د دې قول په شان دی: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُونُواْ قَوَّٰمِينَ بِٱلْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلَّهِ وَلَوْ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ ﴾ (النساء: ١٣٥). دی فرمايي چې الله تعالی په دغو دوو

آیتونو سره شاهدان له دې څخه منع کړي دي چې هغه شهادت پټ کړي؛ د کوم چې پرېښودل د حقونو د ضایع کېدو لامل ګرځي. (الجصاص، ١/٦۴٨).

د دغو دوو آیتونو لاندې چې تفسیرونه مطالعه شي؛ نچوړ یې دا کېږي چې رښتیا ویل او په حق باندې ګواهي ورکول د الله (عز وجل) امر دی، که د دې ګواهۍ زیان د انسان ډېرو نږدې خپلوانو یعني مور او پلار او آن د انسان خپلو شخصي ګټو ته هم رسېږي نو له رښتیا ویلو به نه تېرېږي، د چا شتمني او بې وزلي هېڅکله د حقایقو د بدلولو لپاره دلیل کېدلای نشي او نه څوک د الله تعالی له عذاب څخه ژغورلی شي.

په اسلامي شریعت کې د عدل ارزښت دومره دی؛ چې په ګڼو آیتونو کې د عدل ارزښت او د پلي کولو غوښتنه په ډاګه شوې دي؛ مثلا په یو ځای کې الله تعالی د پیغمبرانو د لېږلو موخه او هدف د عدالت پلي کول ښایې، په یو ځای کې د ټولنیزو لارښوونو په سر کې د عدل یادونه کوي، په بل ځای کې داسې اخطار ورکوي چې کوم وخت عدالت له ټولنې کډه وکړي نو سملاسي یې ځای ظلم نیسي او ظلم د بدمرغیو او د دنیوي او اخروي عذابونو ستر لامل دی، په ځینو آیتونو کې رسول الله ﷺ ته په عدل کولو امر کوي، په ځینو کې په وزن (تله) او پیمانه کې د عدل غوښتنه کوي، په ځینو کې په وینا او خبرو کې، په ځینو کې د ګواهۍ پرمهال، په ځینو کې د پریکړې پر مهال، په ځینو کې د دوښمنانو په اړه او په ځینو نورو کې د بېلابېلو موضوعاتو او په ځینو کې بیا په عام ډول؛ د ژوند په ټولو اړخونو کې د عدل او د عدالت د تامین غوښتنه شوې ده.

پر عدالت د قرآني آیتونو او مبارکو حدیثونو دومره زیات ټینګار دا جوتوي چې مؤمن یوازې په فردي توګه په عدالت کولو مکلف نه دی؛ بلکې له مؤمنانو څخه د شریعت غوښتنه دا ده چې دوی باید په نړۍ کې د عدالت د بیرغ پورته کوونکي او د ځمکې پر مخ د یو نړیوال عادل نظام را وستونکي وي، همدا ډول په ټولنه کې د هر اړخیز او بشپړ عدالت غوښتنه کوي؛ نه د ټولنې په یو یا څو د ګوتو په شمار اړخونو کې، نو موږ دې نتېجې ته رسېږو چې محصلینو ته د هغوی د حقونو سره سمې نمرې ورکول عدل دی او دا د اسلامي شریعت غوښتنه ده چې باید هر محصل ته د خپل استحقاق سره سمې نمرې ور کړل شي.

مفتي محمد شفیع ﷺ د النساء سورت د (١٣٥) آیت لاندې داسې وضاحت کړی دی: له دې آیت څخه دا په واضح ډول معلومېږي چې انصاف قایمول او په دې ټینګ پاتې کېدل یوازې د حکومت او د عدالت فرض نه دي؛ بلکې هر انسان په دې مکلف او مخاطب دی چې هغه به په خپله هم په انصاف باندې ټینګ پاتې کېږي او نورو لره به هم په دې باندې د ټینګ پاتې کېدلو د پاره کوښښ کوي. (مفتي محمد شفیع، ٢/ ۴٠٩).

مفتي محمد شفیع د المائدې سورت د (۸) آیت لاندې؛ (د امتحاناتو نمرې، سندونه، سرټیفیکیټونه، د انتخاباتو ووټونه ټول د ګواهۍ ورکولو په حکم کې داخل دي)؛ تر عنوان لاندې داسې وضاحت کړی دی چې: په اخر کې یوې بلې خبرې ته مخه کول ضروري دي، هغه داسې چې نن سبا خو ګواهي په عرف او رواج کې صرف هغې ته وایې چې په مقدمو او جګړو کې د قاضي او حاکم پر وړاندې ور کول کېږي، لیکن د قرآن او سنت په اصطلاح کې د شهادت (ګواهۍ) لفظ ډېر پراخ مطلب لري، مثلا دا هم یو شهادت دی چې ډاکټر یو چا ته دا سرټیفیکیټ ورکوي چې فلانی د ډیوټۍ کولو یا د نوکرۍ کولو جوګه او وړ دی یا نه دی، که دا په دروغه ورکړل شي نو د دروغو ګواهي او یوه لویه ګناه شوه، دغه شان په امتحاناتو کې د طالب العلمانو په پرچو نمرې لګول هم ګواهي ده، په قصد یا بې پروایۍ سره که دغه نمرو کې؛ کمی زیاتی راوستل شو نودا هم د دروغو ګواهي شوه چې حرامه ده او سخته ګناه لري، کوم طالب العلمان چې د تعلیم حاصلولو نه وزګار (فارغ) شي، هغوی ته سند یا سرټیفیکیټ ورکول کېږي، دغه هم د دې خبرې ګواهي ورکول دي چې فلانی بنده د فلاني کار کولو لپاره قابل او جوګه دی، که هغه په واقعه کې داسې نه وي نو په دغه سرټیفیکیټ یا سند باندې ټول لاسلیک کوونکي په دروغه د ګواهۍ کولو مجرمان دي. (مفتي محمد شفیع، ۲/ ۵۱۵).

د مفتي صاحب  د وضاحت وروسته لیکو چې محصلینو ته نمرې ورکول؛ که څه هم چې په ظاهره یو اداري عمل دی خو په حقیقت کې د عدالت او شهادت له معنا سره نږدې او نه بېلېدونکي اړیکې لري؛ ځکه استاذ د محصل د علمي حالت په اړه پرېکړه کوي، چې د همدې امله د عدالت اصل پکې لازم دی او د محصل د واقعي استحقاق خلاف نمرې ورکول د شرعي حکم څخه سرغړونه ګڼل کېږي.

**ب: په اسلامي شریعت کې د امانت او مسؤولیت اصل**

مخکې له دې چې د امانت په اړه معلومات وړاندې کړم، مناسب بولم چې لوستونکو ته لومړی د امانت تعریف او مفهوم روښانه کړم:

**تعریف:** امانت هر هغه حق ته وایې چې په تا باندې د هغه اداء کول او خوندي ساتل لازم وي. (المناوي، ۲۲۳/۱).

ځینو ویلي دي چې امانت دا دی چې انسان د هغو شیانو په اړه چې پرې واک لري؛ له نا حقه تصرف څخه پکې ځان ساتل، لکه: مال او نور حقوق، همدا راز هغه اعراض، حرمتونه او حقوق چې پر ده باندې باور ور سره شوی وي د وس او توان مطابق ساتنه کول او هغه څه چې د امانت په توګه ورسپارل شوي وي؛ خپل اصلي څښتن ته سپارل، علامه کفوي وایې: هر هغه څه چې الله (جل جلاله) پر بنده ګانو فرض کړي دي، هغه ټول امانت دي؛ لکه لمونځ، زکات، روژه، د قرض ادا کول، او تر ټولو سخت امانتونه ودیعتونه دي او تر ټولو سخت او مهم ودیعتونه د رازونو ساتل دي.( مجموعة من الباحثين بإشراف الشيخ عَلوي بن عبد القادر السقاف، ۱/ ۸۲).

ابو حذیفه په خپل تفسیر کې داسې لیکلي دي: چې د مکلف په ذمه پورې مربوط؛ هر یو حق د امانت په نامه یادېږي، برابره خبره ده چې هغه د حقوق الله یا د حقوق العباد څخه وي او هم برابره خبره ده چې هغه فعلي وي یا قولي او بالآخره اعتقادي وي؛ ټولو ته امانات وایي.( عزیز، ۳/ ۱۹۳).

**د امانت مفهوم:** په مجموع کې د امانت دوه مفهومه دي، یو عام مفهوم او بل خاص مفهوم، په عام مفهوم سره امانت د اسلام دین د هغو احکامو څخه عبارت دی چې الله تعالی ټول انسانان پرې مکلف کړي دي او په خاص مفهوم سره امانت؛ د هر هغه مادي یا معنوي حق څخه عبارت دی؛ چې په انسان باندې د هغه ساتنه او په خپل وخت سره ذکر شوی حق خپل خاوند ته سپارل لازم وي. (فاطمي، ۱۱۳).

په ګڼ شمېر قرآني آیتونو او نبوي احادیثو کې د مسلمانانو څخه په ډېر ټینګار سره غوښتنه شوې ده چې امانتداره واوسي، دلته موږ یوازې د یو آیت او یو حدیث په ذکر کولو بسنه کوو:

الله ﷻ فرمایلي دي: ﴿إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُكُمۡ أَن تُؤَدُّواْ ٱلۡأَمَٰنَٰتِ إِلَىٰٓ أَهۡلِهَا﴾ (النساء: ۵۸). ژباړه: بې شکه الله تعالی امر کوي په تاسو (ای مؤمنانو) د دې؛ چې وسپارئ تاسې امانتونه اهل د امانتونو ته. (کابلی تفسیر، ۵۱۸/۱).

مفتي محمد شفیع فرمایې: چې په یاد مبارک آیت کې د ﴿الْأَمَانَاتِ﴾ د جمعې صیغې راوړلو څخه مطلب دا دی چې دلته یوازې مالي امانت ترې مراد نه دي؛ بلکې د امانت ټول قسمونه ترې مراد دي؛ چې د حکومت عهدې هم پکې داخلې دي. (مفتي محمد شفیع، ۲/ ۳۰۵).

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، أَنَّهُ: سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "كُلُّكُمْ رَاعٍ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ" (البخاري، ۱/ ۱۲۰). ژباړه: د حضرت عبد الله بن عمر څخه روایت دی؛ چې هغه د رسول الله □ څخه اوریدلي دي، چې هغه داسې فرمایلي دي: تاسو هر یو رعیت لرئ او د خپل رعیت په هکله مسؤول یاست.

دا حدیث پر دې دلالت کوي چې په عام ډول هر انسان د خپل مقام او واک له مخې د هغه څه په اړه مسؤول دی؛ کوم څه چې د ده تر واک لاندې دي.

رسول الله □ په دوامداره او همیشنی توګه صحابه کرام امانتدارۍ ته هڅول: عَنْ أَنَسٍ قَالَ: مَا خَطَبَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا قَالَ: "لَا إِيمَانَ لِمَنْ لَا أَمَانَةَ لَهُ، وَلَا دِينَ لِمَنْ لَا عَهْدَ لَهُ" (الشيباني، ۲۰/ ۴۲۳). ژباړه: د حضرت انس څخه روایت دی، هغه فرمایې چې موږ ته رسول الله یوه خطبه نه ده اورولې؛ مګر په هغې کې به یې داسې فرمایل: څوک چې امنتداري نلري؛ هغه ایمان نلري، او څوک چې په ژمنو باندې وفا نه کوي؛ هغه دین نلري.

د حنفي فقهاوو له نظره امانت یوازې په مادیاتو او مال پورې نه محدودېږي؛ بلکې هر هغه حق، منصب او واک ته شاملېږي چې په هغې پورې د خلکو حقوق تړلي وي، علامه کفوي فرمایي: (وكلُ ما افْترضَ عَلى الْعبادِ

فَهُوَ أَمَانَة)، (الکفوي، ۱۸۷). یعني کوم څه چې په بنده ګانو باندې فرض دي؛ پس هغه امانت دی. دا قاعده دا په ډاګه کوي چې علمي مسؤولیتونه، اداري دندې او تعلیمي ارزونې هم د امانت په مفهوم کې داخلې دي، له همدې امله په اسلامي شریعت کې د امانت اصل د مسؤولیت له اصل څخه بېلېدونکی نه دی؛ ځکه چې د امانت منلو سره د حساب او پوښتنې منل هم لازمي دي، هر څوک چې په امانت کې خیانت وکړي، نو هغه نه یوازې دا چې د بنده ګانو حق تلفي کوي؛ بلکې د دې سره سره د الهي امر مخالفت هم کوي، له دې تفصیل وروسته یادوو چې محصلین او هم د دوی نمرې د استاذ په لاس کې امانت دي او استاذ یې په اړه مسؤول دی، نو استاذانو وروڼو ته لازم دي چې خپلو ګولالیو شاګردانو ته د دوی د استحقاق سره سمې نمرې ورکړي او په دې امانت کې له هر ډول خیانت څخه اجتناب وکړي.

محصل ته د هغه د حق سره سمې نمرې ورکول د استاذ مسؤولیت او مکلفیت دی، محصل ته باید د هغه د هڅې، کارکردګۍ، کورنۍ دندې، ازموینې او صنفي فعالیت سره سمې نمرې ورکړل شي، له بده مرغه به ووایم چې ځینې وختونه د محصل د علمي ارزونې بهیر د عدالت او امانت له چوکاټ څخه؛ د استاذ د شخصي اړیکو، بې پروایۍ، غرض، تعصب، قومیت، سمتییت، کینې، حسد، واسطې یا بل غیر علمي دلیل له مخې بهر شي، محصلینو ته د هغوی د حقیقي حق څخه کمې یا زیاتې نمرې ورکړل شي؛ نو دا عمل په شریعت کې د ګڼو کبیره ګناهونو لکه ظلم، خیانت، غِش، دروغو شهادت او نورو کبیره ګناهونو تر عنوان لاندې راځي او عامل یې د الله تعالی او هم د بنده ګانو په وړاندې مسؤول ګرځي، همدا شان استاذ ته دنمرو ورکولو واک یو امانت دی او که دا واک د عدل پر خلاف وکارول شي؛ نو دا نه یوازې دا چې په امانت کې خیانت دی؛ بلکې په ښکاره ډول ضرر رسول هم ګڼل کېږي، چې د اسلامي شریعت له نظره ګناه او یو حرام عمل دی، دا چې دا برخه هم پراخه ده یو څه زیات وضاحت ته اړتیا لري نو په دې باندې به د ځانګړي عنوان لاندې مقاله ولیکل شي، ان شاء الله تعالی.

په اخر کې ډېر د قدر وړ استاذانو وروڼو ته یو ځل بیا دا وړاندیز کوم چې محصلینو ته د نمرو په ورکولو کې د لوړو زده کړو وزارت له لوري د ارزونې مقررات او معیارونه؛ د عدالت، امانت او مسؤلیت اصول په نظر کې ونیسي.

**پایله**

د دې څېړنې پایله دا ده، چې محصلینو ته د خپل استحقاق سره سم د نمرو ورکول، د شرعیت یو الزامي امر او مسؤولیت دی، چې د اسلامي  شریعت د عدالت، امانت او شهادت پر اصولو ولاړ دی، د استاذ له لوري محصل ته هره نمره ورکول د هغه د علمي وضعیت په اړه شهادت ګڼل کېږي له همدې امله هغه ته د نمرو په ورکولو کې هر ډول کمښت یا زیاتوالی د بې عدالتۍ، ظلم او په امانت کې د خیانت مصداق ګرځي، په څېړنه کې دا روښانه

شوې ده؛ چې د تعلیمي بهیر اصلاح او د علمي کیفیت لوړونه یوازې هغه وخت ممکنه ده چې د نمرو ورکولو په نظام کې د عدالت، تقوا او امانت اصول په عملي او شفاف ډول پلي شي.

د دې څېړنې له بحثونو او فقهي استدلالونو څخه دا څرګندېږي چې محصلینو ته د خپل استحقاق سره سم د نمرو ورکول د اسلامي شریعت یو څرګند حکم او د تعلیمي مسلک اساسي اصل دی، د نمرو په ورکړه کې هر ډول کموالی یا زیاتوالی نه یوازې دا چې د عدالت له اصل سره ټکر لري؛ بلکې په امانت کې خیانت او د ناحقه شهادت بڼه هم خپلوي، همدارنګه د څېړنې څخه دا نتیجه اخلو چې محصلینو ته د نمرو په ورکولو کې باید د عدالت، تقوا او امانت اصول په جدی او عملي توګه مراعات شي.

دا چې ولې په ټوله معنا محصلینو ته د خپل استحقاق سره سمې نمرې نه ورکول کېږي؟ لامل يې دا دی چې موږ خو اول د اسلامي شریعت په ټولو احکامو او ارشاداتو باندې ځانونه نه دي پوه کړي او که وربانديې پوه کړي مو دي نو بیا مو پر ځانونو منلي او عملي کړي نه دي، کوم وخت چې موږ د اسلامي شریعت ارشادات په سم ډول زده کړل، له شمولیت څخه مو يې ځانونه خبر کړل او په پوره معنا مو ورته غاړه کېښوده؛ نو له شک پرته چې بیا به هر حقدار او په ځانګړې توګه محصل ته د خپل اسحقاق سره سمې نمرې ورکول کېږي او د غیر عادلانه نمرو ورکولو څخه به هر استاذ په کلکه اجتناب او پر هېز کوي، چې بیا به پوهنتونونه له شته نیمګړتیاوو او بې عدالتیو څخه خوندي وي.

**وړاندیزونه**

۱- ټولو استاذانو ورونو ته دا وړاندیز کېږي، چې د نمرو ورکولو اړوند د اسلامي شریعت معیارونه مطالعه او په نظر کې ونیسي.

۲- علماء کرام حضرات باید په خپلو سیمو کې عامه پوهاوی رامنځته کړي؛ تر څو استاذان ورونه یادې موضوع ته پوره متوجه شي.

۳- د دعوت ارشاد او اوقافو وزارتونه او هم ریاستونه باید د یادې موضوع په ارتباط خطبې ترتیب کړي او د جوماتونو امامانو او خطیب صاحبانو سره يې شریکې کړي.

۴- د هرې تعلیمي ادارې او په ځانګړې توګه د پوهنتون ادارې رهبری ته دا وړاندیز کېږي، چې د استاذانو د نمرو ورکولو بهیر، لا هم په جدي او نوي میکانیزم سره په دوامداره توګه وڅاري.

۵- نظامي څارنوالی او د امیر المؤمنین د فرمانونو د تعقیب او نظارت ریاستونو ته دا وړاندیز کېږي چې دوی باید په خپلو خپلو ولایتونو او کاري ساحو کې د استاذانو د نمرو ورکولو بهیر وڅاري او د اسلامي شریعت د معیارونو د خلاف په صورت کې باید مجرمین محکمې ته معرفي او عدالت وربانديې پلی کړي.

# أهميةُ وحُكمُ إعطاءِ الدرجاتِ العادلةِ للطلابِ في الشريعةِ الإسلامية

الأستاذ المساعد: سيد نور شاه حسيني، جامعة الشيخ زايد، كلية الشريعة، قسم الثقافة الإسلامية
البريد الإلكتروني: syednoorshahhusaini@gmail.com

**الملخّص**

تتناول هذه الدراسة موضوعَ «أهميةِ وحُكمِ إعطاءِ الدرجاتِ العادلةِ للطلابِ في ضوءِ الشريعةِ الإسلامية»، حيث تسعى إلى بيان الضوابط الشرعية والمعايير الأخلاقية التي ينبغي مراعاتُها في عمليةِ التقييمِ التعليمي. وتهدف الدراسة إلى توضيح الحكم الشرعي لإعطاء الدرجات، وبيان أثر العدالة في تعزيز مصداقية النظام التعليمي، اعتمدت الدراسة على المنهج المكتبي التحليلي والاستدلالي، مستندةً إلى نصوص القرآن الكريم والسنة النبوية وأقوال الفقهاء، وقد بيّنت أن عمليةَ التقييم ليست مجرد إجراء إداري، بل هي شهادةٌ شرعيةٌ وأمانةٌ ومسؤوليةٌ تقع على عاتق الأستاذ، وأن إعطاءَ الطالب درجاتٍ تزيدُ أو تنقص عن استحقاقه يُعدّ من قبيل الظلم والخيانة وشهادة الزور المحرّمة شرعًا، كما أوضحت الدراسة أن الالتزامَ بالعدالة في منح الدرجات يُسهم في تعزيز جودة التعليم، وترسيخ العدالة الاجتماعية، وحفظِ حقوقِ الطلاب، ويُعدّ من مقتضيات التقوى والامتثال للأوامر الشرعية، وخلصت الدراسة إلى أن إصلاحَ النظام التعليمي وتحسينَ مخرجاته لا يتحقق إلا من خلال تطبيق مبادئ العدالة والأمانة والتقوى في عملية التقييم، وأوصت بضرورة نشر الوعي الشرعي بين الأساتذة، وتفعيل آليات الرقابة لضمان النزاهة والعدالة في إعطاء الدرجات.

الكلمات المفتاحية: الأستاذ، الأمانة، العدالة، التقييم العادل، الطالب.

## سرچينې او ماخذونه

قرآن كريم

البخاري، أبو عبدالله محمد بن إسماعيل البخاري الجعفي. (١٤٢٢هـ). صحيح البخاري. محقق: محمد زهير بن ناصر الناصر. (ط.١). الناشر: دار طوق النجاة.

الترمذي، أبو عيسى محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك الترمذي. (١٣٩٥هـ/ ١٩٧٥م). سنن الترمذي. تحقيق وتعليق: أحمد محمد شاكر (جـ ١ – ٢) ومحمد فؤاد عبد الباقي (جـ ٣) وإبراهيم عطوة عوض المدرس في الأزهر (جـ ٤ – ٥). دويم چاپ. مصر، شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي.

الجصاص، أبو بكر أحمد بن علي الرازي الحنفي. (١٤١٥هـ/ ١٩٩٤م). أحكام القرآن. محقق: عبد السلام محمد علي شاهين. (ط.١). بيروت، دار الكتب العلمية.

**ديوبندي، محمود حسن ديوبندي. (د.ت). تفسير كابلی. با فوايد موضع الفرقان: شبير احمد عثماني ديوبندي. له اوردو څخه** پښتو ته ترجمه: دافغانستان د جيدو علماء د هيئت تر نظر لاندې، (۱۳۲۳هـ ش). (د.ط). كويته: المكتبة الحبيبية.

**الشيباني، أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد. (۱۴۲۱هـ/ ۲۰۰۱م). مسند الإمام أحمد بن حنبل. المحقق: شعيب الأرنؤوط – عادل مرشد، وآخرون. إشراف: د عبد الله بن عبد المحسن التركي. (ط.۱). الناشر: مؤسسة الرسالة.**

عزيز، سلطان عزيز ابو حذيفه. (۱۴۴۲هـ ق/۱۴۰۰هـ ش). عزيز التفاسير. (ط.٦). پېښور: دار الكنوز العلميه.

فاطمي، سيد احمد. (۱۴۰۱هـ ش). د اسلام اخلاقي نظام. (ط.۵). جلال اباد، اسحاق زی مارکيټ، ميهن کتاب پلورنځی.

**القرطبي، أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين. (۱۳۸۴هـ/۱۹۶۴م). تفسير القرطبي. تحقيق: أحمد البردوني وإبراهيم أطفيش، (ط.۲). القاهرة: دار الكتب المصرية.**

**الكفوي، أيوب بن موسى الحسيني القريمي ، أبو البقاء الحنفي. (د.ت). الكليات معجم في المصطلحات والفروق اللغوية. المحقق: عدنان درويش – محمد المصري. بيروت، مؤسسة الرسالة.**

**مجمع اللغة العربية بالقاهرة، (د.ت). المعجم الوسيط. (إبراهيم مصطفى / أحمد الزيات / حامد عبد القادر / محمد النجار). (د.ط). الناشر: دار الدعوة.**

**مجموعة من الباحثين بإشراف الشيخ عَلوي بن عبد القادر السقاف. (۱۴۳۳هـ). موسوعة الأخلاق الإسلامية. موقع الدرر السنية على الإنترنت dorar.net.**

**مفتي محمد شفيع. (د.ت). تفسير معارف القرآن. مترجم: مولانا شاه فيصل فاضل وفاق المدارس (ب.ط). پېښور: فيصل کتب خانه.**

**المناوي، زين الدين محمد المدعو بعبد الرؤوف بن تاج العارفين بن علي بن زين العابدين الحدادي القاهري. (۱۳۵۶هـ). فيض القدير شرح الجامع الصغير. (ط.۱). مصر: المكتبة التجارية الكبرى.**

**النسفي، أبو البركات عبد الله بن أحمد بن محمود حافظ الدين. (۱۴۱۹هـ/ ۱۹۹۸م). مدارك التنزيل وحقائق التأويل. حققه وخرج أحاديثه: يوسف علي بديوي. (ط.۱). بيروت، دار الكلم الطيب.**

# د افغانستان لپاره د تاپي پروژې سیاسي او اقتصادي فرصتونه

پوهنیار صادق الله صدیقي د شیخ زاید پوهنتون، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، د نړیوالو اړیکو او سیاسي علومو څانګې استاد

**بریښنالیک:** Sadiqi1371@gmail.com

**لنډیز**

د تاپي پروژه د انرژۍ د انتقال یوه مهمه، ستراتیژیکه او سیمه‌ییزه پروژه ده، چې موخه یې د ترکمنستان ګاز د افغانستان له لارې پاکستان او هند ته رسول دي، چې د دې نل لیکي له بشپړېدو وروسته به په کال کې **۳۳** میلیارد متر مکعب ګاز له ترکمنستان څخه افغانستان، پاکستان او هند ته انتقال شي. یاده پروژه چې ټول اوږدوالی یې ۱۸۱۴ کیلومتره دی او ۸۱۶ کیلومتره یې د افغانستان له خاورې تېرېږي، د سیمې هېوادونو لپاره زیاتې سیاسي او اقتصادي ګټې لري؛ ترکمنستان به د خپلو ګازو لپاره نوي بازارونه پیدا کړي؛ پاکستان او هند به ارزانه ګاز ترلاسه کړي؛ خو د دغو ټولو ترمنځ افغانستان د یو پُل رول لري، چې د دې نل لیکې د تېرېدو اساسي هېواد ګڼل کیږي. په اقتصادي اړخ کې به افغانستان د ترانزیټي عوایدو، زیربنایي ودې، کارموندنې او انرژۍ ته د لاسرسي لپاره نوي فرصتونه پیدا کړي. د سیاسي اړخ له مخې، تاپي پروژه د افغانستان لپاره یو ستراتیژیک سیاسي فرصت دی، چې د رسمیت پېژندنې، نړیوال باور ترلاسه کولو او د هېواد د سیاسي حیثیت د اعادې له پاره ترې ګټه اخیستل کیږي. د څېړنې اساسي موخه د افغانستان لپاره د تاپي پروژې سیاسي او اقتصادي فرصتونو څرګندول دي. څېړنه د کیفي توصیفي میتود له مخې ترسره شوې. د څېړنې عمومي پایلې څرګندوي، چې تاپي پروژه د افغانستان د ثبات، پرمختګ او سیمه ییزې همکارۍ لپاره یو بنسټیز محور ګرځېدلی شي.

**کلیدي ټکي:** افغانستان، اقتصادي فرصتونه، تاپي پروژه، ترانزیټ، سیاسي فرصتونه ، سیمه‌ییزه همکاري.

**سريزه**

**بسم الله الرحمن الرحيم، الحمدلله رب العالمين والصلاة والسلام على سيدالمرسلين وعلى اله و اصحابه اجمعين.**

الله جل جلاله انسان ته بې‌شمېره طبيعي سرچينې او زېرمې ورکړي دي، څو د خپل ژوند د اړتياوو پوره کولو او د دوامدار پرمختګ لپاره ترې ګټه واخلي. د طبيعي زېرمو له ډلې څخه نفت او طبيعي ګاز هغه مهمې انرژۍ دي، چې نه يوازې د هېوادونو د اقتصـــادي ودې بنسټ جوړوي؛ بلکې د نړيوال سياست، تخنيکي پرمختګ او صنعتي فعاليتونو مهم محرک ګڼل کېږي. نن ورځ د انرژۍ د منابعو شتون د هر هېواد لپاره ستراتيژيک اهميت لري. هغه هېوادونه چې غني انرژي سرچينې نه لري؛ هڅه کوي، چې له دې ډول منابعو څخه د ګټې اخيســـتنې لپاره د نړيوالو همکاريو، ســـيمه‌ييزو پروژو او ترانزيتي لارو له لارې خپله اقتصــــادي اتکا ټينګه کړي. له دې اړخه، د افغانستان جغرافيايي موقعيت ځانګړې ارزښت لري، ځکه چې دا هېواد د مرکزي او جنوبي آسيا ترمنځ د اتصال يوه مهمه سيمه ده، چې د انرژۍ د ترانسپورت او نړيوالو پروژو لپاره طبيعي دهلېز جوړوي.

تاپي پروژه د انرژۍ د انتقال يوه اقتصادي، ستراتيژيکه او سيمه‌ييزه پروژه ده، چې هدف يې د ترکمنستان ګاز د افغانســتان له لارې پاکســتان او هند ته رسـول دي. د دې پروژې تطبيق د ســيمې د هېوادونو ترمنځ د اقتصــادي همکاريو، سيمه اييز ثبات او انرژۍ ته د لاسرسي د زياتوالي لپاره مهم فرصت برابروي. افغانستان، چې د دې نل ليکې د ترانزيـټ هېواد دی؛ د دې پروژې له لارې نه يوازې د اقتصــــادي ګټو لکه د ترانزيت عوايدو، کاري فرصــــتونو د رامنځته کيدو، د پانګونې د جلبولو او د زيربناوو د پياوړتيا په برخو کې فرصتونه ترلاسه کولی شي، بلکې د سيمه ييز يووالي، سياسي همکارۍ او د ستراتيژيکو اړيکو د پراختيا لامل هم ګرځي.

له سـياسي اړخه، تاپي پروژه افغانسـتان ته دا فرصـت برابروي چې د منځنۍ او جنوبي اسـيا ترمنځ د نښـلوونکي دهليز په توګه خپل ستراتيژيک ارزښت ډېر کړي او د سيمې د هېوادونو په منځ کې د باور جوړولو او همکارۍ د پراخولو په بهير کې ځان يو مهم لوبغاړی معرفي کړي. د دې پروژې عملي کېدل افغانستان ته دا توان ورکوي چې د سـيمه‌ييزو هېوادونو د انرژۍ او اقتصـادي پاليسـيو په همغږۍ کې برخه واخلي او د خپلو ګاونډيانو سره د اقتصادي متقابل تړاو له لارې د سياسي ثبات زمينه برابره کړي. دغه حالــت کولای شـــي د افغانســـتان نړيوال حيثيت او مشروعيت ته هم وده ورکړي او د بهرني سياست لپاره ورته نوې دروازې پرانيزي.

له اقتصـــادي اړخه، تاپي پروژه د افغانســـتان لپاره د دوامدارو عوايدو يوه مهمه سرچينه ده، چې هر کال به د ترانزيټ له لارې په ميليونونو ډالره عوايد ترلاســه کړي او په دې سره به د ملي عوايدو په ښــه والي کې زياتوالی راشي؛ برسېره پر دې، د پروژې د پلي کېدو پر مهال د کاري فرصـــــتونو زياتوالی، د پانګونې جذب، د ځايي

صنعتونو د فعالېدلو، او د اړوندو زېربناوو لکه سړکونو او برېښنا شبکو د پیاوړتیا له امله د افغانستان د اقتصادي ودې لپاره یو ستر فرصت بلل کیږي؛ دغه اقتصادي فرصتونه د افغانستان د کورني ثبات په ټینګښت کې مستقیم او غیرمستقیم اغېز لرلی شي.

په همدې اساس، دا څېړنیزه مقاله کې هڅه شوي چې د افغانستان لپاره د تاپي پروژې سیاسي او اقتصادي فرصتونه په علمي او تحلیلي ډول وڅېړو؛ تر څو څرګنده شي چې یاده پروژې څنګه کولای شي د افغانستان په سیاسي ارمتیا، اقتصادي ودې او سیمه‌ییزو اړیکو کې د مثبت بدلون زمینه برابره کړي. همداراز به وڅېړل شي چې افغانستان د جغرافیایي موقعیت له مخې، د دې پروژې په عملي کېدو کې څه رول لري او څه ډول کولای شي له دې فرصته د خپل ملي اقتصاد او سیاسي ثبات لپاره ګټه واخلي.

## د څېړنې موخې

۱) : د تاپي پروژې په اړه د عمومي پوهې پراخول: د تاپي پروژې تاریخچه، اهمیت، موخې او د هغې د عملي کیدو په اړه د پوهې زیاتول؛

۲) : د افغانستان لپاره د تاپي پروژې د سیاسي فرصتونو څېړل: دا روښانه کول چې افغانستان څنګه کولای شي د دې پروژې له لارې په سیمه‌ییزو او نړیوالو سیاسي معادلو کې خپل رول پیاوړی کړي؛

۳ ) : د افغانستان لپاره د تاپي پروژې اقتصادي فرصتونو څېړل: د تاپي پروژې له درکه د ترانزیټي عوایدو، کاري فرصتونو، او د زېربناوو د پیاوړتیا کچه روښانه کول.

## د څېړنې ارزښت

تاپي پروژه چې د سیمې له مهمو اقتصادي پروژو څخه ګڼل کیږي، دا څېړنه د یادې پروژې اغېزې په منظم، تحلیلي او تیوریکي چوکاټ کې ارزوي. دا پروژه نه یوازې اقتصادي ابعاد لري، بلکې سیاسي، امنیتي او جیوپولیتیکي اړخونه هم لري، نو څېړنه کولای شي د نړیوالو اړیکو د تیوریو لکه ریالیزم او لیبرالیزم په رڼا کې د یوې عملي قضیې تحلیل وړاندې کړي. له همدې امله دا څېړنه د اکاډمیکو ادبیاتو د غني کولو او د سیمه ایزو مطالعاتو د پراختیا لپاره مهم ارزښت لري.همدارنګه د افغانستان د اقتصادي پرمختګ لپاره د تاپي پروژې احتمالي فرصتونه لکه د ترانزیټ عواید، د انرژۍ تامین، او د پانګونې جلب په تفصیل سره تحلیل کوي. دا ډول علمي تحلیلونه کولی شي د پالیسۍ جوړونکو، اقتصادي پلان جوړونکو، او دولتي بنسټونو لپاره یو مهم لارښود وي، څو د پروژې له فرصتونو څخه اعظمي استفاده وکړي او د احتمالي ستونزو مخه ونیسي.

د سیاسي اړخ له پلوه دا څېړنه د افغانستان د سیمه‌ییز موقف، بهرني سیاست، د نړیوال بارو په ترلاسه کولو او د هېوادونو ترمنځ د متقابلې همکارۍ پر پراختیا رڼا اچوي، چې څنګه تاپي پروژه کولای شي افغانستان د مرکزي او جنوبي اسیا ترمنځ د وصل په حیث مطرح کړي او د هېواد جیوپولیتیکي اهمیت لوړ کړي. په همدې اساس، څېړنه د سیمه‌ایزې همکارۍ، باور جوړونې، او سیاسي ثبات په تحلیل کې مهم رول لوبوي.دا څېړنه د علمي تشې د ډکولو له پلوه هم ارزښت لري، ځکه چې د تاپي پروژې په اړه ډېرې کمې لیکنې شویدي او یا که شوي هم دي؛ هغه هم تر ډېره د یادې پروژې پر اقتصادي اړخ تمرکز کوي؛ خو دا څېړنه دواړه اړخونه(سیاسي او اقتصادي)په هر اړخیز ډول تحلیل کوي. له همدې امله دا څېړنه کیدلی شي، چې د راتلونکو څېړنو لپاره یو بنسټیز ماخذ وګرځي.

## د کار مواد او کړنلاره

دا څېړنه له کیفي توصیفي میتود له ډلې څخه ده، چې د معلوماتو او اطلاعاتو په راټولولو کې د کتابتوني میتود څخه ګټه اخیستل شویده، او د معلوماتو د راټولولو لپاره له کتابونو، مقالو، ژورنالونو او معتبرو انټرنیټي سرچینو څخه استفاده شوې ده. لومړی د موضوع اړوند معلومات راټول شوي او د څېړنې لپاره ورته چوکاټ تاکل شوی دی، بیا د موندنو ارزونه شوې او د څېړنې له نورو برخو سره یې اړیکې تحلیل شویې دي. په وروستي پړاو کې، د څېړنې پایله او جمع‌بندي ترسره شوې ده.

## د تاپي پروژې(منځنۍ آسیا څخه جنوبي آسیا ته د ګازو انتقال) تاریخي مخینې ته کتنه

د تاپي پروژې مفکوره لومړی ځل په ۱۹۹۰مه لسیزه کې وړاندې شوه، کله چې ترکمنستان د شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته خپلواکي واخیسته او هڅه یې کوله چې د خپلو طبیعي زیرمو لپاره نوي بازارونه ومومي. ترکمنستان د نړۍ یو له سترو ګازي زیرمو لرونکو هېوادونو څخه دی، چې د خپلو ګازو د صادرولو لپاره د بدیلو لارو په لټه کې و، ځکه په روسیې باندې یې تکیه د سیاسي او اقتصادي لحاظه ډېره حساسه وه. امریکا چې له سړې جګړې وروسته د نړۍ یوازینی ځواک و او هرڅه یې د ځان بلل، نو هڅه یې کوله چې مرکزي آسیا د ګازي زیرمو لپاره جنوبي آسیا کې بازار پیدا کړي او مرکزي آسیا د روسیې له انحصار څخه وباسي، نو په دې خاطر یې د افغانستان له لارې د تاپي پروژې ملاتړ کاو. پاکستان هم له امریکا سره تر ډېره همغږی و، ایران بیا ډېري هلې ځلې کولې، چې د داخلي صادراتو په لیرد سره دا پروژه په خپل کنټرول کې راولي او که تیریږي نو ددوی خاوره دې وکارول شي(عاصم، ۲۰۱۸، ص.۳۱).

د دغـې نل‌ليکې تېرولو پر سر په ۱۹۹۰ مه لسيزه کې د ارجنټاينې کمپنۍ برېداس او امريکايي کمپـنۍ يونيکال ترمنځ مقابله پيل شوه، چې هرې کمپنۍ هڅه کوله؛ ترڅو د يادې نل ليکې د تېرولو قرارداد ترلاسه کړي (خليل، ۲۰۱٦، ص.۴ ).

د ۱۹۹۴ کال څخه بيا د طالبانو لومړۍ واکمنۍ تر پايه پورې د دواړو کمپينو (بريداس او يونيکال) له خوا ډيرې هڅې وشـوې ترڅو د يادې پروژې قرارداد ترلاســه کړي او په دې هکله دواړو کمپنيو څو څو ځلي د ښــکيلو خواوو سره خبرې وکړې او په دې برخه کې يې ځينې تړونونه هم لاسليک کړل او خپل دفـــترونه يې په کابل کې پرانيستل؛ خو وروسته د امريکا د هغو فشارونو له امله، چې پر طالبانو باندې د بشـري حقونو د سرغـړونو په بهانه وارد شوي وو، يونيـــکال او بريداس خپل دفترونه وتړل. تر دې وروسته د امريکا پام د القاعدې د مشرـ په نيولو را څرخـــيده او کيسه سياســـي شوه افغانستان په بل لوري روان شو او يوځل بيا د منځنۍ او سويلي آسيا ترمنځ د راشه درشه مزي وشليدل او واشنگټن هڅه کوله، چې په افغانستان کې نظام بدل او په نوې بڼه منځنۍ آسيا ته ځان ورسوي، چې په پاى کې يې د طالبانو رژيم له منځه يوړ (باختری، ۱۴۰۲، ص. ٥٦).

د طالبانو حکومت له ړنګېدو وروسته د ۲۰۰۲ م کال د ډېسـمبر په ۲۷ مه افغانسـتان، پاکسـتان او ترکمنسـتان د تاپي په اړه يو نوی تړون لاسليک کړ او د تاپي لار يې يقيني کړه. همدا راز د آسيا پرمختيايـــي بانک (ADB)د دغې پروژې د عملي کېدو په اړه په ۲۰۰۳م کال کې د ارزونې مطالعه پيل کړه او په ۲۰۰۵ کال کې يې بشــپړه کړه، او هند هم په ۲۰۰۸م کال کې په رســمي ډول دې پروژې سره يوځای شــو. د ۲۰۰۸ کال د اپرېل پر ۲۴، پاکستان، هند او افغانستان د دې پروژې لپاره يو چوکاټي هوکړه‌ليک (Framework Agreement) لاسـليک کړ ترڅو له ترکمنستان څخه طبيعي ګاز واخلي (خليل، ۲۰۱٦،ص.۱۲ ).

په ۲۰۱۰ کال د دسمبر په يوولسمه نيټه د تاپي ګاز پايپ لاين د جوړېدو وروستی تړون په پروژه کې د شامـــلو هېوادونو مشرانو له خوا د افغانسـتان د پخواني ولسـمشرـ حامد کرزي په حضـور کې په عشق‌آباد کې لاسـليک شو. دې تړون د لاسليـک پر مـهال مشرانو هيله څرګنده کړه چې دا پروژه به په ۲۰۱۴م يا ۲۰۱۷م کال کې بشپړه شي، خو داسې ونه شول (باختري،۱۴۰۲، ص. ۱۳).

په عملي ډول د تاپي پروژې د بنسټ ډبره د ۲۰۱۵ کال د دسمبر په ۱۳مه نېټه، د ترکمنستان د ګالکينيش د طبعي ګازو په ساحه کېښودل شوه. بلاخره د ۲۰۱۸ کال د فبرورۍ په ۲۳ مه د تاپي د ګازو نال ليکې عملي کار د افغانستان په خاوره کې هم پيل شو، خو د امنيتي ستونزو له امله دا کار هم ودرېد (باختری، ۱۴۰۲، ص. ٥٧).

کله چې طالبان یو ځل بیا د ۲۰۲۱ کال د اګسـت په میاشـت کې جمهوري نظام له پرځیدو وروسـته واک ته ورسېدل، تاپي پروژه یو ځل بیا د بحث او پاملرنې وړ وګرځېده. طالبانو دا پروژه د افغانستان د اقتصادي ثبات، سیمه‌ییز اتصال، او د خلکو د ژوند د ښه والي لپاره ډېره مهمه وبلله. د دوی له لوري له واک ته رسېدو وروسته، څو ځلې له ترکمن چارواکو سره ناستې وشوې او طالبانو اعلان وکړ، چې د تاپي پروژې بشپړ ملاتړ کوي او د امنیتي خوندیتوب ډاډ به ورکوي. چې په پای کې له څو کلونو ځنډ وروسته بالاخره دغه پروژه د ښکېلو خواوو په هڅو د ۲۰۲۴ کال د سپټمبر په ۱۱ مه په هرات ولایت کې پیل شوه. په دې مراسمو کې چې د هرات ولایت کې جوړ شوي و، د افغانستان د اسلامي امارت رئیس الوزراء محمد حسن اخوند په مشرۍ یو لوړ پوړي پلاوي ګډون کړی و او د ترکمنسـتان له لوري د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزیر په مشرۍ یو پلاوي ګډون کړی و. تر اوسـه پورې د افغانسـتان په خاوره کې د تاپي پروژې ۴۴ کیلومتره پایپ غځونه شـوې او د دې پروژې ۱۲۴ کیلومتره لاره هواره شوې ده.

## د تاپي پروژې عمومي پېژندنه

تاپي(TAPI) یوه مرکبه اصطلاح ده، چې څلورو هېوادونو (ترکمنسـتان، افغانسـتان، پاکسـتان، او هند) له نومونو څخه اخیستل شوې ده.

د تاپي پروژه او یا په بل عبارت د سرو زرو کرښـه (ګولډن لاین ) دافغانسـتان او سـیمې له پاره خورا لوی اهمیت لري او د سیمې له سترو پروژو څخه شمېرل کېږي چې د طبیعي ګازو د صادراتو لپاره طرحه شوې ده. افغانستان پکې مهم رول لري او تمه کېږي، چې دا پروژه به هېواد د سـیمه‌ییزو اقتصادي فعالـیتونو پر یو مهم مرکز بدل کړي. د تاپي نل‌لیکې بیا فعاله کول د جنوبي او مرکزي آسـیا لپاره یو سـتر پرمختګ ګڼل کېږي، چې سـیمه‌ییز اتصال او اقتصادي وده پیاوړې کوي(عاصم،۲۰۱۸، ص.۱۲۳).

د تاپي پروژې پایپ لاین چې ۵٦ انچه قطر او ۱۸۱۴ کیلو متره اوږدوالی لري، د ترکمنسـتان د دولـت‌آباد ولسوالۍ د ګالکینش له سیمې څخه سرچینه اخلي، چې د ۲۱۴ کیلومتره واټن څخه وروسـته بیا د تورغونډۍ له لارې د افغانسـتان هرات ولایت ته داخلېږي. د تاپي پایپ‌لاین هغه برخه چې د افغانسـتان له خاورې تېرېږي په مجموعي ډول د ۵ ولایتونو(هرات، فراه، نیمروز، هلمند او کندهار) ، ۱۹ ولسـوالیو ۱۹۷ کلیو څخه چې ټولټال ۸۱٦ کیلومتره کیږي، چې د هرات له تورغونډۍ څخه نیولي او د کندهار تر سپین بولدک پورې سیمې په خپل قلمرو کې رانغاړي. کله چې دا پایپ‌لاین د افغانسـتان خاوره پرېږدي، نو د کوټې له لارې د پاکسـتان بلوچسـتان ته داخلېږي، چې د ۸۲٦ کیلومترو واټن په تېرېدو سره له هغې ورسته هند ته داخلېږي. د دې پایپ‌لاین وروستی تم ځای د هند «فازیلکه» ښار دی(Mehrzai and Safai.,2019).

تاپي پروژه باندې د ۲۲.۵ میلیارده امریکایي ډالرو لګـــښت راځي، چې په پیل کې به هر کال ۳۳ ملیارد مکعب متره ګاز افغانستان، پاکستان او هند ته لېږدوي. تاکل شویده چې هند او پاکستان هر یو یې ۴۲٪ په سلو کې او افغانستان ۱۵ نیم په سلو کې ګازو د ترلاسه کولو حق ولري. په دې کې د افغانســـتان کلنی برخه ۵ ملیارده متر مکعبه او د هند او پاکستان برخه بیا ۱۴ څوارلس ملیارده متر مکعبه ده. د سیمې په دغه ستره پروژه کې به تر ۸۵ سلنه پانګونه د ترکمنستان حکومت کوي او پاتې ۱۵ سلنه به په شریکه او په برابره کچه د افغانستان، پاکستان او هند حکومــتونه کوي. د افغانستان په ۵ سلنه برخه کې به د اسیا پرمختیایي بانک ۳ سلنه همکاري کوي او پاتی ۲ سلنه به افغان حکومت په خپله ورکوي(عاصم، ۲۰۱۸، ص.۱۳۴).

دغه پروژه، چې چارې یې د یوې ګډې کمپنۍ (TAPI Pipeline Company Limited) TPCL لخوا ترسره کیږي، د افغانستان له لارې هند او پاکستان تیریږي، نو دغه دوه هېوادونه اړ دي، چې افغانستان ته ترانزیتي فیس ورکړي. چې هر کال به د تاپي ترانزیتي فیس تقریباً ۵۰۰ ملیون ډالره وي ( Mehrzai and Safai.,2019).

## د افغانستان لپاره د تاپي پروژې سیاسي او اقتصادي فرصتونه

### الف: د افغانستان لپاره د تاپي پروژې اقتصادي فرصتونه

د تاپي پروژه چې د طبیعي ګازو یو ستره سیمه‌ییز ترانزیتي پروژه ده؛ چې نه یوازې د انرژۍ د انتقال یوه لاره ده، بلکې د هغې له لارې افغانســتان ته مهم اقتصـادي فرصـتونه هم برابریږي، په دې تفصـیلي علمي لیکنه کې به د افغانستان لپاره د تاپي پروژې اقتصادي فرصتونه له مختلفو اړخونو وڅېړو:

#### ۱ــ د ګازو ونډه او اقتصادي فرصتونه

د تاپي پروژه افغانســـتان ته دا فرصـــت ورکوي چې په ارزانه بیه طبیعي ګاز ترلاســـه کړي، دغه پایپ لاین به د افغانســـتان له خاورې هر کال ۳۳ میلیارده متر مکعب طبیعي ګاز پاکستان او هند ته لېږدوي. تاکل شویده چې هند او پاکستان هر یو یې ۴۲٪ په سلو کې او افغانستان ۱۵ نیم په سلو کې ګازو د ترلاسه کولو حق ولري. په دې کې د افغانسـتان کلنی برخه ۵ ملیارده متر مکعبه او د هند او پاکسـتان برخه بیا ۱۴ څوارلس ملیارده متر مکعبه ده (عاصم، ۲۰۱۸، ص. ۱۳۴).

د ګازو دغه اندازه کولی شي د انرژۍ کورني اړتیاوو په پوره کولو کې مرسـته وکړي او له نورو هېـوادونو څخه د انرژۍ پر وارداتو تکیه کمه کړي. د یادوني وړ ده چې افغانستان یوازې د ۲۰۲۴ کال په دویمه ربع کې له بېلابېلو هېوادونو څخه د ۹۷ میلیونه ډالرو په ارزښـــت مایع ګاز وارد کړي دي(د ســـتراتیژیکو او ســـیمه اییزو څېړنو مرکز،۱۴۰۳، ګڼه. ۴۴۷).

د یو بل اتــــکل له مخې له دې پروژې څخه به افغانستان په لومړي لسیزه کې ۵۰۰ میلیونه متر مکعب، په دویمه لسیزه کې یو میلیارد متر مکعب، او په درېیمه لسیزه کې یو نیم میلیارد متر مکعب ګاز په مناسبه بیه ترلاسه کړي. د دې پروژې له برکته به د سون توکو بیې راټیټې شي او کېدای شي په اوږدمهال کې له دې ګازه په ترانسپورت کې هم مؤثره اســتفاده وشي. که افغانســتان وکولای شي د خپلو داخلي منابعو څخه کافي ګاز تولید کړي، نو د همدې پایپ لاین له لارې به یې پاکستان او هند ته صادر کړي(قریشي،۱۴۰۲، ص. ۱۲۶).

**۲ــ د ترانزیت له لارې د عوایدو زیاتوالی**

د تاپي پروژه افغانســـتان ته د ترانزیت له لارې د مســـتقیمو عوایدو یوه مهمه سرچینه ده. د پروژې له مخې، د افغانســـــتان له خاورې به هر کال میلیاردونه متر مکعب طبیعي ګاز تېرېږي، چې د دې په بدل کې به افغانستان تقریباً تر ۵۰۰ میلیونه ډالره د ترانزیت فیس ترلاسه کوي. دا فیسونه کولی شي د دولت د عوایدو په زیاتوالي کې مهم رول ولوبوي (عاصم، ۲۰۱۸، ص. ۱۳۵).

**۳ــ د دولت په ملي بودیجه کې زیاتوالی**

له دې پروژې څخه به افغانستان د ګازو د ترانزیت له حق څخه مستقیم عواید ولري. چې دا ډالر د دولت د مالي سرچینو په پیاوړتیا او د بنسټیزو پروژو په پراختیا کې مرسته کولی شي، څرنګه چې دا عاید د ډالرو په بیه ترلاسه کیږي دا هم مهم دي ځکه چې دا د افغانیو ارزښت لوړوي او په اوږد مهاله توګه دا ارزښت ثابت پاتې کیږي(د ستراتیژیکو او سیمه اییزو څېړنو مرکز،۱۴۰۳، ګڼه. ۴۴۷).

**۴ــ د کار موندنې فرصتونه او د بیکارۍ کچه کمیدل**

تاپي پروژه د افغانستان د زېربناوو، امنیت، او خدماتي سکتور د پراختیا له لارې زرګونه افغانانو ته د کار موندنې زمینه برابروي؛ د پایپ لاین د غځولو، ســاتنې، امنیت، او خدماتو په برخه کې مســـتقیم او غیر مســـتقیم کارونه رامنځته کېږي. د افغانستان د اسلامي امارت د ویاند په وینا هغه کسان چې استخدامیږي په مختلفو پړاوونو کې به توپیر ولري او په مســـتقیم ډول به تر ۱۲ زره کســـان او په غیر مســـتقیم ډول زرګونه نورو ته کاري فرصـــتونه برابرشي(د ستراتیژیکو او سیمه اییزو څېړنو مرکز،۱۴۰۳، ګڼه. ۴۴۷).

پخوا د دې پروژې د امنیت لپاره د ۷۰۰۰ تر ۱۰۰۰۰ پورې د امنیتي ځواکونو ګمارل پلان شوي وو، خو د اوسني امنیتي و ضعیت له مخې، دومره ځواک ته اړتیا نشــته. د تاپي پروژې تطبیق، پرته له دې چې د ګازو ترانزیت تأمین کړي، نور بنسـتیز فرصـتونه هم برابروي؛ د بېلګې په توګه، د دې پایپ لاین ترڅنګ د فایبر نوري کیبلونو غزول به حکومت ته دا زمینه برابره کړي چې د هېواد بېلابېلو ســیمو ته انټرنټي خدمتونه ورســوي. اوس مهال

افغانستان له خپلو پنځو ګاونډیو هېوادونو (پاکستان، ایران، ازبکستان، تاجکستان او ترکمنستان) سره د فایبر نوري شبکو له لارې وصل دی (قریشي، ۱۴۰۲، ص.۱۲۷).

**۵ ــ د بهرنۍ پانګوونې جذبول**

ټاپي پروژه د نړیوالو پانګوالو لپاره دا پیغام لري چې افغانستان کولی شي د لویو اقتصادي پروژو کوربه توب وکړي. د پروژې د تطبیق له امله به د پانګوالو باور پر افغان بازار زیات شي، چې دا به د خصوصي سکتور د پراختیا او تنوع سبب وګرځي. پانګوال به هڅه وکړي چې په انرژۍ، ترانسپورت، جوړښتي او خدماتي برخو کې پانګونه وکړي، چې له امله به نه یوازې د کارموندنې کچه لوړه شي؛ بلکې د سوداګرۍ کلتور به هم وده وکړي. (صالحي،۱۴۰۳، ص.۱۲).

د دې پروژې په پلي کېدو سره تمه ده چې نورې نوې پروژې لکه له ترکمنستان څخه پاکستان ته د برېښنا لېږد، د اورګاډي کرښه د نوري فایبر د لېږد پروژې هم د وخت په تیریدو سره عملي کیږي. د دې تر څنګ تمویل کوونکي او پانګوال هڅول کیږي چې خپلې نیمې پاتې پروژې چې له پخواني حکومت سره یې په پلي کولو کې همکاري کړې، لکه د کاسا ۱۰۰۰ پروژه، د ټوټاپ پروژه، د سالنګونو د نوي تونل د جوړولو پروژه او نوري ملي پروژې بشپړې کړي او نورې نوې پروژې پلان کړي(د ستراتیژیکو او سیمه اییزو څېړنو مرکز،۱۴۰۳، ګڼه. ۴۴۷).

**٦ــ د زیربنایي پرمختګونو پیاوړتیا**

ټاپي پروژه د فزیکي زیربناوو د پراختیا یو مهم خوځښت ګڼل کیږي،چې دې ته په پام سره چې په دې پروژه کې د ۸۰۰ کیلومترو څخه په ډېر اوږدوال کې نل لېکه د افغانستان په خاوره کې تیریږي، د پروژې د عملیاتو د ملاتړ لپاره سوداګریزو او صنعتي زیر بناوو ته اړتیا ده. د پایپ لاین د غځېدو لپاره اړتیا ده چې سړکونه، پلونه، د موادو د انتقال سیستمونه، بریښنایي شبکې، او امنیتي تاسیسات جوړ شي. دغه ډول بنسټونه نه یوازې د پروژې اړتیاوې پوره کوي، بلکې د سیمه‌ییز اقتصاد د انکشاف لپاره اوږدمهاله ګټه لري. د دغو بنسټونو له برکته د لرو پرتو سیمو خلکو سره اړیکې پراخیږي، بازارونه فعاله کېږي، او خلک کولای شي خپلې اقتصادي پروژې پرمخ یوسي. دا حالت د متوازن پرمختګ او سیمه‌ییز انکشاف لپاره یو ستر فرصت ګڼل کېږي(د ستراتیژیکو او سیمه اییزو څېړنو مرکز،۱۴۰۳، ګڼه. ۴۴۷).

**۷ــ انرژۍ ته لاس‌رسی او صنعتي پراختیا**

افغانستان د انرژۍ له سخت کمښت سره مخ دی، او دا کمښت د صنعت، فابریکو، ښوونیزو موسسو، روغتونونو او کورنیو لپاره لوی خنډ دی. ټاپي پروژه افغانستان ته د طبیعي ګازو د لاسرسي یو ستر فرصت وړاندې کوي. د

انرژۍ ارزانه سرچینه کولی شي فابریکې بېرته فعاله کړي، نویو تولیدي واحدونو ته وده ورکړي، او په ټوله کې د صنعتي بنسټونو د احیاء او ودې لامل وګرځي. دا حالت د صادراتو د زیاتوالي، وارداتو د کمښت او اقتصادي خپلواکۍ لپاره بنسټیز اهمیت لري. د افغانستان د صنایعو ټولنه د ټاپي پروژې بشپړول د هېواد د اقتصادي ودې او پرمختګ لپاره یو مهم انجن ګڼي. د دې ټولنې مشـــــر، عبدالجبار صافي، د پروژې پر اهمیت ټینګار کوي، وایي چې، دا پروژه به زرګونه کاري فرصـتونه رامنځته کړي. هغه همداراز اشـاره وکړه چې د افغانسـتان سـوېل لوېدیځ سیمه به د یو مهم اقتصادي مرکز په توګه راڅرګنده شي (Afzal, 2024).

نو ویلی شـو چې، د ټاپي پروژه نه یوازې د انرژۍ د انتقال یوه سـیمه‌ییزه پروژه ده، بلکې د افغانسـتان لپاره یوه سـتراتیژیکه اقتصـادي پانګه هم ګڼل کېږي، چې د عوایدو، کارموندنې، زیربناوو، انرژۍ، سـیمه‌ییز تعامل، او پانګونې له اړخه دا پروژه افغانستان ته بې‌سارې فرصتونه وړاندې کوي.

**ب: د افغانستان لپاره د ټاپي پروژې سیاسي فرصتونه**

د ټاپي پروژه د افغانسـتان لپاره یواځې یوه اقتصـادي پروژه نه ده؛ بلکې یو سـیاسي او سـتراتیژیک فرصـت هم دی،چې په لاندې برخو کې ورڅخه په دې علمي څېړنه کې یادونه کوو:

**۱ــ د افغانستان لپاره د نړیوال باور ترلاسه کولو او اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې بهیر سره مرسته کول**

ټاپي پروژه نه یوازې یو اقتصادي نوښت دی، بلکې د افغانستان لپاره یوه ستراتیژیکه سیاسي موقع هم ده، چې د نړیوال باور، د نړیوال رسـمیت پېژندنې، او د هېواد د سـیاسي حیثیت د اعادې له پاره ترې ګټه واخیسـتلای شي. افغانستان، چې په تېرو څلوېښتو کلونو کې د پرله‌پسې جګړو، اشغالونو، کورنیو شخړو او سیاسي بې‌ثباتۍ له امله د نړۍ له مهمو پرمختیایي بهیرونو څخه شاته پاتې شوی؛ اوس د ټاپي په څېر پروژو له لارې دا فرصت لري چې یو ځل بیا ځان د نړیوال نظام له تمثیلي چوکاټه برخه وګرځوي. د اسـلامي امارت لپاره، چې تر اوسـه په نړیواله کچه د رسمیت له نشتوالي سره مخ دی؛ یواځې د یو هېواد «روسیې» له خوا په رسمیت پېژندل شوی دی. ټاپي پروژه د یوې مهمې سـیاسي وسـیلې حیثیت لري. که څه هم دا پروژه د طالبانو له واک ته رسـېدو وړاندې طرحه شوې، خو د دوی له خوا د عملي کېدو هڅې دا ښیي چې دا رژیم سیاسي تعامل ته لېواله دی. د دې پروژې د امنیت سـاتنه، د سـیمه‌ییزو هېوادونو سره مذاکرات، او د نړیوالو ادارو سره همکاري، ټول د دې لپاره نښـې دي چې اسلامي امارت غواړي د مسؤل سیاسي بازیګر په توګه خپل ځان وښیي. که چېرې دا پروژه د عمـلي کېدو پړاوونه بریالي طي کړي، نو دا به د نړیوال مشروعیت د لاسته راوړنې لپاره یو مهم بنسټ وي. (صالحی، ۱۴۰۳، ص. ۸).

### ۲ــ افغانستان د سیمې هیوادونو د سیمه ییز اتصال په مرکز  بدلول

ټاپي پروژه د سـیمې د دولتونو ترمنځ سـیاسي توازن ته نوې بڼه ورکوي او افغانسـتان پکې یو کلیدي سـیاسي موقعیت تر لاسه کوي. د پاکستان لپاره، دا پروژه د انرژۍ د بحران حل دی، هند ته د منځنۍ اسیا د ګازو لاسته راوړنه ده، او ترکمنسـتان ته د اقتصـادي پراختیا نوې دروازه ده. خو د دغو ټولو ترمنځ افغانسـتان د یو پُل رول لري. همدا رول افغانستان ته دا فرصت ورکوي چې د سیمې له ټولو هېوادونو سره د برابر تعامل غوښتنه وکړي. د دې موقعیت سـیاسي اړخ دا دی چې افغانسـتان له سـیاسي انزوا څخه راوتلی، او د سـیمې د اسـتراتېژیکو معادلاتو یوه مهمه برخه ګرځېدلی.(صالحي، ۱۴۰۳، ص.۸).

### ۳ــ د پاکستان سره د شخړو د کمولو او همکارۍ نوي وسیله

ټاپي پروژه کولای شي د افغانسـتان او پاکسـتان ترمنځ د اوږدمهالو سـیاسي شـخړو په کمولو کې د یوې عملي وسـیلې رول ولوبوي، ځکه چې دواړه هېوادونه د دې پروژې له لارې د میلیاردونو ډالرو اقتصـادي ګټې او د انرژۍ اړتیاوې ترلاسـه کوي. د ګډو اقتصـادي ګټو شـتون دواړه اړ کوي چې د سـیاسي دښـمنۍ پر ځای د همکارۍ لارې ولټوي. د پروژې د خونـدیتوب لپـاره د سرحدي امنیت پیاوړتیا او د ګډو کمیټو جوړېدل د سیاسي خبرو اترو تسلسل تضـمینوي، چې دا خپله د اعتماد جوړونې بنسـټ برابروي. له بلې خوا، د متقابلې انحصـار اصـل عملي کېږي، یعنې پاکسـتان د افغانسـتان د ترانزیت پر لارو او افغانسـتان د پاکسـتان پر انرژۍ او عوایدو متکي کېږي، چې دا تړاو دواړه اړ باسي د خـپلو شـخړو د کمولو پر ځای د ګډو ګټو د خوندي کولو هڅې وکړي. په دې توګه، ټاپي پروژه د افغانستان او پاکستان لپاره ددښـمنۍ پر ځای د متقابل باور او همکارۍ د رامنځته کېدو یو مهم فرصت ګڼل کېږي(Afzal, 2024).

### ۴ــ د نړیوالو قدرتونو پام ځانته را اړول

ټاپي پروژه د افغانستان لپاره د دې فرصت رامنځته کوي چې د نړیوالو قدرتونو پام ځان ته راواړوي او د دوی د ستراتیژیکو ګټو په نقشه کې ځان ځای پر ځای کړي. په نړیوالو اړیکو کې د انرژۍ امنیت د ځواک د توازن او د قدرت د سیاسـت مهمه برخه ګڼل کېږي. د ۲۱مې پېړۍ په سـیاسي جغرافیه کې انرژي د نفوذ او واک د یوې وسـیلې په توګه کارول کېږي. له همدې امله، ټاپي پروژه تل د سـترو قدرتونو د توجه او پانګونې مرکز ګرځي. افغانســتان کولای شي د ټاپي له لارې د امریکا، چین، روســیې او حتی منځني ختیځ هېوادونو پام ځانته جلب کړي. له بلې خوا، د افغانستان موقعیت داسې دی چې د نړۍ ځواکونه په کې د خپل نفوذ د ټینګولو لپاره سیالي کوي. د ټاپي پروژې عملي کېدل کولای شي دغه سیالي د جنګ له بڼې څخه د اقتصادي او سیاسي همکارۍ پر لور بوځي (Indeo ,2025).

**۵- د کورني سياسي ثبات لپاره زمينه**

ټاپي پروژه د افغانستان د کورني سياسي ثبات لپاره يو مهم فرصت ګڼل کېږي. د افغانستان د کورنيو سياسي شخړو يوه لويه ستونزه اقتصادي کمزوري او د خلکو د اعتماد نشتوالی دی. کله چې دولت د خلکو لپاره د عايد سرچينې برابرې کړي او د پراختيايي پروژو عملي کېدو ته لاره هواره کړي، نو په طبيعي ډول د خلکو او دولت تر منځ د اعتماد کچه لوړېږي. ټاپي پروژه چې د ميلياردونو ډالرو په ارزښت پانګونه او د زرګونو کاري فرصتونه رامنځته کوي، کولای شي د خلکو لپاره د اقتصادي هوساينې ترڅنګ د سياسي سکون زمينه هم برابر کړي.
په سياسيت کې تل ويل کېږي چې اقتصادي پرمختګ د سياسي ثبات بنسټ جوړوي. افغانستان د جګړو او ناامنيو له کبله له دې اصل څخه بې‌برخې پاتې شوی دی. د ټاپي پروژې عملي کېدل افغانستان ته د دې فرصت ورکوي چې د کورني سياست د يووالي لپاره له اقتصاد څخه وسيله جوړه کړي. کله چې خلک د پروژې عملي ګټې ويني، نو د ملي مشارکت حس به يې پياوړی شي، او د قومي، ژبني او سيمه‌ييزو وېشونو پر ځای به د ګډو ملي ګټو پر محور راټول شي. له دې سره، د ټاپي پروژه د افغانستان د حکومت لپاره يوه وسيله ده څو د خپلو سياسي مخالفينو پر وړاندې د مشروعيت قوي دليل وړاندې کړي او په پايله کې به د سياسي مشروعيت فضا رامنځته کړي(Asd ,2024).

**٦- د سيمه‌ييزو شخړو په کمولو کې ښه اغېزکول**

ټاپي پروژه د افغانستان لپاره يو سياسي فرصت دی څو د سيمې په کچه د شخړو په کمولو کې د منځګړي رول ولوبوي. د جنوبې اسيا دوه ستر هېوادونه، پاکستان او هند، له اوږدې مودې راهيسې د سياسي، پوځي او جيوپوليټيکي دښمنيو ښکار دي. افغانستان چې د دغې پروژې د تېرېدو مرکزي محور دی، کولای شي د اقتصادي ګډو ګټو په رامنځته کولو سره د دغه اوږدمهالي تاوتريخوالي په نرمولو کې مرسته وکړي. د انرژۍ پر سر ګډې پروژې معمولاً د سياسي خبرو اترو لپاره زمينه برابروي، ځکه چې هېوادونه د خپلو ګټو د خوندي کولو لپاره اړ کېږي د اختلافاتو پر ځای د همکارۍ لارې ولټوي. نو د يادې پروژې له برکته افغانستان کولای شي چې د پاکستان او هند تر منځ د باور جوړونې د فضا د رامنځته کولو منځګړی شي. کله چې د ټاپي پروژه دواړه هېوادونه د انرژۍ په برخه کې يو پر بل متکي کړي، نو د اوږدمهالو سياسي اختلافاتو پر وړاندې به د يو ډول نرمښت فضا را منځته شي، څو د سياسي سياليو پر ځای د ګډو پروژو پر محور تمرکز وکړي. په تاريخ کې شته بېلګې ښيي چې سترې اقتصادي پروژې د سياسي شخړو په کمولو کې مهم رول لري، لکه څنګه چې د اروپا د سکرو او فولادو ټولنه وروسته د اروپايي اتحاديې بنسټ کېښود. همداسې افغانستان کولای شي د ټاپي له لارې د سيمه‌ييزې همکارۍ لپاره يوه بنسټيزه تجربه وړاندې کړي(Rahmany ,2024).

**پایله**

تاپي پروژه د افغانستان لپاره د یوې ستراتېژیکې او حیاتي پروژې حیثیت لري چې د هېواد د اقتصادي او سياسي راتلونکي پر مسیر باندې د پام وړ اغېز شیندلی شي. تاپي پروژه د افغانستان لپاره د مستقیمو عوایدو یوه مهمه سرچینه ده. د څېړنې موندنې ښايي چې افغانستان د دې پروژې له لارې په کلني ډول نږدې ۵۰۰ میلیونه ډالره د ترانزیټ لا درکه ترلاسه کړي، چې د دولت بودیجه پیاوړې کوي او د عامه خدماتو د تمویل لپاره یوه باثباته سرچینه برابروي. دغه عاید د افغانستان د اقتصادي ودې لپاره داسې فرصت دی چې دغه هېواد په تېرو لسیزو کې نه درلود. سربېره پر مالي عوایدو، تاپي پروژه د کارموندنې د رامنځته کولو له اړخه هم د افغانستان لپاره یو نوی باب پرانیزي. د اټکل له مخې، د پروژې د عملي کېدو په لومړنیو پړاوونو کې به تر ۱۲ زره کسانو ته کاري فرصتونه برابر او په کار به وګمارل شي. دا کار د بیکارۍ د کچې په کمولو او د خلکو د ژوند په ښه کولو کې مهم رول لوبوي.

د انرژۍ اړخه، د تاپي پروژې عملي کېدل د افغانستان لپاره ستر اهمیت لري. د دې پروژې له مخې افغانستان ته هر کال شاوخوا پنځه میلیارده مکعب متره ګاز ورکول کېږي، چې کولای شي د کورنیو اړتیاوو یوه برخه پوره کړي او د صنعتي سکتور د پرمختګ لپاره د باور وړ سرچینه شي. د انرژۍ دغه کچه د افغانستان د کورني تولیداتو د زیاتوالي او د وارداتو د کمېدو لپاره یو عملي ګام دی. همدارنګه تاپي پروژه د نړیوالو پانګوالو لپاره دا پیغام لري چې افغانستان کولی شي د لویو اقتصادي پروژو کوربه توب وکړي. د پروژې د تطبیق له امله به د پانګوالو باور پر افغان بازار زیات شي، چې دا به د خصوصي سکتور د پراختیا او تنوع سبب وګرځي. د سياسي اړخه، د څېړنې موندنې ښيي؛ چې تاپي پروژه نه یوازې یو اقتصادي نوښت دی، بلکې د افغانستان لپاره یوه ستراتیژیکه سیاسي موقع هم ده، چې د نړیوال باور، د رسمیت پېژندنې، او د هېواد د سیاسي حیثیت د اعادې له پاره ترې ګټه واخیستلای شي. افغانستان، چې په تېرو څلوېښتو کلونو کې د پرلهپسې جګړو، اشغالونو، کورنیو شخړو او سیاسي بې‌ثباتۍ له امله د نړۍ له مهمو پرمختیایي بهیرونو څخه شاته پاتې شوی، اوس د تاپي په څېر پروژو له لارې دا فرصت لري چې یو ځل بیا ځان د نړیوال نظام له تمثیلي چوکاټه برخه وګرځوي.

تاپي پروژه د سیمې د دولتونو ترمنځ سیاسي توازن ته نوې بڼه ورکړې، او افغانستان پکې یو کلیدي سیاسي موقعیت تر لاسه کوي. د پاکستان لپاره، دا پروژه د انرژۍ د بحران حل دی، هند ته د منځنۍ اسیا د ګازو لاسته راوړنه ده، او ترکمنستان ته د اقتصادي پراختیا نوې دروازه ده. خو د دغو ټولو ترمنځ افغانستان د یو پُل رول لري. همدا رول افغانستان ته دا فرصت ورکوي چې د سیمې له ټولو هېوادونو سره د برابر تعامل غوښتنه وکړي.

نو يادې پروژې په پلي کېدو سره، افغانســتان کولای شي د جنوبي آســيا او مرکزي آســيا ترمنځ د انرژۍ او سوداګرۍ په برخه کې د منځګړيتوب رول هم ولوبوي.

نو د نتيجې په توګه ويل شــو، چې تاپي پروژه افغانســتان ته د اقتصــاد د تنوع، د انرژۍ د امنيت، د کارموندنې د پراختيا، د بوديجې د پياوړتيا، او د زېربناوو د پرمخــتګ زمينه برابروي. په سياسي کچه، دا پروژه د افغانســـتان لپاره د نړيوال باور، د رســميت پېژندنې، او د ســيمه‌ييزو همکاريو د پراختيا يو بنســتيز فرصــت ګڼل کېږي. که چيرې افغانســـتان د پروژې د امنيت، شــفافيت او اغېزمن مديريت توان ولري، نو په لنډه موده کې به د کورني ثبات، او په اوږدمهاله توګه د سيمې د اقتصادي او سياسي توازن د يو مهم لوبغاړي په توګه راڅرګند شي.

**وړانديزونه**

د څېړنې د محتوياتو او پايلو وروسته لاندې وړانيزونه وړاندې کيږي:

۱) :پوهنتونونو، څېړنيزو مرکزونو او علمي بنسټونو ته پکار دي چې د پروژې پر سـياسي، حقوقي، چاپېريالي او ټولنيزو اړخونو علمي کنفرانسونه، سيمينارونه او څېړنيزې برنامې جوړې کړي، څو په اړوندو برخو کې د نړيوالو معيارونو سره برابرې پاليسي‌ګانې ترتيب شي.

۲) : حکومت دې په هغه ســيمو کې چې دغه پروژه ورڅخه تيريږي، د ســيمو اوســيدونکو لپاره د عامه خدماتو پروژې په کار واچوي، ترڅو د سيمې اوسيدونکي په ريښتيني توګه د پروژې څخه ملاتړ وکړي او د شريرو ډلو ملاتړ ونه کړي.

۳) : افغانستان بايد د تاپي پروژې په ترڅ کې د منځنۍ اسيا او جنوبي اسيا هېوادونو ترمنځ د وصل د پُل په توګه خپل رول پياوړی کړي. د دې لپاره اړينه ده چې د ايران، چين او روســيې د احتمالي مخالفتونو د کمولو لپاره اغېزمن ډيپلوماټيک سياست پر مخ يووړل شي.

۴) : حکومت بايد د تاپي له تجربې څخه زده‌کړه وکړي او د نورو ســيمه‌ييزو اتصــال پروژو لپاره هم زمينه برابره کړي، تر څو افغانستان د اقتصادي دهلېز او سيمه‌ييز مرکز بڼه خپله کړي.

# Political and Economic Opportunities of the TAPI Project for Afghanistan

Teaching Assistant Sadiqullah Sadiqi, Shaikh Zayed University, Faculty of Law and Political Science, Department of International Relations and Political Science.
**Email**: Sadiqi1371@gmail.com

**Abstract**
The TAPI project is a significant, strategic, and regional energy transmission initiative aimed at transporting Turkmenistan's gas through Afghanistan to Pakistan and India. Upon completion, the pipeline will transfer 33 billion cubic meters of gas annually from Turkmenistan to Afghanistan, Pakistan, and India. The project, with a total length of 1,814 kilometers of which 816 kilometers pass through Afghan territory offers substantial political and economic benefits for the region. Turkmenistan will gain new markets for its gas, while Pakistan and India will secure access to affordable gas. Among all stakeholders, Afghanistan plays the role of a bridge, serving as the principal transit country for the pipeline. Economically, Afghanistan will benefit from transit revenues, infrastructure development, job creation, and improved access to energy. Politically, the TAPI project represents a strategic opportunity for Afghanistan, contributing to international recognition, building global trust, and restoring the country's political standing. The primary objective of this research is to identify the political and economic opportunities that the TAPI project presents for Afghanistan. The study employs a descriptive-analytical method. The general findings suggest that the TAPI project can become a fundamental factor in fostering Afghanistan's stability, development, and regional cooperation.

**Keywords:** Afghanistan; economic opportunities; political opportunities; regional cooperation; TAPI project; transit.

## سرچينې

باختری، ا. (۱۴۰۲). پروژه تاپی. کابل : مطبعه مهر

خلیل، ا. ب.(۲۰۱٦). د تاپي ګازو نل‌لیکې پر وړاندې شته ننګونې او فرصتونه (۱۹۹۰–۲۰۱٦). ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز،شپږ میاشتنۍ مجله، شماره ۱.

د ســتراتیژیکو او ســیمه ییزو څیړنو مرکز. (۱۳۹۴ قوس ۲۸). تاپی پروژه برای صــلح و رفاه (ګڼه:۱۴۷). تحلیل هفته.

د ستراتیژیکو او سیمه ییزو څیړنو مرکز. (۱۴۰۳ ، سنبله ۲٦). د تاپي پروژه او د افغانستان په اقتصادي وضع کې د هغې رول (ګڼه:۴۴۷). تحلیل هفته.

صــالحی، م. ف. (۱۴۰۳). نقش تـاپی در افزایش تعـاملات منطقـه ای. کـابـل: بهرنیو چـارو وزارت د ستراتیژیکو مطالعاتو مرکز، ٦۴ ګڼه مجله.

عاصم، ع. م. (۲۰۱۸). د انرژۍ سیاست او امنیت. کابل:وایګل چاپ.

فیصل، م. (۱۴۰۱). سیمه ییز اتصال او سیمه ییزې اقتصادي پروژې د نوو تحولاتو په رڼا کې. کابل: بهرنیو چارو وزارت د ستراتیژیکو مطالعاتو مرکز، ٥٦-٥۷ ګڼه مجله.

قریشي، آ.م .(۱۴۰۲). سیمه ییزه همپالنه.کابل: اکسوس.

Afzal, S. (2024). The Revival of the TAPI Pipeline: A Milestone for Regional Connectivity and Economic Growth. Modern Diplomacy.

Asd, F. (2024). Pakistan’s Energy Security and regional alternatives: Case study of IP and TAPI. Lahore Institute for Research and Analysis Journal, 1.

Indeo, F. (2025). TAPI Gas Pipeline: A Paradigm of the Central Asian Pragmatic Approach Toward Taliban. TRENDS Research & Advisory.

Mehrzai, M. E., & Safai, M. (2019). Economic benefits and importance of TAPI Project. IJRDO – Journal of History & Geography, 1(1), 1–14.

Rahmany, A. R. (2024). The Geopolitical Implications of the TAPI Pipeline for Regional Stability in Afghanistan. International Journal for Multidisciplinary Research (IJFMR).

# پر زده کړه د درسي ټولګي مدیریت اغېزې

نوماند پوهنیار عبدالرحمن ژنی د شیخ زاید پوهنتون، ژبو او ادبیاتو پوهنځي د اردو څانګې استاد
پوهندوی دوکتور محمد سرور حقپرست، کابل ښوونې او روزنې پوهنتون، د مسلکي او روزنیزو علومو پوهنځي د ښوونې او روزنې عمومي څانګې استاد
**برېښنا لیک:** abdulrahmanlaho10@gmail.com

**لنډیز**

موجوده څېړنه "پر زده کړه د درسي ټولګي مدیریت اغېزې" تر عنوان لاندې ترسره شوې ده. موخه یې په زده کړه باندې د ټولګي مدیریت اغېزو څېړل دي. د ټولګي مدیریت هغه پلانونه، کړنې او تدابیر دي، چې استادان یې د ښوونیز نظم، د درسي محتوا وړاندې کولو د محصلینو د مشارکت او د زده‌کړې لپاره کاروي. ددې څېړنې ګډونوال (۱۹٦) کسان دي ، چې راټول شوي معلومات په (SPSS 23) باندې تحلیل شول. د Pearson Correlation له مخې د ټولګي د مدیریت مختلف اړخونه (لکه نظم، درسي پلان، حضور، ګډون ته هڅونه او د محصلانو د نظر اورېدنه) د زده‌کړې له پایلو سره قوي مثبت ارتباط لري. همدارنګه د دې څېړنې د Sig. (2-tailed) = .000 سره سمون خوري، چې دا قوي ارزښت په ګوته کوي. د دې څېړنې پایله ښیي، چې د ټولګي مدیریت او زده کړې تر منځ د person همبستګي له (647) سره برابره ده، چې دا مثبته او قوي اړیکه ښیي. په هره کچه چې د ټولګي مدیریت ښه کېږي، په هماغه اندازه ور سره د زده کړې کچه لوړېږي. همداراز د ANOVA ټېسټ پایلو وښوده، چې د ټولګي د مدیریت مختلفو اندازو تر منځ د زده کړې پر پایلو کې احصایوي معنا لرونکی توپیر شتون لري، P value = .000 او د F Value =8.287 سره سمون خوري. موجوده توپیر په تصادفي ډول نه دی، بلکې دا یو ریښتونی توپیر دی. د څېړنې پایلې ښیي، چې استادان باید د ټولګي د مؤثر مدیریت مهارتونه ولري. د ښوونې او روزنې ادارې او پوهنتونونه باید دا مهارتونه د استادانو روزنیزو پروګرامونو برخه وګرځوي. د استادانو د ټولګي مدیریت مستقیماً د زده‌کړې پر کیفیت، ګډون، تمرکز او انګېزې اغېز لري او دا د بریالۍ زده‌کړې لپاره ضروري عنصر ګڼل کېږي.

**کلیدي ټکي:** استاد، د ټولګي مدیریت، درسي مېتود، د محصلانو ګډون، زده کړه.

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم،الحمد لله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سید المرسلین وعلی آله و أصحابه أجمعین.**

درسي ټولگی هغه ځای دی ،چې په هغه کې هره ورځ ډېر شمېر زده کړیالان په ساعتونو کولی شي، یو د بل تر څنگ کښیني، یو له بل سره تعامل ولري او یو له بل څخه مطالب یا موضوعات زده کړي . په همدې خاطر یوشمېر نوي او تازه کاره اسادان د دې موضوع په اړوند نگرانه وي،چې د دې ترڅنگ چې له زده کوونکو سره صمیمانه اړیکې ټینگې کړي، څه ډول کولای شي؟ درسي ټولگي مدیریت کړي؛نو د درسي ټولگي کنترول یو له ډېرو اړینو او مهمومهارتونو څخه شمېرل کېږي، ځکه چې د درسي ټولگي اداره کول د زده کړیالانو په پوهولو کې ښه او ډېره اغېزه لري په دې معنا چې که استاد د مدیریت په مختلفو مهارتونو پوه وي، نو هر ځای کې به په بریالیتوب او اسانی سره زده کړه رامنځته کړي (ستانکزی، ۱۳۹۷ل، ص. ۱۲۲).

اغېزناک استادان هغه څوک دي، چې د سمو او مناسبو میتودونو په نسبت،چې په مختلفو ځایونو کې یې په کار اچوي، په پوره ډول بلدتیا ولري. استادان باید د درسي ټولگي د مدیریت په مختلفو میتودونو کې تخصص او مهارت ولري ترڅو وکولی شي اغېزناک تدریس وکړي او زده کړه رامنځته کړي. د درسي ټولگي مدیریت په حقیقت کې د زده کړې د تحقیق لپاره د لازمو شرایطو آماده کول دي.

استادان باید د خپل مضمون ترڅنگ د ټولگي د اداره کولو په برخه کې په پوره ډول معلومات ولري. په مختلفو موقعیتونو کې د ډول ډول مهارتونو څخه کار واخلي ، په خپلو زده کړیالانو باندې په سمه توگه کنټرول ولري، تر څو زده کړیالان د ټولگي حالت د بې نظمۍ خواته یونسي (نظري، ص. ۱۳۹۸ ل).

په دودیزو تعلیمي سیستمونو کې ښوونه تر ډېره پورې د استادانو محور پر اصولو ولاړه وه، چې زده کړیالان پکې یوازې اورېدونکي، تکرار کوونکي، او ازموینو ته چمتو کېدونکي گڼل کېدل. دا طرز تدریس زده‌کوونکو ته د تفکر، نوښت او عملي مهارتونو وده نه ورکوله. همداراز، د ټولگي مدیریت د انظباط، سازمان، او زده کړې د فضا د برقراره ساتلو یو اړین اصل دی، چې له بده مرغه په ډېرو درسي محیطونو کې له پامه غورځول کېږي. زده کړیالان ، چې په گډوډ، بې نظمه یا غیر فعاله چاپېریال کې درس ووایي، نه یوازې د زده کړې انگېزه له لاسه ورکوي، بلکې رواني فشار، بې علاقه یي، او د علمي پرمختگ مخه نیسي.

**موخې**

پر زده کړه د درسي ټولگي مدیریت اغېزو څېړل .

پر زده کړه د استاد پوره چمتوالی څېړل .

پر زده کړه د استبدادي مدیریتي تګلارې اغېزو څېړل.
پر زده کړه د لومړي درسي ساعت د ارزښت اغېزې په ګوته کول .
په درسي ټولګي کې پر زده کړه د استاد ښه چلند څېړل.

**د څېړنې ارزښت**

تعلیم د یو ملت د پرمختګ بنسټیز اساس ګڼل کېږي، او ښوونه او روزنه هغه مهم عناصر دي، چې د محصلانو د ذهني، ټولنیز او اخلاقي ودې لپاره کار کوي. په دې لړ کې، د تدریسي میتودونو انتخاب او د ټولګي مدیریت طریقه د تدریس په کیفیت کې مهم رول لري. د مؤثر تدریس لپاره نه یواځې د مضمون پوهه اړینه ده، بلکې دا هم مهمه ده چې استاد څنګه کولای شي د ټولګي مدیریت غوره تګلارې انتخاب کړي او ټولکی منظم وساتي. د ښه ټولکي نظم او مناسب ټولګي مدیریت تګلارې، محصلان هڅوي، د هغوی توجه ساتي، او تعلیمي اهداف ترلاسه کولو ته لاره هواروي.

د ټولګي د اغېزمن مدیریت او د محصلانو د علمي لاسته راوړنو ترمنځ اړیکه یوه مهمه څېړنیزه موضوع ده ، چې ډېرو پوهانو پرې کار کړی دی.د پوهنتون او ښوونځي په چاپیریال کې د ټولګي د مدیریت ستراتیژۍ د زده کړیلانو د کړنو او تعلیمي پرمختګ لپاره حیاتي رول لري.

له همدې امله، په داڅېړنه کې هڅه شوې، چې داموضوع وڅېړي،چې د درسي ټولګي مدیریت د پوهنتون په کچه څومره اغیزمن دی او څنګه کولای شو د تدریس چاپېریال ښه کړو.

**توکي او کړنلارې**

د څېړنې ساحه د شیخ زاید پوهنتون دی. موجوده څېړنه کې د نوموړي پوهنتون د بېلا بېلو پوهنځیو لکه اقتصاد پوهنځی، ژبو او ادبیات پوهنځی، ټولنیزو علومو پوهنځی، ژورنالیزم پوهنځی، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د لومړي تولګي څخه تر څلورم ټولګي پورې محصلان شامل دي.
مېتود (تګلاره) (پر زده کړه د درسي ټولګي مدیریت اغېزې) تر عنوان لاندې څېړنه د موخې له مخې توصیفي تحلیلي ده. د نتیجې له مخې کاربردي ده، همدارنګه د ماهیت له مخې یوه کمي څېړنه ده، د معلوماتو راټولولو له مخې ذکر شوې څېړنه پیمایشي او د تحلیلي واحد له مخې یوه موردې څېړنه ګڼل کېږي. د یادې موضوع څېړنیز مفاهیم له بېلا بېلو مقالو، کتابونو او وېب پاڼو څخه تر لاسه شوي دي او پاتې معلومات یې د پوښتنلیک په واسطه په شیخ زاید پوهنتون کې راټول او وروسته د SPSS 23 پوستغالي په واسطه تحلیل او تجزیه شوي دي.

**مخینه**

عالی او یزدی (۱۳۸۷ل) د ښوونکي ځانګړتیاوو پر اساس د مدیریت د سبکونو اغیزه څېړلې او ښودلې، چې د ښوونکي ځانګړتیاوې، لکه: شخصیت، تجربه او مهارتونه د مدیریت سبک ټاکلو او تطبیق کې مهم دي.

صمدي او همکاران (۱۳۸۷ل) د یادونې د اغیزمن چاپیریال د رامنځته کولو لپاره د کلاس مدیریت مؤلفو مطالعه کړي، چې د زده کوونکو مثبت تعامل او رغنده فضا رامنځته کول مهم دي.

علا د آمد او امتنیزدید (۱۳۸۷ل) په خپلو څېړنو کې د ښوونکي ځانګړتیاوې د کلاس مدیریت پر سبک اغېزې ته کتنه کړې ده. هغوی ښیي، چې د ښوونکي شخصیتي ځانګړتیاوې لکه مهرباني، ځان باور، او د زده کوونکو سره ښه اړیکه د مؤثر مدیریت لپاره بنسټیز فکتورونه دي.

عبدالهی (۱۳۸۷ل) د ښوونکي آمادګي د مدیریت په کیفیت کې مهم فکتور ګڼلی او پر دې یې ټینګار کړی چې بې آمادګی ښوونکی نشي کولی، چې ټولګی په ښه ډول اداره کړي.

سرمدي او سیف (۱۳۸۹ل) په خپل کتاب کې د ټولګي مدیریت مفاهیم او بنسټونه وړاندې کوي او د ښوونکي د رول اهمیت په ګوته کوي. هغوی د ټولګي د نظم او تعلیمي موخو د لاسته راوړلو لپاره د مؤثر مدیریت په اړتیا ټینګار کړی دی.

رنجبر (۱۳۹۱ل) په خپله څېړنه کې د ټولګي درس مؤثر مدیریت عوامل مطالعه کړي دي او ټینګار یې پر هغو فکتورونو دی، چې د ښوونکي شخصي، مسلکي او رواني ځانګړتیاوې د ټولګي نظم او اداره کولو په کیفیت کې مهم رول لري.

په (۱۳۹۲) لمریز کال د بخشایش له لوري یوه څېړنه ترسره شوې ده، چې عنوان یې ( رابطه سبک مدیریت کلاس با ویژګي های شخصیتي معلمان مدارس ابتدایي شهر یزد) دی. نوموړی څېړونکی د یادې څېړنې په ترسره کولو سره دې پایلې ته رسیدلی دی، چې د استادانو شخصیتي ځانکړتیاوې د ټولګي په مدیریت کې خورا مهمې دي.

(Martin & Baldwin, ۱۹۹۸) هغوی د ټولګی اندازې، تدریس او لوړو زده کړو تر منځ اړیکې ارزولې، چې پایلې یې ښيي کوچني ټولګي او د تدریس لوړ مهارتونه د مؤثر مدیریت لپاره مهم رول لري.

همدارنګه، Lewis (۲۰۰۱) د زده کوونکو له نظره د ټولګي نظم او د هغوی مسئولیت ته ځانګړې پاملرنه کړې ده. هغه په دې اړه وايي چې کله زده کوونکي په ټولګي کې خپله برخه احساس کړي او مسئولیت ومني، نو د ټولګي نظم ښه ساتل کېږي او د تعلیمي بهیر کیفیت لوړېږي.

Eveyik-Aydin, Kurt, Mede & Enisa (۲۰۰۹) په خپل تحقیق کې هڅه کړې، چې د ښوونکو باورونه او د هغوی تدریسي سبکونه د ټولګی مدیریت له نظره وڅېړي. دوی څرګندوي چې د ښوونکو شخصي باورونه (beliefs) او تدریسي لیدلوري، د ټولګی د مدیریت پر څرنګوالي مستقیم اغېز لري. هغوی موندلې چې ښوونکي له خپلو باورونو او ارزښتونو سره سم د نظم ساتنې لارې غوره کوي، چې دا بیا د عملي تدریس پر جریان مستقیمه اغېزه لري.

McDonald (۲۰۱۰) بیا په خپله څېړنه کې ښوونکو ته لارښوونه کوي، چې څنګه زده کوونکي په ټولګي کې په فعاله توګه ښکیل کړي تر څو د زده کړې کچه لوړه شي. د هغه په وینا، د ټولګي مدیریت هغه وسیله ده، چې د زده کوونکو توجه او هڅونه لوړوي.

Adeyemo (۲۰۱۲) په خپل تحقیق کې څرګنده کړې، چې د ټولګي ښه تنظیم او مدیریت کولی شي د زده کوونکو د تعلیمي پرمختګ په کچه مثبت تاثیر ولري. هغه ټینګار کوي، چې د ښوونکي مؤثره کړنې د زده کړې چاپېریال جوړولو کې حیاتي رول لري.

**د پوښتنلیک تحلیل**

د څېړنیزې ټولنې څخه په پوښتنلیک کې موجودې پوښتنې د ګډونوالو لخوا ځواب شوې دي، چې ځوابونه یې په لاندې ډول تحلیل او تفسیر کېږي:

(۱) **نمبر جدول** مدني حالت توزیع

| Cumulative Percent مجموعي سلنه | Valid Percent د اعتبار سلنه | Percent سلنه | Frequency تکرار | |
|---|---|---|---|---|
| 36.7 | 36.7 | 36.7 | 72 | Valid متاهل |
| 99.0 | 62.2 | 62.2 | 122 | مجرد |
| 100.0 | 1.0 | 1.0 | 2 | کونډه |
| | 100.0 | 100.0 | 196 | Total |

په لومړی ګڼه جدول کې لیدل کېږي، چې په دغه څېړنه کې ټولټال (۱۹۶) کسانو ګډون کړی دی، چې له دې جملې څخه یې (۷۲) تنه ګډونوال متاهل دي، چې سلنه یې (۳٦.۷) کېږي او مجموعي سلنه یې هم له (۳٦.۷)

سلنه سره مساوي کېږي. د دې ترڅنګ په موجوده څېړنه کې (۱۲۲) تنه مجردو کسانو ګډون کړی دی، چې سلنه یې (۶۲.۲) کېږي او مجموعي سلنه یې (۹۹) سره برابره ده، همدارنګه په دغه څېړنه کې (۲) تنه ګډونوال کونډ دي، چې سلنه یې له (۱) سره برابره ده، چې له دې سره یې مجموعي سلنه له سل سلنه سره برابره کېږي.

(۲) **شمېر جدول** د ګډونوالوعمر توزیع

| Cumulative Percent<br>مجموعي سلنه | Valid Percent<br>د اعتبار سلنه | Percent<br>سلنه | Frequency<br>تکرار | |
|---|---|---|---|---|
| 85.7 | 85.7 | 85.7 | 168 | Valid 18 - 25 |
| 95.9 | 10.2 | 10.2 | 20 | 26 – 30 |
| 99.0 | 3.1 | 3.1 | 6 | 31 – 35 |
| 99.5 | .5 | .5 | 1 | 36 – 40 |
| 100.0 | .5 | .5 | 1 | 41 – 50 |
| | 100.0 | 100.0 | 196 | Total |

دویمه ګڼه جدول د ګډونوالو عمر ښیي، په دغه جدول کې لیدل کېږي، چې (۱۶۸) تنه ګډونوال له (۱۸ – ۲۵) کلونو پورې عمر لري، چې سلنه یې له (۸۵.۷) سره برابره ده او مجموعي سلنه یې هم له (۸۵.۷) سره برابرېږي. همدارنګه (۲۰) کسان د دې څېړنې هغه ګډونوال دي، چې عمر یې له (۲۶ – ۳۰) کلونو پورې رسېږي، چې سلنه یې له (۱۰.۲) سره مساوي ده، چې په دې سره یې مجموعي سلنه (۹۵.۹) کېږي. په پورته جدول کې لیدل کېږي، چې د (۶) تنو ګډونوالو عمر له (۳۱ – ۳۵) کلونو پورې ده او سلنه یې له (۳.۱) سره برابره ده، چې په دې سره مجموعي سلنه (۹۹) کېږي او د دې ترڅنګ یو تن ګډونوال د (۳۶ – ۴۰) کلونو پورې عمر لري، چې سلنه یې له (۰.۵) سره مساوي کېږي او همدارنګه د یو تن ګډونوال عمر له (۴۱ – ۵۰) پورې ښودل شوی دی، چې سلنه یې له (۰.۵) سره برابره ده، په دې سره د ټولو ګډونوالو مجموعي سلنه د سل سره مساوي کېږي.

(۳) **جدول کڼه** د ګډونوالو ټولګی توزیع

| Cumulative Percent<br>مجموعي سلنه | Valid Percent<br>د اعتبار سلنه | Percent<br>سلنه | Frequency<br>تکرار | |
|---|---|---|---|---|
| 5.1 | 5.1 | 5.1 | 10 | Valid لومړی ټولګی |
| 31.1 | 26.0 | 26.0 | 51 | دویم ټولګی |
| 67.9 | 36.7 | 36.7 | 72 | دریم ټولګی |
| 100.0 | 32.1 | 32.1 | 63 | څلورم ټولګی |
| | 100.0 | 100.0 | 196 | Total |

په درېیمه ګڼه جدول کې لیدل کېږي، چې په دې ځېړنه کې ټولټال (۱۹٦) تنو محصلانو ګډون کړی دی، چې له دې جملې څخه یې د لومړي ټولګي (۱۰) تنه محصلان دي، چې سلنه یې له (5.1) سره سمون خوري او د مجموعي سلنه یې هم له (5.1) سره برابره ده. د دې ترڅنګ په جدول کې لیدل کېږي، چې د دویم ټولګي (۵۲) محصلینو پدې ځېړنه کې برخه اخیستې ده، چې سلنه یې (۲٦.۰) کېږي او پدې سره مجموعي سلنه د (۳۱.۱) سره برابره ده. همدارنګه ویلی شو، چې د درېیم ټولګي (۷۲) تنو محصلینو په موجوده ځېړنه کې برخه اخیستې ده، چې سلنه یې له (۳٦.۷) سره برابره ده او پدې سره مجموعي سلنه له (٦۷.۹) سره سمون خوري. باید ووایو، چې د څلورم ټولګي (٦۳) محصلانو د دې ځېړنې ګډونوال دی، چې سلنه یې (۳۲.۱) کېږي او په دې سره مجموعي سلنه د (۱۰۰) سره برابرېږي.

**لومړی پوښتنه:** استاد ټولګي ته پر وخت حاضرېږي؟

| | Frequency<br>تکرار | Percent<br>سلنه | Valid Percent<br>د اعتبار سلنه | Cumulative Percent<br>مجموعي سلنه |
|---|---|---|---|---|
| Valid هیڅ | 1 | .5 | .5 | .5 |
| نسبتاً | 15 | 7.7 | 7.7 | 8.2 |
| زیات | 79 | 40.3 | 40.3 | 48.5 |
| ډېر زیات | 101 | 51.5 | 51.5 | 100.0 |
| Total | 196 | 100.0 | 100.0 | |

د لومړۍ پوښتنې ته ټولټال (۱۹٦) کسانو بېلا بېل ځوابونه ورکړي دي، چې له دې جملې څخه یې (۱) تن ګډونوال (هیڅ) ځواب په نښه کړی دی، چې سلنه یې له (۰.۵) سره سمون خوري او مجموعي سلنه یې هم له (۰.۵) سره برابره ده. د دې تر څنګ (۱۵) تنو پورته پوښتنې ته د (نسبتاً) ځواب ورکړی دی، چې سلنه یې له (۷.۷) سره برابره ده او په دې سره مجموعي سلنه (۸.۲) کېږي. پورته پوښتنې ته (۷۹) کسانو د زیات ځواب په نښه کړی دی، چې سلنه یې (۴۰.۳) کېږي او پدې سره یې مجموعي سلنه (۴۸.۵) سلنه کېږي. باید وویل شي، چې پورته پوښتنې ته (۱۰۱) د ډېر زیات ځواب په نښه کړی دی، چې سلنه یې (۵۰.۵) کېږي او پدې سره مجموعي سلنه پوره سل کېږي. د پورته ځوابونو څخه نتیجه تر لاسه کېږي، چې زیاتره زده کوونکي په دې باور دي، چې استاد ټولګي ته پر وخت حاضرېږي.

**دویمه پوښتنه:** د ټولګي فضاء د زده کړې لپاره مناسبه ده؟

| | | Frequency<br>تکرار | Percent<br>سلنه | Valid Percent<br>د اعتبار سلنه | Cumulative Percent<br>مجموعي سلنه |
|---|---|---|---|---|---|
| Valid | هیڅ | 13 | 6.6 | 6.6 | 6.6 |
| | نسبتاً | 40 | 20.4 | 20.4 | 27.0 |
| | زیات | 46 | 23.5 | 23.5 | 50.5 |
| | ډېر زیات | 97 | 49.5 | 49.5 | 100.0 |
| | Total | 196 | 100.0 | 100.0 | |

دویمې پوښتنې ته داسې ځوابونه ورکړل شوي دي. د یادې مجموعې څخه (۱۳) تنو ګډونوالو د (هیڅ) ځواب په نښه کړی دی، چې سلنه یې (٦.٦) کېږي او مجموعي سلنه یې له (٦.٦) سره مساوي کېږي. د دې تر څنګ نوموړې پوښتنې ته (۴۰) تنو د (نسبتاً) ځواب انتخاب کړی دی، چې سلنه یې (۲۰.۴) کېږي او مجموعي سلنه یې (۲۷) ته رسېږي. همدارنګه یادې پوښتنې ته د (۴٦) تنو محصلانو لخوا د (زیات) ځواب ورکړل شوی دی، چې سلنه یې (۲۳.۵) کېږي او مجموعي سلنه یې (۵۰.۵) ته رسیږي او د (۹۷) کسانو لخوا ورته د (ډېرزیات) ځواب انتخاب شوی دی، چې سلنه یې (۴۹.۵) کېږي او مجموعي سلنه یې سل ته رسیږي. په پورته جدول کې لیدل کېږي، چې (۷۳) سلنه محصلان په دې یقیني دي، چې د ټولګي فضا د زده کړې لپاره مناسبه ده.

درېیمه پوښتنه: د استاد نظم زده کړې اسانه کوي؟

| | | Frequency<br>تکرار | Percent<br>سلنه | Valid Percent<br>د اعتبار سلنه | Cumulative Percent<br>مجموعي سلنه |
|---|---|---|---|---|---|
| Valid | هیڅ | 8 | 4.1 | 4.1 | 4.1 |
| | نسبتاً | 24 | 12.2 | 12.2 | 16.3 |
| | زیات | 80 | 40.8 | 40.8 | 57.1 |
| | ډېر زیات | 84 | 42.9 | 42.9 | 100.0 |
| | Total | 196 | 100.0 | 100.0 | |

درېیمې پوښتنې بېلا بېل ځوابونه ، چې (۸) تنه محصلانو چې سلنه یې (۴.۱) سره برابره ده د هیڅ ځواب ورکړی دی، د دې ترڅنګ (۲۴) تنو ګډونوالو چې سلنه یې له (۱۲.۲) سره برابره ده، د نسبتاً ځواب ورکړی دی، همدارنګه پورته یوښتنې ته (۸۰) تنو محصلانو چې سلنه یې (۴۰.۸) سره مساوي دی، د زیات ځواب په نښه کړی دی، د دې تر څنګ ویلی شو، چې نوموړې پوښتنې ته (۸۴) کسانو د ډېر زیات ځواب ورکړی دی، چې سلنه یې (۴۲.۹) کېږي. د پورته جدول څخه دې پایلې ته رسېږو، چې پورته پوښتنې ته ټولټال (۱۹٦) تنو ځواب ورکړی دی، چې له دې جملې څخه (۸۳.۷) سلنه محصلین په دې باور دي، چې د استاد نظم په زده کړې کې اساني رامنځته کوي.

**څلورمه پوښتنه:** د ټولګي فعاله مدیریت محصلین ډېر فعال ساتي؟

| | Frequency تکرار | Percent سلنه | Valid Percent د اعتبار سلنه | Cumulative Percent مجموعي سلنه |
|---|---|---|---|---|
| Valid هیڅ | 2 | 1.0 | 1.0 | 1.0 |
| نسبتاً | 22 | 11.2 | 11.2 | 12.2 |
| زیات | 65 | 33.2 | 33.2 | 45.4 |
| ډېر زیات | 107 | 54.6 | 54.6 | 100.0 |
| Total | 196 | 100.0 | 100.0 | |

څلورمې ذکر شوې پوښتنې ته (۲) کسانو (هیڅ) ځواب ویلی دی، چې سلنه یې له (۱) کېږي او مجموعي سلنه (۱) کېږي. همدارنګه (۲۲) کسانو (نسبتاً) ځواب په نښه کړی دی، چې سلنه یې (۱۱.۲) کېږي او مجموعي سلنه یې پدې سره (۱۲.۲) ته رسېږي. په پورته جدول کې لیدل کېږي، چې (۶۵) تنو محصلانو زیات ځواب ورکړی دی، چې سلنه یې (۳۳.۲) کېږي او له دې سره یې مجموعي سلنه (۴۵.۴) سلنه کېږي. پورته پوښتنې ته (۱۰۷) تنو ګډونوالو ډېر زیات ځواب ورته په نښه کړی دی، چې سلنه یې (۵۴.٦) سلنه کېږي، چې پدې سره یې مجموعي سلنه پوره سل کېږي. همدارنګه ویلی شو، چې(۸۷.۸) سلنه محصلین پدې باور دي، چې د ټولګي فعاله مدیریتله امله محصلان ډېر فعال وي.

**پنځمه پوښتنه:** د ټولګي منفي فضا زده کړه کمزورې کوي؟

| | Frequency تکرار | Percent سلنه | Valid Percent د اعتبار سلنه | Cumulative Percent مجموعي سلنه |
|---|---|---|---|---|
| Valid هیڅ | 3 | 1.5 | 1.5 | 1.5 |
| نسبتاً | 17 | 8.7 | 8.7 | 10.2 |
| زیات | 42 | 21.4 | 21.4 | 31.6 |
| ډېر زیات | 134 | 68.4 | 68.4 | 100.0 |
| Total | 196 | 100.0 | 100.0 | |

پنځمې پوښتنې پایلې داسې ښیي، چې (۳) تنه محصلانو چې سلنه یې (۱.۵) سره برابره ده، چې مجموعي سلنه یې (۱.۵) کېږي، د هیڅ ځواب ورکړی دی، د دې ترڅنګ (۱۷) تنو ګډونوالو چې سلنه یې له (۸.۷) سره برابره ده او مجموعي سلنه یې (۱۰.۲) کېږي، د نسبتاً ځواب ورکړی دی، همدارنګه پورته پوښتنې ته (۴۲) تنو محصلانو چې سلنه یې (۲۱.۴) سره مساوي دی او مجموعي سلنه یې (۳۱.٦) سره مساوي ده، د زیات ځواب په نښه کړی دی، د دې تر څنګ ویلی شو، چې نوموړې پوښتنې ته (۱۳۴) کسانو د ډېر زیات ځواب ورکړی دی، چې سلنه

یې (٦٨.۴) کېږي او مجموعي سلنه یې له سل سره برابره ده. د پورته جدول څخه دې پایلې ته رسېږو، چې پورته پوښتنې ته ټولټال (١٩٦) تنو ځواب ورکړی دی، چې له دې جملې څخه (٨٩.٨) سلنه محصلان پدې باور دي، چې په ټولګي کې منفي فضا زده کړه ډېره زیاته کمزوې کوي.

**شپږمه پوښتنه:** محصلان د ټولګي د ښه مدیریت له امله درس خوښوي؟

| | Frequency<br>تکرار | Percent<br>سلنه | Valid Percent<br>د اعتبار سلنه | Cumulative Percent<br>مجموعي سلنه |
|---|---|---|---|---|
| Valid هیڅ | 3 | 1.5 | 1.5 | 1.5 |
| نسبتاً | 13 | 6.6 | 6.6 | 8.2 |
| زیات | 49 | 25.0 | 25.0 | 33.2 |
| ډېر زیات | 131 | 66.8 | 66.8 | 100.0 |
| Total | 196 | 100.0 | 100.0 | |

شپږمې پوښتنې ته بېلا بېل ځوابونه ورکړل شوي ، چې (٣) تنه محصلانو چې سلنه یې (1.5) سره برابره ده، چې مجموعي سلنه یې (١.۵) کېږي، د هیڅ ځواب ورکړی دی، د دې ترڅنګ (١٣) تنو ګډونوالو چې سلنه یې له (٦.٦) سره برابره ده او مجموعي سلنه یې (٨.٢) کیږي، د نسبتاً ځواب ورکړی دی، همدارنګه پورته پوښتنې ته (۴٩) تنو محصلینو چې سلنه یې (٢۵) سره مساوي دی او مجموعي سلنه یې (٣٣.٢) سره مساوي ده، د زیات ځواب په نښه کړی دی، د دې تر څنګ ویلی شو، چې نوموړې پوښتنې ته (١٣١) کسانو د ډېر زیات ځواب ورکړی دی، چې سلنه یې (٦٦.٨) کېږي او مجموعي سلنه یې له سل سره برابره ده. د پورته جدول څخه دې پایلې ته رسېږو، چې پورته پوښتنې ته ټولټال (١٩٦) تنو ځواب ورکړی دی، چې له دې جملې څخه (٩١) سلنه محصلین پدې باور دي، چې د ټولګي د ښه مدیریت له امله محصلان درس زیات خوښوي.

**اوومه پوښتنه:** د ټولګي غیرمنظم حالت زده کړه زیانمنوي؟

| | Frequency<br>تکرار | Percent<br>سلنه | Valid Percent<br>د اعتبار سلنه | Cumulative Percent<br>مجموعي سلنه |
|---|---|---|---|---|
| Valid هیڅ | 1 | .5 | .5 | .5 |
| نسبتاً | 14 | 7.1 | 7.1 | 7.7 |
| زیات | 34 | 17.3 | 17.3 | 25.0 |
| ډېر زیات | 147 | 75.0 | 75.0 | 100.0 |
| Total | 196 | 100.0 | 100.0 | |

اوومې پوښتنې ته بېلا بېل ځوابونه ورکړل شوي دي. د یادې مجموعې څخه (١) تنو ګډونوالو د (هیڅ) ځواب په نښه کړی دی، چې سلنه یې (٠.۵) کېږي او مجموعي سلنه یې له (٠.۵) سره مساوي کېږي. د دې تر څنګ

نوموړې پوښتنې ته (۱۴) تنو د (نسبتاً) ځواب انتخاب کړی دی، چې سلنه یې (۷.۱) کېږي او مجموعي سلنه یې (۷.۷) ته رسېږي. همدارنګه يادې پوښتنې ته د (۳۴) تنو محصلانو لخوا د (زيات) ځواب ورکړل شوی دی، چې سلنه یې (۱۷.۳) کېږي او مجموعي سلنه یې (۲۰.۰) ته رسېږي او د (۱۴۷) کسانو لخوا ورته د (ډېرزیات) ځواب انتخاب شوی دی، چې سلنه یې (۷۵) کېږي او مجموعي سلنه یې سل ته رسيېږي. په پورته جدول کې لیدل کېږي، چې (۹۲.۳) سلنه محصلان په دې یقیني دي، چې د ټولګي غیر منظم حالت په زیاته کچه زده کړې زیانمنې کوي.

**اتمه پوښتنه:** د درسي پلان شتون زده کړه ښه کوي؟

| | Frequency<br>تکرار | Percent<br>سلنه | Valid Percent<br>د اعتبار سلنه | Cumulative Percent<br>مجموعي سلنه |
|---|---|---|---|---|
| Valid هیڅ | 1 | .5 | .5 | .5 |
| نسبتاً | 13 | 6.6 | 6.6 | 7.1 |
| زیات | 53 | 27.0 | 27.0 | 34.2 |
| ډېر زیات | 129 | 65.8 | 65.8 | 100.0 |
| Total | 196 | 100.0 | 100.0 | |

اتمې پوښتنې ګډونوالو لاندې ځوابونه ورکړي،چې له څخه (۱) تن ګډونوال د (هیڅ) ځواب په نښه کړی دی، چې سلنه یې (۰.۵) کېږي او مجموعي سلنه یې له (۰.۵) سره مساوي کېږي. د دې تر څنګ نوموړې پوښتنې ته (۱۳) تنو د (نسبتاً) ځواب انتخاب کړی دی، چې سلنه یې (٦.٦) کېږي او مجموعي سلنه یې (۷.۱) ته رسېږي. همدارنګه يادې پوښتنې ته د (۵۳) تنو محصلانو لخوا د (زيات) ځواب ورکړل شوی دی، چې سلنه یې (۲۷.۰) کېږي او مجموعي سلنه یې (۳۴.۲) ته رسېږي او د (۱۲۹) کسانو لخوا ورته د (ډېرزیات) ځواب انتخاب شوی دی، چې سلنه یې (٦۵.۸) کېږي او مجموعي سلنه یې سل ته رسېږي. په پورته جدول کې لیدل کېږي، چې (۹۲.۸) سلنه محصلان په دې یقیني دي، چې د درسي پلان شتون په زیاته اندازه زده ښه کوي.

**نهمه پوښتنه** د استاد ټولګي مدیریت د محصلانو په درسي بریا باندې تاثیر لري؟

| | Frequency<br>تکرار | Percent<br>سلنه | Valid Percent<br>د اعتبار سلنه | Cumulative Percent<br>مجموعي سلنه |
|---|---|---|---|---|
| Valid هیڅ | 1 | .5 | .5 | .5 |
| نسبتاً | 14 | 7.1 | 7.1 | 7.7 |
| زیات | 68 | 34.7 | 34.7 | 42.3 |
| ډېر زیات | 113 | 57.7 | 57.7 | 100.0 |
| Total | 196 | 100.0 | 100.0 | |

د نهمې پوښتنې پايلې ښيي، چې (۱) تنه محصلانو چې سلنه يې (۰.۵) سره برابره ده، چې مجموعي سلنه يې (۰.۵) کېږي، د هيڅ ځواب ورکړی دی، د دې ترڅنګ (۱۴) تنو ګډونوالو چې سلنه يې له (۷.۱) سره برابره ده او مجموعي سلنه يې (۷.۷) کيږي، د نسبتاً ځواب ورکړی دی، همدارنګه پورته پوښتنې ته (٦٨) تنو محصلانو چې سلنه يې (۳۴.۷) سره مساوي دی او مجموعي سلنه يې (۴۲.۳) سره مساوي ده، د زيات ځواب په نښه کړی دی، د دې تر څنګ ويلی شو، چې نومورې پوښتنې ته (۱۱۳) کسانو د ډېر زيات ځواب ورکړی دی، چې سلنه يې (۵۷.۷) کېږي او مجموعي سلنه يې له سل سره برابره ده. د پورته جدول څخه دې پايلې ته رسېږو، چې پورته پوښتنې ته ټولټال (۱۹٦) تنو ځواب ورکړی دی، چې له دې جملې څخه (۹۱.۳) سلنه محصلين پدې باور دي، چې د استاد لخوا د ټولګي مديريت کول د محصلانو په درسي بريا باندې ډېر زيات تاثير لري.

لسمه پوښتنه: د استاد کړنلاره پر ټولګي مثبته اغېزه لري؟

| | Frequency<br>تکرار | Percent<br>سلنه | Valid Percent<br>د اعتبار سلنه | Cumulative Percent<br>مجموعي سلنه |
|---|---|---|---|---|
| Valid هيڅ | 4 | 2.0 | 2.0 | 2.0 |
| نسبتاً | 13 | 6.6 | 6.6 | 8.7 |
| زيات | 44 | 22.4 | 22.4 | 31.1 |
| ډېر زيات | 135 | 68.9 | 68.9 | 100.0 |
| Total | 196 | 100.0 | 100.0 | |

لسمې پوښتنې ته بېلا بېل ځوابونه ورکړل شوي دي. د يادې مجموعې څخه (۴) تنو ګډونوالو د (هيڅ) ځواب په نښه کړی دی، چې سلنه يې (۲.۰) کېږي او مجموعي سلنه يې له (۲.۰) سره مساوي کېږي. د دې تر څنګ نومورې پوښتنې ته (۱۳) تنو د (نسبتاً) ځواب انتخاب کړی دی، چې سلنه يې (٦.٦) کېږي او مجموعي سلنه يې (۸.۷) ته رسېږي. همدارنګه يادې پوښتنې ته د (۴۴) تنو محصلينو لخوا د (زيات) ځواب ورکړل شوی دی، چې سلنه يې (۲۲.۴) کېږي او مجموعي سلنه يې (۳۱.۱) ته رسېږي او د (۱۳۵) کسانو لخوا ورته د (ډېرزيات) ځواب انتخاب شوی دی، چې سلنه يې (٦٨.۹) کېږي او مجموعي سلنه يې سل ته رسېږي. په پورته جدول کې ليدل کېږي، چې (۹۱.۳) سلنه محصلان په دې باور دي، چې د استاد مېتود په ټولګي ډېره زياته مثبته اغېزه لري.

(۴) ګڼه جدول

Correlations

| | | B_Var<br>خپلواک متغییر (د ټولګي مدیریت) | C_Varible<br>تړلی متغییر (د زده کړې څرنګوالی) |
|---|---|---|---|
| B_Var | Pearson Correlation | 1 | .647** |
| | Sig. (2-tailed) | | .000 |
| | N | 196 | 196 |
| C_Varible | Pearson Correlation | .647** | 1 |
| | Sig. (2-tailed) | .000 | |
| | N | 196 | 196 |

**. Correlation is significant at the 0.01 level (2-tailed).

په پورته جدول کې د Pearson Correlation تحلیل شوی، چې د دوه متغییرونو تر منځ اړیکه ارزوي. B_Variable د خپلواک متغییر سره برابر دی او همدارنګه C_Variable یو تړلی متغییر دی. په پورته جدول کې (N) د څېړنې د ګډونوالو شمېر په ګوته کوي. د دې تر څنګ په نوموړي جدول کې Sig. (2-tailed) = .000 سره برابر دی، چې دا موږ ته د اړیکې ارزښت ښیي. دا چې د B_Variable او C_variable تر منځ د Pearson همبستګي یعنې (Pearson Correlation = .647) سره مساوي ده، دا یوه مثبته او قوي اړیکه ده، ځکه چې Correlation یعني همبستګي له (۰.٦۰) څخه پورته ده. له دې څخه دې پایلې ته رسیږو چې دواړه متغییرونه یو له بل سره قوي مثبت تړاو لري. کله چې د B_variable زیاتیږي په C_Variable کې هم زیاتوالی راځي، پدې معنا چې که د ټولګي مدیریت ښه کېږي ورسره د زده کړې په کچه کې زیاتوالی رامنځته کېږي.

**مناقشه**

موجوده څېړنه د شیخ زاید پوهنتون په محصلانو باندې ترسره شوې ده، چې پکې د بېلا بېلو پوهنځیو او ټولګیو محصلانو ګډون کړی دی. د ګډونوالو څخه د ترلاسه شویو معلوماتو په اساس د ټولګي مدیریت اغېزې په زده کړه باندې څېړل شوې دي. په زده کړه باندې د ټولګي مدیریت اغېزې په بېلا بېلو هېوادونو او د د دې د زده کړې په بېلا بېلو کچو باندې ترسره شوې دي. دغه څېړنه لکه څرنګه چې مخکې یادونه شوې ده،چې د پوهنتون په محصلانو باندې ترسره شوې ده. له همدې امله دغه څېړنه د هغه څېړنو سره چې د مکاتبو په بېلا بېلو دورو باندې ترسره شوې دي توپیر لري. باید ووایو، چې دغه څېړنې د بعضې ترسره شویو څېړنو سره ورته والی لري، چې په لاندې ډول ورڅخه یادونه کېږي. هغه څېړنه چې په (۱۳۸۷) کال د عبدالهی لخوا ترسره شوې ده، چې عنوان یې (نقش آمادگی‌ها در مدیریت اثربخش کلاس درس) دی. د یادې څېړنې پایلې ښیي، چې د ښوونکي تیاری د مدیریت په کیفیت کې مهم فکتور دی او ټینګار کوي، چې بغیر له پوره چمتووالي څخه ښوونکي نه

شي کولای، چې په ښه ډول ټولګی مدیریت کړي. ستاسو په لاسونو کې موجوده څېړنه هم ښیي، چې د استاد تیاری نیول د تولګي په مدیریت او د محصلانو په زده کې ډېر زیات مهم دی. د دې ترڅنګ په (۱۳۹۲) لمریز کال د بخشایش له لوري یوه څېړنه ترسره شوې ده، چې عنوان یې ( رابطه سبک مدیریت کلاس با ویژگي های شخصیتي معلمان مدارس ابتدایي شهر یزد) دی. نوموړي څېړونکي د یادې څېړنې په ترسره کولو سره دې پایلې ته رسیدلی دی، چې د استادانو شخصیتي ځانګړتیاوې د ټولګي په مدیریت کې خورا مهمې دي. دغه څېړنه چې د په شیخ زاید پوهنتون کې ترسره شوې ده، هم ورته پایلې لري، چې په دې سره د بخشایش نتیجه د منلو وړ ګڼي او نتیجه یې قبلوي.

(۱۹۹۸) ,Martin & Baldwin هغوی د ټولګی اندازې، تدریس او لوړو زده‌کړو تر منځ اړیکې ارزولي، چې پایلې یې ښیي کوچني ټولګي او د تدریس لوړ مهارتونه د مؤثر مدیریت لپاره مهم رول لري.

په ایران هېواد کې یوه بله څېړنه په (۱۳۹٦) کال ترسره شوې ده، چې عنوان یې (بررسي تاثیرسبک های مدیریت کلاس درس برمیزان پیشرفت تحصیلي دانش آموزان مقطع دبیرستان شهرستان شهرکرد) دغه څېړنه د محسن امیري دهکردي له خوا ترسره شوې ده او داسې پایلې یې تر لاسه کړې دي. د څېړنې موندنې ښیي، چې د مدیریت همغږې (انتظامي) سبک پر تحصیلي پرمختګ باندې اغېزه لري. د چلند د سبکونو په برخه کې، د اصولو پر بنسټ چلند، اقتدارګر چلند، او آزادمنش چلند هر یو پر تحصیلي پرمختګ باندې اغېز لري. موجوده څېړنه په ګوته کوي، چې د ټولګي په مدیریت په زده کړه باندې ډېر زیات تاثیر لري، په هره کچه چې ټولګی په ښه ډول مدیریت شي، په هماغه کچه زیاته زده کړه صورت نیسي.

هغه څېړنه چې د حاجي محسن او فېروز جایي لخوا په (۱۳۹۹) کال کې د (مدیریت کلاس درس به عنوان مؤلفهای از مدیریت مدرسه: پیشبینی عملکرد و سرزندگی تحصیلی دانش آموزان) عنوان لاندې ترسره شوې ده، په لاندې ډول پایلې ورڅخه په لاس راغلې دي. د څېړنې پایلې ښیي، چې د ښوونکو د ټولګي مدیریت درې برخې او تحصیلي ژوند د تعلیمي فعالیت سره مثبت اړیکه لري. همدارنګه، تر لاسه شویو پایلو څخه څرګندېږي، تحصیلي ژوند د ټولګي مدیریت هر درې برخو سره مثبت اړیکه لري. د سلسلې وار خطي ماډل پایلې وښودله، چې تحصیلي ژوند د ټولګي مدیریت او تنظیم دوه برخې د تعلیمي فعالیت وړاندوینه کوي، چې د درې واړو متغیرونو ضریبونه مثبت وو. همدارنګه، پایلې وښودله چې د ټولګي مدیریت، نظم او انضباط، او تنظیم برخې د تحصیلي ژوند لپاره مهمې وړاندوینې دي. له دې امله، هغه ښوونکي چې خپل ټولګي ښه مدیریت او تنظیموي، د زده کوونکو د تعلیمي فعالیت او تحصیلي ژوند کیفیت یې ښه وي، او د تحصیلي ژوند لوړوالی د زده کوونکو د غوره تعلیمي فعالیت سبب کېږي. د دغې موجودې څېړنې پایلې چې د Pearson د همبستګی له مخې په دوه

متغییرونو کې په ګوته کوي، چې د ټولګي مدیریت د زده کړې سره قوي مثبته اړیکه لري، پدې معنا، کله چې په خپلواک متغییر (د ټولګي مدیریت) کې زیاتوالی راځي په مقابل کې یې تړلی متغییر (د زده کړې کچه ) کې زیاتوالی راځي. پس ویلی شو، چې زموږ موجوده څېړنه هم ورته پایلې لري، چې په دې سره د پورته څېړنې نتیجې د قبول وړ ښودل کېږي. له پورته یادو څېړنو څخه داسې نتیجه حاصلېږي، چې د ټولګي مدیریت په زده کړه باندې مستقیم تاثیري لري، خو یوازې د ټولګي مدیریت کفایت نه کوي، بلکې ځینې نور فکتورونه لکه ( تدریس ته چمتوالی، پلان جوړونه او نور ... ) په زده کړه باندې مستقیم تاثیر لري.

**پایله**

د ټولګي مدیریت د زده کړې په کچه باندې ژور اغېز لري، د محصلانو پام راجلبوي، منظم چاپېریال برابروي او د درسي فعالیتونو تنظیم هغه عوامل دي، چې د ټولګي مدیریت پورې اړه لري، چې ورسره د زده کړې کیفیت لوړېږي. د دې څېړنې پایلې څرګندوي، چې په شیخ زایدپوهنتون کې ترسره شوې څېړنه کې (۸۹) سلنه شاوخوا محصلان پدې باور دي، چې استاد په ټاکلي وخت درس ته حاضرېږي، د دې تر څنګ (۸۹.۹) سلنه ګډونوال د په دې باور دي، چې استاد د درس څخه مخکې پلان ترتیب کړی وي. همدارنګه(۹۰.۹) سلنه محصلان وایي، چې استاد د ټولګي د نظم ساتلو پوره وړتیا لري. باید ووایو ، چې ددې څېړنې (۸۷.۸) سلنه محصلان پدې باور دي، چې د ټولګي فعاله مدیریت له امله محصلان تل فعال وي او (۹۲.۸) سلنه محصلان په دې یقیني دي، چې د استاد لخوا د ټولګي په مدیریت کولو سره د محصلانو په زده کړه کې مثبت بدلون راغلی دی. (۹۲.۳) سلنه محصلان په دې یقیني دي، چې د ټولګي غیر منظم حالت په زیاته کچه زده کړې زیانمنې کوي، له امله په کار ده، چې ټولګی په ښه ډول مدیریت شي. د ټولګي مدیریت تر څنګ (۹۲.۸) سلنه محصلان په دې باور دي، چې د درسي پلان شتون په زیاته اندازه زده کړه ښه کوي او ور سره همدارنګه د دوی څخه تر لاسه شوي ځوابونه په ګوته کوي، چې (۹۱.۳) سلنه محصلان پدې باور دي، چې د استاد لخوا د ټولګي مدیریت کول د محصلانو په درسي بریا باندې ډېر زیات تاثیر لري. دغه څېړنه په ګوته کوي، د ټولګي مدیریت د زده کړې سره قوي او مستقیمه اړیکه لري، په هره کچه، چې د ټولګي مدیریت لوړېږي، په هماغه اندازه ورسره د زده کړې اندازه پورته ځي او څومره چې د مدیریت کچه کمزرې کېږي، په هماغه اندازه د زده کړې کچه کمېږي، بس نتیجه ترلاسه کېږي، چې د ټولګي مدیریت په زده کړه باندې مستقیم تاثیر لري. هغه استادان چې د تدریس لپاره منظم پلان جوړوي، د ټولګي نظم ساتي، د محصلانو او زده کوونکو پوښتنو ته غوږ نیسي، زده کوونکي په درسي فعالیتونو کې فعاله او متحرک ساتي او د دې تر څنګ د ټولګي ښه مدیریت د زده کوونکو تمرکز او په درس کې ګډون زیاتوي، چې په پایله کې د هغوی د زده کړې کچه لوړېږي. بر عکس که ټولګی بې نظمه او غیر مناسب وي نو

زده کوونکي په خپل درس کې کمزوري ښيي، چې پدې سره د زده کړې موخې تر لاسه کول ستونزمن کېږي. له همدې امله دا څېړنه په ګوته کوي، چې د استادانو لپاره اړینه ده، چې د ټولګي مدیریت مهارتونه ښه کړي او په دوامداره توګه خپل پلانونه او تدابیر اصلاح کړي؛ تر څو محصلانو ته د زده کړې غوره فرصتونه برابر کړي. د ښوونې او روزنې په پروسه کې د ټولګي مدیریت ته ځانګړې پاملرنه د زده کړې کیفیت د لوړولو او د محصلانو د علمي پرمختګ لپاره حیاتي ارزښت لري.

**وړاندیزونه**

د موجوده څېړنې (پر زده کړه د درسي ټولګي مدیریت اغېزې) تر بشپړېدو وروسته په لاندې ډول وړانیزونه کېږي:

۱- د استادانو ظرفیت لوړونه: د استادانو لپاره دې داسې روزنیز پروګرامونه جوړ شي، چې د ټولګي مؤثر مدیریت، د نظم ساتلو او د محصلانو ښکېلتیا لوړو مهارتونو ته وده ورکړي.

۲- تشویقي چاپېریال رامنځته کول: د محصلانو لپاره داسې زده‌کړه ییز چاپېریال برابر شي، چې پکې منظم، مثبت، او هڅوونکې فضا حاکمه وي، ترڅو د زده کړې کچه لوړه شي.

۳- د محصلانو فعاله ونډه: استادان دې هڅه وکړي؛ ترڅو محصلانو په بحثونو، فعالیتونو او تصمیم‌نیونه کې ونډه واخلي، چې دا چاره د ټولګي کنټرول اسانه کوي او زده کړه اغېزمنوي.

۴- منظم پلان جوړونه: استادان دې د هر درس لپاره مخکې له مخکې تدریسي پلان ولري، ترڅو تدریس له ګډوډۍ خوندي پاتې شي او د وخت مؤثر استعمال یقیني شي.

۵- ارزونې او تعقیبي ارزونې: تعلیمي اداري دې وخت په وخت د ټولګي مدیریت، د استادانو کړنې او د محصلانو زده‌کړې ارزونه و کړي؛ ترڅو کمزورۍ تشخیص او اصلاح شي.

٦- د ټولګي مدیریت مهارتونه: پایلو ته په کتو باید استادانو ته د ټولګي مدیریت د مهارتونو په هکله روزنیز پروګرامونه جوړ شي؛ ترڅو په زده کړه کې د لاښه والی راشي.

**اخځليکونه**

بخشايش، ع. (۱۳۹۲). رابطه سبک مديريت کلاس با ويژگي های شخصيتي معلمان مدارس ابتدايي شهر يزد. رهيافتي نو در مديريت آموزشي, (شماره), ۱۸۵-۱۹۸.

رنجبر، سمیه. (۱۳۹۱). مطالعه عوامل مؤثر بر مدیریت اثر بخش کلاس درس. نخستین همایش ملی علوم مدیریت نوین.

ستانکزی،محمد اسماعیل.(۱۳۹۷).د تدریس کلیدي عناصر.خپرندوی:ګودر کتاب پلورنځی- ننګرهار.

سرمدي، م.، & سيف، ح. (۱۳۸۹). مديريت كلاس (چاپ دوم). تهران: انتشارات دانشگاه پیام نور.

صمدی، پروین، رجایی پور، سعید، آقاحسینی، تقی، و قلاوندی، حسن. (۱۳۸۷). تبیین جو یادگیری اثربخش بر اساس مؤلفه‌های مدیریت کلاس درس در مدارس راهنمایی شهر ارومیه. اندیشه‌های نوین تربیتی و روان‌شناسی دانشگاه الزهرا (س)، ۱ و ۲، ۱۸-۲۹.

عبدالهی، ابوطالب. (۱۳۸۷). نقش آمادگی‌ها در مدیریت اثربخش کلاس درس. نشریه مربیان، (۳۰)، ۱۵.

علا د آمد، & امتنیزدید، س. (۱۳۸۷). رأثتر ویژگ های معلم یور سوبک مو یریت کولاس. مصولدام رعلوتم و رریتت, ۲۴(۲), ۹۳-۱۱۷. https://www.sid.ir/fa/journal/ViewPaper.aspx?id=78851

نظري، قدرت الله.(۱۳۹۸).تدریس زده کړه.خپرندوی:نویسا خپرندویه ټولنه.

Adeyemo, S. A. (2012). The relationship between effective classroom management and students' academic achievement. European Journal of Educational Studies, 4(3), 367–381.

Eveyik-Aydın, E., Kurt, E., Mede, G., & Enisa, E. (2009). Exploring the relationship between teacher beliefs and styles on classroom management in relation to actual teaching. Procedia - Social and Behavioral Sciences, 1(1), 612–617. https://doi.org/10.1016/j.sbspro.2009.01.109

Lewis, R. (2001). Classroom discipline and student responsibility: The student's view. Teaching and Teacher Education, 17(3), 307–319.

Martin, N. K., Yin, Z., & Baldwin, B. (1998). Construct validation of the Attitudes and Beliefs on Classroom Control Inventory. Journal of Classroom Interaction, 33(2), 6–15.

# The Effect of classroom Management on Learning

Teaching assistant Abdul Rahman Zhanai Shaikh Zayed University, Faculty of Language and Literature, Urdu Department and Assistant Professor Mohammad Sarwar Haqparst, Kabul Education university, Faculty of Education and professional Sciences.
**Email Add**: abdulrahmanlaho10@gmail.com

## Abstract

The present study was conducted under the title "The Effects of Classroom Management on Learning". Its aim is to investigate the effects of classroom management on learning. Classroom management is the plans, practices, and measures that a teacher uses to organize instruction, present lesson content, engage students, and promote learning. The data collected from (196) participants of this study were analyzed using (SPSS 23). According to Pearson Correlation, various aspects of classroom management (such as discipline, lesson plan, attendance, motivation to participate, and listening to students' opinions) have a strong positive relationship with learning outcomes. Also, the Sig. (2-tailed) of this study is consistent with .000, which indicates a strong value. The results of this study show that the person correlation between classroom management and learning is equal to (.647), which indicates a positive and strong relationship. At any level, classroom management improves, the level of learning increases. Also, the results of the ANOVA test showed that there is a statistically significant difference in learning outcomes between the different levels of classroom management, corresponding to a P value = .000 and an F value =8.287. The difference found is not random but is a real difference. The results of the study show that teachers must have effective classroom management skills. Educational institutions and universities should make these skills part of teacher training programs. Teacher management directly affects the quality of learning, participation, focus, and motivation, and is considered an essential element for successful learning.

**Keywords:** Teacher, Classroom Management, Teaching Method, Student Participation, Learning**.**

# د PWR او BWR هستوي رياکتورونو پرتله کول

پوهنوال عبدالتواب عزيزي د شيخ زايد پوهنتون، ښوونې او روزنې پوهنځی د فزيک څانگې استاد
**برېښنا ليک:** tawabazizi1983@gmail.com

**لنډيز**

هستوي رياکتور يوه تخنيکي دستگاه ده، چې د هستوي ماتېدنې بهير کنټرولوي او د همدې بهير له لارې د برقي انرژي توليد لپاره کارول کېږي. د دې لپاره چې انرژي په کنټرول شوې بڼه توليد شي، اړينه ده چې د ماتېدنې عمل په رياکتور کې ثابت وساتل شي او رياکتور په بحراني حالت کې فعاليت وکړي؛ خو که دا عمل له ټاکلې حده زيات شي؛ نو سيستم د کنټرول څخه وځي. په هستوي رياکتورونو کې لږ بډای شوی يورانيم د سون موادو په توگه کارول کېږي، چې له ډېرې لږې کتلې څخه د ډېرې لوړې انرژي د توليد وړتيا لري. د يو مناسب نيوکلائيد له يو گرام څخه ازاده شوې انرژي د څو ټنو سکرو له انرژي سره برابره ده. په رياکتور کې ازاده شوې انرژي د حرارت په بڼه څرگندېږي او دا حرارت د اوبو د بخارولو لپاره کارول کېږي. توليد شوی بخار توربين څرخوي، توربين جنراتور چلوي او په پايله کې برقي انرژي توليدېږي. د رياکتور طاقت د نيوترونونو د جمعيت او د موجوده انشقاق منوونکې مادې د کتلې پورې تړاو لري، چې د کنټرولي ميلو په وسيله تنظيمېږي. PWR د لوړ فشار لاندې فعاليت کوي، له همدې امله اوبه په رياکتور کې نه جوشېږي او بخار په جلا ثانوي سيستم کې توليدېږي. دا ځانگړنه راديواکتيف مواد له توربين څخه جلا ساتي او د خونديتوب کچه يې لوړوي، چې په ټوله کې PWR د لوړ خونديتوب او دوامداره کنټرول له امله تر ټولو زيات کارېدونکی رياکتور دی.

**کليدي ټکي:** جوشوونکو سپکو اوبو رياکتور، ځنځيري تعامل، سپکې اوبه، د رياکتور طاقت، فشار لاندې د سپکو اوبو رياکتور، کنترولي ميلې، ماتيدنه، نيوتروني سيلان، هستوي رياکتور.

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمدلله رب العالمین والصلات والسلام علی سید المرسلین و علی اله و اصحابه اجمعین.**

**انا کل شیء خلقناه بقدر (۴۹) سورت القمر.**

ژباره: په یقین سره موږ هر څه له یو تقدیر (اندازې او حساب) سره پیداکړي دي.

هستوي ریاکتور د هستوي ځنځیري تعاملاتو د پیل او کنترول لپاره یوه وسیله ده، چې هستوي ماتیدل کنترولوي یا هستوي ریاکتور یو داسې دستگاه ته ویل کیږي، چې په هغه کې د اتومي انرژي په مرسته سره بریښنا لاسته راځي. هستوي ریاکتورونه د برقي انرژي د تولید لپاره په کار وړل کیږي. هستوي ریاکتورونه د مختلفو موخو په نظر کې نیولو سره بېلا بېلې بڼې لري؛ خو ټول بیا له یو ډول اجزاوو څخه جوړ دي. لکه د هستوي ریاکتور د سون توکي، وروکوونکي، کنترولوونکي میلې، د حرارت درجې د راکمولو لپاره سړوونکې ماده، انعکاس کوونکي، د سون توکو لپاره پوښ او د ریاکتور ساتوونکي (حفاظتي) توکي په کې شامل دي. د قدرت ریاکتور د برق تولیدوونکی دی او تحقیقاتي ریاکتور د هستوي تتحقیقاتو په برخه کې لکه د تجربوي کارونو، مطالعاتو او د ایزوتوپونو د تولید په برخه کې ترې استفاده کیږي. په هستوي ریاکتور کې اوبه په بخار اړوي، چې نوموړی گرم بخار د بخار توربین څرخوي توربین جنراتور څرخوي او بالاخره جنراتور برقي انرژي تولیدوي.

لومړی هستوی ریاکتور په شیکاگو پوهنتون کې د فرمي، زیلارد او د هغوي ملگرو، چې د فرمي تر لارښوونې لاندې یې کار کاوه جوړ شو. هستوي ریاکتور د برقي انرژي په تولید، د طبیعي ایزوتوپونو په تولید، راډیوگرافي او د نیوترونونو ازادیدو لپاره او همدارنگه د صنعتي ایزوتوپونو په تولید کې ترې استفاده کیږي؛ خو ځیني ریاکتورونه د تحقیقاتي کارونو د سرته رسولو لپاره په کار وړل کیږي.

د فزیک څانگې مینوالو لپاره مو په دې مقاله کې (هستوي ریاکتورونه، د ریاکتور طاقت او نیوتروني سیلان او د PWR او BWR هستوي ریاکتورونو) موضوعات ځای په ځای کړي دي. د موضوعاتو د ښه توضیح په موخه شکلونه، گراف، جدول او د موضوع اړوند معادلې ځای په ځای شوې دي. دا چې په گران هیواد کې د عصري فزیک په اړه زیات کار او زیار ته اړتیا ده له دې امله اړینه ده، چې د عصري فزیک د هرې موضوع په برخه کې کار وشي. د دې مقالې د لیکلو په ادامه به نورې علمي مقالې هم د مسلک خاوندانو او مینه والو ته وړاندې شي؛ تر څو الله تعالی په راتلونکي وخت کې د ټولو ساینسي مفاهیمو د عملي کیدو طاقتایي راپه برخه کړي.

**موخې**

- د هستوي رياکتورونو په اړه دقيق علمي معلومات وړاندې کول.
- د PWR او BWR هستوي رياکتورونو ځانګړنې پيژندل.
- د هستوي رياکتورونو څخه د پلوتونيم او بريښنايزې انرژي د لاسته راوړلو په هکله پوهه ترلاسه کول.

**د څېړنې ارزښت**

د دواړو هستوي رياکتورونو د انرژي توليد طريقه، د پلوتونيم لاسته راوړنه، خونديتوب کچه او اقتصادي لګښتونه په واضح ډول بيانوي. دا مقاله لوستونکو سره مرسته کوي، چې د هستوي ټکنالوژي مهم توپيرونه درک کړي او د پوهې د پراختيا او اغېزمن استعمال لپاره په پراخه کچه علمي معلومات وړاندې کوي.

**کړنلاره او کار توکي**

د دې موضوع د ترتيبولو لپاره د بيلابيلو داخلي او خارجي کتابونو څخه پوره استفاده شوې ده او همدارنګه د باوري انټرنيټي سايټونو او علمي مقالو څخه پکې هم کار اخيستل شوی دی او زيار ويستل شوی، چې د موضوع اړونده علمي معلومات راټول او ترتيب شي.

**د PWR او BWR هستوي رياکتورونو پرتله کول**

اوس مهال په نړۍ کې د هستوي بريښناکوټونو اکثريت د اوبو په واسطه ورو کېدونکي تودوخيز رياکتورونه دي. دوی د سپکو اوبو يا هم درندو اوبو د رياکتورونو په توګه ډلبندي کېږي. د سپکو اوبو رياکتورونه خالصې طبعي اوبه ($H_2O$) د سړونکي يا ورو کوونکي په توګه کاروي. په داسې حال کې، چې د درندو اوبو رياکتورونه درندې اوبه (ديوتريوم اکسايد ($D_2O$) ) کاروي. د سپکو اوبو په رياکتورونو کې اوبه تر فشار لاندې نيول کېږي. د سپکو اوبو رياکتورونه په کمه کچه غني شوي يورانيم د سون توکو په توګه کاروي. غني شوي سون توکي اړين دي؛ ځکه چې طبعي اوبه د نيوترونونو يوه اندازه جذبوي، چې په دې سره د هستوي ماتيدنو شمېر را کمېږي. د امريکا په متحده ايالاتو کې ټول ۱۰۳ هستوي برقي سيستمونه د سپکو اوبو رياکتورونه دي؛ چې ۶۹ يې د PWRs او ۳۴ يې BWRs دي. هستوي رياکتورونه د لوړې انرژي سرچينه منځ ته راوړي؛ خو لګښت يې ډير دی. هستوي رياکتورونه د کنټرول شوې هستوي ماتېدنې (Fission) له لارې حرارتي انرژي توليدوي، چې وروسته برقي انرژي ته بدلېږي. [۱].

په ریاکتورونو کې د حرارتي انرژي څخه استفاده په دې ډول ده، چې اوبه د بخار د تولید لپاره تر فشار لاندې ګرمیږي. د فشار لاندې بخار توربین ګرځوي یعنې په حرکت یې راولي بیا توربین جنراتور څرخوي، چې په پایله کې بریښنایزه انرژي لاسته راځي [۲: ۲۳۸].

لومړی هستوی ریاکتور په ۱۹۴۲ م کال د شیکاګو په پوهنتون کې د فرمي، زیلارد او د هغوی ملګري، چې د فرمي تر لارښوونې لاندې یې کار کاوه جوړ شو [۳: ۱۳٦]. په ۱۹۵۵ م کال کې له ریاکتورونو څخه په استفاده کولو سره د هستوي انرژي څخه په نظامي ساحو او همدارنګه د اقتصادي کیدو فکر پیدا شو او په لوړ قدرت د انرژي د تولیدي منبعې په حیث د امریکا متحده ایالاتو د اختراعاتو او کشفیاتو په اداره کې ثبت شو. هستوي ریاکتور د برقي انرژي په تولید، د طبیعي ایزوتوپونو په تولید، راډیوګرافي، د نیوترونونو ازادیدو لپاره او همدارنګه د صنعتي ایزوتوپونو په تولید کې ترې استفاده کیږي؛ خو ځیني ریاکتورونه د تحقیقاتي کارونو د سرته رسولو لپاره په کار وړل کیږي [۴: ۳۸۱].

د یو مناسب نیوکلائید له یو ګرام څخه هره ورځ ازاده شوې انرژي 1MW ده، چې د نوموړې انرژي د تر لاسه کولو لپاره 2.6Ton ټنه د ډبرو سکاره ضرورت دي. په ریاکتورونو کې ازاده شوې انرژي د حرارت په شکل ظاهریږي [۵: ۱۹۵].

هستوي ریاکتورونه د کنترول کوونکو میلو په واسطه، چې د کدمیم $(Cd)$، هافینوم $(Hp)$ او اندیم $(In)$ په نوم یادیږي د انرژي په خارجیدو سره کنترول کولای شو. هستوي ریاکتورونه د مختلفو برخو درلودونکی دی، چې اصلي او اساسي وسایل او مواد په کې وکارول شي. که یوه آله له دې وسایلو څخه سم کار ونه کړي؛ نو د دې امکان شته چې هستوي ریاکتور چاودنه وکړي.

په یورانیم کې ځنځیري تعامل په دوه طریقو سرته رسیږي. لومړۍ طریقه له طبیعي یورانیم څخه د ماتیدونکي یورانیم $^{235}U$ جدا کیدل دي او دوهمه طریقه په هستوي ریاکتورونو کې د استفادې وړ ده. په هستوي ریاکتورونو کې د غنې شوي یورانیم څخه د مادې په حیث کار اخلي، چې د ماتیدنې عملیې په پایله کې نیوترونونه لاسته راځي، چې نوموړي نیوترونونه په خپل وار سره بیا د نورو هستو د ماتیدنې لامل کیږي او دا سلسله په هم دې ډول سره مخ ته ځي، چې تعامل د ځنځیري تعامل په نوم یادیږي [٦].

هستوي ریاکتورونه د مختلفو موخو په نظر کې نیولو سره بېلا بېلې بڼې لري؛ خو ټول بیا له یو ډول اجزاوو څخه جوړ دي، چې د هستوي ریاکتور د سون توکي، وروکوونکي، کنټرولوونکي میلې، د حرارت درجې د راکمولو

لپاره سړوونکې ماده، انعکاس کوونکي، د سون توکو لپاره پوښ او د رياکتور ساتوونکي توکي په کې شامل دي (۱- شکل) [۵: ۱۹۷].




(**۱- شکل**): د هستوي رياکتور اساسي برخې را په گوته کوي [۷: ۱۶۸].

د رياکتور زړه د يو سړوونکي مادې په واسطه، چې نوموړي مواد ممکن د لوړ فشار لاندې غاز، د لوړ فشار لاندې اوبه يا بله لوړه مايع او يا هم د کوم فلز په واسطه احاطه شوی وي. په ټولو حالتو کې يو ځانګړي لوښي ته ضرورت ليدل کيږي، چې دا ټول په ځان کې وساتي او هغه له الکترومقناطيسي وړانګو څخه جدا کړي. نوموړی لوښی يو داسې فلز په پام کې نيول کيږي، چې د اوبو اخيستنې له پلوه بايد کاملا ډاډه وي او د محکموالي له پلوه د څو زره ټنه قوې په مقابل کې خپل مقاومت وساتي. ضخامت يې دومر زيات دی، چې د هغې جوړول د هر پلوه يو څه ستونزمن وي. په نوموړي لوښي باندې له داخل څخه د سړوونکو اوبو د فشار په نسبت خارجي فشار ډير زيات دی. له بلې خوا بايد د رياکتور داخلي برخه له خارجي وړانګيزو فعاليتونو څخه په امن کې وي؛ نو د دې لپاره بايد د رياکتور پوښ له کثيف فلز څخه جوړ شي؛ تر څو وړانګيز فعاليتونه په خپل ځای کې جذب کړي او همدارنګه د هايدروجن او نورو سپکو هستو د جذب طاقت هم بايد ولري [۵: ۲۱۲-۲۱۳].

ځينې توکي لکه يورانيم $^{238}_{92}U$ او توريم $^{232}_{90}Th$ چې د نيوترونونو په واسطه د کمې انرژۍ په صورت کې نه ماتيږي کولای شو د يو هستوي رياکتور د ماتيدنې په صورت کې په داسې هستو تبديل کړو، چې ماتيدنه يې د حرارتي نيوترونونو په واسطه صورت ونيسي دوه تعاملات يې په دې ډول دي [۸: ۵۶۵].

$$ {}_{0}^{1}n + {}_{92}^{238}U \rightarrow {}_{92}^{239}U^{*} \xrightarrow{\beta^{-}(23\min)} $$

$$ {}_{93}^{239}Np \xrightarrow{\beta^{-}(2.3d)} {}_{94}^{239}Pu(24000y) $$

$$ {}_{0}^{1}n + {}_{90}^{232}Th \rightarrow {}_{90}^{233}Th^{*} \xrightarrow{\beta^{-}(23\min)} $$

$$ {}_{91}^{233}Pa \xrightarrow{\beta^{-}(27d)} {}_{92}^{233}U(1.6\times10^{5}y) $$

یورانیم ${}_{92}^{238}U$ او توریم ${}_{90}^{232}Th$ نه شي کولای د حرارت اخستنې په واسطه وچوي؛ په دې وخت کې نیوترونونه احاطه کوي. نوموړي تعاملات په پلوتونیم ${}_{94}^{239}Pu$ او یورانیم ${}_{92}^{233}U$ ، چې ماتیدنه منونکي دي ماتیږي.

د دوه تعاملونو سربېره د یو بریښنا تولیدونکي ریاکتور امکان پیداکوي په یو بریښنا تولیدونکي ریاکتور کې دوه د سون توکي وجود لري یو انشقاق منونکی توکی (لکه پلوتونیم ${}_{94}^{239}Pu$ ) او بل توکی یې چاودیدونکی (لکه یورانیم ${}_{92}^{233}U$ ) ، چې کولای شي په ریاکتورکې په چاودېدونکې توکي بدل شي د پلوتونیم ${}_{94}^{239}Pu$ په ماتیدنه کې په اوسط ډول درې نیوترونونه ازادیږي یو د دغو نیوترونو څخه، چې د ${}_{94}^{239}Pu$ هستې ماتیدنه تولیدوي باید وساتل شي او د دوه نورو پاتې نیوترونونو څخه یو یې د ${}_{92}^{238}U$ په واسطه اخیستل کیږي او په ${}_{94}^{239}Pu$ بدلیږي په هم هغه اندازه ماتیدنه منونکی سوخت په ریاکتورکې ساتي. څه وخت، چې زیات د دې دوه نیوترونونو څخه یو نیوترون د ${}_{92}^{238}U$ په واسطه واخیستل شي ریاکتور کولای شي انشقاق منوونکی ${}_{92}^{239}Pu$ تولید کړي یعنې انشقاق منوونکي توکي نسبت مصرف ته زیات تولیدیږي [۸: ۵٦٦-۵٦۷].



د رياکتور طاقت او نيوتروني سيلان د عملي دلايلو په صورت کې هغه طاقت، چې يو رياکتور يې توليدوي د اهميت وړ کميت دی. طاقت د نيوترونونو په جمعيت او همدارنگه د موجوده انشقاق منوونکې مادې د کتلې پورې ارتباط لري. که په لومړيو کې يو سانتي متر مکعب رياکتور د نمونې په شکل په پام کې ونيول شي، چې د N سوځېدونکو هستو لرونکی دی او په رياکتور کې د نيوترون په ځانگړې انرژي کې د يوې ماتيدنې د سطح مقطع د نيوترون په سرعت v پورې اړه لري $\sigma_f$ دی. فرض کړئ، چې n نيوترونونه په نوموړي حجم کې شتون لري. بنا پردې سرعت يا د ماتيدنې د تعاملاتو $(R_f = nvN\sigma_f)$ انجام شوي قيمت ماتيدنه پر ثانيه ده. که هره ماتيدنه انرژي $\omega$ توليد کړي په هغه وخت کې طاقت پر واحد حجم يې د $P = \omega R_f$ سره مساوي دی. د ټولو رياکتورونو لپاره، چې د V حجم لرونکي دي د توليد شوې حرارتي انرژي قيمت به يې $P = pV$ وي. که زموږ متوسط سيلان $\bar{\phi} = nv$ او د سوځېدونکو ټولو اتومونو تعداد $N = NV$ وي د رياکتور ټول طاقت عبارت دی له:

$$P = \bar{\phi} N_T \sigma_f \omega$$

پردې اساس ليدل کيږي، چې طاقت د سوځېدونکو اتومونو تعداد او د نيوترونونو تعداد په حاصل ضرب پورې اړه لري. که چيرې د رياکتور د سوخت مقدار کم وي زيات سيلان لازم دی او برعکس که نور ټول شيان مساوي وي رياکتور د لوړې ماتيدنې سطح مقطع په اساس کولای شي معين طاقت، چې موږ يې غواړو نظر سوخت ته کم توليد کړي؛ ځکه د رياکتور $\sigma_f$ کوچنی دی. بايد يادونه وکړو، چې $\sigma_f$ د نيوترون د انرژي په زياتوالي کموالی کوي؛ نو د معين طاقت P لپاره يو گړندی رياکتور، چې د يو ميگا الکترون ولټ په حدودو کې انرژي لرونکي نيوترونونو باندې کار کوي په قوي سيلان يا په عمده ډول انشقاق منوونکی سوخت د حرارتي رياکتور په نسبت، چې د نيوترونونو انرژي يې د $0.1eV$ په حدودو کې ده زياته اړتيا لري [۳: ۱۳۵].

توليد شوی طاقت د اکثرو وسايلو په واسطه، چې موږ يې پيژنو د سوخت مصرف پورې اړه لري. د مثال په توگه د يو لوی متحرک ماشين د تيلو مصرف د کوچني ماشين په پرتله زيات دی په هغه وخت کې، چې حرکت پورته خواته وي د هغه حرکت په پرتله، چې کښته خواته وي ماشين ډير تيل مصرفوي. د ډيرې زياتې انرژي په وجه په رياکتور کې، چې د سوخت هر بانډ څخه په لاس راځي ډير کم ځلې د سوخت اضافه کولو ته ضرورت لري او په اساسي ډول د سوخت مقدار ثابت پاتې کيږي. هغه فرمول، چې طاقت، سيلان او سوخت ته ربط ورکوي

لیدل کیږي، چې طاقت په اسانۍ کولای شي د سیلان په تغیر سره پورته یا کښته شي. د کنترولي میلو ځای په ځای کولو سره د نیوترونونو جمعیت کولای شي مورد نظر سطحې ته زیاتوالی یا کموالی ورکړي. د ریاکتورونو طاقت، چې د برق د تولید لپاره په کار وړل کیږي د $3000MWt$ میګا واټو په حدودو کې حرارتي طاقت تولیدوي، چې $1000MWt$ تولیدوي [۹: ۴۰۲-۴۰۳].

**د ریاکتور ډولونه**

هستوي ریاکتورونه مختلف ډولونه لري؛ خو په لومړۍ مرحله کې په دوه اصلي یا اساسي ریاکتورونو، چې د قدرت ریاکتور او تحقیقاتي ریاکتور نومیږي د کار وړتیا لري. د قدرت ریاکتور د برق تولیدوونکی دی او تحقیقاتي ریاکتور د هستوي تتحقیقاتو په برخه کې لکه د تجربوي کارونو، مطالعاتو او د ایزوتوپونو د تولید په برخه کې ترې استفاده کیږي. [۹: ۴۲۴].

هستوي ریاکتورونه په نړیواله کچه په درې عمده برخو کې تشریح کیږي:

**۱. د ورو کوونکې مادې** په بنسټ ډلبندي شوي ( لکه د سپکو اوبو ریاکتور یا د ګرافیټ په منځګړیتوب ورو شوی ریاکتور او د سختو اوبو ریاکتور).

**۲. د سړوونکې مادې په بنسټ ډلبندي شوي** ( لکه تر فشار لاندې سپکو اوبو ریاکتور یا جوشېدونکو سپکو اوبو ریاکتور او د ګاز په واسطه سوړ شوی ریاکتور).

**۳. د غبرګون د ډول په بنسټ ډلبندي شوي** ( لکه د چټک نیوترون ریاکتور یا تودوخیز نیوترون ریاکتور او د مایع فلزي چټک تولیدي (breeder) ریاکتور) [۱: ].

له دې ډلې څخه فشار لاندې د سپکو اوبو ریاکتور PWR (Pressurized Water Reactor) او جوشوونکو سپکو اوبو ریاکتور BWR (Boiling Water Reactor) ، چې په نړیوالو بازارونو کې د خرڅلاو لپاره په ټولیزه توګه موجود دي او تر ټولو زیات کارول کیږي [۱۰: ۵۸].

د فشار لاندې د سپکو اوبو ریاکتور: PWR هغه هستوي ریاکتور دی چې په کې اوبه د ډېر لوړ فشار لاندې ساتل کېږي؛ تر څو په ریاکتور کې جوش ونه خوري. حرارت له ریاکتور ثانوي سیستم ته لېږدول کېږي او هلته بخار تولیدېږي. نوموړی ریاکتور د ډېرو مروجو ریاکتورونو څخه دی، چې 230 دستګاوو څخه یې زیات د برق د تولید لپاره او سلګونه نورې دستګاوې یې د

بحري قوو د حرکت په توليد کې بوختې دي. ويل کيږي، چې PWR ډيزاين د اوبو لاندې د بحري قوو سرچينه ده او د رياکتور وړوکی کول د نورو هستوي رياکتورونو په پرتله يوه ځانګړنه ده [۴: ۳۹۴].

د فشار لاندې سپکو اوبو رياکتور (Pressurized Water Reactor، PWR) په WBAPL ( Westinghouse Bettis Atomic Power Laboratory) کې د پوځي کښتيو د ډيزاين په تطبيقاتو کې د لسيزو لپاره د سپکو اوبو د رياکتور يو ډول کارولی دی؛ د بريښناکوټ د ننيو رياکتورونو لومړني جوړوونکي يې Framatome ANP او Wenstinghouse دي. د فشار لاندې سپکو اوبو رياکتور يې په دې برخه کې هم ځانګړی دی، چې اوبه د رياکتور له هستې څخه تيريږي؛ ترڅو د ورو کوونکي او سړوونکي په توګه عمل وکړي، دا په توربين کې جريان نه مومي. د جريان د دوديز دوران ترڅنګ اوبه يوه ابتدايي تر فشار لاندې نيول شوې حلقې ته هم تيريږي. د PWR په دوران کې دا پراو په دوهمې حلقه کې بخار توليدوي، چې دا توربينونه چلوي. د PWR په ښېګنو کې توربين يا چاپيريال ته د سون توکو څخه د راديواکتيف موادو نه وتل او د موثريت لپاره د لوړې کچه فشار او تودوخې د ساتلو وړتيا شامليږي. په بدګنو کې يې د رياکتور پېچلې ډيزاين او لګښتونه شامليږي. په امريکا متحده ايالاتو کې د موجودو رياکتورونو څخه ډېری يې له دې ډول څخه دي (۲- شکل).

د تر فشار لاندې نيول شويو اوبو رياکتورونه د هستوي بريښنايي رياکتور يو ډول دی، چې غني شوي يورانيم د سون توکو په توګه کاروي، چې د بخار د توليدولو لپاره کارول شوې سپکې اوبه ګرموي. هغه عمده ځانګړنه چې دا رياکتورونه يې لري د جوشېدونکو سپکو اوبو هستوي رياکتورونو (BWR) څخه دا ده، چې يو PWR د تودوخې د تبادله کوونکي په بڼه د بخار د جوړولو لپاره يو جلا ترتيب لري.



(۲- شکل): د فشار لاندې د سپکو اوبو رياکتور ښيي [۱۱].

د فشار لاندې سپکو اوبو رياکتور (PWR) د برېښناکوټ د رياکتور يو ډول دی، چې دوه اساسي سرکيټونه لري، د کاري مايع په توګه ساده اوبه کاروي. له دې دوو سرکيټونو څخه په يوه کې يې اوبه په زياته اندازه ګرمېږي او په لوړ فشار کې ساتل کېږي، داسې چې په ګازي حالت بدلې نه شي. دا فوق‌العاده ګرمې شوې اوبه د هستوي رياکتور د هستې د سړوونکي او ورو کوونکي په توګه کارول کېږي، له همدې امله يې نوم تر فشار لاندې نيول شويو اوبو رياکتور (PWR) دی.

دوهم سرکيټ کې تر لوړ فشار لاندې ساتل شوې اوبه د ګاز، بخار، په حالت کې شتون لري، چې د توربين-تبادله کوونکي د ترتيب د چلولو لپاره کارول کېږي. د دې دوو سرکيټونو د تعامل نقطه د تودوخې تبادله کوونکی يا هغه جوشوونکی دی، چې له فوق‌العاده ګرمو شويو لوړ فشار لرونکو اوبو څخه رامنځته شوې تودوخه په دوهمي سرکيټ کې بخار ته بدلوي.

**د PWR ښېګڼې**

په يوه PWR کې د کنټرول ډېرې کمې ميلې په کار دي، چې په واقعيت کې، په يوه ۱۰۰۰ ميګاواټه وصفي کوټ کې د کنټرول يوازې پنځه درزنه شاوخوا ميلې کافي دي.

له دې امله چې دواړه سرکيټونه يو له بل څخه خپلواک دي، دا د ساتنې د سټاف لپاره ډېره اسانه کوي، چې د ټول برېښناکوټ له خاموشه کولو څخه پرته د دوهمي سرکيټ اجزاوې وارزوي.

يو PWR لوړ برېښنايي کثافت لري او له دې واقعيت سره په ګډه، چې غني شوي يورانيم د عادي يورانيمو پرځای د سون توکو په توګه کارول کېږي، د پام وړ برېښنايي خروجي لپاره د يو ډېر متراکم سايز لرونکي مخزن د جوړېدو لامل کېږي.

يوه ځانګړنه، چې يو PWR د عملي کارونې لپاره ډېر مناسب ګرځوي د هغه د مثبتې تقاضا ضريب دی، چې د برېښنا د تقاضا سره په مستقيم تناسب خروجي زياتوي.

په ابتدايي سرکيټ کې کارول شوې اوبه له هغو اوبو سره توپير لري، چې په دوهمي سرکيټ کې کارول شوې دي او دا دواړه ډوله اوبه يو بل سره د تودوخې د ليږد پرته هم نه يوځای کېږي، چې د توليد ليږد په جوشوونکي يا د تودوخې تبادله کوونکي کې رامنځته کېږي. په دې معنا، چې د توربينونو په خوا کې کارول شوې اوبه له راديواکتيف بخار څخه پاکې دي؛ نو له همدې امله په دې خوا کې د پايپونو نصب کول د ځانګړو پوښوونکو موادو سره پوښل کيدل نه اړينوي [۱: ].

**د PWR بدګڼې**

ابتدايي سرکيټ چې لوړه تودوخه او لوړ فشار لرونکي اوبه لري د زنګ-وهل (Corrosion) چټکوي. په دې معنا چې، لولې بايد قوي د زنګ ضد سټيل (stainless steel) څخه جوړې شوې وي، چې دا د PWR د جوړښت لګښتونه اضافه کوي.

د PWR د سونتوکو ور زياتول اړينوي، چې کوټ بايد بند شي او دا واقعاً ډير وخت (لږ تر لږه دوو مياشتو ته) اړتيا لري.

په دوهمي سرکيټ کې فشار د لومړي سرکيټ په پرتله ټيټ دی، له همدې امله د PWR رياکتور ترموډيناميکي مؤثريت ډېر ټيټ، چې تقريباً د ۲۰ په شاوخوا کې دی. [۱].

يوه مهمه نقطه چې دلته يې بايد يادونه وکړو، چې د بارونو له تغير سره سره په ابتدايي سرکيټ کې فشار په ثابت مقدار کې ساتلو ته اړتيا لري. دا د فشار لاندې نيوونکي Pressurizer) په نوم د يوې وسيلې په نصبولو سره ترلاسه کېږي. دا اصلاً يو ګنبدې ته ورته شکل او ګرموونکي فنرونه لري، چې د بار مختلفو شرايطو ته په پام سره د اړتيا پر مهال د فشار د زياتولو او کمولو لپاره کارول کېږي.

په ياد ولرئ چې په PWR کې هغه اوبه، چې د رياکتور له هستې څخه تيرېږي؛ تر څو د ورو کوونکو يا سړووونکو په توګه عمل وکړي او توربين ته نه ځي؛ خو په ابتدايي فشار لاندې نيول شوي لوپ کې ساتل کېږي. د ابتدايي لوپ اوبه په دوهمي لوپ کې بخار توليدوي، چې هغه توربينونه چلوي. د دې يوه څرګنده ښېګڼه دا ده چې د هستې د سون توکو راوتلو سره به توربين يا چاپيريال ته کوم راديواکتيف ککړوونکي توکي نه وځي (۳- شکل) بله ښېګڼه يې دا ده چې PWR کيداى شي په لوړ فشار او تودوخه کې وچلېږي، تقريباً ۱۶۰ اتموسفيره او تقريباً ۳۱۵ سانتي‌ګريد درجې. چې دا د BWR په پرتله لوړ مؤثريت لري؛ خو دا رياکتور ډېر پېچلی او جوړېدل يې ډېر لګښت ته اړتيا لري. د امريکا متحده ايالاتو ډېری رياکتورونه د فشار لاندې سپکو اوبو رياکتورونه دي.




(۳- شکل): د فشار لاندې سپکو اوبو رياکتور يوه وصفي منظره [۱۲].

جوشوونکو سپکو اوبو ریاکتور: نوموړي ریاکتور د قدرت له نظره نصب شوی دی، چې د سپکو اوبو فشار لاندې ریاکتورونو څخه په دویم مقام کې ځای لري په دې سپکو اوبو د یخوونکې په عنوان او په عین حال کې وروکوونکي د ریاکتور په داخل کې جریان لري د دې ریاکتور سون توکي د 2 څخه تر 3 فیصدو پورې بډای شوي یورانیم $^{235}_{92}U$ دي، چې خپله د $UO_2$ ټوټې یې د سون مواد دي.

د جوشیدونکو سپکو اوبو ریاکتور کې بېلوونکې ځانګړنه د بخار لپاره د جوشیدو میتود دی. په دې دول ریاکتور کې اوبه له هستې څخه د سړوونکي په توګه تیرېږي؛ ترڅو وسعت وومومي او په مستقیم ډول پاس ځای پرځای شوي توربین لپاره د بخار منبع وګرځي. د دې ډول ریاکتور ګټې ساده ډیزاین، د ریاکتور کوچنی سیستم او کم لګښت دي. موندل شوي زیانونه یې په توربین کې د رادیواکتیف موادو زیاتوالی او د اوبو په تخبیر کیدو سره د یوه سړوونکي په نه‌شتون کې اتموسفیر ته د سون‌توکو د راوتو شونتیا ده. د جوشیدونکو اوبو ریاکتورونه د خپل ساده ارزانه ډیزاین لرلو له امله په ټوله نړۍ کې مشهور دي.

په یاد ولرئ چې د جوشیدونکو اوبو په ریاکتور کې د دې توربین لپاره هغه اوبه هم د بخار د منبع برخه دي، چې د ریاکتور هستې باندې تیرېږي؛ ترڅو د منځګړي او سړوونکي په توګه عمل وکړي. د دې زیان دا دی چې د سون‌توکو هر لیکاژ شایي اوبه رادیواکتیف باندې ککړې کړي او دا راډیواکټیف ککړتیا شایي توربین او ورپسې لوپونو ته ورسېږي.

د دې ډول ریاکتور لپاره وصفي عملیاتي فشار تقریباً ۷۰ اتموسفیر دی، چې په دې فشار کې اوبه په 285 سانتي ګرید درجې کې جوش کېږي. د تودوخې دا عملیاتي درجه یوازې ۴۲ سلنه کارنټ مؤثریت لري، چې عملي عملیاتي مؤثریت یې شاوخوا ۳۲ سلنه دی، چې د فشار لاندې سپکو اوبو ریاکتور په پرتله په کمه کچه ټیټ دی. [۱:].

د جوشوونکو سپکو اوبو ریاکتورونو BWR د منځ قطر او د فشار ذخیره لکه د فشار د کموالي په دلیل د سون میلو ترمنځ فاصله د سپکو اوبو فشار لاندې ریاکتورونو په نسبت لږ لوی دی. BWR یواځې د یو سایکل لرونکی دی، چې په هغه کې یخوونکي اوبه جاري دي. یخوونکي اوبه له راټولیدنې سوځیدنې لاندې برخې څخه د ریاکتور مرکز ته داخلیږي او د دوراني پمپونو په واسطه د ریاکتور په مرکز کې په دوران راځي د حرارتي انرژي له امله هستوي ماتیدنه په داخل د مرکز کې یخوونکو اوبو حرارت درجه $300\,\mathring{C}$ په اندازه لوړوي او په داخل د ریاکتور کې د کم فشار په دلیل په دوه فازه حالت کې د اوبو او فشار ترمنځ بدلیږي. بخار د سپکوالي په دلیل په داخل د ریاکتور کې د فشار ذخیره کوونکی لوړ راځي او وروسته له تیریدو څخه جدا کوونکی د بخار د اوبو وچوونکی په ذخیره کوونکي د پاسه واقع کیږي او خپل رطوبت د لاسه ورکوي او د وچ بخار په عنوان د توربین

په طرف جريان پيداکوي جدا شوي اوبه د بخار څخه د رياکتور مرکز او ذخيره کوونکي فشار ترمنځ فضا په لاندې طرف حرکت کوي او له يخوونکو اوبو سره نوی د دوراني پمپ په واسطه جريان د رياکتور د مرکز په داخل کې په دوران راځي. د توربين له منځ څخه د بخار تيريدل د هغه د محور د څرخيدو لامل کيږي او په دې ترتيب په جنراتور کې نصب شوي توربين په وسيله برقي انرژي توليديږي (۴- شکل).




(۴- شکل): د جوشوونکو سپکو اوبو رياکتور ښيي [۱۳].

د توربين خارجي بخار له يخوونکي څخه د تيريدو وروسته په مايع بدليږي او بيا ځلې يخوونکي د رياکتور په داخل کې جريان پيداکوي. دارنګه رياکتور د BWR رياکتور په څير د حرارت تغير ته اړتيا نه لري او تر لږ فشار لاندې نسبت د سپکو اوبو تر فشار لاندې رياکتور ته واقع دي (په رياکتور کې کم فشار د دې لامل ګرځي، چې وکولای شي د فشار په مقابل کې له کم مقاومت توکو څخه، چې قيمت يې هم کم دی د سون لپاره استفاده وشي). په دې دليل، چې دا له BWR څخه کم واقع کيږي. له همدې امله د BWR رياکتور په نسبت په حرارتي بدلون کې د لږو حرارتي تلفاتو لرونکي وي.

د رياکتورونو د لاسه ورکول يې د 36% په اندازه او د سوځيدو پرتله يې د PWR رياکتورونو په نسبت له يو کيلو ګرام څخه په يوه ورځ کې 27.5MW دی او يا د سوځيدو پرتله يې د هغه سوخت رياکتور په نسبت د $45000\frac{mwd}{t}$ په اندازه دی [۴: ۳۹۵-۳۹۶].

د نوموړو رياکتورونو توپير ته په کتو ويلای شو، چې دواړه ذکر شوي رياکتورونه د اوبو په بخار اړولو پر بنسټ کار کوي؛ خو په BWR رياکتورونو کې اوبه په نورمال فشار سره او په PWR رياکتورونو کې اوبه لږ زيات فشار سره په بخار بدليږي. لکه څرنګه چې پوهيږو د فشار په زياتوالي سره د جوش درجه هم زياتيږي؛ نو له همدې امله که په يو رياکتور کې په اوبو باندې فشار زيات کړو؛ نو د جوش درجه يې لوړيږي، چې له دې سره مينځ ته

راغلی بخار هم قوي کیږي او په پایله کې د ریاکتور ځواک زیاتیږي، چې دا حالت په PWR ریاکتورونو کې مینځ ته راځي. د دې لپاره، چې د پورتنیو دوو ریاکتورونو توپیر ښه توضیح شي (۷ – ۴ جدول) کې د نوموړو ریاکتورونو ځینې ځانګړنې په ګوته شوي دي.

(۱- جدول): د PWR او BWR هستوي ریاکتورونو پرتلیز جدول [۱،۱۰: ۶۰، ].

| ځانګړنې | (Pressurized Water Reactor، PWR) | (Boiling Water Reactor، BWR) |
|---|---|---|
| د سون توکو پارمترونه | | |
| د پوښ توکي | Zircoly-4 | Zircoly-2 |
| د پوښ قطر | 0.95cm | 1.23cm |
| د پوښ ضخامت | 0.06cm | 0.08cm |
| د سون توکي | UO2 | UO2 |
| د $^{238}_{92}U$ لومړني بډای کېدل | 2.1/2.6/3.1% | **په متوسط ډول** 2.8% |
| د ټابلیټ قطر | 0.82cm | 1.04cm |
| د ټابلیټ لوړوالی | 1.5cm | 1.04cm |
| د اسمبلي ترتیب | 17×17 **یا** 15×15 | 8×8 |
| د ریاکتور پارامترونه | | |
| د سون توکو د اسمبلیو شمیره | 193 | 740 |
| د سون توکو ټولیزه کچه | 98000kg | 150000kg |
| د ریاکتور قطر | 740cm | 366cm |
| د ریاکتور فعال اوږدوالی | 366cm | 376cm |
| د کار ځای ثمره | 33% | 34% |
| د اوبو حالت په ریاکتور کې | اوبه نه جوشیږي | اوبه مستقیم جوشیږي |
| د اوبو فشار | ډېر لوړ فشار (bar≈۱۵۵) | کم نورمال فشار (bar≈۷۰) |
| د بخار تولید ځای | ثانوي سیستم(Steam Generator) | مستقیم په ریاکتور کې |
| د حرارتي دورې شمېر | دوه دورې(Primary + Secondary) | یوه دوره(Single Cycle) |
| د توربین خوندیتوب | غیر رادیواکتیف بخار توربین ته ځي | بخار رادیواکتیف وي |
| د سیستم پېچلتیا | پېچلی | ساده |
| د ساتنې اسانتیا | اسانه | ستونزمنه |
| د لګښت اندازه | لوړه | کمه |
| د موثریت کچه | لږ کمه | لږ زیاته |
| کنترولي میلې | له پاسه داخلیږي | له ښکته داخلیږي |
| د خوندیتوب کچه | ډېره لوړه | نسبتاً کمه |

په هستوي رياکتور کې د بيتا تجزيه د گوانښ څخه يو ډک حالت جوړوي (دا ځکه چې د بيتا چکتيا ډيره ده او د محافظوي پوښ د ويلي کيدو لامل گرځي او په پايله کې وړانگې د رياکتور څخه چاپيريال ته وځي) ، چې په دې حالت کې د چاودنې تولیزه انرژي 200MeV ته رسيږي، چې دا کچه د رياکتور د هستې د ويلې کيدو لامل گرځيدای شي، چې دا يو گواښمن حالت مينځ ته راولي. د دغه حالت د مينځ ته راتگ ښې بيلگې د چرنوبيل او Three Mile Island حادثې دي. په چرنوبيل کې د انسان د تيروتنو سربيره تخنيکي تيروتنې هم شوي دي، چې $10^{-8}Ci$ راډيواکتيف وړانگې يې چاپيريال ته خپرې شوې وي [۱۰: ۶۱-۶۲].

**پايله**

د فشار لاندې د سپکو اوبو رياکتور (PWR) او د جوشوونکو سپکو اوبو رياکتور (BWR) دواړه د هستوي برېښنا د توليد مهم او اغېزمن سيستمونه دي، چې په دواړو رياکتورونو کې اوبه د يخوونکي او منځگړي په توگه استعماليږي، سره له دې چې دواړه رياکتورونه د هستوي ماتېدنې له لارې حرارتي انرژي توليدوي؛ خو د ډيزاين، خونديتوب، فشار او د انرژي د لېږد په طريقه کې څرگند توپيرونه لري. PWR رياکتور د لوړ فشار لاندې کار کوي او د دوه دورو لرلو له امله راديواکتيف مواد له توربين څخه جلا ساتي، چې په دې وجه يې د خونديتوب کچه لوړه ده. د همدې ځانگړتيا له امله PWR د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې تر ټولو زيات کارېدونکی رياکتور دی او BWR رياکتور ساده جوړښت او کم لگښت لري؛ ځکه بخار مستقيم په رياکتور کې توليدېږي؛ خو دا چاره د دې لامل گرځي چې بخار او توربين راديواکتيف شي او د ساتنې او خونديتوب لپاره ځانگړي تدابير ته اړتيا لري.

د PWR او BWR دواړه رياکتورونه د اوبو د بخار پر بنسټ کار کوي؛ خو د فشار، خونديتوب، لگښت او سيستم جوړښت له نظره توپير لري. په ټوله کې ويلای شو چې د هستوي برېښنا په توليد کې خونديتوب، دوامداره کنټرول او عملياتي اعتبار لومړيتوب دی؛ نو PWR تر ټولو مناسب انتخاب دی، چې د پرمختللو هېوادونو زياتره هستوي برېښناکوټونه د لوړ خونديتوب له امله PWR کاروي. PWR زيات خونديتوب لري؛ ځکه چې راديواکتيف اوبه له توربين څخه جلا دي او کنټرول يې ډير اسانه دی.

**وړانديزونه**

- د فزيک څانگې استادان دې محصلينو ته د هستوي رياکتورونو په هکله په تجربه ولاړ علمي معلومات وړاندې کړي.
- اسلامي حکومت دې د هستوي رياکتور سيستمونو د فعالولو په برخه کې لازم اقدامات ترسره کړي؛ تر څو په افغانستان کې قوي بريښنايزه انرژي ولرو.
- د طبيعي علوم پوهانو څخه مو غوښتنه ده، چې د ټولنې ضرورت او د هيواد په کچه د ستونزو حل په موخه خپل علمي تحقيقات تر سره کړي

# Comparison of PWR and BWR Nuclear reactors

Associate. Prof. Abdul Tawab Azizi, Department of Physics , Faculty of Education, Shaikh Zayed University.
**E-mail add.** tawabazizi1983@gmail.com

**Abstract**

A nuclear reactor is a technical device that controls the process of nuclear fission and uses this process to generate electrical energy. In order for energy to be produced in a controlled manner, it is necessary for the fission reaction to remain stable within the reactor and for the reactor to operate in a critical state; however, if this reaction exceeds a certain limit, the system goes out of control. In nuclear reactors, low-enriched uranium is used as fuel, which has the ability to produce a very large amount of energy from a very small mass. The energy released from one gram of a suitable nuclide is equivalent to the energy produced by several tons of coal. The energy released in the reactor appears in the form of heat, and this heat is used to convert water into steam. The produced steam rotates a turbine, the turbine drives a generator, and as a result electrical energy is generated. The power of the reactor depends on the neutron population and the mass of the available fissile material, which are regulated by control rods. A PWR operates under high pressure; therefore, water does not boil inside the reactor, and steam is produced in a separate secondary system. This feature keeps radioactive materials away from the turbine and increases the level of safety. Overall, due to its high safety and continuous controllability, the PWR is the most widely used type of reactor.

**Keywords:** Boiling light water reactor, Chain reaction, light water, Reactor power, Pressurized light water reactor, Control rods, Fission, Neutron flux, Nuclear reactor.

**ماخذونه**

قران کريم (القمر: ۴۹).
1. JEAN-PHILIPPE ANSERMET, SYLVAIN D. BRECHET. Principles of Thermodynamics. USA: Cambridge University Press; (2019).
2. داود زی احمد. فیزیک کاربردی راکتور های هسته ای. تهران: سازمان انتشارات جهاد دانشگاهی شعبه واحد؛ (۱۳۸۴).

3. مورای ریموندال. ترجمه: محمد علوی نائیبی. انرژي هسته ای. تهران: نشر علوم دانشگاهی؛ (۱۳۸۴).

4. ثاقب احسان الله. اتومي او هستوي فزيک. جلال اباد: همدرد مطبعه؛ (۱۳۹۴).

5. کارخانه ای ابراهیم. شیمی هسته ای و حفاظت در برابر اشعه. ایران: انتشارات دانشگاه بو علی سینا؛ (۱۳۸۱).

6. عزيزي عبدالتواب. هستوي ماتيدنه. شيخ زايد پوهنتون پوهنيزه مجله. (۱۳۹۵)؛ دويمه گڼه. (١٦): ١٦٠- ١٦٩.

7-. Murray Ramund L. Nuclear Energy An Introduction To The Concepts, Systems And Applications Of Nuclear Processis. Sixth Edition. America: Printed In The USA; (2008).

8. ریچارد وایدنر، رابرت سلز. ترجمه: علی اکبر بابایی، مهدی صفا اصفهانی. مبانی فیزیک نوین. تهران: مرکز نشر دانشگاهی؛ (۱۳۸۷).

9. عزيزي عبدالتواب. هستوي فزيک. کابل: نوې مستقبل خپروندويه ټولنه؛ (۱۴۰۳).

10. نظيفي عبدالحی، تنها محمد رحمت الله. د هستوي فزيک اساسات. کابل: کابل پوهنتون، ساينس پوهنځی، فزيک څانگه؛ (١٣٨٦).

11.https://www.nukeworker.com/pictures/displayimage.php?pid=5312

12. http://hyperphysics.phy-astr.gsu.edu/hbase/NucEne/reactor.html

13. Boiling Water Reactor [Internet]. Flickr. Available From: Https://Www.Flickr.Com/Photos/Nrcgov/10713741876 [Accessed 1th Oct 2022].

# د رانگ- کوتا په طریقه د لومړی مرتبه معمولي تفاضلي معادلوعدديي حل

پوهنمل عبدالله عابد د شیخ زاید پوهنتون، ښوونې او روزنې پوهنځي د ریاضي څانگې استاد
**ایمیل ادرس:** abdullahmangal579@gmail.com

**لنډيز**

په دې مقاله کې، د لومړی مرتبه معمولي تفاضلي معادلو د حل کولو لپاره د رانگ-کوتا دوهمه, دریمه او څلورمه مرتبه میتودونه کارول شوی دی. لومړی، د یاد حل د تعریف ساحه (ډومین) د شبکه‌یي نقطو د یوې یو نواخت ټوټه شوی نقطو په کارولو سره ټوټه کېږي. وروسته د مخکنې تفاضل میتود په تطبیق کولو سره، موږ د پام وړ معمولي تفاضلي معادله تکراري کوو او په دې توگه یوه تکراري(رجعي) معادله رامنځته کوو. وروسته، د دې تکراري معادلې په کارولو سره، یاده لومړی مرتبه معمولي تفاضلي معادله په هره مشخصه شبکه‌یي نقطه کې د رانگ-کوتا د څلورمه-مرتبه کلاسیک میتود په کارولو سره حل کېږي. د دې وړاندیز شوي میتود د کارونې د تصدیق لپاره، نمونه یي بیلگې په پام کې نیول شوې دي او د هغه د حل په ډومین کې په هره مشخصه شبکه‌یي نقطه کې حل شوې دي. د دې میتود د ثبات او همگرایي تحلیل د نظري او ریاضیکي بیانیو په واسطه تقویه شوی او د دې حل دقت ترلاسه شوی دی. د دې میتود دقت د مطلقې اعظمي خطا ( maximum absolute error) په کارولو سره ښودل شوې او د حل ځایي چلند په دقیقه توگه ترلاسه شوی دی. عددي او دقیق حلونه په جدولونو او گرافونو کې ښودل شوي دي او همدارنگه د دوی اړوند مطلقه اعظمي خطاوي هم په جدولونو او گرافونو کې ښودل شوي دي. دا میتود دقیق حل ډېر ښه تخمین کوي او د لومړی مرتبه معمولي تفاضلي معادلو د حل کولو لپاره ډېر موثر او په عملي توگه مناسب دی، چې تخمیني حل له دقیق حل سره ښه توافق لري؛ نو له همدې امله دا وړاندیز شوی میتود د معمولي تفاضلي معادلو د حل کولو لپاره د کارونې وړ دی. [۱].

**کلیدي کلمې:** څلورمه مرتبه رانگ-کوتا، دویمه مرتبه رانگ-کوتا، عددي حل، لومړی مرتبه عادي تفاضلي معادله، موضعي خطا

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمد لله رب العالمین و الصلاة و السلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین**

معمولي تفاضلي معادلي د طبيعي علومو، انجينرۍ، اقتصا او نورو علومو په بنسټيزو مسايلو کې کارول کيږي. د دغه معادلو تحليلي حل تل ممکن نه وي، په ځانګړي ډول هغه وخت، چې معادله غيرمتجانسه وي او يا تحليلي حل ترلاسه کولو لپاره پيچلي رياضيکي تخنيکونو ته اړتيا وي؛ نو د همدې له امله د عددي طريقو کارول د تفاضلي معادلو دحل لپاره يوه اساسي اړتيا ده.دعددی طريقو له ډلې څخه د رانګ-کوتا طريقه د خپل لوړ دقت،ثبات او لنډو محاسبوي ګامونو له امله تر ټولو ډيره کارول کيږي. دا طريقه د ايولر ساده طريقې انکشاف او دقيق شکل دي، چې دمنځنيو نقطو په کارولو سره د حل خطا په کافي اندازه راکموي.په ځانګړي ډول د رانګ-کوتا څلورمه مرتبه (RK4) طريقه د عددي تحليل په ډيرو عملياتي مسايلو کې د معيار په توګه منل شوي ده. په دمقاله کې موږ دلومړی مرتبه معمولي تفاضلي معادلو عددي حل لپاره د رانګ-کوتا طريقه تشريح کوو،ددي اصول او رياضيکي بنسټ څيړو او ديو شمير مثالونو په مرسته يي دقت او اغيزمنتيا سنجوو. اصلي موخه دا ده چې وښيو څنګه د رانګ-کوتا طريقه د معادلو د حل نږدي قيمت په دقيق او باورمن ډول محاسبه کوي دا طريقه د نورو عددي طريقو په پرتله غوره پايلې وړاندې کوي.

## موخې

- دا د دي مقالي عمومي موخه دا ده، چې د لومړی مرتبه معمولي تقاضلي معادلو د عددي حل لپاره يو کلاسيک رانګ –کوتا څلورمه مرتبه طريقه په رياضيکي ډول تشريح شي.
- ددي لپاره چې معلومه کړو رانګ-کوتا طريقه تر کومه حده حقيقي حل ته نږدي دی
- د رانګ-کوتا طريقي ثبات او دقت ځانګړتياوو د عددي تصديق د ښودلو په موخه د مثالونو وړندي کول.

## څيړنې ارزښت

د رانګ-کوتا ميتود د عددي حل لپاره يو ډير مهم او ګټور ميتود دی، دا ميتود د هغو تفاضلي معادلو د حل لپاره کارول کيږي، چې تحليلي حل نه لري يا يي حل ډير مشکل وي. دا ميتود د اويلر ميتود په پرتله ډير دقيق او خطايې کمه ده، په ځانګړي ډول څلورمه مربته رانګ-کوتا ميتود په عملي محاسباتو کې ډير استعمال لري. همدارنګه دا ميتود د کمپيوټري پروګرامونو لپاره ډير مناسب دی؛ ځکه چې ساده الګوريتم لري.

**کړنلاره او کار توکي**

نوموړې څېړنه د کتابتونې مېتود له مخې سرته رسیدلې ده، چې ګڼ شمېر علمي او معتبر ملي او بین المللي ژورنالونه، کتابونه او انټرنېټي ویب سایټونه پلټل شوي، مطالب یې په ساده او روانه پښتو ژبه د ریاضیکي معیارونو په پام کې نیولو سره لیکل شوي دي.

**پېژندنه**

(إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ). ژباړه: بیشکه موږ هر شی پیداکړی مو دی په (ړومبنی ازلی) اندازه سره.

عددي انالیز یو مضمون دی، چې د ریاضیکي مسایلو د مطالعه کولو او حل کولو لپاره عددي میتودونه پکې شاملېږي. دا د ریاضیاتو،انجینري او کمپیوټر ساینس یوه برخه ده، چې په عددي توګه د ریاضیکي مسایلو د حل کولو لپاره الګوریتمونه رامنځته کوي، تحلیلوي او اجراء کوي.

عددي میتودونه معمولاً د عددي الګوریتمونو په اجراء کولو باندې ټینګار کوي. له همدې امله، د دې عددي میتودونه موخه دا ده؛ ترڅو په عددي توګه د ریاضیکي مسایلو د حل کولو لپاره سیستمیک تخنیکونه رامنځته شي. عددي میتودونه د معاصرو ډیجیټلي کمپیوټرونو په کارولو سره، چې د عددي عملیو په ترسره کولو کې ډېر چټک او اغیزمن دي، د ریاضیکي مسایلو د حل کولو لپاره ډېر مناسب دي. د لوړې کچې دقت لرونکو ډیجیټلي کمپیوټرونو په کارولو سره د مسایلو د حل کولو په پروسه کې عموماً له ابتدایي ډاټا څخه پیل کول شاملېږي؛ وروسې اړوند مناسب الګوریتمونه اجراء کېږي ترڅو مطلوبې پایلې ترلاسه شي

د عددي انالیز د ځانګې نهایي موخه دا ده چې ریاضیکي مسایلو ته د حلونو د ترلاسه کولو لپاره او له هغو موجودو حلونو څخه چې په اجراء کیدونکو شکلونو کې وړاندې شوي نه وي مناسب میتودونه برابر کړي. دا ډول مسایل ښایي په الجبري معادلو، غیر جبري معادلو، معمولي تفاضلي معادلو او قسمي تفاضلي معادلو کې فرمولبندي شي [۲].

معمولي تفاضلي معادله یوه ریاضیکي معادله ده، چې په طبیعت کې د په رامنځته کېدونکو فزیکي پدیدو کې د اهمیت وړ ده. اکثریت معمولي تفاضلي معادلې د انالیز د میتودونو په واسطه په سختۍ سره حل کېږي. له همدې امله، مهمه ده چې په عددي توګه یو دقیق حل ورته ترلاسه کړو [۳].

د معمولي تفاضلي معادلو د حل لپاره عددي میتودونه کیدای شي په دوو کټګوریو ډلبندي شي –عددي یووالی (لکه وړاندیز کوونکی – اصلاح کوونکی) میتودونه او رانګ-کوتا میتودونه. د وروستیو میتودونو ګټې دا دي،

چې پخپله-پیلېدونکي او د ډیجیټل کمپیوټرونو لپاره په اسانه پروګرام کېدونکي دي؛ خو کله چې د ساده تفاضلي معادلو د سیستمونو د اجراء کولو لپاره یو کتابخانه‌یي فرعي‌پروګرام لیکل کیدای شي؛ نو بیا له دې دلیلونو څخه یو یې هم ډېر مجبوروونکی نه دی. له همدې امله، د وړاندیز کوونکي – اصلاح کوونکي (predictor-corrector) میتودونو لوړه کچه دقت او د تېروتنې د تخمین کولو وړتیا دا میتودونه د هرې پېچلتیا لرونکو سیستمونو لپاره مناسب ګرځوي. خو، کله چې وړاندیز کوونکي – اصلاح کوونکي میتودونه کارول شوي وي؛ نو رانګ-کوتا میتودونه لا هم د محاسبې په پیل کولو او د انتیګرال نیونې د انټروالونو په تغیرولو کې تطبیق کېږي [۱]. له دې میتودونو څخه یو یې څلورمه درجه رانګ-کوتا میتود دی، دا یو عددي تخنیک دی، چې د معمولي تفاضلي معادلو د حل کولو لپاره کارول کېږي [۲]. رانګ-کوتا میتودونه د پیل کولو او د انټروال د تغیرولو لپاره کارونې ته په پام کې نیول شوي، د ثبات او د راونډاف تېروتنو حداقل کولو په څېر موضوعات مهم نه دي [۳].

معمولاً، د لومړۍ مرتبه معمولي تفاضلي معادلې د تخمین لپاره د تیلور سلسلې میتود، اویلر میتود، د رانګ-کوتا دوهمه او دریمه درجه میتودونه او متناهي تفریقي میتود کارول شوي دي. سره له دې چې دې میتودونو په تېرو لسیزو کې د ریاضیاتو په مسایلو کې لویې برياوې لرلې دي؛ خو بیا هم دا میتودونه د معمولي تفاضلي معادلو د حل کولو لپاره د وخت مصرف ته اړتیا لري. که څه هم، د باکیفیته حلونو د رامنځته کولو لپاره لګښتونه او سختۍ د دې میتودونو عمده بدګڼو څخه ګڼل کېږي؛ خو د دې میتودونو په پېچلتیاوو کې د همګرایي ټیټه کچه، بې‌ثباتي او ټیټه کچه دقت شاملېږي. بلاخره، د دې مقالې موخه دوهمه،دریمه او څلورمه درجه رانګ-کوتا میتود ته پراختیا ورکول دي، چې په یوه مشخص ډومین کې د لومړۍ درجه ساده تفاضلي معادلو د دقیق حل د رامنځته کولو وړتیا لري. [۴]

په دې هڅه کې، د لومړۍ درجه تفاضلي معادلو د حل کولو لپاره یو عددي میتود وړاندیز کوو او دا همګرایي د مطلقه تېروتنې په توګه ښودل شوې ده، چې د حل ځایي چلند په دقیقه توګه ترلاسه کوي. [۵]

**د رانګ –کوتا طریقه**

ددې لومړۍ مرتبه تفاضلي معادلې د دقیقو جوابو پیداکولو لپاره موږ کولی شو د $f(x,y)$
$$\begin{cases} y' = f(x,y) \\ y(x_0) = y_0 \end{cases}$$
تابع کمو نقطو په محاسبه کولو سره محاسبه کړو او ذکر شوي فرمولونه چې د جرمني ریاضیدانانو رونګ او کوتا په نوم پیژندل کیږي استفاده وکړو. ذکر شوي فرمولونه، چې مختلفي مرتبې لري په ځانګړي ډول د رانګ کوتا دوهمه او څلورمه مرتبه، چې په پراخه توګه استعمالیږي. [٦]

زه دلته ددي فرمولونو ثبوت څخه صرف نظر کوم.علاقمندان کولای شي، آنالیز عددي کتابونو ته مراجعه وکړي.

**رانګ-کوتا دوهمه مرتبه فرمولونه**

$$\begin{cases} y' = f(x,y) \\ y(x_0) = y_0 \end{cases} \qquad a \le x \le b$$

$$\begin{cases} y_{i+1} = y_i + \frac{1}{2}(k_1 + k_2) \\ k_1 = hf(x_i, y_i) \\ k_2 = hf(x_i + h, y_i + k_1) \end{cases} \qquad i = 1, 2, 3, \ldots, N-1$$

$$h = \frac{b-a}{N}$$

پورتنۍ فرمول کې $a$ او $b$ د انترول انجامي نقطي دي او $N$ د انترول په مساوي او کوچنیو برخو ویشلو شمیر دی

a a+h a+2h a+3h ... a+Nh = b

|---------------|---------------|---------------|---------------|---------------|

مثلا د $[0, 1]$ انترول په لسو مساوي برخو ویشو؛ نو $N = 10$

$$h = \frac{1-0}{10} = 0.1$$

0 0 .1 0 .2 0 .3 0 .4 0 .5 0.6 0 .7 0 .8 0 .9 1

|--------|--------|--------|--------|--------|--------|--------|--------|--------|--------|

$x_i = a + ih$ یا $x_{i+1} = x_i + h$ $\qquad i = 0, 1, 2, 3, \ldots$

$$x_0 = 0, x_1 = 0.1, x_2 = 0.2, x_3 = 0.3, x_4 = 0.4, \ldots, x_{10} = 1$$

$$\begin{cases} k_1 = hf(x_i, y_i) \\ k_2 = hf(x_i + h, y_i + k) \\ y_{i+1} = y_i + \frac{1}{2}(k_1 + k_2) \end{cases}$$

[۷]

**مثال :** د $y(0,2)$ په نقطه کې د لاندې لاندې معادلي تقریبي قیمت پیداکړئ؟

$$\begin{cases} y' = x + y \\ y(0) = 1 \end{cases}$$

د رانګ-کوتا د دوهمه مرتبه طریقې په کارولو سره، د $h = 0.1$ لپاره تفاضلي معادلې تقریبي حل پیداکړئ؟

$$\begin{cases} y' = x + y \\ y(0) = 1 \end{cases}$$

**حل:** نوموړي معادله په لاندې ډول سره محاسبه کوو:

$$\begin{cases} k_1 = 0.1(x_i + y_i) \\ k_2 = 0.1(x_i + 0.1, y_i + k_1) \\ y_{i+1} = y_i + \frac{1}{2}(k_1 + k_2) \end{cases}$$

$$k_1 = 0.1(0+1) = 0.1$$

$$k_2 = 0.1(0.1+1.1) = 0.12$$

$$y_1 = 1 + \frac{1}{2}(0.1 + 0.12) = 1.11$$

$$k_1 = 0.1(0.1 + 1.11) = 0.121$$

$$k_2 = 0.1(0.2 + 1.11 + 0.121) = 0.1431$$

$$y_2 = 1.11 + \frac{1}{2}(0.122 + 0.1431) = 1.24205$$

[۳]

**څلورمه مرتبه رانګ – کوتا طریقه**

څلورمه مرتبه د رانګ-کوتا طریقه $\begin{cases} y' = f(x, y) \\ y(x_0) = y_0 \end{cases}$ دتفاضلي معادلو د عددي حل لپاره کارول کیږي. ددې لپاره چې د ثابت ګام (h) په کارولو سره د $y(x_0 + ih)$ تقریبي قیمتونه د $i = 1, 2, 3, \ldots$ لپاره محاسبه کړو؛ نو له لاندې تکراري فرمول څخه استفاده کوو:

$$\begin{cases} y_{i+1} = y_i + \frac{1}{6}(k_1 + 2k_2 + 2k_3 + k_4) \\ k_1 = hf(x_i, y_i) \\ k_2 = hf(x_i + \frac{1}{2}h, y_i + \frac{1}{2}k_1) \\ k_3 = hf(x_i + \frac{1}{2}h, y_i + \frac{1}{2}k_2) \\ k_4 = hf(x_i + h, y_i + k_3) \end{cases}$$

د رانګ-کوتا میتود فرمولونه په ظاهره مفصل او پیچلي ښکاري؛ خو په عملي تطبیق کې ډیر په اسانی سره کارول کیږي او د نورو میتودونو په پرتله لږه خطا لري. [۸]

کولای شو هغه میتود، چې په دوهمه مرتبه رانګ-کوتا میتود کې مو کارولې وه بیا وکاروو، دا طریقه یو ځل بیا د کارونې لپاره استعمالولی شو. په رانګ-کوتا میتود کې $y_{n+1}$ د $y_n$ له مخې داسې محاسبه کیږي، چې موضعي خطا حداقل ته ورسیږي.څلورمه مرتبه رانګ-کوتا میتود د رانګ-کوتا له میتودونو څخه تر ټولو مشهوره او تر ټولو ډیره کاریدونکې میتود دی.

د $y(x_n + h)$ د تیلور سلسلي پرختیا تر څلورم مشتق پورې تر سره کیږي؛همدارنګه د دومتحوله تابعو د تیلور سلسلي پرختیا د $k_1$،$k_2$ او $k_4$ لپاره محاسبه کیږي او ترلاسه شوې پایلي د $y_{n+1}$ په رابطه کې ځای پر ځای کیږي[۷].

مثال: د څلورمه مرتبه رانګ-کوتا میتود په کارولو سره د $\begin{cases} y' = x + y \\ y(1) = 0 \end{cases}$ تفاضلي معادلي تقریبي قیمت په $x = 2$ کې د $h = 0.5$ لپاره پیداکړئ؟

حل: مرحلې یې په لاندې ډول سره محاسبه کوو

$$f(x,y)=x+y$$

$$\begin{cases} k_1=0.5f(1,0)=0.5(1+0)=0.5 \\ k_2=0.5f(1.25,0.25)=0.75 \\ k_3=0.5f(1.25,0.375)=0.8125 \\ k_4=0.5f(1.5,0.8125)=1.15625 \\ y(1.5)=y_1=y_0+\frac{1}{6}(k_1+2k_2+2k_3+k_4\approx 0.8 \end{cases}$$

$$f(x,y)=x+y$$

$$\begin{cases} k_1=0.5f(1.5,0.8)=1.15 \\ k_2=0.5f(1.75,1.375)=1.5625 \\ k_3=0.5f(1.75,1.58125)=1.665625 \\ k_4=0.5f(2,2.465625)=2.2328125 \\ y(2)=y_2=y_1+\frac{1}{6}(k_1+2k_2+2k_3+k_4)\approx 2.44 \end{cases}$$

[۹]

**د لومړۍ مرتبه تفاضلي معادلو سیستم**

د لومړۍ مرتبه تفاضلي معادلو یو سیستم په لاندې ډول دی.

$$y_i'=f_i(x,y_1,...,y_n) \quad , \quad i=1,2,...,n$$

د $n$ ټاکلو په موخه د $y_i(x)$ تابع د اولیه شرایطو $y_i(x_0)=a_i$ په پام کې نیولو سره په دې برخه کې تحلیل کیږي. هرکله چې $n=2$ وي، د تفاضلي معادلو سیستم به په لاندې ډول وي:

$$\begin{cases} y'=f_1(x,y,p) \\ p'=f_2(x,y,p) \end{cases}$$

د لاندې اولیه شرایطو سره

$$\begin{cases} y(x_0)=y_0 \\ p(x_0)=p_0 \end{cases}$$

د تفاضلي معادلو سیستم څخه د حل هدف د تابعو $y(x_i)$ او $p(x)$ موندل دي، داسې چې د اولیه شرایطو په کې صدق وکړي.

**څلورمه مرتبه رانګ-کوتا د میتود په مرسته د لومړی مربته تفاضلي معادلو سیستم حل**

د تفاضلي معادلو سیستم د اولیه شرایطو سره په پام کې ونیسئ. د دې سیستم د عددي حل په موخه د $x_i = x_0 + nh$ د $i = 0,1,2,3,...$ لپاره $y_i$ او $p_i$ په لرلو سره چې $y(x_i)$ او $p(x_i)$ تقریبي قیمتونه دي، د لاندې میتود له مخې د $y(x_{i+1})$ او $p(x_{i+1})$ قیمتونه په ترتیب سره د $y_{i+1}$ او $p_{i+1}$ په کارولو سره تقریبي قیمتونو اټکل کوو او په سیستم کې یې وضع کوو [۴].

$$k_1 = hf(x_n, y_n, p_n)$$
$$l_1 = hf_2(x_n, y_n, p_n)$$
$$k_2 = hf_1(x_n + \frac{1}{2}h, y_n + \frac{1}{2}k_1, p_n + \frac{1}{2}l_1)$$
$$l_2 = hf_2(x_n + \frac{1}{2}h, y_n + \frac{1}{2}k_1, p_n + \frac{1}{2}l_1)$$
$$k_3 = hf_2(x_n + \frac{1}{2}h, y_n + \frac{1}{2}k_2, p_n + \frac{1}{2}l_2)$$
$$l_3 = hf_2(x_n + \frac{1}{2}h, y_n + \frac{1}{2}k_2, p_n + \frac{1}{2}l_2)$$
$$k_4 = hf_1(x_n + h, y_n + k_3, p_n + l_3)$$
$$l_4 = hf_2(x_n + h, y_n + k_3, p_n + l_3)$$

نو د پورته قیمتونو په لرلو سره، موږ لرو

$$y_{n+1} = y_n + \frac{1}{6}(k_1 + 2k_2 + 2k_3 + k_4)$$
$$p_{n+1} = p_n + \frac{1}{6}(l_1 + 2l_2 + 2l_3 + l_4)$$

اوس د $y_{i+1}$ او $p_{i+1}$ قیمتونو په لرلو سره پورته الګوریتم د $x = x_{i+2}$ لپاره تکرار کیږي،یاد شوې میتود دڅلورمې مرتبه رانګ-کوتا میتود دی، چې لومړی مرتبه تفاضلي معادلو دسیستم د عددي حل لپاره کارول کیږي.

مثال:لاندې تفاضلي معادلې په پام کې ونیسئ:

$$\begin{cases} y' = p = f_1(x, y, p) \\ p' = -y + 0.1(1 - y^2)p = f_2(x, y, p) \end{cases}$$

د $y(0) = 1$ او $p(0) = 0$ اولیه شرایطو په پام کې نیولو سره د $h = 0.2$ لپاره د څلورمې مرتبه رانګ-کوتا میتود په کارولوسره، د $y(0.2)$ او $p(0.2)$ تقریبي قیمتونه ترلاسه کړئ؟

حل: د دې سیستم معادلو لپاره د رانګ-کوتا فرمولونه په لاندې ډول وړاندې کیږي:

$$k_1 = hp_n$$
$$l_1 = h\left[-y_n + 0.1(1 - y_n^2)p_n\right]$$
$$k_2 = h(p_n + \frac{1}{2}l_1)$$
$$l_2 = h\left\{-(y_n + \frac{1}{2}k_1) + 0.1\left[1 - (y_n + \frac{1}{2}k_1)^2\right](p_n + \frac{1}{2}l_1)\right\}$$
$$k_3 = h(p_n + \frac{1}{2}l_2)$$
$$l_2 = h\left\{-(y_n + \frac{1}{2}k_2) + 0.1\left[1 - (y_n + \frac{1}{2}k_2)^2\right](p_n + \frac{1}{2}l_2)\right\}$$

$$k_4 = h(p_n + l_3)$$
$$l_4 = h\left\{-(y_n + k_3) + 0.1\left[1 - (y_n + k_3)^2\right](p_n + l_3)\right\}$$
$$y_{n+1} = y_n + \frac{1}{6}(k_1 + 2k_2 + 2k_3 + k_4)$$
$$p_{n+1} = p_n + \frac{1}{6}(l_1 + 2l_2 + 2l_3 + l_4)$$

د $h = 0.2$ لپاره موږ لرو

$k_1 = 0.2p_0 = 0.2(0) = 0$
$l_1 = 0.2[-1+0.1(1-1)(0)] = -0.2$
$k_2 = 0.2(-0.1) = -0.02$
$l_2 = 0.2[-1+0.1(1-1)(-0.1)] = -0.2$
$k_3 = 0.2(-0.1) = -0.02$
$l_3 = 0.2[-0.99+0.1(0.02)(-0.1)] \approx -0.198$
$k_4 = 0.2(-0.198) \approx -0.04$
$l_4 = 0.2[-0.98+0.1(0.04)(-0.198)] \approx -0.196$

$$y(0.2) \approx y_1 = 1 + \frac{1}{6}(0 - 0.04 - 0.04 - 0.04) = 0.98$$
$$p(0.2) \approx p_1 = 0 + \frac{1}{6}(-0.2 - 0.4 - 0.396 - 0.1960) \approx -0.199$$

[۳]

**رانگ- کوتا میتود موضعي خطا**

په عددي تحلیل کې،کله چې موږ د یوي تفاضلي معادلې حل د رانګ –کوتا په طریقي سره پیداکوو، د هر ګام دحقیقي حل څخه لږ څه توپیر لري، چې دغه توپیر ته موضعي خطا(Local error) وايي

$$y(x_{i+1}) - y_{i+1} = \frac{h^3}{12}(f_{xx} + 2ff_{xy} + f^2 f_{yy} - 2f_x f_y - 2ff_y^2) + \theta(h^4) \text{ [۱۰]}$$

د دې خطا په پورتنی رابطه کې د پیچلتیا ضرایب دټولو رانک-کوتا میتودنو عمومي ځانګړنه ده، دا حالت د دې طریقو له نیمګړتیاوو څخه یو دی؛ ځکه د موضعي خطا اټکل کول ډیر ستونزمن کار دی. رانګ-کوتا په دوهمه ، دریمه او څلورمه مرتبو کې د تکراري فرمولونو موضعي خطا د ګام $h^3$ ، $h^4$ او $h^5$ په اندازه ده، په داسې حال کې چې دا خطا په اویلر طریقه کې $h^2$ په اندازه ده، له همدې امله کولای شو ووایو، چې د رانګ-کوتا په میتود کې د تکراري فرمولونو په کارولو سره د حل دقت زیات دی، په د مسله کې هغه ستونزه چې موږ ور سره مخ یو، دا ده چې د $f(x, y)$ تابع انتګرال نیونه په هره مرحله کې دوه ځله محاسبه کیږي، د یادې طریقې په مرسته د رانګ-کوتا د هرې مرتبې فرمولونو جوړل ممکن دي؛ خو په دې فرمولونو کې ترلاسه شوي مشتقات ډیر پیچلې

کیږي.د دې ډول فرمولونو تر ټولو عام او پراخ استعمال شوی فرمول د رانګ-کوتا په څلورمه مرتبه الګوریتم کې وړاندې شوی دی. [۱۱]

**پایله**

په دې مقاله کې د معمولي تفاضلي معادلو د عددی حل لپاره د رانګ-کوتا د دوهمې او څلومې مرتبې طریقې تر مطالعې لاندې ونیول شوې. د عددي حل د غوښتل شوي دقت ترلاسه کولو لپاره د ګام داندازې مناسب انتخاب اساسي رول لري؛ ځکه چې د ګام د اوږدوالی په کمیدو سره د عددي حل دقت لوړیږي، عددي پایلې ښرګندوي، چې د څلورمې مرتبې رانګ-کوتا طریقه، په ځانګړي ډول د لویو ګامونو په حالت کې، د دوهمې مرتبې طریقې په پرتله لوړ دقت او غوره تقریب کیدنه لري. سره له دې چې د دوهمې مرتبې طریقه دمحاسبې له پلوه ساده ده؛ خو د حل دقت یې نسبت څلومې مرتبې ته کم دي.له همدې امله د څلورمې مرتبې رانګ-کوتا طریقه د خپل لوړ دقت،ثبات له امله تر ټولو مناسبه بلل کیږي او محاسبوي موثریت ترمنځ د مناسب توازن موندل د عددي میتودونو له مهمو ننګونو څخه ګڼل کیږي.په دې مقاله کې وړندې شوي عددي پایلي ښیي؛ چې څلورمې مرتبې رانګ-کوتا طریقه د لومړی مرتبې عادي تفاضلي معادلي حل لپاره د عددي تقریب په ښه والي کې د پام وړ اغیز لري.

**وړاندیزونه**

- د رانګ-کوتا میتود په ځانګړي ډول د څلومې مرتبې رانګ-کوتا طریقي، دعلمي مسایلو د حل لپاره وکارول شي ځکه چې دا د لوړ دقت او مناسب ثبات ځانګړتیا لري.
- د ګام اوږدوالي مناسب انتخاب باید په دقت سره وشي، ځګه چې ډیر لوړ ګام د خطا زیاتوالي او ډیر کوچنی ګام د محاسبوي لګښت زیاتوالي لامل ګرځی.
- کمپیوټري پروګرامونو لکه (MATLAB,PYTHON) کارول د دې میتود دعملي پلي کولو لپاره ډیر ګټور دي نو باید وده ورکړل شي.
- د راتلونکو څیړونو لپاره سپارښتنه کیږي چې د تطبیقي متغیر ګام اوږدوالی طریقي مطالعه شي تر څو د دقت او سرعت ترمنځ ښه توازون رامنځته شي.

# The numerical solution of first-order ordinary differential equations by using the Runge-kutta method

S.T.A: Abdullah Abid Shaikh Zayed University, education faculty, Mathematic department.

**Abstract**

In this paper, the classical fourth-order Runge-kutta method is presented to solve the first-order ordinary differential equation First, the given solution domain is discretized by using a uniform discretization grid point. Then applying the forward difference discretized the given ordinary differential equation. And formulating a difference we equation. After that, using this difference equation, the given first order ordinary differential equation is solved by using classical fourth order Runge-kutta method at each specified grid point. To validate the applicability of the proposed method, two model examples are considered and solved at each specific grid point on its solution domain. The stability and convergent analysis of the present method is worked out by supporting the theoretical and mathematical statements and the accuracy of the solution is obtained. The accuracy of the present method has been shown in the sense of maximum absolute error and the local behavior of the solution is captured precisely. Numerical and exact solutions have been presented in tables and graphs and the corresponding Also, the tables and graphs present maximumabsolute error. Present method approximates the exact solution very well. and it is quite efficient and practically well suitedfor solving first-order ordinary differential equations. The numerical result presented in tables and graphsindicates that the approximate solution is in good agreement with the exact solution. Hence the The proposed method is accruable to solve ordinary differential equations.[۱]

**Key words:** First-Order Ordinary Differential Equation, Numerical Solution, Second-Order Runge–Kutta Method (RK2), Fourth-Order Runge–Kutta Method (RK4), Local Truncation Error, System of First-Order Differential Equations, Step Size

## مأخذونه

1. Koroche KA. Numerical solution of first order ordinary differential equation by using Runge-kutta method. Int. J. Syst. Sci. Appl. Math. 2021;6:1-8.

2. Zingg DW, Chisholm TT. Runge–Kutta methods for linear ordinary differential equations. Applied Numerical Mathematics. 1999 Oct 1;31(2):227-38.

3 . نیکوکار م، درویشی م‌ت. محاسبات عددی. چاپ دوم. تهران: انتشارات گسترش علوم پایه؛ ۱۳۹۰.

4. Tay KG, Kek SL, Abdul-Kahar R. A spreadsheet solution of a system of ordinary differential equations using the fourth-order Runge-kutta method. Spreadsheets in education (eJSiE). 2012 Jan 1;5(2):1-0

5 Kaniki D, Ward C. آنالیز عددی جلد دوم. ترجمه: توتونیان ف، صائمی م. چاپ اول. مشهد: دانشگاه امام رضا؛ ۱۳۸۸.

٦ رضاپور ق، یوسفی ا، عزیزی ر. کتاب جامع انالیز عددی. چاپ پنجم. تهران: انتشارات آدزباد؛ ۱۳۹۱.

۷. پورپاک ع‌م. محاسبات عددی (آنالیز عددی کاربردی). چاپ هفتم. تهران: انتشارات جهاد دانشگاه واحد

۸. بابلیان ا. آنالیز عددی ۱. چاپ اول. تهران: دانشگاه پیام نور؛ ۱۳۹۰.

9. کرایه‌چیان ا. محاسبات عددی. چاپ دوازدهم. مشهد: دانشگاه فردوسی مشهد؛ ۱۳۹۳.

10. خداکرمی ب، خنگامیان ا. آنالیز عددی و جبر خطی. چاپ چهارم. تهران: انتشارات آزاد؛ ۱۳۸۹.

تهران؛ ۱۳۸۷.

11. رفسنجانی ص، صادق ر.آنالیز عددی ۱. چاپ اول. تهران: دانش‌نگار؛ ۱۳۹۰.

۱۲. Burden, R. L., & Faires, J. D. (2011). Numerical analysis (9th ed.). Brooks/Cole, Cengage Learning.

۱۳. Butcher, J. C. (2016). Numerical methods for ordinary differential equations (3rd ed.). Wiley.

۱۴. Chapra, S. C., & Canale, R. P. (2015). Numerical methods for engineers (7th ed.). McGraw-Hill Education.

۱۵. Iserles, A. (2008). A first course in the numerical analysis of differential equations (2nd ed.). Cambridge University Press

# په کاري ساحه کې د کرنيز اقتصاد او پراختيا څانګې د فارغو شويو محصلينو په وسيله د نصاب او تدريسي کيفيت ارزونه

[1]پوهنيار محمد يوسف احمدزی، [2]پوهندوی خيبر مومند، [3]نوماند پوهنيار عبدالباسط عاصم
[4]نوماند پوهنيار جليل درد[4]
شيخ زايد پوهنتون، کرنې پوهنځی د [1] کرنيزاقتصاد او پراختيا څانګه، [1] کرنيزاقتصاد [2] حيواني علومو څانګه، [3] کرنيزاقتصاد او پراختيا څانګه، [4] کرنيزاقتصاد او پراختيا څانګه
**آيميل آدرس:** m.yousafahmadzai47@gmail.com

**لنډيز**

دا ساحوي څېړنه د کرنيز اقتصاد او پراختيا څانګې د نصاب محتوا، تدريسي کيفيت او د بازار له غوښتنو سره د فارغو محصلينو سمون کچه ارزوي. د څېړنې اساسي موخه به دا معلومه کړي چې ايا د کرنيزاقتصاد او پراختيا څانګې اوسنی نصاب د کرنيز سکتور د اقتصادي، ټولنيزو او مسلکي اړتياوو د پوره کولو وړتيا لري او تر کومه حده د نصاب د فارغينو د استخدام او کاري وړتياوو په لوړولو کې اغېزمن تماميږي.څېړنه د مشترکې تګلارې پر بنسټ ترسره شوې ده . د(Krejci and Morgan) د علمي فورمول له مخې له ټول نفوس څخه د احتمالي نمونې اخيستنې له لارې ارقام راټول شوي او تحليل يې د(SPSS) سافټوير په وسيله د تشريحي احصايې مختلف مقياسونه سرته رسولي.د څېړنې پايلې څرګندوي چې د فارغو محصلينو له نظره د څانګې نصاب او د تدريس کيفيت که څه هم په عمومي ډول مثبت ارزول شوی، فارغين اکثريت باور لري چې نصاب په نسبي ډول د کار بازار له تقاضا سره برابر دی او د دندې په پيدا کولو کې يې ورسره مرسته کړې ده. همدارنګه موندنې ښيي چې په نصاب کې د ځينو مضامينو د حذف، ادغام يا بياکتنې اړتيا شته، خو عملي کارونه په کافي اندازه نه دي ترسره شوي، لا هم د مهارتونو په ښودنه، نوښتونواو د بازار د تقاضا په پوره کولو کې ستونزي موجودې دي. دا څېړنه دا په ډاګه کوي چې د نوموړې څانګې نصاب بنسټيز شاخصونه لري، خو د کار بازار د بدلېدونکو اړتياوو لپاره د عملي پياوړتيا، او د فارغينو او مسلکي بنسټونو فعاله ونډه د نصاب د اغېزمنتيا او د فارغينو د استخدام وړتيا د لا لوړولو لپاره اړينه ده.

**کليدي کلمې:** تدريسي کيفيت، کاري ساحه، کرنيزاقتصاد او پراختيا ، نصاب

**سریزه**

**بسم اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِیم، الحمد لله رب العالمین والصلوة و السلام علی سید المرسلین وعلی آله وأصحابه أجمعین. أما بعد:**

د کرنیز اقتصاد او پراختیا څانګې بنسټیزه موخه د داسې مسلکي کادرونو روزنه ده چې وکولای شي د ټولنې او کار بازار بدلېدونکو اړتیاوو ته ځواب ووایي. په دې برخه کې، د نصاب کیفیت، تدریسي میتودونه او د زده‌کړې پایلې هغه اساسي عناصر دي چې د تحصیلي پروګرامونو د پیاوړتیا اغېزمنتیا او په ټولنه کې شته ستونزو ته حل لارې چارې انتخابوي. په ځانګړي ډول، د کرنیز اقتصاد او پراختیا څانګه د کرنې سکتور اقتصادي تحلیل، کرنیزو عوایدو د زیاتیدو پالیسي او تیوریانې، کلیوالي پراختیا او داسې نورو برخو کې مهم رول لري، نو ځکه یې نصاب باید له علمي او عملې معیارونو او د بازار له واقعي غوښتنو سره سمون ولري. همدارنګه د فارغو محصلینو ارزونه د نصاب او تدریسي کیفیت د سنجولو لپاره یو باوري بنسټ برابروي، ځکه هغوی له یوې خوا د تحصیلي بهیر تجربه لري او له بلې خوا د کار په بازار کې له عملي ننګونو سره مخ شوي وي. همدا د فارغینو نظریات د لوړو زده‌کړو د کیفیت د لوړولو لپاره مهم شواهد برابروي [بیګز او ټانګ، ۲۰۱۱]. همدارنګه د فارغینو د نظرونو د ارزونې د نظري زده‌کړو او د بازار د اړتیا او تقاضا ترمنځ تشې په ډاګه کوي[ احمد او خان، ۲۰۱۸ ] . په همدې ډول، څرګندوي چې د نصاب بازارمحوره جوړښت او علمي کارونه د فارغینو د استخدام وړتیا لوړه وي [سمت ، ۲۰۲۰ او ایدوو ،۲۰۲۲]. په افغانستان کې، د لوړو زده‌کړو نصاب لا هم له ګڼو ننګونو او بیلابیلو ستونزو سره مخ دی، چې تعلیمي نصاب د کار بازار له بدلېدونکو اقتصادي او ټکنالوژیکي اړتیاوو سره بشپړ انعطاف پذیر نه دی، چې دا ستونزه د فارغینو د استخدام کچه ټیټوي [اسحق‌زي او همکاران ،۲۰۲۵] . له همدې امله، د کرنیز اقتصاد او پراختیا څانګې د نصاب او تدریسي کیفیت ارزونه د فارغو محصلینو له نظره کولی شي د نصاب د اصلاح او د تحصیلي بهیر د ښه والي لپاره مهمې لارې چارې وړاندې کړي. د منځني او پرمختللي تعلیم یافته میرمنو سلنه د کم کار عمر لرونکي نفوس په اقتصادي وده باندې مثبت اغیزه نه لري ځکه چې د احتمالي له (۰،۰۵) څخه ډېر دی [ محمدي او نور همکاران ، ۲۰۲۳]. دغه څېړنه په همدې موخه ترسره شوې ده تر څو د کرنیز اقتصاد او پراختیا څانګې د فارغو محصلینو د نظریاتو پر بنسټ د نصاب جوړښت، محتوا، تدریسي کیفیت او د بازار له اړتیاوو سره د هغې د سمون کچه له دوریې کتنې وارزوي او د پیاوړتیا له پاره یې وړاندیزونه او پشنهادونه له اړونده ادارو سره شریک کړي.

**موخې**

- ✓ د کرنیزاقتصاد او پراختیا څانګې دنصاب او تدریسي کیفیت د ښه والي مطالعه.
- ✓ د کرنیز اقتصاد او پراختیا څانګې د تیرو کلونو فارغانو نظریاتو په اساس په بازار کې د اړتیاوو او منابعو مطالعه.
- ✓ د کرنیز اقتصاد او پراختیا څانګې د تېرو څلورو کلونو فارغ شویو محصلینو د بېلابېلو نظریاتو تحلیل او تجزیه.

**د څېړنې ارزښت**

دا څېړنه د کرنیز اقتصاد او پراختیا څانګې د نصاب او تدریسي کیفیت د ارزونې له لارې د تحصیلي پروګرامونو د اغېزمنتیا په اړه مهم معلومات وړاندې کوي. د فارغو محصلینو نظریات د دې امکان برابروي چې د نصاب او د کار بازار ترمنځ موجوده تشې وپېژندل شي. همدارنګه، د څېړنې موندنې د نصاب د اصلاح، د تدریسي میتودونو د ښه والي او د عملي مهارتونو د پیاوړتیا لپاره ګټورې لارې چارې وړاندې کوي، چې د فارغینو د کارموندنې وړتیا لوړوي. دا څېړنه د تعلیمي کیفیت د ښه والي او د بازارمحوره زده‌کړو د پیاوړتیا لپاره عملي او علمي ارزښت لري.

**مواد او کړنلارې**

د دې ساحوې څېړنې په اساس مو په بازار کې د کرنیزاقتصاد او پراختیا څانګې د فارغو محصلینو پواسطه د یادې څانګې د تدریس او کیفیت معیارونو ارزونه ترسره کړې، چې د کرنیزاقتصاد او پراختیا څانګې تدریسې میتود، نصاب او په بازار کې یې د ټولنې شته تقاضا ته ګټورتوب په منځنۍ توګه کومو پارامترونو باندې څرخیږي او په کومو معیارونو کې د نظریاتو تفاوت موجود دی. په څېړنه کې به شته مسلو او ستونزو ته به د حل لارې چارې د ساحوي څیړنې له تګلارې، د نمونې اخیستنې، سروې ، په مستقیم او غیر مستقیمو کړنلارو د پوښتنپاڼو راټولولو، د ارقامو له تحلیل او تجزیې او دتېرو څېړنو او سرچینو د مختلفو مواد له مطالعې وروسته د پام وړ پایله پیدا او له اړونده سکتورونو او په خوست کې د ټولنې له افرادو سره شریکه شي.

دغه څېړنه د کمي او کیفي تګلارو یوه ګډه څېړنه ده چې په کیفي څېړنه کې د تېرو آثارو، نظرونو تحلیل، پوښتنپاڼو نمونې مقیاسونو او ترتیبي یا درجه یي مقیاسونو تحلیل او تجزیه ده. همدرانګه په کمي څېړنیزه تګلاره کې به د فارغو محصلینو د پوښتنپاڼو د ځوابونو د پارامتریک مقیاسونو فیصدې، د وسطي وزنونو او خپوروالې وزنونه د (SPSS) سافټویرونو په اساس تحلیل او تجزیه شي.

**تېرو اثارو ته کتنه**

بيګز او ټانګ (۲۰۱۱) په خپلې څېړنې کې ټينګار کړی چې د فارغينو له نظره د نصاب او تدريسي کيفيت ارزونه د لوړې زده کړو په برخه کې يوه مهمه موضوع ده، په ځانګړې ډول د کرنيز اقتصاد او پراختيا په څانګو کې، هغه فارغين چې د کرنيزاقتصاد څانګې څخه فارغ شويدي د دوی د عملې تجربې په اساس علمي مهارتونو لري . فارغين کولای شي د نصاب د موثريت، تدريسي ميتودونو، او د بازار له اړتياوو سره د زده کړې موخو په اړه موافق او ارزښتناک معلومات وړاندي کړي. احمد او خان (۲۰۱۸) په خپله څېړنه کې څرګندوي چې د کرنيز اقتصاد او پراختيا څانګې د فارغينو ارزونې د صنفي زده کړې او بازار اړتياوو ترمنځ موجودي تشې په نښه کوي. د دوی مطالعي ښودلې چې فارغين د عملي کارونو، ساحوي پروژو، او د کاري تجربو زياتوالي ته اړتيا لري، چې د نصاب د اصلاحاتو لپاره مهم او لازمې تګلارې په نښه کوي. سمت او همکاران (۲۰۲۰) په خپله ساحوي څېړنه کې څرګندوي چې د پراختيايې هيوادونو د کرنيزې پراختيا پروګرامونو د فارغينو نظريات د تدريس کيفيت په ښه کولو کې مهم رول لري. په ځانګړې ډول، د لکچرونو، سيمينارونو، او ساحوي فعاليتونو اغيزمنتيا د فارغينو د تجربو او مهارتونو له لارې ارزول کېږي. ايدَوُو (۲۰۲۱) په ساحوې څېړنه کې موندلې ده چې د نايجيريا په ځينو پوهنتونونوکې د کرنيز اقتصاد څانګې د نصاب اروزنه د فارغينو محصلينو د نظرياتو د څېړلو په اساس ترسره کړې، چې د څېړنه موخه يې د کرنيز اقتصاد زده کړيز نصاب د کار د بازار اړتياوو، مسلکې مهارتونو او عملي کار غوښتنو ته ځواب ويونکی دی که نه؟ دا نتيجه لاسته راوړې چې که څه هم نصاب نظري بنسټونه برابروي،خو په عملي مهارتونو، نوښت، کارموندنې وړتياوو او بازار محوره روزنه کې لاهم تشې موجودې دي. نوموړی ټينګار کوي چې د نصاب بيا کتنه او اصلاح بايد د کار د بازار د غوښتنو، خصوصي سکتور اړتياوو او د دوامداره کرنې پراختيا او پرمختګ له موخو سره سم ترسره شي. سپارښته کوي چې د نصاب په جوړونه کې د فارغينو، کار ورکوونکو او مسلکي بنسټونو فعاله ونډه زياته شي تر څو د کرنيز اقتصاد اړونده خدمتونو اغيزمنتيا لوړه شي. شاه او ملګرو په (۲۰۰۹) په خپله څېړنه کې ښودلې ده چې د کرنيزې پراختيا نصاب جوړښت په عمومي ډول د زده‌کوونکود مهارتونو، تفکر او مسلکي پوهې په لوړولو کې اغېزمن رول لري، خو لا هم د عملي تجربو کمښت، د مضامينو تکرار او د زده‌کوونکو او ترويجي ادارو ترمنځ د اړيکو نشتوالی د نصاب مهمې نيمګړتياوې بلل کېږي. له همدې امله، د نويو ترويجي مفاهيمو او نوښتګرو ميتودونو شاملول د نصاب د اغېزمنتيا د زياتوالي لپاره اړين ګام ګڼل شوی دی. اسحق زی او ملګرو (۱۴۰۴) د کار بازار سره د تعليمي نصاب مطابقت معلومولو تر عنوان لاندې مقاله کې داسې موندلې دی چې په افغانستان کې د لوړو زده‌کړو تعليمي نصاب د کار بازار له بدلېدونکو اقتصادي او ټکنالوژيکي اړتياوو سره بشپړ انطباق نه لري. موندنې ښيي چې د نصاب بنسټيز ابعاد: لکه د زده‌کړې موخې، محتوا، د تدريس طريقي او ارزونه، د کار بازار له اساسي شاخصونو (عملي تجربه، تخصصي

مهارتونه او دنديز فرصتونه) سره قوي او معنا لرونکې اړيکه لري، خو د عملي روزنې کمزورتيا، د مهارتونو نشتوالی او د پوهنتون او مسلکي چاپېريال ترمنځ د نهادي اړيکو ضعف د فارغينو د استخدام د کچې د ټيټوالي مهم لاملونه بلل شوي دي.

- ✓ **ارقامو يا مشاهداتو راټولونه**

دا ساحوي څېړنه د خامو يا لومړنيو ارقامو په ذريعه صورت نيولی چې د ارقامو او مشاهداتو راټولونه د اړونده موخو ته په کتلو سره د مختلفو معيارونو (متحولينو) او د فارغو محصلينو نامحدود نفوس ته په کتلو پوښتنپاڼه په احتمالي نمونه اخيستنه سره ترتيب او په بازار کې د کرنيزاقتصاد او پراختيا ځانگې د تيرو کلونو فارغانو څخه د نمونې توزيع په اساس ځواب پاڼو کې د ارقامو راټولونه تر سره شوې.

- ✓ **نمونه اخيسته**

د همدې ساحوي څېړنې په اساس مو احتمالي يا علمي نمونه اخيستنه ترسره کړې چې په مختلفو کلونو کې د فارغو محصلينو نامحدود نفوس په بر کې نيسي چې د نمونو اندازه د کرجسې او مورگان په علمي فرمول ترلاسه کړي ، چې د ټول نامحدود نفوس فارغينو څخه د(۸۰) نمونو په اساس مو په بازار کې د کرنيزاقتصاد او پراختيا ځانگې څخه د فارغو محصلينو نظرونه، مشاهدات او لومړني ارقام راټول کړي.

- ✓ **تحليل او تجزيه**

ددې ساحوي څېړنې مختلفو معيارونو ته په کتلو سره د تشريحي يا توضيحي احصاوييوې وسطي مقياسونو او انحراف مقياسونو کتنه شوې چې د غه کتنه يا تحليل مو په بازار کې د مختلفو کلونو فارغانو نظرونه مو د (SPSS) سافټوير په اساس کړي.

**پايله او مناقشه**

د دې ساحوي څېړنې د تحليل پايلې څخه وروسته د ټولو اړوندو معيارونو په نظر کې نيولو سره لاندې پايلې او مناقشه روښانه شو .

۱- د ټولو فارغ شویو محصلینو دنصاب د ارزونې د معیارونو تشریحي احصاییوي تحلیل

| معیارونه | ایا دکرنیزاقتصاد او پراختیا څانګې نصاب نوی دی؟ | ایا نصاب ستاسې د غوښتنې مطابق دی؟ | ستاسي په اند دا نصاب د مارکېټ د تقاضا سره سم دی. | ایا درسي نصاب د پوهنځي شرایطو تدریسي امکانات او منابعو سره سم دی. | ویل شوی نصاب ستاسو سره د دنلدې په بیدا کولو کې مرسته کولای شي | ایا په نصاب کې داسې مضامین شته چې له نصابه حذف شي. | د نصاب محتویات په ترتیب سره برابر دي | د تدریس په وخت کې عملي کار شوی. | د محصلینو سره د رئیس رویه ښه ده. | د محصلینو سره د تدریسي مدیریت رویه ښه ده. |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| اعتماد باوري (شمیر) | 80 | 80 | 80 | 80 | 80 | 80 | 80 | 80 | 80 | 80 |
| اشتباه | 3 | 3 | 3 | 3 | 3 | 3 | 3 | 3 | 3 | 3 |
| منځنی اسط | 1.10 | 1.04 | 1.13 | 1.31 | 1.23 | 1.34 | 1.20 | 1.33 | 1.23 | 1.36 |
| موډ | 1 | 1 | 1 | 1 | 1 | 1 | 1 | 1 | 1 | 1 |
| معیاري انحراف | .409 | .191 | .369 | .565 | .527 | .526 | .537 | .591 | .595 | .680 |
| ورینس (تقاوت) | .167 | .037 | .136 | .319 | .278 | .277 | .289 | .349 | .354 | .462 |
| مجموعه | 88 | 83 | 90 | 105 | 98 | 107 | 96 | 106 | 98 | 109 |

دا جدول څرګندوي چې د کرنیزاقتصاد او پراختیا څانګې له (۸۰) فارغو محصلینو څخه په بازار کې د فارغو محصلینو په مختلفو کلونو کې ځوابونه ترلاسه کړي چې لس پوښتنپانې مختلفو سکتورونو ته له ویشلو وروسته ځواب شوې دي، چې د ټولو اعتبار وړ نمونه (۸۰) ده او په دې کې تر دریو پورې نمونې خطا هم شتون لري خو ددې نمونو په اساس د ټولو فارغینو نظر منځنی نظر نورو پوښتنو ته ( د محصلینو سره د تدریسي مدیریت رویه ښه ده) چې( ۱.۳۶ ) دی لوړ دي . او همدارنګه د ټولو فارغینو په ټولو پوښتنپاڼو کې د تکرار فریکونسي یو شان ده . له بلې خوا په ټولو پوښتنو کې د ټولو فارغو محصلینو نظریات په (ایا نصاب ستاسې د غوښتنې مطابق دی ) معیاری انحراف بې لږ دی یعنې انحراف یې (۰.۱۹۱) دی ، د ا مانا چې منځنی اوسط څخه( ۱۹.۱٪ ) ارزښت لري او د محصلینو دنظریاتو ترمنځ لږ توپیر موجود دی او اعتبار وړ دی مانا دا چې ټول فارغینو د نصاب د غوښتنې مطابقت سره رضایت لري د ټولنې د ستونزو په مطابق یا د بازار په مطابقت برابر شوي دي خو د بلې خوا د ټولو فارغینو د نظریاتو تحلیل په اساس لوړ معیاري انحراف (۰.٦۸۰) یا توپیر دی چې مانا د منځنی اوسط څخه( ٦۸٪ ) توپیر لري چې ( محصلینو سره د تدریسي مدیریت رویه ښه ده ) په پوښتنه کې لږ حقیقت موجود دی ، بل لوړ معیاري انحراف (۰.۵۹۱) دی چې د منځنی اوسط څخه د( ۵۹ ٪) په اندازه توپیر

لري. دا مانا چې د تدریس په وخت کې عملي کار باندې زیات تاکید نه دی شوی او بل معیاري انحراف یې چې( ۰.۵۳۷ ). د دې دا مانا چې نصاب محتویات په ترتیب کې نمګړتیاوي اوس هم موجودي.

**۲- جدول:** ایا د کرنیزاقتصاد او پراختیا څانګې نصاب نوی دی.

| | | دفعات یا تکرار | فیصدي | اعتباروړ فیصدي | ترکیبي فیصدي |
|---|---|---|---|---|---|
| اعتماد وړ پارامترونه | هو | 75 | 90.4 | 93.8 | 93.8 |
| | نه | 2 | 2.4 | 2.5 | 96.3 |
| | نه پوهیږم | 3 | 3.6 | 3.8 | 100.0 |
| | مجموعه | 80 | 96.4 | 100.0 | |
| اشتباه | سیتم | 3 | 3.6 | | |
| **مجموعه** | | **83** | **100.0** | | |

له دې جدول څخه دا څرګندیږي چې دکرنیز اقتصاد او پراختیا څانګې فارغ شویو محصلینو د نصاب د نوی والې په هکله د ځواب تحلیلولو لپاره( ۸۰ ) پوښتنپاڼې ویشل شوې دي چې (۸۰) نمونې څخه چې درې نمونې پکې خطا شتون لري، چې له ( ۸۰ ) کسانو( ۷۵ ) کسانو د هو دفعات(۲۰) تنو د نه دفعات او (۳) تنو فارغانو د( نه پوهیږم ) د فعات په نبنه کړی دی. چې په ترتیب سره د اعتبار وړ فیصدي یې( ۹۳.۸٪ ، ۲.۵٪ ) او( ۳.۸٪ ) دي . او همدارنګه ترکیبي فیصدي یې په ترتیب سره د( هو) سلنه یې ( ۹۳.۸ ) سلنه د ( نه) سلنه یې **۹۶.۳** سلنه ده خو ددې سلنو په اساس دا جوته کیږي چې د یادې څانګې نصاب تر ډېري اندازې نوی تحلیل شوی دی.

**۲- شکل: ایا دکرنیزاقتصاد نصاب نوی دی؟**

له پورتني شکل څخه معلومیږي چې د کرنیز اقتصاد او پراختیا څانګې فارغ شویو محصلینو د نصاب د نویوالی پوښتنې ته په ځواب کې زیاتره کسانو چې سله نه یې تقریباً ( ۹۰ ) ته رسیږي د نصاب نویوالی تائیدوي نو معلومیږي چې د یادې څانګې نصاب تر ډېره پورې نوی دی.




**۳- جدول**: ایا د کرنیزاقتصاد او پراختیا څانګې نصاب ستاسې د غوښتنې مطابق ده

| | | ایا د کرنیزاقتصاد او پراختیا څانګې نصاب ستاسې د غوښتنې مطابق ده | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | دفعات یا تکرار | فیصدي | اعتبارو فیصدي | ترکیبي فیصدي |
| اعتماد وړ پارامترونه | هو | 77 | 92.8 | 96.3 | 96.3 |
| | نه | 3 | 3.6 | 3.8 | 100.0 |
| | مجموعه | 80 | 96.4 | 100.0 | |
| اشتباه | سیتم | 3 | 3.6 | | |
| **مجموعه** | | **83** | **100.0** | | |

له پورتني جدول څخه معلومیږي چې د کرنیز اقتصاد او پراختیا څانګې فارغ شویو محصلینو باندې د نصاب د مطابقت په هکله د ځواب تحلیلولو لپاره له(۸۰) فارغ شویو کسانو څخه پوښتلي دي چې له (۷۷) اعتباري او ( ۳ ) خطا نمونې موجودې دي.په یاد جدول کې (۷۷) د (هو) دفعات (۳، ) د ( نه ) دفعات په نبنه شوې دي،چې په ترتیب سره یې اعتباري سلنه د (هو) دفعاتو ( ۹٦،۳ ) او د ( نه ) دفعاتو ( ۳،۸) ده،همدارنګه ترکیبي سلنه یې ۹٦،۳ ښودل شوې نو په پایله کې دا جوتیږي چې نصاب د څانګې د محصلینو د غوښتنو مطابق دی او د دوی غوښتنې په دې برخه کې تر ډېره پورې پوره کوي.

**۳- شکل**: ایانصاب ستاسې د غوښتنې مطابق دی

پورتنی ګراف چې پوښتنه یې ایا نصاب ستاسې د غوښتنې مطابق دی دا څرګندوي چې د څانګې فارغو محصلینو ځواب تر ډېره نصاب د غوښتنو مطابق یاد کړی چې سلنه یې تر(۹۲) لوړه ده. د (نه) رضایت یا مطابق سلنه په کې تر (۳.٦) رسیږي.




**۴- جدول**: ستاسې په اند دا نصاب د مارګیټ د تقاضا سره سم دی

| | ستاسې په اند نصاب د مارکیټ د تقاضا سره سم دي؟ | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | دفعات یا تکرار | فیصدي | اعتبارو فیصدي | ترکیبي فیصدي |
| اعتماد وړ پارامترونه | هو | 71 | 85.5 | 88.8 | 88.8 |
| | نه | 8 | 9.6 | 10.0 | 98.8 |
| | نه پوهیږم | 1 | 1.2 | 1.3 | 100.0 |
| | مجموعه | 80 | 96.4 | 100.0 | |
| اشتباه | سیتم | 3 | 3.6 | | |
| **مجموعه** | | **83** | **100.0** | | |

له پورتني جدول څخه څرګندیږي چې په یاده پوښتنه کې هم د ځوابونو ۸۰ نمونې اعتباري او ۳ نمونې خطا شتون لري، له (۸۰) نمونو څخه ځواب کوونکو (۷۱) تنو ( هو ) دفعات، (۸) تنو ( نه ) دفعات او یوه تن ( ۱ ) د نه پوهیږم دفعات په نښه کړې دي.چې په ترتیب سره یې اعتباري سلنه د هو لپاره(۸۸،۸) ، د ( نه) لس د ( نه پوهیږم ) (۱،۳ ) ده. په پای کې د دغې پوښتنې ترکیبي سلنه د (هو) ځواب لپاره(۸۸،۸) او د (نه) ځواب ( ۹۸،۸) ایستل شوې ده، نو وایو چې پورتني تحلیل ته په کتو نصاب په مارګیټ کې د تقاضا سره سمون لري خو یاده برخه کې بیا هم کار ته اړتیا لیدل کیږي تر څو پر وخت د مارګیټ د غوښتنو مطابق په نصاب کې بدلونونه رامنځته شي.

۴- **شکل**: ستاسې په اند نصاب د مارکیټ د تقاضا سره سم دی

پورتنی ګراف له مارګیټ سره د کرنیز اقتصاد او پراختیا څانګې د نصاب د تقاضا سره سموالي پورې تړاو لري چې فارغو محصلینو یادې پوښتنې ته په ځواب کې تر ( ۸۵.۵ ) سلنه د (هو) ځواب ټاکلی چې معنا یې د مارګیټ له تقاضا سره سم د نصاب شتون څرګندوي، او په کې تر ( ۹.٦) سلنه منفي یا د مارګیټ له تقاضا سره د نصاب نه سمون څرګندوي.




**۵- جدول**: ایا درسي نصاب د پوهنځي له شرایطو او تدریسي امکاناتو او منابعو سره سم دی

| ایا درسي نصاب د پوهنځي له شرایطو او تدریسي امکاناتو او منابعو سره سم دی؟ | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | دفعات یا تکرار | فیصدي | اعتبارور فیصدي | ترکیبي فیصدي |
| اعتماد وړ پارامترونه | هو | 59 | 71.1 | 73.8 | 73.8 |
| | نه | 17 | 20.5 | 21.3 | 95.0 |
| | نه پوهیږم | 4 | 4.8 | 5.0 | 100.0 |
| | **مجموعه** | **80** | **96.4** | **100.0** | |
| اشتباه | سیتم | 3 | 3.6 | | |
| مجموعه | | 83 | 100.0 | | |

له پورتني جدول څخه معلومیږي چې ټول (۸۰) کسان دي چې له جملې څخه یې (۸۰) نمونې اعتباري او(۳) نمونې یې خطا ښودل شوي دي، چې د پوهنځي تدریسي امکاناتو او منابعو ته د نصاب سمون له (۸۰) کسانو څخه (هو) دفعات ( ۵۹ ) ،(نه) دفعات ( ۱۷ ) او د( نه پوهیږم ) دفعات بیا په نښه شوی دی،چې په ترتیب سره یې اعتباري سلنه د (هو) دفعاتو ( ۷۳،۸ ) ،د (نه ) دفعاتو (۲۱،۳) ) او د ( نه پوهیږم) دفعاتو( ۵) شوی ده. په یاده

پوښتنه کې ترکيبي سلنه د( هو) لپاره ( ۷۳،۸ ) او د (نه) لپاره ۹۵ سلنه را ايستل شوی ده، له ياد تحليل څخه معلوميږي چې اوسنی نصاب د څانګې د پوهنځي له شته امکاناتو او شرايطو سره تر ډيره حده برابر دی خو بيا هم په دې برخه کې انتهايي نيمګړتياوی شتون لري چې بايد پوره توجه ورته وشي.

**۵- شکل: ايا درسي نصاب د پوهنځي شرايطو تدريسي امکانات او منابعو سره سم دی**

پورتنی ګراف د پوهنځي له تدريسي امکاناتو او منابعو سره د نصاب په اړه دی چې د کرنيز اقتصاد او پراختيا څانګې فارغو محصلينو يې په ځواب کې د نصاب سمون د پوهنځي له تدريسي امکاناتو او منابعو سره تر (۷۱.۱) سلنه سم بللی، خو د نصاب نه سمون له يادو مواردو سره تر (۲۰.۵) سلنې پورې رسيږي، نو وايو چې تر ډېره حده ياد نصاب د پوهنځي له امکاناتو او منابعو سره سم دی.



**٦- جدول** : د کرنيز اقتصاد او پراختيا څانګې اوسنی نصاب له تاسو سره د دندې پېداکولو کې مرسته کوي

| | | دفعات يا تکرار | فيصدي | اعتباروړ فيصدي | ترکيبي فيصدي |
|---|---|---|---|---|---|
| اعتماد وړ پارامترونه | هو | 66 | 79.5 | 82.5 | 82.5 |
| | نه | 10 | 12.0 | 12.5 | 95.0 |
| | نه پوهيږم | 4 | 4.8 | 5.0 | 100.0 |
| | مجموعه | 80 | 96.4 | 100.0 | |
| اشتباه | سيتم | 3 | 3.6 | | |
| مجموعه | | | 100.0 | | |

اوسني نصاب له تاسو سره د دندې پېداکولو کې مرسته کوي؟

پورتني جدول دا پوښتنه ځوابوي چې له فارغ شويو کسانو سره د کرنيز اقتصاد څانګې ويل شوی نصاب د دند پيداکولو کې څومره مرسته کړی د پوښتنې دځواب لپاره په (۸۰) کسانو پوښتنپاڼې ويشل شوې وې چې په کې (۸۰ ) نمونې اعتباري او(۳) خطا نمونې شتون لري، چې له (۸۰) کسانو(٦٦ ) کسانو د (هو) دفعات، لسو کسانو د (نه) دفعات او (۴ ) کسانو د ( نه پوهيږم) دفعات په نښه کړی دي، چې په ترتيب سره يې د اعتبار وړ سلنه، (

۸۲،۵، ۱۲،۵ ) او( ۵،۰ ) سلنه ده،همدارنګه ترکیبي سلنه يې په ترتيب سره د (هو) دفعاتو( ۸۲،۵ ) او د (نه) دفعاتو(۹۵،۰ ) دي نو د دې سلنو په اساس جوتيږي چې نصاب له فارغو محصلينو سره د دندې په پيدا کولو کې مرسته کړې ده.

**٦- شکل:** ويل شوی نصاب ستاسو سره د دندې په پیداکولو کې مرسته کولای شي.

له پورتني ګراف څخه جوته کیږي چې د کرنيز اقتصاد او پراختيا څانګې نصاب د يادې څانګې له محصلينو سره د دندې په پيدا کولو کې تر (۷۹.۵ ) سلنې کومک يا مرسته کوي او دوی ته د دندې پيدا کولو کې اغيزناک تماميري خو يادې پوښتنې ته د منفي ځواب سلنه بيا تر (۱۲) پوري رسيږي.



**۷- جدول:** ايا د کرنيز اقتصاد او پراختيا څانګې په نصاب کې داسې مضامين شته چې حذف شي

| ايا په نصاب کې داسې مضامين شته چې له نصاب حذف شي؟ | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | دفعات يا تکرار | فیصدي | اعتبارو ړ فيصدي | ترکیبې فیصدي |
| اعتماد وړ پارامترونه | هو | 55 | 66.3 | 68.8 | 68.8 |
| | نه | 23 | 27.7 | 28.7 | 97.5 |
| | نه پوهيږم | 2 | 2.4 | 2.5 | 100.0 |
| | مجموعه | 80 | 96.4 | 100.0 | |
| اشتباه | سيتم | 3 | 3.6 | | |
| مجموعه | | | 100.0 | | |

پورتني جدول چې پوښتنه يې په نصاب کې د داسې مضامينو په شتون ده چې حذف شي، د پوښتنې په ځواب کې (۸۰) تنو برخه اخيستی چې په کې (۸۰) نمونې اعتباري او (۳) نمونې خطا شتون لري، په کې( ۵۵ ) کسانو د (هو) دفعات،(۲۳) تنو د (نه) دفعات او( ۲) تنو د (نه پوهيږم ) دفعات په نښه شوی دی، په ترتيب سره يې د اعتبار وړ سلنه،( ۲۷،۲ ،٦٦،۳) او (۲،۴ ) ده، او همدارنګه ترکيبي سلنه يې د (هو) دفعاتو( ٦۸،۸) او د (نه) دفعاتو( ۹۷،۵) سلنه ده، نو دغو سلنو ته په کتو دا څرګنديږي چې ډېرې کسانو په نصاب کې د ځينو مضامينو د حذف

کولو ويلي دي چې بايد له نصاب څخه ايسته کړل شي او په ځای اوسنيو شرايطو او د ټولنې ضرورتونو او غوښتنو ته په کتلو اضافه شي نو په پايله کې دا څرګندېږي چې په نصاب کې بدلون ته اړتيا شته او دغه بدلون د کرنيز اقتصاد او پراختيا څانګې د فارغ شويو محصلينو غوښتنه هم ده.

**۷- شکل: ايا نصاب کې داسې مضامين شته چې له نصاب حذف شي.**

پورتني جدول له نصاب څخه د ځينو مضامينو د حذف او لرې کولو په هکله دی چې د کرنيز اقتصاد او پراختيا څانګې فارغو محصلينو يادې پوښتنې په ځواب کې د ځينو مضامينو د لرې کولو ځواب ويل چې ياده سلنه تر (۶٦.٣) پورې رسيږي، د دې ترڅنګ د (۲۷.۵ ) سلنې په شاوخوا کې بيا د مضامينو په نه لرې کولو ټينګار شوی.



**۷-جدول:** ايا د نصاب محتويات په ترتيب سره برابر دي

| | | د نصاب محتويات په ترتيب سره برابر دی ؟ | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | دفعات يا تکرار | فيصدي | اعتبارړ فيصدي | ترکيبي فيصدي |
| اعتماد وړ پارامترونه | هو | 69 | 83.1 | 86.3 | 86.3 |
| | نه | 6 | 7.2 | 7.5 | 93.8 |
| | نه پوهيږم | 5 | 6.0 | 6.3 | 100.0 |
| | مجموعه | 80 | 96.4 | 100.0 | |
| اشتباه | سيتم | 3 | 3.6 | | |
| مجموعه | | | 100.0 | | |

پورتني جدول چې د نصاب د محتوياتو په هکله دی د کرنيز اقتصاد او پراختيا څانګې په( ۸۰ ) فارغو شويو محصلينو باندې( ۸۰ ) پوښتپاڼې ويشل شوی چې په کې (۸۰) نمونې اعتباري او( ۳ ) نمونې خطا شتون لري.چې له ( ۸۰ ) کسانو ( ٦۹ ) کسانو د (هو) دفعات، ( ٦ ) کسانو د ( نه) دفعات او ( ۵ ) کسانو د( نه پوهيږم ) دفعات په نښه کړی دي، په ترتيب سره يې د اعتبار وړ سلنه (۸۳.۱، ۷.۲ ) او( ٦.۰ ) ده،همدارنګه ترکيبي سلنه يې د (هو)

دفعاتو ( ۸٦.۳ ) او د (نه) دفعاتو (۹۳.۸ ) ده، نو دغو سلنو ته په کتو پایله دا شوه چې تر ډېره پورې د نصاب محتویات په ترتیب سره برابر دي او داسې خاصې سمونې ته اړتیا نه لري.

**۸- شکل: د نصاب محتویات په ترتیب سره برابر دي.**

په دې شکل کې روښانه کېږي چې د نصاب محتویات په ترتیب سره د کرنیزاقتصاد او پراختیا څانګې نصاب سره د (هو) سلنه (۸۳.۱) او د (نه) سلنه (۷.۲) دي چې ډېرو فارغو محصلینو د نصاب ب محنویاتو ترتیب مناسب بللی دی .




**۹- جدول:** د کرنیز اقتصاد او پراختیا څانګې په تدریسي وخت کې د عملي کار شتون

| | | د تدریس په وخت کې عملي کار شوی دی؟ | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | دفعات یا تکرار | فیصدي | اعتبارور فیصدي | ترکیبي فیصدي |
| اعتماد وړ پارامترونه | هو | 59 | 71.1 | 73.8 | 73.8 |
| | نه | 16 | 19.3 | 20.0 | 93.8 |
| | نه پوهیږم | 5 | 6.0 | 6.3 | 100.0 |
| | مجموعه | 80 | 96.4 | 100.0 | |
| اشتباه | سیتم | 3 | 3.6 | | |
| مجموعه | | | 100.0 | | |

له پورتني جدول څخه څرګندیږي چې په ۸۰ کسانو باندې پوښتپاڼې ویشل شوې دي چې له (۸۰ ) نمونې اعتباري څخه ( ۳ ) خطا نمونې شتون لري،چې له ( ۸۰ ) کسانو څخه (۵۹ ) کسانو د( هو) دفعات، ( ١٦) کسانو د (نه) دفعات او( ۵ ) کسانو د (نه پوهیږم) دفعات په نښه کړې دي، چې په ترتیب سره یې د اعتبار وړ سلنه، ( ۷۱.۱، ۱۹.۳ ) او (٦.۰ ) سلنه ده،همدرانګه په ترتیب سره یې ترکیبي سلنه د (هو) دفعاتو ( ۷۳.۸ ) او د( نه)

دفعاتو ( ۹۳.۸ ) سلنه دي نو د دغو سلنو په بنسټ څرګندېږي چې د کرنيز اقتصاد او پراختيا څانګې په تدريسي بهير کې عملي کار ته اړتيا ده. پايله وړاندې کوي چې د څانګې په تدريسي بهير کې د عملي کار موجوديت او شته والی ښودل شوی خو بيا هم په ياده څانګه کې د عملي کارونو د ترسراوي لپاره امکاناتو او خاصي بوديجې ته اړتيا ده چې بايد شتون ولري تر څو د تدريس کميت او کيفيت ورسره څو چنده لوړ شي.

**۹- شکل:** د تدريس په وخت کې عملي کار شوی دی.

پورتنی ګراف چې د کرنيز اقتصاد او پراختيا څانګې له فارغو محصلينو څخه د تدريس په وخت کې د عملي کار په هکله ده پوښتنه يې دا تحليل وړاندې کوي چې تر ( ۷۱.۱ ) سلنې پورې محصلينو په تدريس کې د نظري زده کړو تر څنګ د عملي کار شتون هم تائيد کړی خو تر (۱۹.۳) سلنه محصلينو د عملي کارونو د (نه) موجوديت ادعا هم کړې ده.



**۱۰- جدول:** د محصلینو سره د رییس رویه یا سلوک

| | | د محصلینو سره د ریس رویه ښه ده ؟ | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | دفعات یا تکرار | فیصدي | اعتبارو فیصدی | ترکیبي فیصدی |
| اعتماد وړ پارامترونه | هو | 69 | 83.1 | 86.3 | 86.3 |
| | نه | 4 | 4.8 | 5.0 | 91.3 |
| | نه پوهیږم | 7 | 8.4 | 8.8 | 100.0 |
| | مجموعه | 80 | 96.4 | 100.0 | |
| اشتباه | سیتم | 3 | 3.6 | | |
| مجموعه | | | 100.0 | | |

پورتني جدول چې په ( ۸۰ ) فارغو محصلینو د پوښتپاڼو له ویش وروسته له ( ۸۰ ) نمونې اعتباري څخه (۳) نمونې خطا شتون لري،چې د (۸۰ ) کسانو له جملې څخه ( ۶۹) کسانو د (هو) دفعات، ( ۴ ) کسانو د (نه) دفعاتو او ( ۷ ) کسانو د ( نه پوهیږم) دفعات په نښه کړی ده،چې په ترتیب سره یې د اعتبار وړ سلنه، ( ۸۳.۱، ۵.۰ )او (۸.۸) سلنه ده، همدارنګه ترکیبي سلنه یې د ( هو) دفعاتو ( ۸۶.۳ )او د (نه) دفعاتو ( ۹۱.۳ ) سلنه ده، دغه سلنې دا پایله څرګندوي چې له محصلینو سره د ریئس رویه او سلوک ډېره ښه دی او محصلین ترې رضایت لري.

**۱۰- شکل:** محصلینو سره د رییس رویه ښه ده

پورتنی ګراف دا څرګندوي چې له محصلینو سره د ریئس رویه او سلوک ډیرښه بلل شوي چې سلنه یې له ( ۸۳.۱ ) څخه لوړه ده.



**۱۱- جدول:** له محصلینو سره د تدریسي مدیریت رویه

| د محصلینو سره د تدریسي مدیریت رویه ښه ده ؟ | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | دفعات یا تکرار | فیصدي | اعتبارړ فیصدي | ترکیبي فیصدي |
| اعتماد وړ پارامترونه | هو | 60 | 72.3 | 75.0 | 75.0 |
| | نه | 11 | 13.3 | 13.8 | 88.8 |
| | نه پوهیږم | 9 | 10.8 | 11.3 | 100.0 |
| | مجموعه | 80 | 96.4 | 100.0 | |
| اشتباه | سیتم | 3 | 3.6 | | |
| مجموعه | | | 100.0 | | |

پورتني جدول چې په کې ( ۸۰ ) کسانو پوښتنه ځواب کړي چې له ( ۸۰ ) اعتباري نمونو څخه یې ( ۳ ) نمونې خطا په کې خطا شتون لري، چې له (۸۰ ) کسانو ( ٦۰ ) کسانو د (هو ) دفعات، ( ۱۱ ) کسانو د (نه) دفعات او ( ۱۱.۳ ) کسانو د (نه پوهیږم) دفعات په نښه کړی دی،چې د اعتبار وړ سلنه یې په ترتیب سره ( ۷۲.۳، ۱۳.۳ ) او ( ۱۰.۸ ) سلنه په نښه شوی ده، همدارنګه یې ترکیبي سلنه د (هو) دفعاتو (۷۵.۰ ) سلنه او د(نه) دفعاتو ( ۸۸.۸ ) سلنه ده.نو دغو سلنه ته په کتو وایو چې په تدریسي مدیریت د کارونو د فشار سره سره بیا هم محصلینو سره رویه ښه ښودل کیږي، او محصلینو تر رضایت ښودلی دی.

**۱۱- شکل: محصلینو سره د تدریسي مدیریت رویه ښه ده.**

د دې شکل څخه روښانه کېږي چې د تدریسي مدیریت رویه او سلوک د فارغ شویو محصلینو سره خورا نسبتآ ښه ده چې رضایت سلنه یې (۷۲.۱) او د ( نه ) سلنه یې (۱۳.۳) او د (نه پوهیږم ) سلنه یې (۱۰.۸) ښودل شوي دی .



**وروستۍ پایله**

د څېړنې د احصایوي تحلیل پایلې ښیي چې د کرنیز اقتصاد او پراختیا څانګې اوسنی نصاب د ډېری فارغو محصلینو له نظره نوی، منظم او د هغوی د غوښتنو سره تر ډېره بریده برابر دی. د ځواب ویونکو له ډلې څخه نږدې ټول فارغان د نصاب نویوالي تاییدوي او اکثریت باور لري چې دا نصاب دکار په ساحه کې د ټولنې غوښتنو سره سمون لري او د دندې په پیدا کولو کې ورسره مرسته کوي. خو، سره له دې مثبتو ارزونو، موندنې څرګندوي چې لا هم ځینې بنسټیزې تشې شته. د عملي کارونو کمښت، د ځینو مضامینو د حذف اړتیا، او د تدریس په بهیر کې د مهارت‌محوره روزنې محدودیت هغه مهمې ستونزې دي چې د فارغینو له نظره د نصاب اغېزمنتیا کموي. د معیاري انحراف لوړې کچې په ځانګړي ډول د عملي کار او د تدریسي مدیریت د رویې په برخو کې د نظریاتو د توپیر ښکارندوی دي، چې دا د یاد شوو برخو د لا ښه والي اړتیا څرګندوي. همدارنګه، که څه هم د پوهنځي له امکاناتو او منابعو سره د نصاب سمون تر ډېره حده مناسب بلل شوی، خو د پام وړ برخه فارغان لا هم باور لري چې شته امکانات د نصاب د بشپړ تطبیق لپاره بسنه نه کوي. له بلې خوا، د رئیس او تدریسي مدیریت د رویې په اړه عمومي رضایت موجود دی، چې دا د اداري او انساني اړیکو د مثبت چاپېریال ښه ګڼل کېدای شي. په ټوله کې، پایلې ښیي چې نصاب د نظري بنسټونو له پلوه مناسب دی، خو د بازار د اړتیاوو، عملي مهارتونو، نوښت او استخدام‌وړتیاوو له نظره لا هم د اصلاح او پیاوړتیا په برخو کې اړتیا لري.

**سپارښتنې**

- ✓ په نصاب کې دې د عملي تمرینونو، میداني کارونو، انټرنشپونو او پروژو ونډه زیاته شي، تر څو محصلین د بازار له واقعي شرایطو سره بلد شي او مسلکي مهارتونه ترلاسه کړي.
- ✓ نصاب دې په منظم ډول د کار بازار د بدلېدونکو اړتیاوو، ټکنالوژیکي پرمختګونو او ملي پراختیایي لومړیتوبونو پر بنسټ وڅېړل او اصلاح شي.
- ✓ هغه مضامین چې د فارغینو له نظره عملي ګټه نه لري د حذف، او پر ځای دې بازارمحور، نوښت‌محور او مهارت‌محور مضامین ورزیات شي.
- ✓ د نصاب په طرحه او اصلاح کې دې د خصوصي سکتور، کار ورکوونکو، فارغینو او مسلکي بنسټونو فعاله ونډه تضمین شي، تر څو نصاب له واقعي اړتیاوو سره سمون ولري.
- ✓ پوهنځي ته دې لازم لابراتوارونه، ساحوي وسایل، کتابتونونه او ټکنالوژیکي اسانتیاوې برابرې شي، تر څو نصاب په مؤثر ډول پلی شي.
- ✓ د استادانو لپاره دې دوامداره مسلکي پرمختیایي پروګرامونه تنظیم شي، تر څو هغوی وکولای شي عصري تدریسي میتودونه او بازارمحور مفاهیم په تدریس کې وکاروي.
- ✓ د دولتي او خصوصي ادارو سره دې همکارۍ پراخې شي، تر څو د محصلینو لپاره د کارموندنې فرصتونه، میداني زده‌کړې او ګډې پروژې برابرې شي.

# Assessment of curriculum and teaching quality by undergraduates of the Department of Agricultural Economics and Development in the labour market

[1*] Mohammad Yousaf Ahmadzai, [2]Khyber Momand, [3]Abdul Basit Asim, [4]Jalil Dard
Shaik Zayed University, Agricultural Economics and Development[1], Animal Science[2], Agricultural Economics and Development[3], Agricultural Economics and Development[4].
**Email Add**: m.yousafahmadzai47@gmail.com

## Abstract

This study examines the curriculum of the Department of Agricultural Economics and Development from the perspective of graduates, focusing on curriculum structure, content, teaching quality, and degree of amendment with labor market demands. The primary objective of the study is to evaluate whether the current curriculum is adept of addressing the economic, social, and professional needs of the agricultural sector, and to determine the extent to which it enhances graduates' employability and professional competencies. The study lunches a mixed-methods research approach. Data were collected through probability sampling of the form population using the Krejcie and Morgan formula, and the data were analyzed using various descriptive statistical techniques with SPSS software. The results show that while most respondents believe that the curriculum is only somewhat in line with the demands of the labour market and has offered little assistance in obtaining work, graduates typically have positive opinions of the curriculum and teaching quality. The results also show that some subjects in the curriculum need to be changed, added, or eliminated. However, there are still issues with skill development, innovation, and responsiveness to labour market demands, and practical training is still insufficient. The study comes to the conclusion that although the curriculum has solid foundations, improving practical training and including graduates and professional associations are crucial to increasing its efficacy and graduates' employability in a labour market that is changing.

**Keywords:** Labor market, Agricultural Economics and Development, Curriculum, Teaching Quality.

## ماخذونه

1. Ahmed, R., & Khan, S. (2018). Graduate feedback on agricultural economics curriculum in Pakistan: Bridging the theory-practice gap. Journal of Agricultural Education and Extension, 24(3), 235–247

2. Biggs, J., & Tang, C. (2011). Teaching for quality learning at university (4th ed.). McGraw-Hill Education

3. Esaqzi, M., Rashid, M., Nasrat, N. A., & Kakar, N. M. (2025). Evaluating the correspondence of educational curricula with labor market. Farah Institute of Higher Education.
4. Idowu, O. O. (2021). Evaluation of the demand-driven agricultural extension curricula among alumni from selected universities in Nigeria. Journal of Agricultural Extension, 25(2), 1-17.
5. Muhammadi, S., Dariz, K., & Ahmadzai, M. Y. (2023). Impacts of Labour Force of Afghan Women Based on Education in Economics Growth: In Case of Afghanistan. Integrated Journal for Research in Arts and Humanities, 3(6), 18-28.
6. Shah, M. T. A., Israr, M., Khan, N., Ahmad, N., Shafi, M. M., & Raza, S. (2009). Agriculture extension curriculum: An analysis of agriculture extension students' views in the agricultural universities of Pakistan.

7. Simth, L., Brown, P., & Green, T. (2020). Alumni evaluations in agricultural development education: Enhancing curriculum relevance. International Journal of Education and Development, 41, 102–115

# Shaikh Zayed

**Quarterly Academic and Research Journal 2026, No: 41**


## Editorial Board


- **Prof. Zarwali Sadiqi / Faculty of Social Science**
- **Prof. Abdulkhlil Afghani / Faculty of Agriculture**
- **Assot. Prof. Dr Subhanullah Shahab / Faculty of Languages and Literature**
- **Assot. Prof. Mohammad Shafiq Mandozai/ Faculty of Law and Political Science**
- **Assot. Prof. Mohammadullah Mondozay/ Faculty of Law and Political Science**
- **Assot. Prof. Abdul Tawab Azizi/ Faculty of Education**
- **Assot. Prof. Amanullah Zadran/ Faculty of Law and Political Science**
- **Assot. Prof. Shafigul Shafiqi/ Faculty of Agriculture**
- **Assot. Prof. Salih Khan Salih/ Faculty of Computer Science**
- **Assot. Prof. Said Kamal Shah Bannuri/ Faculty of Sharia**
- **Assot. Prof. Naqibullah Atish/ Faculty of Journalism**
- **Assist. Prof. Gawhar Shah Gawhari/ Faculty of Computer Science**
- **Assist. Prof. Ghazi jan Mohammadi/ Faculty of Education**